د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت


# کابل

په دې ګڼه کې:


- د څېړنيزو معيارونو په رڼا کې د پښتو...
- په ولسي ادب کې د کوچنيانو د ادبياتو اغېزې
- په فرويډېزم کې هنري لذت
- د نورستان د شفاهي ادب وضعې ته...
- د مقاله ليکنې د هنر مهمې برخې
- استاد مجروح د جبر او اختيار...
- پر پښتو ادب د هندي سبک اغېزې

او نور ...





- مياشتنی
- دريمه دوره
- کال: ۱۳۹۶ لمريز
- د تأسيس کال: ۱۳۱۰ لمريز
- کابل- افغانستان

۱۲-۱۱

څېړنيزه، ژبنی، ادبي او فولکلوري مجله
کابل
۱۳۹۶ لمريز کال، ۱۱-۱۲ مه ګڼه


# KABUL

## Monthly Journal


Establishment 1931
Academic Publication of
Afghanistan Academy of Science



Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279- 0796650658

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري میاشتنۍ مجله

د تاسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
گڼه: ۱۱-۱۲

**یادونه:**

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې پـه هغـې کـې د لیکـوال نـوم، تخلـص، علمـي رتبـه، د ټېلېفون شمېره او برېښلیک پته وي د علومو اکاډمۍ اداري ته را ولېږل شي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانگې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کـړای شي. همدغه راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیـت، مبرمیـت، مـوخې، د څېړنـې پوښـتنې، د څېړنـې روش، پـایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونـه وي، د فونـټ سـایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او اداري ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمۍ د نشراتي لایحې له مخې د یـوې مقـالې د تائیـد او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسوولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ اداري ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسوول مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**مهتمم:** څېړندوی شکیلا میاخېل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصرالله ناصر

څېړنوال عبدالظاهر شکېب

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**ډیزاین:** محمد مجتبی همایون

**چاپ ځای:** شمشاد هاشمي مطبعه

**تیراژ:** **۵۰۰** ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شابوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۹٦٦۵۰٦۵۸ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنلیک:** magazinekabul@gmial.com او

informationasakabul@gmail.com

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه: ۸۰ افغانۍ

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ



| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱. | پــه ولــسي ادب کــې د... | څېړندویه ګل غوټۍ خاورې | ۱ |
| ۲. | د دارالمصــــنفین شــبلي... | ډاکټرعبدالخالق رشید | ۲۵ |
| ۳. | د نورســتان د شـفاهي ادب... | څېړنواله عاطفه نورستانۍ | ۳۵ |
| ۴. | اســـتاد مجــروح د جــبر... | پوهاند دوکتور م. ا. زیار | ۴۶ |
| ۵. | پــر پښـــتو ادب د هنـــدي... | پوهندوی شاه محمود کډوال | ٦۳ |
| ٦. | ښـځه او اولــسي ادبیـات... | څېړنواله ظاهره هنګامه | ۷۱ |
| ۷. | د څېړنیـــزو معیـــارونو پــه... | پوهندوی دکتور اجمل ښکلی | ۸۳ |
| ۸. | د عبـدالرحمان پـه اشـعارو... | پوهنوال فضل ولي ناګار | ۹۴ |
| ۹. | د نـــامتو بهرنیـــو لیکوالـــو... | ژباړن: صدیق الله بدر | ۱۰٦ |
| ۱۰. | د مقالـــه لیکنـــې د هـــنر... | پوهنمل دوکتور عزیز الله جبارخېل | ۱۲۲ |
| ۱۱. | په څېړنه کې د فرضیې ارزښت | سیداصغر هاشمي | ۱۳۵ |
| ۱۲. | په فرویدېزم کـې هـنري لـذت | محمد اکبر کرګر | ۱۴۸ |
| ۱۳. | د لیکوالۍ آرونه | ژباړن: شفیق امیرزی | ۱۵۸ |
| ۱۴. | پــه کابــل مجلــه کــې د... | سید نظیم سیدي | ۱۷۳ |

څېړندویه ګل غوټۍ خاورې

# په ولسي ادب کې د کوچنیانو د ادبیاتو اغېزې

**لنډیز**

فولکلور انګریزي کلمه ده چې ولسي پوهې ته وایي او د لومړي ځل لپاره ویلیم ټامس وکاروله. د ولسي پوهې یا ولسي ادبیاتو په اړه په اوس وخت کې یوه خبره ډېره مشهوره ده چې ولسي یا ګړني ادبیات په هغو ټولنو کې زېږي چې هغه وروسته پاتې ټولنې وي، خو که حقیقت دا وي، نو بیا ولې د نړۍ متمدنې او پرمختللې ټولنې د خپلو ولسي ادبیاتو د پراختیا او خلقیدا لپاره ګړندۍ هڅې کوي او ورځ تر بلې یې ولسي ادبیات پراخېږي؟

معنا دا چې ولسي ادبیات د ولسونو ارزښتونه او شتمنۍ دي او دا شتمنۍ لکه لالونه په ایرو کې هېڅکله هم خپل ارزښت او جوهر له لاسه نه ورکوي.

په دې مقاله کې لومړی ولسي- ادبیات معرفي شوي او ورپسې د ماشوم یا کوچني پر ادبیاتو باندې بحث شوی، د هغې برخې معرفي شوي او هره برخه یې له بېلګو سره روښانه شوې.

**سریزه**

ولسونه په ادبیاتو ژوندي دي او ادبیات په انسانانو، هر ولس چې ادبیات ونه لري او هره ټولنه چې ادبي ارزښتونه ونه لري په حقیقت کې هغه مړه او ناپېژندل شوي ولسونه دي. له نېکه مرغه زموږ ولسي ادبیات له زرګونو کلونو راهیسې تر اوسه ژوندي دي او لا تر اوسه هم د سوما بوټي کیسې او د پښتو لنډۍ د خلکو په غوږونو کې ازانګې کوي او هنري لذایز یې را پاروي.

که نن د نړۍ او په ځانګړې توګه پښتو ادبیاتو هر ځومره پراختیا موندلې او ټول انساني ارزښتونه یې رانغاړلي بیا یې هم امتیاز ولسي ادبیاتو ته ځي، ځکه موږ ټول په دې پوهېږو چې زموږ د مکتوبي ادبیاتو پیلامه له ولسي یا ګړنیو ادبیاتو څخه پیل شوې او تر اوسه پورې را روانه ده، خو له بده مرغه موږ په دې وروستیو کې خپلو ولسي ادبیاتو ته پاملرنه کمه کړې او په هغې کې مو تر ټولو مهم بحث چې هغه د کوچنیانو ادبیات دي، سوچه له پامه غورځېدلې او ډېر ژر به یې په ټوله معنا د ورکېدلو شاهدان اوسو، ښایي ډېر لاملونه ولري خو زما په نظر تر ټولو لوی لامل یې د متمدنې نړۍ پرمخ تللو وسایلو او تخنیکي توکو ته تمایل دی، له بلې خوا ټلویزیوني بې معنا پروګرامونه او له حده زیات د ماشومانو کارټوني فلمونه هغه لاملونه دي چې زموږ کوچنیان یې په ادبي برخو کې یا سوچه نالوستي کړي او یا یې د دې برخې له بې سوادۍ سره مخامخ کړي دي، ځکه زموږ د نسل ماشومانو ډېرې غوره او ښې سندرې جوړولې، ښه ماشومانه کیسې او چستانونه یې ویل، ښې ترانې یې جوړولې او ښه پوښتنې او ځوابونه یې مطرح کول، خو د اوسني پېر ماشومان نه یواځې نوي شیان نه شي جوړلای، بلکې هغه پخواني الفاظ له مخې هم نه شي لوستلای چې زموږ په څېر وروسته پاتې ټولنو لپاره دا یو لوی ناورین او د سواد له منځه تګ دی، هیله ده دې برخې ته د کورنیو ترڅنګ په حکومتي کچه هم توجه وشي او دا فرهنګ له سره را ژوندی او پراخ شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې لومړی د پرمختللو ټولنو ولسي-ادبیاتو ته پاملرنه شوې چې هغوی ورته په کوم ارزښت قایل دي او موږ موږ ورته په کوم نظر ګورو. د دې ترڅنګ د کوچنیانو ادبیات څه شی دی، پر ولسي ادب یې اغېز څنګه دی، ځکه د نن ورځې کوچنی د سبا ورځې ځوان او د بلې ورځې راتلونکې ده، نو په کار ده چې خپل کوچنیان پر پوهې، تربیې او سالمې روزنې سمبال وپالو او د خپلو تېرو نسلونو له میراثو، سرښندنو او بریالیتوبونو یې خبر کړو، چې له نېکه مرغه د نورو کارونو ترڅنګ په کې ستر رول د کوچنیانو ادبیاتو هم لرلی دی.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې یو ځل بیا دې برخې ته توجه وشي، د

کوچنیانو ادبیات پراخ شي، کوچنیان له مزخرفاتو څخه منع شي، کورنۍ ورته پاملرنه وکړي، ارزښتونه یې معلوم کړي له بې ځایه امکاناتو څخه چې د ګټې پر ځای ورته تاوان رسوي ډډه وکړي او ترڅنګ یې د حکومت هم دې برخې او تشې ته پاملرنه را واوړي او دې برخې ته جدي توجه وکړي، ځکه ماشومان د تنکیو لښتو په څېر دي چې په کومې یې تاوو هغسې اوړي، نو دا خالي یا سپین ذهنونه باید په تشو او بې ځایه موضوعاتو ډک نه شي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنې کې لاندې پوښتنې د موضوع کلیدي پوښتنې دي:

- ادبیات څه شی دی؟
- ولسي ادبیات کوم دي او په څو برخو وېشل کېږي؟
- د کوچنیانو ادبیات کوم دي او ارزښت یې څه دی؟
- پر ولسي ادبیاتو د کوچنیانو ادبیاتو اغېزې څه دي؟
- د کوچنیانو ادبیات په څو برخو وېشل کېږي او مثالونه یې کوم دي؟
- څنګه کولای شو چې خپل کوچنیان په سمه توګه وروزو؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې پوښتل شوي چې د مقالې په اوږدو کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دې رساله کې له تشریحي، توضیحي، تحلیلي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود څخه استفاده شوې او هڅه شوې چې موضوع پر علمي معیارونو برابره بشپړه شي.

## د څېړنې پیل

که ولسي ادبیات په نړیواله کچه مطالعه شي او د ټولو ولسونو پر ولسي ادبیاتو باندې غور وشي، نو زما په نظر د پښتو ادب ولسي- ادبیات به هم غني وي او هم پراخه، په دې معنا چې لا تر اوسه هم زموږ ژبه له ولسي ادبه ډکه ده، چې دقیقه مطالعه او راټولونه غواړي، خو دا چې څه وخت، فکر کوم لا به هم سوالیې وي؟

د دې لپاره چې د دې اوږدې لړۍ یوه بله کوچنۍ کړۍ هم پرانیستل شوې وي، لومړی به د ولسي ادبیاتو پر پېژندنې بحث وکړو او بیا به یې په لمن کې د

کوچنیانو ادبیات وګورو چې څنګه دي او کومې ځانګړنې لري:

لکه څنګه چې پوهېږئ د فولکلور د نامـه پـه اړه بېلابېـل نظریـات موجـود دي، خو په ټوله کې ویلای شو دا کلمه د لـومړي ځـل لپـاره یـو انګریـز څېړونکـي ټـامس (W.J.Thoms) وکاروله، نو ځکه یې د فولکلور په نامه شهرت وموند، البتـه مـوږ ورتـه په خپله ژبه کې ګړني ادبیات، شفاهي ادبیات او یا هم ولسي ادبیات وایو.

د ادبپوهانو پـه وینـا د فولکلـور (Folk- Lore) لغـت لـه دوو توکونـو څخـه جـوړ شوی دی: (فولک) د خلکو په معنا او (لور) پوهې او حکمت ته ویل کېـږي، چـې پـه ټوله کې فولکلور د خلکو پوهې او یا هم ولسي پوهې ته ویل کېږي. (۱)

دا چې د فولکلور کلمـه انګریـزي ده، نـو پـه انګریـزي یـې لـومړی لام نـه تلفـظ کېږي او د (فوکلور) په بڼه یې تلفظ کوي، خو دا چې د نړۍ اکثره ژبې د سایلنټ یـا بې غږه توری نه لري، نو ځکه یې دلته هم د انګریـزي ژبـې دا قاعـده نـه ده مراعـات کړې او کابو ټولو د فولکلور په بڼه را اخیستې چې اوس یې سمون پـه کـافي انـدازې وخت غواړي.

البته ځینې ادبپوهان په دې نظر دي چې فولکلور د شفاهي یا ولسيـ ادبیـاتو په معنا نه دی او دا دواړه د منځپانګې له پلوه سره توپیر لري، خـو اسـتاد حبیـب الله رفیع په خپل تازه چاپ شوي کتاب کې بیا دا مسئله داسې څېړلې ده: "فولکلـور تـه په بېلو- بېلو ژبو کښې د فرهنګ عامه، خلک پېژندنې، تـوده شناسـی، دانـش عـوام، خلقیات او هم د اساطیرو او میتولوژي نومونه ورکړل شوي دي چـې هـر یـو د خلـک پېژندنې او د خلکو د فرهنګ معنی لري.

مثلاً:

۱- فولکلور یوه انګلیسي کلمه ده چې د "فلک" او "لور" څخـه جـوړه شـوې ده؛ "فلک" د خلکو او عوامو معنی ورکوي او "لور" د علم او پېژندنې په معنـی راغلـی دی او په مجموعي توګه د نیکونو عقاید، د اجدادو رسوم، افسـانې او د دوی د عقایـدو او رسومو د څېړنې معنی ترې اخیستله کېږي." (۲)

د استاد رفیع په پېژندنه کې پورته شکونه په ټوله معنا ځواب شـوي دي او اوس نو هغه پخواني شکونه نه دي په کـار چـې ویـل بـه یـې فولکلـور پـه پخـواني شـوروي اتحاد کې یواځې د ولسيـ شـفاهي ادب او خلاقیـت، ولسيـ سـندرو او نڅـاوو لپـاره

کارول کېږي، بلکې فولکلور د نیکونو د عقایدو، د اجدادو د رسومو، افسانو د دوی د عقایدو او گروهو څېړلو ته وايي، چې د عقایدو څېړل بیا د شوروي اتحاد هغه پخوانی ځانگړنې نه رانغاړي، بلکې ډېره پراخه او لویه معنا لري.

په دې معنا فولکلور اصلاً د عوامو خلکو، د یو ملت یا یو قوم او یا هم یو نژاد په نظر د حقایقو مجموعه ده، د دوی عنعنوي سرمایه ده او د ژوند او جهان په اړه د دوی فکر او عقیده، معلومات او افکار او په ټوله کې د دوی عمومي ذهنیت دی.

په حقیقت کې په فولکلور کې د یو ملیت یا ملت ټوله ماضي او د موجوده او راتلونکي ژوند ارزښتونه پراته دي؛ یعنې موږ ویلای شو چې د یوې ټولنې فولکلور موږ ته د هغوی د پلرونو، نیکونو او اجدادو کلتوري نورمونه او ټولنیز ارزښتونه بیانوي او د هغوی له کلتوري معیارونو او هدفونو سره مو اشنا کوي. پر همدې اساس فولکلور انسانانو ته لارښوونه کوي، ژوند ته یې معنا ورکوي او په ټوله کې یې د حرکت لوری ټاکي. (۳)

پورته څرگندونو ته په کتلو سره په هېڅ صورت فولکلور د ولسي شفاهي ادب او خلاقیت، ولسي سندرو او نڅاوو ته نه ویل کېږي، بلکې ډېره پراخه معنا لري او د همدغې پراختیا له امله تر ننه پورې په دې سیمه او ژبه (پښتو) کې د استعمال موارد لري او په کې موندل کېږي.

البته ځینې پوهان په دې نظر دي فولکلور په هغو ولسونو کې تر ډېره ژوندی وي چې هغه ولسونه له تمدنه او پرمختگه لرې وي، خو که چېرې دا خبره هم ومنو، نو انگلیستان په نني عصر کې له دومره تهذیب، پرمختگ او امکاناتو سره سره بیا هم فولکلور پالي، را ټولوي یې او زېږوي یې، نو معنا دا چې فولکلور د متمدنو ټولنو مال هم دی، خو توپیر یې دومره دی چې په وروسته پاتې ټولنو کې په یو ډول پالل کېږي او په پرمختللو ټولنو کې په بل ډول.

البته د دې خبرې معنا به دا هم نه وي، چې موږ د فولکلور په خرافي یا عنعنوي ویناوو سترگې پټوو، ځکه که چېرې موږ د فولکلور ډلبندۍ ته ځیر شو، نو هلته گورو چې له ځینو ستونزو سره مخامخېږو، په دې معنا د فولکلور په تصنیف بندۍ او وېش کې په کافي اندازې ستونزې شته، خو کوم نظر چې ادبپوهانو ته تر ډېره د منلو دی هغه د گومي نظر دی.

سرجورج لارنس ګومي (۱۸۵۳-۱۹۱٦ م) په خپل کتاب Handbook of Folklore کې فولکلور په لاندې برخو وېشي:

۱- عنعنوي کیسې: چې په دې برخه کې عامیانه حکایتونه، د اتلانو کیسې، ترانې، سرودونه او داسې نور مسایل راځي.

۲- عنعنوي دودونه: په دې برخه کې ولسي- دستورونه او عادات، مراسم او لوبې راځي.

۳- عقیدې او خرافات: جادوګري، نجوم، خرافي او موهومي تمرینونه او دې ته ورته مسایل راځي.

۴- عامیانه ویناوې او خطابې: د خلکو مروجې ویناوې، متلونه، هجایي اشعار او کیسې راځي. (۴)

اوس که موږ خپله پورته خبره را ټینګه کړو، چې فولکلور په ټوله معنا له نوو علومو سره کار لري، نو له دغې ډلبندۍ سره مو په ټوله معنا مخالفت کړی او که وایو چې نه، له نوو علومو سره کار نه لري، نو بیا مو هم د نړۍ له نوو زېږېدلو فولکلورونو او ولسي ادبیاتو څخه سترګې پټې کړي، نو ځکه وایو چې د فولکلور لمن ډېره پراخه ده چې ښایي تر ډېره په راتلونکې کې هم د مطالعې ځای ولري.

په هر حال! که دا بحث وغځوو ښایي په کتابونو کې یې هم را ټول نه کړای شو، نو ځکه پر همدومره مسایلو بسنه کوو او اوس د فولکلوریکو ادبیاتو له دریځې په خپل اصلي بحث را چورلو.

ادبپوهان وایي فولکلوریک ادبیات باید هغه ادبیات وګڼل شي، چې په ګړني ډول په کلو، بانډو او ولسونو کې د ښځینه وو او نارینه وو له خوا په منظوم او منثور ډول تولید شوي وي او هنري ارزښت ولري، یعنې په فولکلور کې هغه برخې چې هنري ارزښت او لذت ونه لري هغه باید په فولکلوریکو یا ولسي- ادبیاتو کې ونه شمېرل شي، خو معنا به یې دا نه وي، چې ګواکې فولکلور دې هم نه ګڼل کېږي، بلکې معنا یې دا ده هغه برخې چې د کلیوالي دود او دستور او د پېښو پر وخت د ځانګړي طرز تفکر استازي کوي هغه باید د فولکور د یوې برخې یا جز په توګه د فولکلور په پراخې لمن کې مطالعه شي، نه د فولکلوریکو ادبیاتو په توګه. (۵)

نو که چېرې درانه څېړونکي په دې خبرې کې راسره همغږي وي، زه فکر کوم

بیا نو زموږ کار یو څه اسانه شو او په ډېرې اسانۍ د ماشوم یا کوچنیانو ادبیات په دې بحث کې د مطالعې ځای لري؛ ځکه د کوچنیانو ادبیات په ټوله کې په دوو سترو برخو وېشل کېږي، یو هغه ادبیات چې لویان یې ورته پنځوي او بل هغه ادبیات دي، چې خپله ماشومان یې پنځوي، نو دا جوته خبره ده چې د لویانو له خوا پنځول شوي ادبیات یو څه د مکتوبي ادبیاتو په اوبو خړوب شوي، خو د ماشومانو له خوا پنځېدلي ادبیات ښایي ډېر ځله د مکتوبي ادبیاتو پر چوکاټونو برابر نه وي، خو ترې منکرېدلای هم نه شو او که حقیقت ته ځیر شو، نو تر ټولو زړه راښکونکې او اغېزمن ادبیات هم دي، ځکه د ماشومانو له خوا په ماشومانه او په زړه پورو الفاظو کښل شوې وي، چې وروسته پرې په تفصیلي توګه بحث کېږي، نو په ټوله کې ویلای شو چې په فولکلور کې د کوچنیانو ادبیات په ټوله معنا ځانګړی ځای لري.

ادبپوهان وایي چې د کوچنیانو په ادبیاتو کې رسمي او ملي ادبیات، د هېوادونو یا ملل ادبیات، بومي ادبیات، سیمه ییز ادبیات، ولسي- یا فولکلوریک ادبیات او دې ته ورته نور ټول ادبیات د ماشوم د ادبیاتو موضوع ده چې پرې بحث کېدلای شي، ځکه د ماشوم په ادبیاتو کې لومړنۍ موضوع د ښوونې او روزنې موضوع ده او د کوچنیانو د ادبیاتو بنسټیزه موخه هم همدا ده، نو ځکه وایو چې د ټولو ادبیاتو ترڅنګ ولسي ادبیات هم هغه ادبیات دي چې د کوچنیانو ادبیاتو پرې اغېزه ښندلې، د دې لپاره چې د کوچنیانو ادبیاتو ته په دقیقه توګه متوجه شو، لومړی به ورته توجه وکړو چې د کوچنیانو ادبیات څه ته وایي او کوم دي، خو وړاندې تر هغې ماشوم څوک دی او چا ته ماشوم ویل کېږي؟

### د ماشوم پېژندنه

عربان ماشوم ته طفل وايي چې جمع يې اطفال، طفله، طفل او نور دي، طفل په لغت کې (صبي)، (ماشوم) ته وایي چې د صبي کلمه د نرینه او ښځینه او د دواړو د جمعې لپاره هم کارول کېږي او په شریعت کې ماشوم یا صبي هغه چا ته ویل کېږي، چې د ځوانۍ پړاو ته نه وي رسېدلی، یعنې بالغ نه وي او دا پړاو د مور له ګېډې څخه نیولې آن تر زوکړې، خاپوړو او ځوانۍ ته تر رسېدو پورې وي. (٦)

د پورته تعریف له مخې ګورو چې عربان یې طفل بولي او زموږ په ژبو کې ورته

د ماشوم، کوچنی، معصوم، صغیر، هلک، ژړنی، اېوان (حیوان)، کمکی او دې ته ورته نومونه کارول کېږي، چې معمولاً د مور له زېږون واخله بیا تر ځوانۍ پورې ماشوم ګڼل کېږي، خو دا چې ماشوم څوک دی، کمکی څوک دی او کوچنی څوک؟ دا یو بېل بحث دی چې له رواپوهنې واخله تر طبه پورې ټول علوم پرې بحث کوي، خو موږ ورته کوچنی او د کوچنیانو ادبیات ځکه وایو چې اکثره ژبپوهان او ادب پوهان په همدې نامه سره سلا شوي او ښاغلي آصف بهاند پرې یو کتاب هم لیکلی چې هلته یې دا موضوع په تفصیل سره څېړلې ده، نو ځکه په دې باب د نور بحث نه تېرېږم.

ادبپوهان وايي کله چې کوچنی دې نړۍ ته راشي، نو ورسره جوخت د هغه د شخصیت خبره هم مطرح وي او په حقیقت کې د وخت په تېرېدو سره د ماشوم د شخصیت اړخونه معلومېږي، چې څه ډول شخصیت دی او څنګه شخصیت خوښوي او دا چې وروسته ټولنیز حالات او موقفونه دا چېرې بیایي هغه د رواپوهنې تخصصي بحث دی.

همدغو مسایلو ته په کتلو سره کوچنیان د نړۍ لوی جمعیت دی او دا زبات شوې خبره ده چې د نړۍ هېڅ ګوټ بې له ماشومه نه دی او دا هم منل شوې خبره ده چې د هرې ټولنې او هرې کورنۍ ماشوم، د یوې کورنۍ ماشومان هم د خویونو او عاداتو له مخې سره متفاوت دي، ځینې یې یو ډول روحي او جسمي جوړښت لري او ځینې یې بل ډول، یو شمېر کوچنیان شوخ او مست شخصیت خوښوي او ځینې نور یې بیا آرام، نو معنا دا چې هر یو یې ځانله دنیا او ځانته نړۍ لید دی او د رواپوهنې د علم پر اساس د هر ماشوم په زېږون سره نړۍ بیا له سره زېږي، نو په کار ده چې د دوی نړۍ ته لږه توجه وکړو او پر ادبیاتو یې بحث وکړو:

## د کوچنیانو ادبیات

په دې بحث کې لومړی پوښتنه دا ده چې ایا د کوچنیانو ادبیات او د لویانو ادبیات یو شی دی که توپیر لري؟ د دې پوښتنې ځواب هله موندلای شو چې لومړی ادبیات وپېژنو چې ادبیات څه شی دی؟

## ادبیات

د ادب یا ادبیاتو په اړه د نړۍ ډېرو پوهانو نظریات ورکړي او هر یو له خپله

دیده تعریف کړی دی، خو اطهر پرویز یې داسې را پېژني: "څوک وایـي ادب د ژونـد استازی دی، خو نور بیا وایي، چې د استازي ترڅنګ د ژوند نقد هم کـوي او د ژونـد تفسیر هم وړاندې کوي، خو په اجمالي توګه ویلای شـو چـې ادب هغـې لیکنـې تـه وایي، چې له ورځنیو خیالاتو غوره خیالات او له ورځني ژبې څخه د غوره ژبې اظهـار کوي.

ادب د انسانانو د تجربو نچوړ وړاندې کوي، انسان چې پـه نـړۍ کـې کـوم څـه ویني، څه فکر کوي، کومې تجربې لاس ته راوړي او په هغو ځان پوهوي، د دې ټولو شیانو اظهار او هغو ته ځواب د ادب په جامه او چوکاټ کې وړاندې کوي، له همـدې امله ادب د ژوند ډېر لوی مسایل رانغاړي." (۷)

د پورته تعریف له مخې ادب د انسانانو د تجربو نچوړ وړاندې کوي او دا تجربې بې له شکه فردي وي، نو ځکه ادبیات هم ټول عمر ثابت نه وي او هـره ورځ د بـدلون او پرمختـګ خـوا تـه روان وي، ځکـه نـه تجربـې یـو ډول وي او نـه هـم د هـر عصـر غوښتنې او نه هم ابهامات، په دې معنا یو مهال ویـل کېـدل چـې ادب د ادب لپـاره دی او د ادب د ادب لپاره معنا همدا ابهام و، چې هرڅوک پرې نه پوهېدل.

ځوان لیکوال طائر ځلاند په دې اړه وایـي: "د ادب پـه اړه لـه پخـوا راهیسـې د دې دوه نظریو منونکو ترمنځ منازعه را روانه ده:

یوه نظریه وایي چې ادب باید یواځې د یوې هنري پدیدې په توګه تخلیق کړو؛ د ادب د تخلیق پر وخت نه خو زموږ موخه کـوم خـدمت وي او نـه هـم کـوم مسـولانه کار ترسره کول، بلکې تخلیـق کـونکی یـواځې یـوه داسـې ښـېبه تصـویروي چـې پـه حقیقت کې هغه یواځې لذت ورکونکې وي.

خو بله نظریه بیا وایي چې ادب یو هنر دی او هنر د انساني ژونـد لـه پـاره دی، د دوی په نظـر ادب وسـیله ده او هـدف د انسـاني ژونـد ښـېرازي ده چـې د ادب لـه لارې یې لیکوال کولی شي." (۸)

په دې تعریف کې که چېرې لومړۍ نظریه ومنو، نـو دا څرګنـده خـبره ده چـې ادب یې د روحي سکون وسیله ګڼلـې او بهرنیـو پېښـو تـه پـه کـې اړتیـا نـه لـري، پـه داسې حال کې چې ادبیات له بهرنیو پېښو، تجربو او حالاتو زېږي انسان اغېزمنـوي او بیـا د هـنر پـه زور د ذوق مرانـدې داسـې پیـي چـې د لوسـتونکي د زړه مرانـدې

راکاږلای شي، نو دا راښکون ځینې مهال ډېر عالي او هنرمندانه وي او ځینې مهال کمزوری او عادي، چې بې له شکه د ماشوم د ادبیاتو بحث هم همداسې دی.

په دې معنا کله چې د ادبیاتو تعریفونه ګورو، نو دا ترې څرګندېږي چې ادبیات په ټوله کې یو ډول دي که هغه د کوچنیانو وي او که د لویانو، خو جزیات یا برخې یې بیا سره توپیر لري. موږ چې کله د کوچنیانو ادبیات وایو، نو موخه مو هغه ژبه، اصطلاحګانې، نثري، نظمي او شفاهي ویناوې، لیکنې او تخلیقات وي چې په ماشومانو پورې اړه لري او ماشوم ته خوښې وربخښلای شي او کله چې په کې د ماشومانو خوښي راشي، نو بیا خبره یو څه جزیي کېدلای هم شي. په اړه ډاکټر علي اکبر شعاري نژاد وایي: "د ماشومانو ادبیات د هغو اثارو، کتابونو او مقالو مجموعې ته ویل کېږي، چې د متخصصو لیکوالانو په مټ د ماشومانو د ازادې مطالعې له پاره لیکل کېږي او د ماشومانو خوښه، ذوق او ودې کچه په کې په پام کې نیول کېږي." (۹)

خو فرخ صادقي بیا په همدې تعریف کې لږې نورې خبرې هم زیاتوي او وایي: "ټولې هغه لیکنې چې د ماشومانو د لوستلو لپاره مناسبې وي، پرته له دې چې د مستقیمې زده کړې موخه په کې نغښتې وي او په ټولنیز، تاریخي، ذوقي او ادبي برخه کې د ماشومانو د معلوماتو کچه لوړه کړي د ماشومانو ادبیات ورته وایو." (۱۰)

په دې تعریف کې موږ هم د خپل ژوند تجربې لیدلای شو، په دې معنا ډېر څله ځینې ماشومان د استاد له لښتې او یا هم د کورنۍ له ډېر فشاره په تنګ شوې وي او نور نه غواړي چې د کتاب په نامه څه په مخ کې ونیسي، خو دغه د ماشومانو ادبیات چې ډېر څله خوږې او زړه راښکونکې ترانې وي هغوی بېرته په نامستقیم ډول د زده کړې خوا ته را کاږلی شي، معنا دا چې د لیکوال موخه به د ده هڅول وي، نه د ادبیاتو پراخېدا، خو دغې موخې په ورته وخت کې څو کاره کړې وي، چې هغه هم د ماشوم هڅول دي او هم یې په ذهن کې یو څه پیدا کول، یعنې موږ دلته بیا هم له یوې پوښتنې سره مخامخېږو، په دې معنا موږ دغه ډول ادبیاتو ته باید د ماشوم ادبیات ووایو او که د ماشوم لپاره ادبیات؟

څکه نظریه لرونکی لیکوال ډاکټر رازق رویین په دې اړه وایي: "د کوچنیانو لپاره ادبیات هغه ادبیات دي چې د لویانو له خوا د کوچنیانو لپاره پنځول کېږي او

د کوچنیانو ادبیات یا د کوچنیانو له خوا ادبیات هغه ادبیات دي چې د کوچنیا له خوا پنځول کېږي." (۱۱)

د نوموړي په وینا دویم ډول ادبیات یې غوره دي او هغه په دې چې دا ډول ادبیات ولسي یا عامیانه ادبیات دي، چې د لوبو، مستۍ، ترانې ویلو او پټ پټونې پر مهال یې په ناشعوري توگه له خولې باسي، چې په کافي اندازې به ستونزې هم لري، ادبیات به یې سم نه وي او د ساده یا عامیانه خبرو په څېر به وي، خو که چېرې مشران په کې مداخله وکړي او لږو ډېر یې الفاظ جوړ کړي، نو نه یواځې پرې ماشوم خوشحالېږي، بلکې خپلو تېروتنو ته یې هم فکر کېږي او د نورو ترانو په خلق کولو کې بیا لږو ډېر فکر کوي، خو له دې سره چې ناادیب لویان یې ځینې خبرې یا وزنونه اصلاح کوي بیا هم د ماشومانو له خوا د کوچنیانو ادبیاتو په نامه یادېږي او داسې یې تعریفولای شو: "د کوچنیانو ادبیات د کوچنیانو له خوا د هغو ویل شوو نالیکل شوو (عامیانه او شفاهي) او لیکل شوو (تحریري او مکتوب) خبرو ټولگه ده چې په ماشومانو پورې اړه لري." (۱۲)

معنا دا چې لیکل شوې او نالیکل شوې خبرې یا د خبرو ټولگه او په ولسي- ادبیاتو کې تر ټولو مهم ارزښت گړني ادبیات دي، نو گورو چې د ماشوم ادبیات پر ولسي ادبیاتو ژوره اغېزه لري او ښایي د کوچنیانو ادبیاتو پیلامه هم له همدې ځایه وي. د دې لپاره چې د کوچنیانو د ادبیاتو اغېز مو په ولسي- ادبیاتو کې موندلای وي، د دواړو اړیکو ته به ورشو چې څه ډول اړیکې لري؟

موږ د خپل بحث په پیل کې د ولسي ادبیاتو په اړه د امکان تر حده بحث وکړ او دا مو روښانه کړه چې د بشریت ډېرې ناویلې خبرې په شفاهي ادبیاتو کې ویل شوي، ځکه د دغه ډول ادبیاتو یوه ښېگڼه دا ده چې په لومړیو کې گړنۍ یا شفاهي وي او ډېر ځله په کې د ویناوال څېره پټېدله. د ساري په ډول موږ په زرگونو داسې لنډۍ لرو چې تر اوسه پورې یې ویناوال معلوم نه دي، خو له هنر، لذت او لطافتونو څخه دومره ډکې دي، چې ښایي زموږ د لوړې پایې شاعران یې هم ونه ویلای شي.

همداسې د ولسي ادبیاتو دا نور صنفونه هم در واخله چې د ولسي- خلکو له خوا دومره غني شوي چې تر اوسه یې څېړونکي قوت او ځواک ته گوته په غاښ دي، خو دا ټول په حقیقت کې گړني یا شفاهي دي او موږ د کوچنیانو د ادبیاتو په

اړه هم همدا خبره وکړه چې کوم ادبیات چې په خپله د کوچنیانو له خوا پنځول کېږي هغه ګڼني دي او ډېر ځله د لیک په ژبه نه وي او دا چې دې اړتیا ته د درنو لیکوالو او شاعرانو هم فکر شوی، نو هڅه یې کړې چې په دې برخه کې ورته ځینې اشعار، ترانې، کیسې او... وپنځوي چې هم د کوچنیانو ژوند ته رنګ او ښکلا ورکړي او هم یې په نامستقیم ډول سمې خوا ته رهنمایي کړي، د دې لپاره چې دا بحث لږ نور هم روښانه شوې وي، وبه ګورو چې په ولسي ادبیاتو کې زموږ د ګلالیو ماشومانو لپاره او یا هم د ماشومانو له خوا ویل شوې ترانې، کیسې، منظومې او... څنګه دي:

**د ماشومانو منظوم ادبیات**

په دې بحث کې پر هغو شفاهي منظومو ادبیاتو بحث کوو چې د ماشومانو له خوا ایجاد شوي، لکه: د ماشومانو سندرې، د ماشومانو مشاعرې، منظومې کیسې، پوښتنه او ځواب او په دوهم بحث کې هغه منظوم ادبیات تر بحث لاندې نیسو، چې د لویانو له خوا ماشومانو ته خلق شوې دي، لکه: د میندو سندرې، منظومه ډوله کیسې، لیکلي منظوم ادبیات، شعرونه، ترانې، لیکلې منظومې کیسې او داسې نور.

**لومړی) د ماشومانو سندرې**

لکه څنګه چې پرې پورته هم بحثونه وشول دا ډول سندرې کوم ځانګړی تعریف او جوړښت نه لري، چې کله او څنګه د ماشومانو ذهن ته ورغلي ویلي یې دي او له نورو ماشومانو سره یې هم شریکې کړې دي، خو یوه ښېګڼه چې په دې سندرو کې تر سترګو کېږي هغه د دغو سندرو ترمنځ د آهنګ او وزن خبره ده، چې دا دواړه ځانګړنې د منظوم کلام دي او په وسیله یې کلام منظوم کېږي، خو کومې سندرې چې د یوې سیمې د ماشومانو له خوا وویل شي په بلې سیمې کې هم په هماغه بڼه کټ مټ نه ویل کېږي او توپیر لري، چې زموږ مقاله یې د توپیرونو له حوصلې وتلې ده، خو د یوې خبرې یادول غواړم او هغه دا چې دا ترانې ټولې د یو جنس له خوا نه وي، یعنې هم د هلکانو له خوا وي، هم د نجونو له خوا او هم مشترکې، چې لاندې بېلګو ته به یې توجه وکړو:

زما یوه څپلۍ وه
کاپېره درې منۍ وه
مانه پټه کړه غازیانو
زه لاړمه تپې ته

تپه کې یوه شادي وه
پخ کړې یې وې پتیرې
نه یې خوند وه نه مزه
ټق یې راکه په تندي
ګډېدم لکه شادي

✵ ✵ ✵

پورې یو کلی و
کتاب یې غوړولی و
لاړه مه ماما کره
ماما مې خیرات کړی و
د خره سر یې پخ کړی و
یوه مړی مې وکړه
په دې سرو کولمو مې ټک شو
ټک په ماذیګر شو
وختمه غره ته
راپرېوتم څنګله ته
جنوکیو خوشیي اچول
الو، بالو، الو، بالو
الو، بالو، الو، بالو (۱۴)

په دغو دواړو سندرو کې، چې د هلکانو لـه خـوا ویـل شـوې دي ګـورو چـې نـه جولیز ترېښت شته او نه هم منځپانګیز، خو دا چې وزن او آهنګ لـري نـو د ماشـومانو لپاره یې جذابیت پیدا کړی او په دې توګـه یـې د ماشـومانو ذهنونـو او زړونـو تـه لاره کړې.

د شفاهي یا ګړنیو ادبیاتو یوه دنده هم همدا ده چې هر هغه څه چې ولس یـې وايي هماغسې کټ مټ یې سینه په سینه او نسـل پـه نسـل را انتقـال کـړي. د دغـه ارزښت پر اساس ښايي موږ د دې سندرو دقیقه نېټه معلومه نه کړای شو، خو د کلام اصالت او امانتداري په کې تر ډېره ښکاري.

دا هم د نجونو له خوا ویل شوې سندرې:

بابا مې تلی محکمې ته
رابه شي غرمې ته
ماته به الو راوړي
الو به ورکم غوا ته
غوا به ماته پی راکي
پی به ورکم خدای ته
خدای به ماته ورور راکي
وروره بیدار شه ستا په لونګی جنګ دی
لاس کې دې ترې ترې بادرنګ دی. (۱۴)

په دې سندره کې ګورور چې په ماشومانه انداز یو ډول خیالي دنیا جوړه شوې ده او نجلی په کې د ورور غوښتنه کړې چې ماشومانه رښتینې او سپېڅلي احساسات بیانوي.

دا هم هغه بېلګه چې د هلکانو او نجونو له خوا یو ځای ویل کېږي:

اکو بکو سر سیندکو
غوا مې راغله په دربکو
پاتو خورې راووځه
په لستوڼي کې دې څه دي؟
زېړې نری وریجې
دا کلا د چا ده؟
دا د مومن خان ده
پکې ناسته ده ایلی
الي شرنګه ډېلی (۱۵)

البته دا هغه سندره ده چې په ټولو پښتني سیمو کې ډېره عامه او د ماشومانو د خوښې وړ سندره ده، خو البته لکه څنګه چې پورته هم یادونه وشوه د هرې سیمې وریانټ یې توپیر لري، خو په ټوله کې سره نږدې او ورته ده او ټول پښتانه ماشومان یې په ډېر شوق وایي.

### دوهم) د ماشومانو مشاعرې

ادبپوهان وايي چې دا ډول مشاعرې د کوچنيانو يو ډول مسابقوي سندرې دي چې ډېر ځله يې موخه د کوچنيانو د ادبي ذوق پالل او خونـدي کـول وي. تـر کومـه ځايه چې ماته معلومه ده دا سندرې يا مشاعرې له ډېر پخوا څخه زموږ په ولـس کـې شته او ماشومان يې په ناڅاپه توګه او کـه سـاده يـې ووايـم پـه في البديهـه توګـه لـه خولې را باسي او بل ماشوم ته ځواب ورکوي، خو په ورته وخت کې ځينې يـې لـه يـو نسل څخه بل نسل ته په ارثي ډول او سينه په سينه هم را پاتې دي.

د دې سندرو ترتيب داسې دی چې پـه مسـابقوي توګـه يـې ماشـومان داسـې وايي چې يو ماشوم د سندرې سر وايي او بل يې سندره ور بشپړوي، که مقابل لـوري يې سندره ور بشپړه نه کړای شوه، نو پړ کېږي او لوبه بايلي.

پـه دې مسـابقوي بيتونـو کـې لرغـوني مطالـب پراتـه دي او جوړښـت يـې هـم لرغونی دی. د زياتو بيتونو سکښت يې (۴- ۷) سيلابه دی چـې دا سکښـت د اوسـتا د (اشتود) د دوهـم ګـاڅ لـه سکښـت سره کـټ مـټ برابـر دی او پـه دې توګـه د دې سندرو تاريخ لرغوني آريايي سرودونو ته رسېږي. (١٦)

د دې لپاره چې دا مشاعرې يا سندرې واورو لاندې بېلګې ته به يې ځير شو:

۱- ديو تر کابله

۲- د کابل دروازه بله

۱- د غره په سر نغری

۲- په کې پروت دی زمری

۱- د غره په سر موری

۲- په کې پرته سپينه وری

۱- د غره په سر دړه

۲- پرې وخته ګېدړه

۱- د غره په سر تنور

۲- ترې را وخوت الانور (۱۷)

په دې بېلګه کې ګورو چې په ډېر ماشومانه انداز او د ماشوم لـه ذوق سره سـم سوال او ځواب يا مشاعره روانه ده او ښايي په دې ډول ډېره اوږده مشاعره وکړي، نـو

هیله ده چې د دې برخې مینه وال د امکان په صورت کې خپل ماشومان لـه دغه ډول ادب سره بلد او ترې ثبت وکړي چې خدای مه کړه دا مغتنمه ادبي پانگه له لاسه ونه وځي.

**درېم) کیسۍ**

کیسۍ ته چې اړونه، لغز، چستان او ټکونه هم وايي په دوه ډوله دي چې يو ډول يې نظمي او بل ډول يې نثري دي. ادبپوهان وايي چې کیسۍ هم د لويانو لپاره شته او هم د ماشومانو لپاره، خو اغلب گومان دا دی چې د کوچنيانو لپاره به هم لويانو ويلې وي.

فاضل شريفي وايي: "چيستان د لغز مترادف دی او لغز د پېچلتيا په معنا کارول شوی، د کلام په اصطلاح کې هغه موزوني ده چې په هغې کې د يو څيز صفات او نښې شرحه کېږي، ترڅو د نښو او صفاتو په وسيله د لوستونکي يا اورېدونکي ذهن د ويونکي اصلي مقصد ومونډلای شي." (۱۸)

د ادبپوهانو په وينا کیسۍ معمولاً د ماشومانو له خوا د ژمي او مني په شپو کې په داسې حال کې چې د تنور پر غاړه ناست وي او يا هم د انگړ په غولي کې سره را ټول شوي وي له يوبل سره وايي او ځوابونه ورکوي، که چېرې يو ماشوم بل ماشوم ته کیسۍ ووايي او ځواب يې ورنه کړي، نو پوښتونکی ماشوم گټونکی دی.

د کیسۍ په اړه ډېرې مشهورې مقولې او روايتونه موجود دي او د ډېرو مهمو موضوعاتو په اړه ويل کېږي، په دې معنا ادبپوهان وايي کیسۍ د يوه اشنا څيز د تکرارېدونکې پېښې اوښتې او منحرفه بڼه بيانوي، چې د يوه دوهم ځيز يا پېښې له صفاتو سره چې ورته والی يا مشابهت ولري ورسره يې يادونه کېږي. د دوی په وينا د کیسۍ يوه ځانگړنه دا ده چې د متل په څېر دوهمه کنايي معنا يې په لنډو، خو اشنا الفاظو بيانېږي او هڅه يې هم دا وي چې د متل په څېر د الفاظو لنډوالی او انډول وساتل شي.

فولکلوريستان وايي کیسۍ ډېر لرغونی دود دی او دا دود به اکثراً د خسر ـ د کورنۍ له خوا د زوم د وړتيا او ذهني پياوړتيا د معلوملو لپاره پوښتل کېده او په دې توگه به يې معلوماوه چې زوم يې د خور، خورلڼې وړتيا لري او که نه؟ (۱۹)

دا هم د کیسۍ بېلگې:

❋ وچ کلک، له کولمو ډک؟

(ځواب: کټ)

❋ له پاسه راغی سور بلوڅ، اغوستي يې دي پنځه پنځوس. (پياز)

❋ گرده کليلي، نه يې کلوپ شته نه يې کيلي. (هگۍ)

❋ بې ستنو کوټه، په کې پروت دی شهزاده. (قبر او مړی)

❋ چرگه له چرگوړو سره لاړه هندوستان ته، بيا به راشي مانښام تـه. (سـپوږمی او ستوري).

❋ سره غوښه، په ځمکه ښخه. (گازره).

❋ سل خولې لري، نه گېډه نه کولمې لري. (غلبيل).

❋ شين څادر، په وينو رنگ. (نگريزه).

❋ تشه ځي، ډکه راځي. (د اوبو بوکه) (۲۰)

استاد حبيب الله رفيع په خپل اثر زرينې څانگې کې د ډار مسټير په حوالـه يـو څو ډېرې په زړه پورې کيسې را ټولې کړې چې ستاسې پام ورته را اړوم:

❋ تر پاڼ لاندې خونه

پکې ناسته ده زيتونه (ژبه)

❋ زما يو ورور دی

پر هر بازار يې کور دی (لمر)

❋ برېښې کمکلی دی

يو سر يې سوری دی

بل سر يې نری دی

جوړوونکی د کالی دی

ملگری يې سپنسی دی

ووايه کوم شی دی (ستن)

❋ زما سپينه کوټه

نې لار شته، نه کوڅه (هگۍ) (۲۱)

**څلورم) پوښتنه او ځواب:**

دا هم د کوچنيـانو لـه خـوا د لوبـو او مسـتۍ لپـاره ويـل کېـږي، د دې سـندرو

ترتیب داسې دی چې یو ماشوم له بل نه پوښتنه کوي او هغه به یې ځواب وایي، هر ماشوم هڅه کوي چې ژر او تر نورو زیات ځوابونه ورکړي.

د ماشومانو له مشاعرې سره د دې ډول سندرو توپیر په دې کې دی چې په دې سندرو کې کوم شرط یا قید نه وي او هر ماشوم د خپلې ذهنې وړتیا او ځان ښودنې لپاره هڅه کوي چې ژر او تر نورو زیات ځوابونه ورکړي.

د ادبپوهانو په وینا دا ډول پوښتنې په دوه ډوله وي، یو هغه پوښتنې او ځوابونه وي چې یو ماشوم یواځې د یو شي په اړه پوښتنه کوي او بل یې ځواب وایي، چې په ځواب سره یې پوښتنه بشپړېږي، خو دوهم ډول پوښتنې بیا داسې دي، چې هم پوښتنې متفاوتې او پېچلې وي او هم یې په هره پوښتنه کې لړه لړه سختوي او په ځواب سره یې پوښتنه نه بشپړېږي، بلکې نورې پوښتنې هم په کې کېږي او تر هغې دا لړۍ غځېږي، ترڅو چې اصلي موضوع معلومه شي، د لا روښانتیا لپاره به یې بېلګې ته ځیر شو:

لومړی ډول پوښتنه او ځواب:

پوښتنه: ته ووایه جوار

ځواب: خبرې دې په وار

پوښتنه: ته ووایه اوربشې

ځواب: خبرې دې خوشې.

پوښتنه: ته ووایه چلمچي

ځواب: شاته دې واړه واړه بچي

پوښتنه: ته ووایه اوړه

ځواب: شاته دې مېږه

او دا یې هم دوهم ډول پوښتنې او ځوابونه:

پوښتنه: او پورې بادشاه زای (زوی) دې وشي که لور؟

ځواب: زای (زوی) مې وشي.

پوښتنه: خواني (شیریني) دې څه کی (کړ)؟

ځواب: خواني د کندو په سر نې (دپاسه) دی.

پوښتنه: د کندو په سر نې (دپاسه) نه شته؟

ځواب: پشې (پیشو) به وړې وي.

پوښتنه: پشه څه شوه؟

ځواب: پشه د خره په کته ننوته.

پوښتنه: کته څه شوه؟

ځواب: کته یې په خره واچوله

پوښتنه: خر څه شو؟

ځواب: خر یې لرګیو ته بوت.

پوښتنه: لرګي څه شول؟ (۲۲)

او همداسې تر اخره په ځواب پسې پوښتنه مطرح کېږي او تر هغې پوښتنې کېږي، ترڅو چې دواړه ټاکلې موخې ته ورسېږي، نو په دې توګه ګورو چې د ماشومانو په سندرو کې دومره لوی او مهم ارزښتونه نغښتي چې کوچني ته پر خوند سربېره ډېرې خبرې او کیسې هم زده کوي.

په هرحال! دا ډېر اوږد بحث دی چې په همدې بېلګو پرې بسنه کوو او اوس به له موضوع سره سم په لنډیز هغو سندرو ته تم شو چې د لویانو له خوا ماشومانو ته ویل کېږي:

**د میندو سندرې**

د میندو سندرې هغه سندرې دي چې د میندو له خوا د ماشومانو د ارامولو او ویده کولو لپاره ویل کېږي، لکه:

اللو- اللو

پیشو – پیشو مه راځه د غرو

(ملوک جان) داسې ویده دی لکه ګوډی د رنجو

اللو – اللو

او یا هم لکه:

(نازک جانه) ښایسته

ښه دې توره ښه وسله

په ښایسته نیلي سپره

چې نیلی دې تماشې کا

تور تازیان دي ورسره (۲۳)

البته دا ډېرې اوږدې، په زړه پورې او خوندورې سندرې دي چې آن لویـان هـم ترې خوند اخلي، خو دلته مو د وخت د سپما لپاره په لنډون سره یادې کړې.

## منظومه ډوله کیسې

منظومه ډوله کیسې چې په ترانو هم مشهورې دي د ماشومانو د ساتېرۍ لپاره یو بل ډول ولسي ژانر دی چې د کوچنیانو په ادبیـاتو کـې رغنـده رول لـري، دا ډول ترانې چې د لویانو له خوا ماشومانو ته ویل کېږي د ادبپوهانو په اند په کوم ځـانګړي شعري فورم کې نه دي ویل شوي، خو لـه شـعري مزایـاوو بـې برخـې نـه دي، وزن او موسیقیت لري او اکثره یې کیسه ییزې منظومې ترانې دي، چې په لاندې بېلګو کې ښه جوتېدای شي:

پورې غاړه ونه ده
ونې لاندې چرګه ده
چرګې لاندې مار دی
د مار په خوله کې تار دی
دا تار زما په کار دی
نه څکم د جبې اوبه
راوړئ د چینې اوبه
خوله به مې تنګاکې شي
کابل به رانه پاتې شي
لاړمه کابل ته
د کابل دروازې پورې وې... (۲۴)

نو که دا ډول ترانې یا شعرونه تر اخره ولوستل شي بې لـه شـکه ماشـومانو کـې هم یو ډول مستي پیدا کوي او هم یې پرې ساعت تېرېـږي او پـه همـدې توګـه دوی هم هڅه کوي چې په خپله ماشومانه ژبه د دې ډول نظمونـو او ترانـو پـه څېـر ترانـې ووایي چې پورته یې بېلګې جوتې شوې، نو که په ټوله کې خبره را ټوله کـړو د لویـانو له خوا دا او دې ته ورته ډېر نظمونه او شعرونه د ماشـومانو لپـاره ویـل شـوي چـې پـر همدغو بېلګو یې بسنه کوو او له دې لوی سینده یواځې په همدې کوزې دلته بسـنه

کوو، خو تمه ده چې ځوان او د دې برخې ځانګوال څېړونکي د دې موضوع باریکۍ ته نور هم ځیر شي او د نني عصر له غوښتنو سره سم دا موضوع وڅېړي، نو لکه څنګه مې چې په پیل کې هم وویل او د مقالې سرلیک هم دی زما په نظر تر ډېره د کوچنیانو ادبیات د ګړني یا شفاهي ادبیاتو څخه زېږېدلي یا یې سرچینه همدا ده، ځکه موږ په مکتوبي ادبیاتو کې هم ګورو چې منشاء یا سرچینه یې ولسي- ادبیات دي او نن په دومره ښکلي او مډرنه توګه په نړیواله کچه غځېدلي او مخ په پراخېدو دي، نو همداسې د ماشوم د ادب مسئله هم ده، خو دا چې ورځ تر بلې نړۍ پرمختللې کېږي، د ماشومانو لپاره د سندرو پر ځای ای پټې، مبایلونه، رنګارنګ ګېمونه او کارټوني فلمونه جوړېږي او د دې ترڅنګ په لسګونو ډوله د بوختیاوو او ساعتېرۍ وسایل ورته جوړېږي، نو ورسره ورځ په ورځ د دوی د ادبیاتو زېرمه هم کمېږي او مخ په ورکېدلو روانه ده او که دا لړۍ همداسې روانه وي، ډېر ژر به زموږ کوچنیان دا موجوده او کابو تر ډېره هېر شوي د ماشوم ادبیات هم له لاسه ورکړي او په ټوله معنا به د مکارۍ کېدړې او عاجزې چرګې، چونګښې او مېږي، فیل او ماشې او دې ته ورته خوږو کیسو سره نابلده او نا اشنا وي.

روانپوهنه وایي که غواړئ چې ماشومان مو ذهین، ژر لوستي، منونکي، زړه ور او په خبره پوه وي، نو ورته کیسې، لکه پورته یې چې نومونه یاد شول وکړئ او په دوی یې هم ولولئ، ځکه دا ډول کیسې نه یواځې ستاسې ماشومانو ته په زړه پورې دي، بلکې هغوی هم اتلولۍ، زده کړې او سمې لارې ته راکاږي او زما په څېر موجوده نسل هم د همداسې پېښو او حالاتو شاهدان دي، ځکه زموږ په غوږونو کې لا تر اوسه هم د نیکونو، نیاګانو او زړو ښځو ډېرې خوندورې او په زړې پورې ولسي- کیسې انګازې کوي او لا مو هم هغه خوند، لذت، هنریت او... په نورو شیانو او کیسو کې نه دی موندلی او د هغوی د همدغه ډول کیسو برکت و، چې ما په دې اړه نه یواځې کتابونه وکښل، بلکې ډېرې کیسې مې هم را ټولې کړې او که شرایط ښه وای، نو ښایي د ننګرهار نکلونه کتاب مې په څو ټوکونو بدل شوی وای.

په هر حال! د کوچنیانو ادبیات له ولسي- یا ګړنیو ادبیاتو سره لکه د نوک او اورۍ تړلي مسایل دي، چې له بده مرغه دواړه یې د فنا کېدلو او ورکېدلو په حال کې دي، تمه ده چې زموږ ځوان کول دې نیمګړتیا ته ځیر شي او د امکان تر بریده

یې له متروکېدلو څخه وژغوري.

## پایله

یوه مقوله داسې ده چې ولسي یا ګړني ادبیات معمولاً پـه وروسـته پـاتې ټولنـو کې رامنځ ته کېږي یا په کې زېږي او پراخېږي، خو د نـړۍ متمـدن هېوادونـه همـدا اوس هم ولسي ادبیات زېږوي او پـالي یـې، نـو کـه چېـرې معیـار همـدا وي چـې پـه وروسته پاتې ټولنو کې زېږي، ولې په افغانسـتان کـې د لـومړي ځـل لپـاره د ولسي۔ ادبیاتو په راټولولو بهرنیانو لاس پورې کړ او موږ یې هم دې غنا ته متوجه کړو او ولـې هـر یـو پـه نړیوالـه کچـه زمـوږ د ولسي۔ ادبیـاتو سـتاینه وکـړه او د هغـې د را ټولـو سپارښتنه؟

معنا دا چې زموږ ولسي ادبیات لکه د لالونو غمي داسې دي چې ورځ تـر بلـې په ایرو کې ورکېږي، خو که سوونه او زرګونه کاله وروسته هم له دغـو ایـرو را وایسـتل شول، نو خپله ځلا، ښکلا او ارزښت نه کموي او لا به یې ارزښت زیات کړی وي.

نو په کار ده چې موږ خپل ولسي ادب تـه د یـو ارزښـت او شـتمنۍ پـه سـترګه وګورو، را ټول یې کړو، خوندي یې کړو او د پالنې او پراختیا لپاره یې کار وکړو، ځکه اوس نړۍ هم نه یواځې خپل فولکلور خوندي کړی، بلکې ورځ تر بلې یې پراخـوي او مډرنوي یې، موږ ته په کار ده چې د هغوی له تجربـو نـه اسـتفاده وکـړو، هـم یـې پـه نوې بڼه او هم یې په زړه بڼه راټول او خوندي کړو، د پراختیا لپاره یې کـار وکـړو او دا ناسم پوهاوی د ولس له ذهنه وباسو، چې ګواکې فولکلور یا ولسي ادبیات د وروسته پاتې ټولنو کار دی، د دې ترڅنګ زموږ ماشـومان پـالنې، سـاتنې او روزنـې تـه اړتیـا لري او دا اړتیا د نوو وسایلو ترڅنګ د زړو او تجربو شوو وسایلو په وسیله هـم پالـل او کول په کار دي.

په دې معنا موږ په اوسني پېر کـې د خپـل ماشـومانو لپـاره یـا هـېڅ ادبیـات او ادبي خپرونې نه لرو او یا هم په نشت حساب دي، خو زموږ په وخت کـې د کمکیـانو انیس، انیس کودک، د ماشومانو خپرونې او په لسګونو کتابونه خپرېدل، د ماشومانو لپاره ټلویزیوني خپروني جوړېدلې او داسې په لسـګونو نـور امکانـات د ماشـومانو پـه واک کې ورکول کېـدل، خـو اوس شـپه او ورځ ماشـومان پـه کـارتوني فلمونـو بوخـت شوي چې تر ګټو یې زیانونه زیات دي. ډول ډول ګېمونه او تخنیکي وسـایل سره لـه

دې چې ډېرې ګټې لري، خو همدومره زيانونه هم لري او په حقيقت کې يې ماشومان د کوچنيانو ادبياتو له تخليق څخه په ټوله معنا لرې او شنډ کړي دي، نو د دې لپاره چې دا مسايل په دقيقه توګه څېړل شوې وي، په کار ده چې پخوانيو کاميابو تجربو ته له سره کتنه وشي او د نوو وسايلو په مرسته هغه تجربې لا غني او پراخې شي او په دې توګه زموږ ماشومان هم له ولسي ادب، هم د ماشوم له ادب او هم د خپلې ټولنې له تهذيب او ادب سره بلد، اشنا او تخليقونکي پاتې شي.

## مأخذونه


۱- نصرالله ناصر، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود: د افغانستان د علومو اکاډمي، آزادۍ مطبعه، ۱۳۸۳ لمريز کال، ۵۲ مخ.

۲- حبيب الله رفيع، فولکلور د علم مور: امان کتاب خپرولو موسسه، ۱۳۹۶لمريز کال، ۳ مخ.

۳- حبيب الله جاج پښتونزوی، د فولکلور تاريخچه: د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه، پېښور، ۱۳۸۷ لمريز کال، ۱ مخ.

۴- حبيب الله رفيع، فولکلور د علم مور، ۱۸ مخ.

۵- محمد داود وفا، د فولکلور پېژندنې لارښود: ختيځ اکاډمي، ننګرهار، ۱۳۹۲ لمريز کال، ۱۸ مخ.

٦- رفيع الله نيازی، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبيات: مصور خپرندويه ټولنه، ميوند مطبعه، پېښور، ۱۳۸۹ لمريز کال، ۲ مخ.

۷- اطهر پرويز، ادبڅېړنه (ادبي مطالعه)، د څېړندويې عاقلې سادات پښتو ژباړه: ميهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ لمريز کال، ۲۴ مخ.

۸- طاير ځلاند، ادب او تجربه: عامر پرنټ اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۵ زېږديز کال، ۱۷ مخ.

۹- رفيع الله نيازی، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبيات، ١٦ مخ.

۱۰- همدا اثر، ۱۷ مخ.

۱۱- محمدفاضل شريفي، ادبيات کودک در افغانستان: د افغانستان د علومو اکاډمي د نشراتو رياست، شعيب مطبعه، ۱۳۸۸ لمريز کال، ۱۷ مخ.

۱۲- همدغه اثر، ۱۸ مخ.
۱۳- رفیع الله نیازی، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ٦۴- ٦۵ مخونه.
۱۴- همدغه اثر. ٦۷ مخ.
۱۵- غوټۍ خاورې، د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون: د علومو اکاډمي، د ژبنیو او ادبي څېړنو مرکز، پښتو ټولنه، د فولکلور او شفاهي ادبیاتو دیپارټمنټ، دولتي مطبعه، ۱۳٦٦ لمریز کال، ۳۹- ۴۰ مخونه.
۱٦- همدا اثر، ۴۰- ۴۱ مخونه.
۱۷- رفیع الله نیازی، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ۷۸ مخ.
۱۸- محمدفاضل شریفي، ادبیات کودک در افغانستان،۸۱ مخ.
۱۹- غوټۍ خاورې، د پښتو د شفاهي ادبیات شکل او مضمون، ۴۲ مخ.
۲۰- رفیع الله نیازی، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ۸۱- ۸۲ مخونه.
۲۱- حبیب الله رفیع، زرینې څانگې، د زېري کالنۍ: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، پښتو ټولنه، د زېري جریده، دولتي مطبعه، ۱۳٦۰ لمریز کال، ۲۳۴ مخ.
۲۲- رفیع الله نیازی، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ۸۴- ۸۵ مخونه.
۲۳- حبیب الله رفیع: زرینې څانگې، ۲۳۲ مخ.
۲۴- رفیع الله نیازی، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ۹٦ مخ.

پروفیسور عبدالخالق رشید

کتاب پېژندنه:

# د دارالمصنفین شبلي اکیډیمي اعظمګړ د افغانستان د سفر هیله

**لنډیز**

د دارالمصنفین شبلي اکاډمۍ چاپ اثر د افغانستان سفر هغه معتبر او مغتنم اثر دی، چې یو بل افغانستان پېژندونکی سید سلیمان ندوی لیکلی او په کې د افغانستان د سفر په اړه یې خپل واقعات او حالات لیکلي.

نوموړي په دې اثر کې د افغانستان له مېلمه پالنې واخله بیا تر بېلابېلو سیمو پورې د خلکو دودونه، مېړانې، تاوده هرکلي او آن فرهنګي مسایل بیان کړي او افغانستان په ځانګړې توګه پښتانه یې یو لوی او غیرتمن قوم معرفي کړي.

په دې اثر کې موږ له دې ټولو خوبیو سره سره بیا هم ځینې داسې مسایل وینو، چې موږ ته ډېر جالب نه دي او یا هم هغوی ته د داسې دریځ ځرګندول نه و په کار، په کوم وخت کې چې ندوی افغانستان ته راځي، نو په دغه وخت کې استاد علامه حبیبي د پښتو غورځنګ په نامه غورځنګ پیل کړی، خو دوی لکه څنګه چې په کار دي هغسې له دې غورځنګه ملاتړ نه کوي او ډېرې مایوس کوونکې او یا لږ تر لږه بې خونده خبرې په دې برخه کې کوي.

په هر حال! دا اثر دا او دې ته ورته خبرې لري، چې په مقاله کې یې په اړه لوستلای شئ.

**سریزه**

په دې کې شک نه شته چې افغانستان له طبیعي ښکلاګانو او پاکې هوا نه

مالامال هېواد دی، کلونه وړاندې چې افغانستان د سولې، امن او ښېرازۍ کور و، نـو ډېـرو بهرنيـانو افغانسـتان تـه سـفرونه راکـول او دلتـه يـې د خپلـو ځېرنـو ترځنـګ د افغانستان له ښکلې هوا نه خوند اخيسـت، د بـودا مجسـمو تـه تلـل او د افغانسـتان لرغونې او تاريخي سيمې يې له نږدې څخه کتلې.

البته افغان حکومت هم په دې برخه کې ډېر فعال و او هڅـه يـې کولـه چـې د ډېرو هېوادونو سياسي، تاريخي او فرهنګي شخصيتونه افغانستان ته را دعـوت کـړي او د افغانانو له مېلمه پالنې او ښه ژونده يې خبر کړي.

په دغو راغلو ښاغلو کې به بيا ډېر داسې کسان هم و، چې له سفره په سـتنېدو سره به يې د افغانستان دغو تودو هرکليو ته د ليک او انځـور ژبـه ورکولـه چـې مـوږ د لسګونو سفرنامو ترڅنګ د ځينو فلمونو شاهدان هم يو چـې پـه کـې د افغانسـتان د خلکو مېرانې، سرښندنې او مېلمه پالنې له ورايه ځرګندېږي.

په دغو راغلو ښاغلو کې يو هم سيدسـليمان نـدوی دی چـې افغانسـتان تـه پـه رسمي سفر راغلی او دلته يې د ډېرو سيمو پر ليدلو سربېره له ډېرو لويو شخصـيتونو سره هم ليدلي او په دې اړه يې خپل تاثرات په خپل ليکلي يونليک کې کښلي چـې بې له شکه موږ ته د تاريخي اثر هومره ارزښت لري او موږ په کې ډېر څه پيدا کولای شو.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دغـه ډول آثـارو د معـرفي کولـو لـوی ارزښـت پـه دې کـې دی چـې مـوږ د افغانستان او پښتنو په اړه ډېر هغه څه چې موږ ته تاريخي سندونه دي موندلای شـو او زمـوږ دا داعيـه تـر نړيوالـو دروازو پـورې رسـولای شي، چـې افغانـان يـو مهـذب، بشردوست او مېلمه پال خلک دي او دا کوم تورونه چې اوس پرې پورې کېږي دا نـه د دوی په شان کې شته او نه يې هم په خټه کې.

نو دغه ډول اثار د رښتينې او واقعي افغانستان هينداره ده او په کار ده چـې دا ډول اثار په پښـتو او پـه نړيوالـو ژبـو وژبـاړل شي چـې هـم زمـوږ ملت او هـم نړيوالـو هېوادونه ترې خبر شي.

## د څېړنې موخه

معمولاً په دې ډول اثارو کې هدف دا وي، چې د راغلو پلاوو ليـدلوری زمـوږ پـه

اړه موږ ته په ډاګه کوي چې د دوی برداشت له افغانستانه څنګه و او باید څنګه وي؟

که چېرې یې حقایق بیان کړې وي، نو د ستایلو دي او که پر ناسمه لاره تللې وي، نو زموږ لیکواله ته په کار ده چې د اصلاح لپاره یې متې راونغاړي او ځواب یې ولیکي.

د دې ترڅنګ دا ډول اثار د دوو هېوادونو فرهنګي مشترکات پیدا کوي او په دې توګه یو مېړنی ولس له بل مېړني ولس سره خواخوږی او دوست کوي.

## د څېړنې پوښتنې

لکه څنګه مې چې پورته هم نغوته وکړه دا مقاله د یو کتاب معرفي ده، خو بیا هم تر ډېره لاندې پوښتنې په کې ځواب شوي:

- ✓ دا اثر چا لیکلی؟
- ✓ چېرته چاپ شوی؟
- ✓ د دې اثر منځپانګه څه شی دی؟
- ✓ په اثر کې راغلي مسایل څومره رښتیا دي؟
- ✓ ولې ځینې مسایل په رښتینې توګه نه وایي یا پرې پوهېږي خو احتیاط کوي؟

او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې شوي چې په تدریج سره یې د مقالې په پاڼو کې ځواب موندلای شو.

## د څېړنې روش

دا مقاله تر ډېره تشریحي، تحلیلي او توضیحي ده او د اړتیا په صورت کې یې په ځینو ماردو خپل نظریات زیات شوي.

## د څېړنې اصلي متن

ما له علامه حبیبي څخه اوریدلي و چې ویل به یې ما له اقبال سره لیدلي، خو په فارسي یې سمې خبرې نه شوای کولای. په دې ورځوکې مې د خپلو لوستنو په لړ کې د اقبال د سفر د بل مله سیدسلیمان ندوی د (افغانستان سفرنامه ) لاس ته راغله، دا ډېرجالب اثر دی، په دې چې یوخو په ساده اردو نثرلیکل شوی او بل یې د علامه اقبال له (مسافر) سره توپیر په دې کې دی چې تر هغه په جزیاتو د

دغه سفر ټول جزیات په لاس راکوي، د سید سلیمان ندوي دغه سفرنامه د ۱۹۹۲کال په مې کې د (دارالمصنفین شبلي اکیدیمي اعظم ګړ) له خوا چا پ شوي ده. د دغه اثر په ترڅ کې ټولې هغه پېښې راغلې دي، چې دغه سفر وربانـدې پیل شوی او بیا بېرته په لکنهو باندې چې د ارواښاد ندوي استوګنځی دی پای ته رسیدلی دی. د اثر سرلیکونه او موضوعات دا دي: پیش لفظ، دیباچه، د افغانستان د سفر هیله، له اعظم ګړ څخه روانګی، خیبر درې ته ننوتل، په افغانستان کې، جلال آباد، دافغانستان جوماتونه، له سرور خان ګویا سره کتنه، له لومړي وزیر هاشم خان سره کتنه، حربیه وزیر کوچنی ورور شاه محمود خان، له نادرخان سره ملاقات، د آزاد اسلامي هیواد جمعه، شاهي مقصوره، چینی ترکستان، د ختیزې آسیا مرکزیت او اسلام، خواړه، حضرت نورالمشایخ، هندوستانی ګوند، د بېرته تګ پروګرام، ډاک، کابل موزیم، د لومړي وزیر راتګ، د ځینو خاصو حالاتو کاغذات، له نادرشاه شهید سره ملاقات، د شاه محمود خان مازدیګرنی، د انجمن ادبي ځانګړې ما ښامنی، د کابل د ادبي انجمن د مشر وینا، د سر راس مسعود ځوابیه وینا، د سید سلیمان ځوابیه وینا، د ډاکتر سر شیخ محمد اقبال تقریر، بابرباغ، مکتب صنایع، سرکاري موترخانه، د نوو دکانونو ماڼی، هوایي ډګر، د بالاحصار حربي ښوونځی، د دووصحابه وو مزار، د سفیرانو کورونه، عربي دارالعلوم، نوی ښوونځی، سرکاري مطبعه، اخبارونه او خپرونې، له شاه محمود خان سره د خدای پاماني کتنه، پغمان، د کابل سیند، دارالصحت یا سناتوریم، د ژوو روزنځای، له ځینو احبابو سره کتنه، د غزني سفر، له کابله ترغزنې پورې، غزنی، بازار، اردو ګرامافون، جومات، سرکاري مېلمستون، زوړ غزنی، علاوالدین جهان سوز، غزنین، ملا قربان، د غزني پاتې آثار، د حکیم سنایي مزار، د افغاني سپرو یوه ډله، په زاړه غزني کې، دسلطان محمود مزار، د حضرت داتا ګنج بخش لاهوري د پلار مزار، دلای خوار مزار، د غزني شپه، د غلجیو او قندهار سیمې، منزلونه، مقر یا پخواني بیهک، مقر ته رسیدل او تګ، غلجایي قلات، ایرانی او افغاني فارسي، د کلات شپه، له کلاته روانګي، د کندهار لاره، د خیبر شاوخوا ولې فتنه زیږونکې ده ؟ د کندهار منزلونه، کندهار ته ننوتل، د کندهار ارګ، د ارګ دننه، ګندهار، پټان او راجپوت، اوسنی کندهار، شاهي ارګ زموږ قیام، د پښتو غورځنګ، د کندهار والي او نور چارواکي، خرقه

شريفه، د احمد شاه ابدالي مزار، د قرآن پاک شاهي نسخه، ارغنداب، د بابا مزار، برېښنا کوټ، چهل زينه، د کندهار نوی ښار، پوځي ميدان، د ښار کيفيت، د ښاراسلامي څېره، د ښار رڼايي، په عمومي باغ کې باجه، د راس مسعود د شپې سفر، په کندهارکې بريتانوي قونسلخانه، شپه، پرواتونو گرځېدل، د اردو نفوذ، دکانونه سبايي پرانيستل کيږي، د دکانو کيفيت، د شاه بازار جومات، د ډېرو صنعت، دکاندار، مدرسې او علمي ادارې، دکندهارگلونه او ميوې، نوې کلا او چمن، د کندهار دبلديي له ميلمستيا بخښه، له کندهاره دباندې، دفترونه، د راهدارۍ پاڼه او تصديق، له کندهاره تگ، لاره، تخته پل، د سند او بلوچستان صحرا، نوی کلا يا قلعه جديد، د تسبو فيشن، په نوې کلا کې پاتيدل، د خدای پاماني منظره، چمن، کويته او ملتان، د روحانياتو يادونه، بهاگل پور، ملتان، د پرهيلاد پورې مندر، د حضرت بهاوالدين ذکر خانقاه، له ملتانه تر لکنهو، استدراک، رکن عالم، د شمس تبريز مزار، عيدگاه، مسجد علي محمد خان، عام او خاص باغ، پرانا کلا، جامع مسجد، د ملتان چاوڼی، محمدن کتابخانه، ملتاني ژبه، روانگي، لکنهو، د نادرشاه شهادت، د ډاکتر اقبال مسافر.

مولانا سيدسليمان ندوي خپله دغه سفر نامه د لومړي ځل لپاره د ۱۹۳۳ کال د دسامبر د مياشتې د معارف مجلې په گڼه کې پيل کړه او بيا همداسې په بيلابيلو گڼو کې چا پ شوه، د چاپي اثر پيش لفظ ليکونکی په خپله ليکنه کې ليکي چې: « د دغه سياحت ليدنې کتنې او تاثرات د معار ف په پرله پسې گڼوکې ليکل شوي دي، د ده دغه سفرنامه له علمي، ادبي او تاريخي پلوه جالب اوگټور معلومات له ځان سره لري، ځکه چې په دغه وخت کې د افغانستان د آزادۍ او حريت هوا پر هرلور خوره ده، هغه چې په ظلم او تشدد سره د هغه مخنيوی نه شي کيدای، له همدې امله پر دغه مهال د دغې سفرنامې لوستنه اردو لوستونکو ته هم په زړه پورې کيدای شي.»

لکه چې د دغې سفرنامې په فهرست کې مو ولوستل، هلته يو سرليک د (پشتوغورځنگ) په نامه سره راغلی دی، مولانا دخپل دغه سرليک په ترڅ کې ليکي چې: «زمونږ له رسيدو سره سم زمونږ د ليدو لپاره د ښاريو شمير ممتاز کسان هم راغلل چې په هغو کې دوه تنه د يادونې وړ وو يو په کندهارکې د باندنيو چارو

استازی او بل دلته د ادبي انجمن ناظم او د پښتو رسالې طلوع افغان اډیټر عبدالحی خان و، د باندنيو چارو استازي ښخوا په ترکيې کې د افغان سفارت د چارواکي په توګه کارکړی و، خو اوس دلته ټاکل شوی و، عبدالحی خان کيدای شي په سند او کراچۍ کې پاتې شوي وي، په اردو باندې خبرې کولای شي، هغه دلته د هغه غورځنګ چې افغانانو د دغې قومي ژبې د ترقۍ په خاطر پيل کړی دی او غواړي چې پښتو بايد د تعليمي او علمي سرکاري ژبې ځای ولري علم بردار دی.

هغه له خپل راتګ سره سم له ډاکټر اقبال سره پرهمدغه موضوع باندې بحث او خبرې اترې پيل کړې، ډاکترصاحب په ځواب کې د ژبو پر ودې او پرمختګ باندې اصولي بحث وکړ او پر دغه خبره يې زور واچاوه چې ژبه د يوه قوم د بيلابيلو افرادو د تفاهم او پيوستون ډېره اړينه او ګټوره وسيله ده، خو که د دغه تحرک په وجې سره د يوه قوم د افرادو په منځ کې د يووالي او اتحاد پرځای اختلاف رامنځ ته کيږي، هغه نو بيا د يووالي د پيغام پرځای د توپيرونو او اختلافونو د جنګ ترانه کيږي، کوم چې د هغه له امله د افغان ملت اوسني لوړتيا او منزلت ته زيان رسيږي. زما خيال دی چې نن سبا تنګ قوميت او غلط نيشناليزم چې د يو زيات شمير قومونو پرسرباندې سپور دی، دهغه همدغه اغيز دنويو ځوانو افغانانو پر زړونو او دماغونو باندې هم خامخا اغيزمن دی، فارسي له ډېرو کلونو راهيسې د دغه ملک علمي ادبي او سرکاري ژبه ده، دلته د دغه قوم د عوامو مورنۍ ژبه تر اوسه پښتو هم ده، له همدې امله دا د حيرانتيا خبره نه ده چې هغه به په دغه ملک کې د پښتو غورځنګ له خوا لاپياوړې شي او يوه ورځ به هغه هم د افغان قوم د سرکاري ژبې مقام ته ورسيږي. په همدغه حالت کې چې موږ د جنګياليو افغانانو سره په (زباني جنګ) بوخت وو چې د کندهار ګورنر له خپلو ملکي او پوځي چارواکو سره راغی ...»
(۱)

جالبه خبره له دغه بحث څخه بياهم دا راوځي چې هم ډاکټر اقبال او هم مولانا سيد سليمان ندوي په دغه برخه کې له خورا احتياط او ځان ساتي چلند څخه کار اخلي، سره له دې چې اقبال په خپلو ټولو آثارو کې ځان د افغانيت او افغاني پرتم مريد او پيرو بولي، خو په دغه برخه کې بياهم له علامه حبيبي سره مناظره او مناقشه کوي او په دې نه دي باوري چې پښتو ژبه به هم يوه ورځ په

افغانستان کې د رسمیت پړاو ته رسیږي، مولانا ندوي بیا ټول بار پر تنګ نظري قومیت او غلط نیشنلیزم باندې ور اچوي او فکر کوي چې د پښتو ژبې د غورځنګ خبره هم یو تنګ نظره نشنلستي حرکت دی، چې کیدای شي پایلې ته یې وګورو، ځکه نو دم ګړی په دغه برخه کې ځان په نا پیلي دریځ کې اچوي او دعاکوي چې خدای دې وکړي چې پښتو ژبې ته دامقام ور میلاو شي.

مولانا ندوي او علامه اقبال ددغه زړه نازړه دریځ په اړه یوه بله خبره هم په دې منځ کې شته او هغه داچې هندي پوهان او مفکرین، ادیبان او نور نخبه ګان په دغه وخت کې پر داسې مسایلو لکه ژبه او یاهم په مذهب کې دننه پر توپیرونو باندې نه غږیږي، دوی ظاهراً داسې ښیې چې ګواکې دوی په دغه کار باندې ځانونه ناګاروي؛ ځکه چې دوی په هند کې د ښکیلاک تر سخت ګوزار لاندې ژوند کوي او هم یې د دغه ښکیلاک له امله په دغه برخه کې سخته ضربه هم لیدلې ده، انګریزانو په ډیرې اسانۍ سره وکولای شول چې له هنده د فارسي ژبې ګلم ورټول کړي، دوی په نږدې نیمه پیړۍ دري ژبه داسې بې بنیاده کړه چې هیڅ‌ا دا فکرنه کاوه چې نږدې اووه پیړۍ رسمي او دفتري ژبه به د یوې پیړۍ په ترځ کې له دومره لوی شان او دومره پیاوړې فرهنګي زیرمې سره د هند له نیمې وچې کډه باروي.

اقبال او مولانا ندوي دواړه پردغه پیاوړي رمز باندې د حساسو اسلامي مفکرینو په توګه ډیرښه پوهیږي، له بلې خوا دوی تر دغه دمه هم په دغه ټکي باوري نه وو چې ګواکې په افغانستان کې به د بلې ژبې لپاره، د هغې د رسمي کیدو لپاره هڅې په دومره پیاوړتیا سره رامنځ ته شي، دوی تراوسه هم له استاد حبیبی سره په خپله مناظره کې په دې فکر وو چې فارسي هم د افغانانو (پښتنو) لپاره کومه دوهمه او یا هم نا آشنا ژبه نه ده، پښتنو ټول عمر له همدغې ژبې سره ژوند کړی او له همدغې ژبې سره تر مرکزي آسیا او هندوستان پورې رسیدلي دي او دغه پراخ او سمسور فرهنګ د دوی د تورو پر زور تر دغو سیمو پورې رسیدلی دی. اقبال پر دې ټینګار کوي چې افغانان اوس باید د دغو مسایلو پرځای د خپل خپلواک هیواد افغانستان د خپلواکۍ او ترقۍ په فکرکې شي. دوی پردې پوهیږي چې دلته هره لحظه د یوې فاجعې را پورته کیدو شونتیا له نظره لرې نه ښکاري، اقبال استدلال کوي چې افغانانو خپل هیواد خپلواک کړ، خو ومو لیده چې د پردیو د توطیو په ترځ کې په

ډیره لنډه موده کې د غلو او داړه مارانو له خوا په څه ماتم او بدمرغۍ باندې واوښت. معنا داچې اقبال د یوه دور اندیشه آزادي غوښتونکي په توګه یواځې د یوه واحد او پرته له هر ډول ګډوډیو افغانستان پلوی و. هغه فکرکاوه چې افغانستان اوس خپلواک شوی او اوس یې د ترقۍ او پرمختګ پروګرامونه او پلانونه پیل شوي دي، دده دغه نظریاتي تمایل د هغه له هغې وینا څخه هم ښه معلومیږي، کومه چې ده د کابل د ادبي انجمن د غړو په غونډه کې وکړه د دې لپاره چې له یوې خوا دغه وینا خوندي کړو او له بلې خوا د ده په نظر باندې په هراړخیزه توګه پوه شوو، دلته د ده هغه وینا په ګډه سره لولو :

«د سیدسلیمان ندوي او ډاکټر سر راس مسعود له وینااوو وروسته چې زموږ د جذباتو ډیره ښه ترجماني یې وکړه، اوس داسې څه نه دي پاتې چې زه دې هغه بیان کړم، خو زه پوهیږم چې د کابل ادبي انجمن ارکان له ما څخه هم هیله لري چې د دوی د هرکلي او هغو لطیفو احساساتو او بلیغو اندازونو په ځواب کې چې موږ ته یې را وښودل یوڅه عرض کړم.

زه دکابل له ادبي انجمن څخه ډیرمننندوی یم چې د خپلو مهربانیو په ترڅ کې یې زما په وړاندې خپل احساسات په نظم او نثرکې وړاندې کړل. زه هم هیله من یم چې یواځې او یواځې د انجمن د ځوانو ارکانو د کارونو په عملي اړخ باندې بحث او خبرې وکړم، په دې کې هیڅ شک نشته چې انجمن د خپل کار له اهمیت او ذمه واریو ښه خبردی، زما باور دی چې هنر یعنې ادبیات، انځورګري، موسیقي، معماري او نورهرڅه چې وي، دا ټول د ژوند مرستیال او خدمتګار دي، د همدغه مقصد پربنسټ زه هنر او آرت یو ایجاد بولم نه تفریح، شاعر د یوه قام د ژوند آبادګر او برباد ګر کیدای شي، په داسې وخت کې چې حکومت هڅه کوي چې افغانستان د تاریخ دنوي ژوند یوه پړاو ته ور ننباسي، په دغه حالت د دغه ملک شاعرانو ته لازمه ده چې خپلو اخلافو ځوانانو ته پر سمه لار لارښونه وکړي، د ژوند دپرتم او لويئ پرځای مرګ ته زیاته لوړتیا او برجسته ګي ورنه کړي،کله چې هنر د مرګ کومه نقشه کاږي او هغه په لوړتیا سره ښیي، دغه حال (سخت خوفناک او برباد کونکي دی) او هغه څه چې له ښکلا څخه خالي وي، هغه په خپله دمرګ یو پیغام دی:

دلبری بي قاهری جادوگریست
دلــــبری با قاهري پیغمبریست

زه غواړم چې ستاسې پاملرنه یوه مرکزي ټکـي تـه را واړوم، د نبـوي (صلـی الله علیه وسلم ) په واقعاتو کې یوه واقعه ده، روایت دی چې یوځل د آنحضرت صلـی الله علیه وسلم په وړاندې نامتو شاعر امرالقیس چې مشهور عرب شاعر دی، څه شعرونه ولوستل، بیاهغه وویل: اشعر الشعرآ وقاید هم الی النار پـه ټولـو شـاعرانو کـې ترټولـو ښه شاعر د دوزخ په لور تلونکی دی. له دغه ارشاد څخه پـه هراړخیـزه توگـه روښـانه کیږي، چې شعر کله کله پر خلکو باندې ژور اغیـز ښـندي، پـه یـوه قـوم پـورې تـړلي شیان یواځې شکل او صورت نه دي، بلکې هغه څه چې په رښـتینې توگـه د قـوم لـه ژوند سره تړاو تړاو لري هغه تخیل دی چې شاعر یې د خلکو پـه وړانـدې ږدي، هغـه لوړخیالونـه او نظریـات دي چـې غـواړي هغـه پـه خپـل قـوم کـې را پیـداکړي، ملـی شاعران د خواخوږی او مرستې روحیه رامنځ تـه کـوي او د سیاسـت اهـل د دوی لـه پـایمردی سره وده کـوي او یـا مـري، همـدا ده چـې د افغانسـتان ځوانـو شـاعرانو او لیکوالو په خپلو هـم عصرـو کـې داسـې روح پـوکړي چـې د هغـې پـه مرسـته ورو ورو وکولای شي ځان په ښه توگه وپیژني، هغوی چې قوم ته د خدمت پـرلار روان دي، د هغوی ځانگړي انانیتله روزنې سره تړلي دي، د هغو د روزنې خمیره باید لـه احتیـاط سره یوځای واغږل شي، ځکه نو دا د انجمن کار او دنده ده چې د نوو ځوانـو نسـلونو فکرونه د ادبیاتو په واسطه سره متحد کړي او هغـوی تـه داسـې روحـاني ښـه ورکـړي چې په پای کې له خپل انانیت څخه د قابلیت پر پړاو باندې په چغو شي:

دو دســته تــیغم و گــردون برهنــه ســاخت مــرا
فـــال کشـــید و بـــروی زمانـــه آخـــت مـــرا
مــن آن جهــان خیــالم کــه فطـرت از لیجهــان
بلبـــــل وگــــل را شکســـــت وســـــاخت مــــرا
نفــس بــه ســینه گــذارم کــه طــاهر حــرمم
تــــوان ازگرمـــــی آوازمـــــن شـــــناخت مـــــرا

زه یوه بله نکته هم ویل غواړم، موسیولینې یـوه جالبـه نظریـه رامنځ تـه کـړه او موخه یې دا وه چې د ایټالیـا د ژغـورنې لپـاره دیـو کـروړ پتـي اړتیـا ده چـې دایتالیـا

گریوان د انګلوسکسن قومونو له پورونو څخه وژغوري او یا یو بل دانتې پیداکړي چې یو نوی جنت ورته په نښه کړي او یا یو بل کولمبس وموميي چې یوه نوې وچه ورته وموميي، که تاسو له ما څخه د افغانستان د ژغورنې په اړه پوښتنه وکړئ، نو وبه وایم چې افغانستان اوس یو داسې چا ته اړتیا لري چې دغه هیواد له قبایلي ژوند څخه را وباسي او د یو ملي یووالي له دایرې سره یې اشنا کړي، زما لپاره د خوښۍ خبره دا ده چې افغانستان اوس یو داسې کس موندلی دی چې د هغه انتظار یې یوست، زما باور دی چې د اعلیحضرت نادرشاه شخصیت د همدې لپاره پیدا شوی چې نړۍ ته افغانستان په آسیا کې د یوه نوي قوم په توګه ور وپیژني، د دغه هیواد ځوانانو ته وړده چې دغه ستر لارښود د خپلې ښوونې او روزنې د ښوونکي په توګه وپیژني، ځکه چې د هغه ټول ژوند خپل هیواد ته له قربانۍ، اخلاص، رښتیاینې او له اسلام سره له مینې ډک دی.» (۲)

## مأخذونه


۱- سیدسلیمان ندوی، سفرنامه افغانستان، دارالمصنفین شبلي: اکاډمي اعظم ګړ، ۱۹۹۲ لمریز کال، ۱۱۱- ۱۱۲ مخونه.

۲- همدا اثر، ۵۹ مخ.

ځېړنواله عاطفه نورستانۍ

# د نورستان د شفاهي ادب وضعې ته لنډه کتنه

## لنډیز

په دې مقاله کې لومړی پر فولکلور لنډ بحث شوی، چې فولکلور او شفاهي ادبیات څه شی دی، څنګه په نورو برخو وېشل کېږي او بیا د نورستان فولکلوري ادبیات کوم دي؟.

تر کومه ځایه چې ماته معلومه ده د نوروستان په شفاهي ادبیاتو کې تر ډېره شاعرانو په خپلو سندرو کې کې د قافیې پر ځای وزن او آهنګ ته پاملرنه کړې ده، ځکه نورستانۍ سندرې او شعرونه تر ډېره د قافیې له قیده ازاد دي او د لرغونو سندرو په ښه طبیعي تشبیهات لري چې د لنډو او اوږدو مسرو لرونکي دي او د مسرو شمېرو یې له دوو څخه تر لسو پورې وي چې له همدې امله په وزن او آهنګ سره ویل کېږي.

پر دې سربېره د نورستان په شفاهي ادبیاتو کې موږ د اسطورې، کیسې، متلونو، چیستانونو، اصطلاحاتو، ښېراوو او دعاګانو شاهدان هم یو، چې د دغې سیمې ولسي ادبیاتو ته یې ځانګړې ښکلا او خوند ورکړی دی، خو د بدمرغۍ ځای دا دی چې اوس خلک دا مسایل ډېر نه یادوي، ځکه له یوې خوا مذهبي کړۍ پرې تنګه شوې ده او له بلې خوا خلکو ته داسې ذهنیت ورکړل شوی، چې د دغه ډول سندرو او یا فولکلور په یادولو سره د انسان ګناه زیاتېږي، نو په دې مقاله کې دا او دې ته ورته مسایل څېړل شوې دي.

## سریزه

که د افغانستان هره قطعه او ځمکه له هره پلوه له نظره تېره شي بې له شکه

ډېرې مغتنمې برخې به په کې ومومو، خو نورستان بیا یو له هغو ولایتونو یا سیمو ځخه دی چې په دې خاوره کې د نورو اتلولیو ترڅنګ شفاهي یا ولسي ادبیات هم په کافي اندازه موندل کېږي.

په دې معنا که موږ د نړۍ معتبر اثار او اسطورې مطالعه کړو او بیا د نورستان اسطورې ورسره پرتله کړو، نو په کراتو مراتو د دې سیمې اسطورې ترې هم په معانیز لحاظ او هم په جوليز لحاظ ترې لوړې او په ټول تللې دي، ډېرې په زړه پورې کیسې او پېښې یې بیان کړي او په ټوله معنا تمام عیارې اسطورې، داستانونه، کیسې او د مېړانو مسایل دي، خو دا چې نه افغانانو او نه هم نړیوالو ورته توجه نه ده کړې، نو له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې د تاریخ له جبر او زیاتي سره مخامخ شوي او ورځ تر بلې مخ په ورکېدلو او متروکېدلو دي.

زه په دې ډاډه یم که چېرې دا اسطورې له هماغه پیله خوندي شوي وای، نو نن به دا سیمه که تر لرغوني یونان زیاته نه وای، نو لږ تر لږه کمه خو به هم نه وه، خو دریغه دریغه چې موږ ډېر څه له لاسه ورکړل او لا یې هم له لاسه ورکوو، نو که چېرې د دغې سیمې ولسي ادبیاتو ته ډېره توجه ونه شي او د اکاډمیکو موسسو ځانګړې پاملرنه ورته وانه وړي بې له شکه مذهبي فلټرونه او ناسمې ولسي انګېرنې به د دې لامل شي، چې موږ د خپلې دغې سیمې ټولې قیمتي مرغلرې له لاسه ورکړو او بیا به لاسونه مروړو، خو څه به مو له وسې نه کېږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لومړی موږ د نورستان له فولکلور یا په ټوله کې شفاهي ادبیاتو سره بلدېږو، پېژنو یې او په رښتینې معنا ارزښت یې راته جوتېږي او په دوهم ګام کې بیا ورته اوښتې زیانونو او ننګونو ته یې متوجه کېږو، چې په اوس وخت کې له څه ډول ستونزو او ننګونو سره مخامخ دی، معنا دا که چېرې یې په ټولولو او ثبتونو کې ناغېړي وکړو بې له شکه به موږ خپل دغه قیمتي ادبیات له لاسه ورکړي وي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې هدف په دې کې دی چې ایا لا تر اوسه هم په دې خاوره کې اسطوروي ادبیات شته او که نه؟

که وي ولې يې نه را ټولولو او که نه وي لاملونه يې څه دي، البته نه يواځې اسطوروي ادبيات، بلکې اسطوره او اسطوروي ادبيات دواړه تر څېړنې لاندې نيسي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې مطرح شوي، چې د متن په اوږدو کې دا او دې ته ورته ټولې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ ولسي يا شفاهي ادبيات څه شی دی؟
- ✓ د نورستان شفاهي ادبيات کوم دي؟
- ✓ ايا اوس هم په نورستان کې اسطوره شته؟
- ✓ د نورستان حوزې ولسي يا شفاهي ادبيات په کوم وضيعت کې دي او ولې؟
- ✓ څنګه کولای شو خپل ولسي ادبيات خوندي او عامه اذهان دې ته چمتو کړو چې پر خپلې غنا ونه شرمېږي؟

او دې ته ورته ځينې پوښتنې شوي چې په مقاله کې يې ځواب موندلای شو.

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشريحي، توضيحي او تحليلي ميتود څخه استفاده شوې ده.

## اصلي متن

زموږ د دې ګڼ مېشته هېواد په شمال ختيځه غرنۍ سيمه کې نورستانيان ژوند کوي چې د هېواد پېژندل شوی مؤرخ احمد علي کهزاد يې په اړه داسې ليکلي دي: ((د ډنمارکي ولس پېژندونکو له څېړنو څخه وروسته دا ثابته شوه چې نورستانيان په اصل کې د دې سيمې له غرنيو اريايانو څخه شمېرل کېږي چې په خپل اصلي ټاټوبي کې پاتې شول او د خپلو نورو قبيلو په څېر يې له مهاجرت څخه ډډه کړې ده )) (۱)

د همدې پوه له قوله ((د تاريخي څېړنو له مخې ويلای شو چې د نورستانيانو (الينايانو) قبيله هغه بله مهمه قبيله ده چې د اريايي لسو قبيلو په جنګونو کې مشهوره شوې او په ويدي سرودونو کې يې هم يادونه شوې او د هغوی د پيوستون د بکت، ګنداري او نورو قبيلو سره د ټاټوبي او د نصب العين له مخې د ويدي عصر په يادو سرودونو کې ثابته ده.)) (۲)

زموږ د هېواد د څېړونکي حبیب الله رفیع په اند: ((د نړۍ تاریخ دوه پړاوونه لري، تر تاریخ وړاندې پړاو او تاریخي پړاو، خو د اریانا یا لرغوني افغانستان تاریخ په درېوو پړاوونو کې مطالعه کېږي:

تر تاریخ وړاندې پړاو، نیمه تاریخي یا داستاني پړاو او تاریخي پړاو، زموږ د هېواد نیمه تاریخي دوره د ویدي سرودونو له ویلو سره را پیلېږي. دا وخت لا خط نه دی اختراع شوی، خو اریایان د لرغونې اریانا یا اوسني افغاستان په شمال کې استوګن شوي، کوچیاني ژوند یې پیل کړی، د خپلو عقایدو د تسکین لپاره یې راز راز خدایګوتې ځانته ټاکلي او د خپل ژوند د تصویرولو او انځورولو لپاره یې ویدي سرودونه رامنځ ته کړي چې دا سرودونه خوله په خوله شوي له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدېدلي چې د ادب تاریخي تسلسل یې موندل او دې تسلسل ژوند پېښې لېږدولي چې د تارخ وظیفه هم همدا ده، له همدې امله دا دوره مؤرخین د افغانستان نیمه تاریخي، افسانوي او رزمي دوره بولي او زموږ په ملي ژوند کې یو نوی څپرکي او دوره جوړوي. (۳)

د پوهانو په اند په ټولنیزه توګه د یو ملت د تاریخي هویت د ښې او ژورې پېژندنې په موخه خامخا د هغه ملت د فرهنګي زېرمې پلټلو ته اړتیا لیدل کېږي او هر څومره چې دا زېرمه بډایه وي، نو زموږ پېژندنه به هم په هماغه کچه پراخه او ژوره وي، ځکه چې د یو ملت په فرهنګ کې پلټنه په حقیقت کې د هغه په تاریخ کې پلټنه ده.

څرنګه چې ولسي ادبیات د هر ملت د فرهنګ یوه مهمه برخه جوړوي او د فولکلور پوهانو په اند هغه هینداره ده چې په هغې کې د ولسونو روح، عواطف، احساسات، غم، ښادي، ارمانونه او غوښتنې، پوهه او هنر، ملي کرکتر، انګیرنې او ذوق، د دوی د مبازې کارنامې او په پای کې د هغوی د باطني نړۍ ژورتیاوې له ورایه ځلېږي؛ نو ځکه یو پوه ویلي دي: د لفظي هنر پیل په فولکلور کې دی او له دې څخه سترګې نه شو پټولی چې د ځینو خرافي اړخونو په نفي کولو سره فولکلور له واقیعتونو اوارزښتونو څخه جوړ شوی او د تربیتي موخو او ښکلاییزو غوښتنو د پوره کولو لپاره ترې کار اخیستل کېږي.

تاریخ خو یواځې د بشري ټولنې بهرنۍ او قشري پېښې بیانوي په داسې حال

کې چې فولکلور د روح تل ته سفر کوي او د هغوی ارمانونه، ذوقونه او تصورات منعکسوي. (۴)

په دې کې شک نه شته چې په فولکلوري ادبیاتو کې ژور او له معنا څخه ډکې هنري لاسته راوړنې موندلی شو او دا هم ویلای شو چې فولکلوري ادبیات د خلکو په ژوند کې مهمه ونډه لرلی شي او همدا شفاهي ادبیات د لیکلي ادبیاتو په پرتله طبیعي او لرغوني دي.

د لرغوني اریانا فرهنګي شتمني د ویدي او اوستایي تمدنونو په اثارو کې ساتل شوي او د یادو تمدنونو یو شمېر فکري او کلتوري اثار د زمانې په تېرېدو سره له ذهنونو څخه وتلي او یوه برخه یې زموږ د هېواد د اریایي قومونو په ادبیاتو کې ژوندۍ پاتې ده او تر اوسه هم ژوندۍ ده.

د نورستان د خلکو فولکلوري ادبیات او ادبي پدیدې، لکه د هغو د نورو فرهنګي پدیدو په څېر لرغونې، طبیعي، سوچه او زړه راښکونکي دي.

د نورستان له فولکلوري او شفاهي پلټنې سره لکه د دوی د سیمې د لرغونې فرهنګ په څېر تر یوې اندازې پورې په هېواد کې د مېشتو اریایانو له لرغوني او بډای تمدن څخه خبرېدای شو.

د نورستان د خلکو لرغونو ادبي پدیدو نه یوازې تر اوسه په ښکاره ډول خپل طبیعي لرغونتوب ساتلی، بلکې د جوړښت له مخې هم ځانته ځینې ځانګړنې لري چې د یو نورستاني څېړونکي په قول د نورستان فولکلوریک او شفاهي ادبیاتو د ښې پېژندنې په موخه باید هغه په دوو (له اسلام څخه دمخه دوره او اسلامي دوره) باندې ووېشو. (۵)

د نورستانیانو په هغو ادبي پدیدو کې چې تر اسلام دمخه را پنځېدلي لرغونې اریایي ادبي ځانګړنې لکه: په تشبیهاتو کې ساده توب او د فورم او جوړښت له مخې طبیعي رنګ له ورایه ښکاري.

د تاریخي شواهدو له مخې د الینا قبیله له بلخ څخه له کوچېدو وروسته په ګندهارا کې د اسلام د مبین دین تر نفوذ پورې استوګنه درلوده او د هغوی د نیکونو له خوا د اسلام له دین څخه نه تابعیت د دوی د کړاوونو او لالهاندیو پیل او د ډېرو سختو او اوږدو مذهبي جګړو کې راښکېل کېدل د دوه زره دوه سوه کالو په شاوخوا

کې یې دوام وموند.(٦)

بې له شکه په دې اوږدمهالو مذهبي تودو جګړو کې چې له زرو کالو څخه زیاته موده یې ونیوله په زرګونه بې باکه جنګیالي په ساده جګړه ییزو سامانونو (غشي او لیندې) سره د جګړو میدانونو ته ور دانګلي دي او په خاورو لوېدلي او مړه شوي دي. په دغو سختو جګړییزو وختونو کې د نورستان په فولکلوري او شفاهي ادبیاتو کې ډېرې حماسي سندرې و زېږېدلې چې لومړیتوب یې ګټلی دی. هغوی په حماسي سندرو کې خپل جنګیالي ستایل او د هغوی درناوی یې کاوه او راتلونکي نسل ته یې دغه احساسات لېږدول.

د بېلګې په توګه په دغې حماسي سندرې کې یوې نجلی خپل جنګیالی پلار داسې ستایلی دی:

زما پلار لکه ګیښ(د جګړې د خدای نوم) دی
ستا د ښار ته تګ هنګامه په ټولو ځایونو کې خپره شوه
دی (د یو خدای نوم) ستا ټوپک ته توان ور وبخښله
د کټار اوسپنیزه کلا دې فتح کړه.(٧)

**مدحي یا ستاینې سندرې:** په دې سندرو کې هم د پردیو یرغلګرو پر وړاندې د نورستاني جګړه مارانو مبارزه او مقابله، د پراخې مالدارۍ، د لویو مېلمستیاګانو د ورکولو او د نیکونو او ملي کارنامو لرونکو خلکو د ستاینې په موخه د مشرانو او مخورو نورستانیانو د ښخولو په مراسمو کې او د اتڼ په مجلسونو کې ویل کېدلې چې یوه بېلګه یې دا ده:

ستا سپهر لکه یوې لویې دروازې په شان لګېږي
د پریښ د پاچا په کلي دې یرغل وکړ
د باجوړ په منځني کلي دې یرغل وکړ او ودې وژل او راغلې (٨)

**مرثیه سندرې او ساندې:** دغه سندرې له اسلام څخه دمخه دورو په جګړو کې د مړو شوو اتلانو د ژوند او کارنامو د ستاینو لپاره په دې خاطر ویلې شوې دي چې د راتلونکي نسل احساسات را وپاروي، د دې ډول سندرو لمنه پراخه او شمېر یې ډېر دی.

**دیني او مذهبي سندرې:** د دې سندرو لرغونتوب له اسلام څخه دمخې

زمانې ته رسېږي او د نورستان د شفاهي ادبیاتو مهمه برخه ګڼل کېږي، په دې سندرو کې د اریایانو د پخواني پاچا (یما) نوم د نورستانیانو له اسلام څخه دمخه فرهنګ کې د (یمرا یا ایمرا) په نامه د رب النوعیت درجې ته رسېدلی دی او دخالق کل په بڼه یې یو شمېر خدای ګوتې په خپل اداري واک کې لرل او د هغوی دندې او چارې ورته سپارل شوې وې او هر یو یې د خپلې ورسپارلې شوې دندې له مخې په سندرو کې ستایل شوي دي. د بېلګې په توګه د ((یمرا)) ستاینه داسې راغلې ده:

ستا سپېڅلتیا او ځلا له پاکو او صفا اوبو څخه هم ډېره ده

ته هغه سوچه سره زر یې چې تل ځلېږې. (۹)

هغه څه چې له اسلام څخه دمخه د نورستاني فولکلوري او شفاهي ادبیاتو په سندرو، لکه حماسي، مدحي، مرثیې او دیني بېلګو کې راغلي دي په حقیقت کې موږ کولای شو چې هغه ټول له اسلام نه دمخه نورستاني ټولنې، جګړه ییزې، سیاسي او ټولنیزې تیورۍ په توګه وستایو.

پر یادو سندرو سربېره طنزي، حکمي، تغزلي، د پېریانو او ښاپېریانو له خوا انسان ته ویلې شوې سندرې، هغه سندرې چې د حیواناتو له خوا ویل شوي او په زړه پورې ډولونه لري د نورستان فولکلوري او شفاهي ادبیاتو ته یې ځانګړې رنګینې بخښلې چې د ټولو ډولو د بېلګو راوړل به ددې مقالې له حوصلې څخه بهر وي.

څرنګه چې په نورستاني ټولنه کې له اسلام نه دمخه نارینه شاعرانو د خلکو د احساساتو د لوړ ساتلو او د ملي غرور، دودونو، په خلکو کې د یووالي او اتحاد د روحیې د پیاوړتیا لپاره یې کار کاوه، په څنګ کې یې نامتو ښځینه شاعرانې هم وې چې د ډېرو لوړو او له سوزه ډکو احساساتو سره یې حماسي ، مدحي ، ساندې او نورې سندرې ویلې دي چې چې د ادبي ځانګړنو له مخې د لوړ اهمیت لرونکې دي.

نورستانیانو له اسلام څخه دمخې دورې کې لیکدود نه درلود، نو شاعرانو به خپلو حافظو ته سندرې سپارلې او د احمد علي کهزاد په وینا د شفاهي ادبیاتو ساتنه او د هغو سینه په سینه لېږدونه د اریایي او په ځانګړې ډول هندو اریاني ډلې له ځانګړنو څخه دي چې د باختري کتلې په نامه مشهوره دي. (۱۰)

د یو پوه په وینا په هغو ټولنو کې چې د ځانګړو شرایطو له مخې رسنۍ موجودې نه وي، نو شفاهي سندرې د ورځپاڼې دنده ترسره کوي چې دا موضوع د نورستاني ټولنې په وړاندې هم په ښه توګه پلې شوې ده.

نورستاني شاعرانو په خپلو ستاینو کې له ډېر احتیاط څخه کار اخیست او هر چاته یې د هغوی د مقام په کچه مناسبې ستاینې وټاکلې او د هر شاعر شعر به د اتڼ په مجلسونو کې په ځانګړو معیارونو تلل کېده، لومړی به خپله د شاعر د شعر پوخوالی، لیاقت او بیا به د جګړې د اتل حماسي ورتیا باندې کره کتنه کېده.

شاعرانو په خپلو سندرو کې تر ډېره بریده د قافیې پر ځای وزن او اهنګ ته ډېره پاملرنه کوله، البته نورستانۍ سندرې او شعرونه د قافیې له قیده ازادې دي او د لرغونو سندرو په بڼه طبیعي تشبیهات لري او د لنډو او اوږدو مصرعګانو لرونکې دي چې شمېر یې له دوو څخه تر لسو پورې رسېږي او په اهنګ او وزن سره ویل کېږي.

د نورستان فولکلوریک او شفاهي ادبیات پر سندرو سربېره نور ادبي ډولونه لکه: اسطورې، کیسې، متلونه، کیسۍ(چیستانونه) اصطلاحات د ښېراوو او دعاوو عبارتونه لري. همدا رنګه د کوچنیانو لپاره ځینې اسطورې، کیسې، افسانې او سندرې چې د لوبو پر مهال ویل کېږي هم د نورستانیانو ځانګړې سندرې دي.

د پوهانو په اند د نورستان فولکلوریک او شفاهي ادبیات د ادبي ډولونو، لرغونتوب او بډایه منځپانګې په درلودلو سره کولای شو چې د هېواد په کچه یواځینۍ ادبي حوزه وبولو. د نورستاني اساطیرو په برخه کې هغه خیالونه چې لرغوني اریایانو د خدایانو په اړه درلودل هم په ژوره توګه شته دی، لکه: ((یمرا)) نرۍ جوړه کړه او نورو خدایانو ته یې ځانګړې دندې و سپارل شوې چې انسانانو ته د ژوند او دین طریقه، کرنه او مالداري، د ژرندې جوړولو له فن څخه نیولې تر کور جوړولو، نورو کسبونو او د نوروز تر جشن پورې ور زده کړي. (۱۱)

د نورستان شفاهي او فولکلوریک ادبیات په بلخ کې د اریایانو د ژوند د انکشاف او پرمختګ د فکرونو ښکارندویي کوي او همدا خاطرې لا تر اوسه هم د نورستان په دې بډایه فرهنګي شتمنۍ کې له ورایه ځرګندېږي، نو ځکه یې په اړه ټولنپوهانو پخوانی نورستان (کافرستان) د هندوکش هېواد او د هغه ځای فرهنګ

یې د ((هندوکش تمدن)) نوموړی دی او د دې سیمې مادي او معنوي شتمنۍ یې د ارزښت لرونکي فرهنګ په سترګیو کتلې او د اریایي تمدن د نظام په پېژندنه کې یې ارزښتمنه بللې ده.

له اسلام څخه مخکې د نورستان فولکلوري او شفاهي ادبیات چې د دې قوم د شفاهي ادبیاتو ستره برخه ده، په ډېر افسوس سره د کافرانو د فرهنګ په نامه له قهرجن چلند سره مخامخ شوي دي چې د نېستۍ کندې ته لوېدلي او یا هم د بې ارزښته موادو په سترګه ورته کتل شوي او د زمانې په تېرېدو سره له منځه تللي دي.(۱۲)

له اسلام څخه دمخه د نورستان له شفاهي ادبیاتو سره ضدیت نن تر دې کچې رسېدلی، هغه کسان چې د پخوا زمانې (له اسلام څخه دمخه) سندرې، اساطیر او یا کیسې یې په یاد دي، ویلو ته یې زړه نه ښه کوي او دا کار ورته ګناه ښکاري، نو په دې ډول د نورستان له اسلام څخه دمخه د شفاهي ادبیاتو یوه ستره برخه هېره شوې او کومه یې چې پاتې هم ده د له منځه تللو په حال کې ده.

له اسلام څخه وروسته په نورستان کې د فولکلوریک او شفاهي ادبیاتو نوي ډولونه؛ لکه: طنزي، حکمي، غنایي او اخلاقي موضوعګانې د ټولنیز ژوند د اړتیاوو په پام کې لرلو سره د نظم او نثر په قالبونو کې ځان ځای کړی دی او هغه برخې لکه: د خدایانو ستاینې تر ډېره بریده هېرې شوي او نور ډولونه یې لا تر اوسه هم د خلکو په ذهنونو کې پاتې دي او کله نا کله په بزمي مجلسونو کې ویل کېدلې، چې په دې وروستیو کې پر هغو سندرو، کیسو، اسطورو او... په ویلو او اورېدلو باندې هم د ځایي مېشتو علماوو د شورا له خوا بندیز لګېدلی او یواځې متلونه، دعاګانې او ښېراوې د خلکو په خبرو کې اورېدل کېږي. همدارنګه مرثیه سندرې (ساندې) هم چې تر ډېره یې جوړوونکې ښځې دي پټ په پټه ویل کېږي او خوله په خوله له یو نسل څخه بل ته رسېږي.

په دریو وروستیو لسیزو کې مطبوعات ډوله شعري سبک هم پر محلي شعري سبک باندې ور زیات شوی او محلي سندرې په هماغه پخوانۍ بڼه له قافیې څخه پرته او د وزن او اهنګ په ملتیا ویل کېږي او هغه کسان چې له مطبوعاتو سره اړیکې لري، نو خپلې سندرې او شعرونه یې د وزن او قافیې تابع ګرځولي دي او په

دې چوکاټ کې ډېرې ترانې هم ویل کېږي.

د موضوع له پلوه د مجاهدینو د جهاد د مېړانې ستاینې په ترنم سره ویل کېږي چې د غربیانو په ضد شعارونه او د درباري ملایانو په نوم غندنې او د شهیدانو د کارنامو ستایل له پښتو ژبې څخه نورستاني ژبې ته اړول شوي دي او د غزل په چوکاټ کې کلیوال ته اورول کېږي.

نورستانی سندرې چې له اتڼ سره ملګرې وي او د نورستان د تاریخي فرهنګ جز ګڼل کېږي، بې له اتڼ او ګډا څخه کومه معنا او بقا نه لري، نو ځکه مذهبي خلکو وکولای شول چې ګډا او اتڼ منع کړي، خو د افسوس ځای دا دی چې دا ډول سندرې چې له ګډا سره یې ملتیا درلوده او د نوروستان د خلکو لرغونی فرهنګ دی، هم د نابودۍ پر خوا درومي.

د اساطیرو ډېره برخه، لکه چې دمخه مو چې ورته اشاره وکړه له منځه تللې او یواځې د جهیلونو او غرونو او د پېریانو کیسې پاتې دي او هغه هم بې له کوچنیانو څخه نور اورېدونکي او مینه وال نه لري.

## پایله

د پایلې په توګه باید ووایم چې له پورتنیو څرګندونو څخه دا په ډاګه څرګندېږي چې د نورستان ننني ټولنه په هماغه ډول چې خپل لرغونی مادي فرهنګ یې ډېر ژر له لاسه ور کړ، په همدې کچه به خپل معنوي فرهنګ او لاسته راوړنې چې فولکلوریک او شفاهي ادبیات دي هم ورځ تر بلې له لاسه ورکړي او د یو پوه په اند دا لړۍ پر هغې خوا روانه ده چې ټولې فرهنګي پدیدې یې وارداتي او پردۍ وي.

په کار خو دا ده چې د نورستان د شفاهي او فولکلوري ادبیاتو د هرې نایابې او کمیابې مرغلرې په ټولولو او ثبتولو کې د زړه له کومې هڅه او هاند وکړو، ترڅو مو د زمانې له توفاني څپو څخه د نورستان د بډایه فرهنګ او ادب یو څو بېلګې د یادګاري نښې په توګه له ورکېدلو څخه ژغورلې وي.

## مأخذونه


۱ـ احمد علي کهزاد، افغانستان در پرتو تاریخ، د تاریخ ټولنې ریاست: مطبعه دولتي، کابل، ۱۳۴۶لمریز کال. ۲۰۹ مخ.

۲ـ   احمد علي کهزاد، تاریخ افغانستان، ج. ا، د تاریخ ټولنې ریاست: مطبعه دولتي، کابل، ۱۳۲۵ لمریز کال، ۱۰۳ مخ.

۳ـ حبیب الله رفېع، د افغانستان لنډکی تاریخ، دوهم چاپ: د اریک گرځنده کتابتونو اداره، ۱۳۸۸ لمریز کال، څلورم مخ.

۴ـ حبیب الله رفېع، د خلکو سندرې، پښتو ټولنه: دولتي مطبعه، ۱۳۴۹لمریز کال، الف مخ.

۵ـ سمیع الله تازه، نظر گذرا بر ادبیات شفاهی نورستان، د جانښ مجله، د سرحدونو او قبایلو وزارت، د سعادت صنعتي مطبعه، کابل، ۱۳۹۲لمریز کال، ۳۵ گڼه، ١٦مخ.

٦ـ پورته اثر، ۱۷ مخ.

۷ـ سمیع الله تازه، ادبیات شفاهی نورستان: د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت، آزادي مطبعه، ۱۳۹۱ لمریز کال، ۱۳۳ مخ.

۸- یاد اثر، ۱۳۹ مخ.

۹- همدا اثر، ۱۰۰ مخ.

۱۰- احمد علي کهزاد، تاریخ افغانستان: د تاریخ ټولنې ریاست، دولتي مطبعه، کابل، ۹- ۱۰ مخونه.

۱۱- سمیع الله تازه، نظر گذرا بر ادبیات شفاهی نورستان: د جانښ مجله، ۳۵ مه گڼه، ۱۳۹۲ لمریز کال، ١٦ مخ.

۱۲- همدا اثر، ۱۸ مخ.

پوهاند دوکتور م. ا. زيار

# استاد مجروح د جبر او اختيار له کړلېچونو روغه ستڼه ووت

## لنډيز

د روانې پېړۍ په څلورمه لسيزه کې استاد مجروح تازه تازه له فرانسې څخه په ساپوهنه او فلسفه کې ماستري ترلاسه کړې وه او په دواړو برخو کې يې مور ته تدريس کاوه.

دی په دې دواړو برخو کې د سيمې په کچه منل شوی سړی و او مور ته يې د جبر او اختيار په برخه کې هغه ناوياته رازونه او ګنجېنې را وسپړودې چې تر اوسه زمور په غوږونو کې ازانګې کوي.

استاد په دې کتاب کې د الفت صاحب خبره جړې مشوړې ور ټومبلو ته په لوی لاس ځان ورکړی او داسې جنجالي بحث يې واضح کړی چې ډېرو ښاغلو يې د ترساوي هوډ هم نه شو کولای.

## سريزه

استاد مجروح وايي د بشريت په تاريخ کې درې ستړې واکمنۍ تېرې شوي، چې يوه يې افسانوي، بله يې ديني او دريمه يې هم فلسفي ده، د نوموړي په وينا افسانې ته د نړۍ ليدونو مور هم ويلای شو، ځکه چې افسانه د تفکر لويه، ژوره او لومړنۍ منبع ده او د ټولو ديني او فلسفي مفاهيمو ريښه په همدې افسانوي فلسفه يا نړۍ ليد کې موندلای شو.

د نوموړي په نظر په تاريخي بدلون کې انسان له افسانوي جهان بينۍ څخه

پیل کوي، دیني جهان بیني پرېږدي یا ترې را تېرېږي او بالاخره فلسفي او علمي جهانبیني ته رسېږي.

د جهان او ژوند نفي د هغه کس موقف ته ویلای شو چې په دې جهان کې ژوند یې ذاتي ارزش ونه ګڼي او معنا یا په ټوله کې تولیز هدف یې بله مافوق الطبیعي روحاني دنیا وي، چې د دې خبرې زبادول بیا ساده عامپوهاوي لپاره پوره سرخوږی دی، ځکه موږ په دې ګروهه یو چې د بشر په تاریخ کې هر مهال نوې نوې مفکورې پیدا کېږي چې جوخت ورسره مخالفتونه هم وي او دا هم منل شوې خبره ده چې ننني فیلسوف هغه میتافزیکي فیلسوف نه دی چې انسان د یو مجرد خالص فکري او روحي موجود په حیث وپېژني او د ده د وجود حقیقت او د ژوند معنا په فکري تصوراتو او خالصو عقلي اوهامو کې ولټوي، بلکې ننني فیلسوف ډېره پراخه جهانبیني لري او د همدې د خپراوي لپاره یې متې رانغاړلي او ولس ترې خبروي، هیله ده چې په دې مقاله کې موږ دا خبره تر ډېره زباد کړې وي.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لومړی موږ ته د استاد مجروح فکري لوری را په ګوته کوي چې په کومه خوا روان دی او څنګه روان دی او ایا د دې فکر د لوړوالي لاملونه څه دي، دوهم دا چې استاد په دې بحث کې ډېرې ګونګې، پېچلې او اړپېچلې مسئلې په داسې اسانۍ، هوښیارۍ او تدبیر سره تشریح او توضیح کړې چې له بل چا یې د هوډ تمه هم نه کېږي.

### د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې د نړۍ په اړه د استاد وړاندوینې او لید ته ځیر شو او په ورته وخت کې د جبر او اختیار مسئله هم په سمه توګه درک کړو، یعنې خپله هره اشتباه او سهوه په قضا او قدر وانه چوو او په عین حال کې د بې عقیده خلکو هغو ناخوالو ته هم ځیر شو چې هر کار خپله ناپوهي ګڼي یا یې د ترسراوي له امله ځان په اندېښنو مړ کړی وي په داسې حال کې چې قضا او قدر به یې هماغسې وي.

### د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ جبر او اختیار څه شی دی؟
- ✓ فزیکي او میتافزیکي فکرونه کوم دي؟
- ✓ استاد مجروح اختیار اجباري ګڼي او که جبر؟
- ✓ ایا انسان خپلواک دی او که تړلی؟
- ✓ د دیني او انساني ارزښتونو له مخې د جبر او اختیار جړه؟

او دې ته ورته ځینې پوښتنې مطرح شوي چې په مقاله کې یې ځوابونه موندلای شئ.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له توضیحي، تشریحي، تحلیلي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د څېړنې اصلي متن

له ښه مرغه پرهماغه (۱۳۳۸ل)کال چې ما دکابل پو هنتون د ادبیاتوپوهنځي په پښتو څانګه کې خپلې زدکړې پیل کړې، استاد مجروح تازه له فرانسې څخه په ساپوهنه او فلسفه کې له ماستري بریلیک سره راستون شو او په دغه دواړو پوهنو کې زموږ استاد شو. زه په دې ویاړم چې زه د استاد مجروح له ړومبیو شاګردا نو څخه یم او بیا په دې چې په هغو کې ورسره زه تر بل هر یوه ډېر محشور پاتې شوی یم.

زه یې نه یواځې د یوه زیارکښ محصل، بلکې تر هرڅه له مخه د خپل وخت یوه ډېرکاري لیکوال، شاعر، خبریال او ورزشکار، هغه هم د ګرد پوهنځي پرکچ د پوهنتون د یوې ورزشي لوبډلې (بایسکېټبال) یواځېنې استازي او بیا د وړمې مهالنۍ او څېرمه خپرونو په چوکاټ کې [د پوهنځي له وروستي کاله، بیا له ۱۳ ۵۰ تر ۱۳۵۴ ل ] د خپلو څانګپوهیزو لیکنو څېړنو، شعري پنځونو او اړوندو کتابونو د خپروونکي په توګه پوره نازولم. ورسره ورسره په زغرده دا منښته کوم چې تر بل هر یوه شاګرده یې زما په برخلیک کې زیاته او پرېکنده ونډه اخېستې ده.

د ۱۳۴۱ ل. کال د تلې میاشت وه چې د یونسکو د هوکړې او سپارښت پر بنسټ د ((افغا نستان د ژبپوهنې اطلس)) پروژې په موخه د ستر ناروېژي د پښتو پوهاند او بیا د نورو آریایي او آریاني ژبو ټولمنلی څانګپوهاند په مشرۍ د اروپایي

آریانپوهانو یو پنځه کسیز پلاوی له اروپا نه کابل ته راغی او تر هغې ووروسته یې چې له استاد مجروح سره د ادبیاتو پوهنځي د مشر- په توګه اړوند ترون لاسلیک کړ، د درېګونو (پښتو، پارسي او انګلیسي) څانګو د وروستي کال شاګردانو لپا ره دوه اوونیز څانګپوهیز (مسلکي) سېمینار جوړ کړ. په پای کې یې یوه ازموینه واخېسته چې زه او پالوال د پښتو څانګې او یو یو د هغو نورو څانګو د بریالانو په توګه له هماغو استادانو سره د ازمایښتي تمرین په موخه د څلورګونو (پښتو-پارسي-پشه یي- پراچي) ژبو د کښنې او څېړنې لپاره نجراو ته ولاړو.

پالوال تر کال یونیم ګړدود څېړنو ووروسته د توکمپوهنې په څانګه کې امریکاته ولاړ او د پارسي ګړدود څېړونکی (کبیرسروري) په یوه پېښه (قضیه) کې ښکېل شو؛ خو ما د استاد مجروح په هڅونه، هغه هم د یوه ډبډبي (موټرسایکل) په را سمبالونه، د اطلس پروژه د پښتو او پارسي او نورو لویو وړو ژبو څه باندې سلو ګړدودو له کښنې سره تر پایه پرمخ بوتله او پر ۱۳۴۵ل مې د پروژې د مشر- پرو فېسور (ژارژ ردار) له ر سمي ژمنې سره سم د سویس په برن پوهنتون کې د ژبپو هنې شپږ کلن بورس تر لاسه کړ.

کال ووروسته چې استاد مجروح په درېګونو هېوادو کې د افغان کلتوري مشر- په توګه مونشن ته راغی او په ترخ کې یې د فرانسې له اړوندپوهنتون سره پرخپله دو کتورا کار پیل کړ، د مبارکۍ په غبرګون کې یې زه بیاهم خپلې څانګپوهنې ته وهڅولم او دا زړه غځاوی یې راکړ: (( تا وار له مخه په هېواد کې د څېړلو ګړدودو هومره پوهنتونونه بشپړ کړي او نورو لوړو زدکړو ته اړتیا نه لرې...))!

## د جبر و اختیار دیالکتیک د کره کتنې په هڅه

دا داستاد مجروح له لومړنیو څانګپوهیزو او بیا بنسټیزو فلسفي اثارو څخه ګڼل کېږي چې له فرانسې نه یې د راستنېدا او د ادبیاتو پوهنځي د استادۍ له پیلېدا سره د لوست توکو (لکچرنوټو) او هممهاله په ورمې مهالنۍ کې د لیکنو (مقالو) په بڼه خپرولې او پر۱۳۴۰ل کال یې په کتابي بڼه چاپ ته وسپاره.

نو که زه یې ځانته د کره کتنې رښته (حق) ورکړم، لومړی به یې له دې راپیل کړم چې استاد مجروح ولې ۱۳- ۱۴ کاله وروسته په دوهم چاپ، هغه هم تاریخي شالید کې د عیسایي، په تېره بیا داسلامي نړۍ لید څوارلس پېړییزه اوږده

اوجنجالي يا د استاد الفت (سريزه) په خبره (جړې مشوړې) ور ټومبلو ته ځان په لوى لاس اړ ښست او لامل يې، نه يواځې له ماسترۍ تر ډاکترۍ د ځانگپوهيز زدکړو او ازمېښتونو لوړوالي، بلکې ښايي ((ټولنيز جبر determinism)) هم لړوډېر دغلته بې اغېزې نه اوسي!

د کتاب د دوهم چاپ سريزه يې داسې را لنډولاى شو:

دا کتاب څو کاله پخوا د ورمې مهالنۍ له خوا لومړى د مقالو په بڼه او بيا د يوه کوچني کتاب په بڼه چاپ شوى وو. له هغې بېړنۍ او نيمگړې بڼې د ادبياتو پو هنځي د يوه لوستليکي گټه واخېستل شوه، خو څنگه يې چې نور کم موندى شوى وو، ورمې مهالنۍ يې د بيا چاپ وړانديز وکړ او ده هم دا موقع وموندله، د ټوليزې بياکرونې او غځونې په لړ کې يې د مسئلې تاريخي شاليد (پسمنظر)، هم د نوې لويديزې اندتوگې او هم د اسلامي هغې د سپړنې په موخه ډېرڅه پرې ورزيات کړل او په دې ډول د غه کتاب د لوستونکو د لا ښه ترا پوهاوي او گټې اخېستنې جوگه کاندې.

په دې کې څه خرخشه نه شته چې د استاد د جبرواختيار ديالکتيک دوهم چاپ له څومره ييز او تر ډېره له ځرنگيز پلوه هم له لومړي هغه سره د پرتلې وړ نه دى. يو خوا يې د شاليد او بله خوا د ۱۲۳مخه پايځوړ (نومَونو او نومليک) په ورسرباري کولو د کتاب پنډوالى تر۲۸۰ مخونو غځولى دى. هسې که خبره يواځې پر څومروالي واى، نو کولاى يې شول، سکالو (موضوع) له ارتې بيرتې مخيېنې او بيا د سوونو پوهانو او فيلسوفانو له وينالېږدونو (نقل قولونو) سره څو گرايه نوره هم پسې و غځوي او په څو ټوکو کې يې وړاندې کاندې، خو د داسې دوبلېکښتونو يا بيا بيا راغبرگونو (تحصيلِ حاصلونو) گټه به څه وه؟

خو دوهمه پوښتنه چې ايا استاد مجروح د ورته جبر له احساسه د لومړي چاپ ((پرو لوگ)) د دوهم چاپ له پښتې څخه لرې کړى دى، يوڅه خرخشنه برېښي؛ ځکه په ديارلس واټن کې د ټولنې له لا غوړېدا سره هم ټولنيز فشار کمښت موندلى وو او هم ورسره ټرلې گروهيز دې هم د نرمښت او لېبرالېزم خوا ته ښايسته ډېر گا مونه اخېستي وو. بيا دا چې که دغلته ورسره د گروهپلټنې (عقيدې تفتيش) نگېرنه يا وېره واى، د متن دننه به يې د هغه ((پرولوگ)) ورته،

انتقادي څرګندونې بیا بیا نه راغبرګولای، لکه:

((... د بشر- په تاریخ کې ډېرې لویې جهانبیني ګانې همدا درې دي: افسانوي، دیني او فلسفي. افسانې ته د جهانبیني ګانو مور هم ویلای شو؛ ځکه چې دا د تفکر لویه، ژوره او لومړنۍ منبع ده او د ټولو دیني او فلسفي مفاهیمو ریښه په افسانه کې موندلای شو... داسې ښکاري چې په تاریخي تحول کې انسان له افسانوي جهانبینۍ نه پیل کوي، له دیني جهانبینۍ څخه (را) تېرېږي او د فلسفي او علمي جهانبینۍ مرحلې ته (را) رسېږي... د جهان او ژوند نفې د هغه کس موقف ته ویلای شو چې په دې جهان کې ژوند زاتي ارزش و نه ګڼي او معنا او نهایي هدف یې په بله مافوق الطبیعي روحاني دنیا کې وبولي...)) (۲۹- ۳۱).

د لومړي چاپ پرولوګ یې په دوه پاراګرافو کې رانچوړوو (۱۷):

((د بشر په تاریخ نوې نوې مفکورې راپیداکېږي، چې ورسره مخالفت کول له زما نې او تاریخي بهیره سرغړول، په نورو ټکو، په سېلاب کې مخپورته لامبو وهل دي د نن لوړ شخصیت هغه شخصیت نه دی چې د بشري دنیا غوغا، د لوړو او تندو فریادونه، د جنګونو او مرګونو هنګامې له لرې واوري، یواځې یو سوړ اسو ېلی پرې وکړي...؛ ننني فیلسوف هغه مېتافیزیکي فیلسوف نه دی چې انسان د یو مجرد خالص فکري او روحي موجود په حیث وپېژني او د ده د وجود حقیقت او د ژوند معنا په فکري تصوراتو او خالصو عقلي اوهامو کې ولټوي... )).

یا دا څرګندونې: ((... د جبر و اختیار پر مسئله باید نوې خبرې وشي. زه غواړم پر دې رڼاواچوم چې د جبر او اختیار موضوع یو مجرد مېتافیزیکي بحث نه دی او د دې مفکورې د ثابتولو هڅه کوم چې:

جبرواختیار د انسان لپاره یوه محسوسه مسئله ده او د دې مسئلې حل د انسان په علم او پوهه کې دی. رښتینی علم او پوهه هغه حقیقي مؤثر عمل دی چې د تاریخ سیر بدلوي، د سرنوشت د نامعلومه سېلاب مخه نیسي او مجبور انسان مختار وي.))

په هره ډول! استاد مجروح له لویه سره په هغه ۱۳ کلن مهالپېر کې، د پرولوګ د لېږدونې ترخنګ هغې اوږدې او جړې مشورې له رانغښتنې سره سره بیاهم د لو مړي چاپ څرګندونې لاپسې کره کړې او د دربګونو جبرونو، په تېره

د طبیعي هغه په برخه کې یې تر ډېره د پخوا په څېر گروهیز او بل هر راز ایدیالېستي- مېتافیز یکي لامل او لاسوهنه رد کړي دي. د ساري په ډول د عیسایي مېتافیزیکي فلسفې په استازۍ دکانت او د اسلامي فلسفې په استازۍ د ابن سینا (۳۹) لیدتوگه چې پر (قضا، تقدیر، قدر او عنایت) راڅرخي، سفسطه بولي؛ سره له دې چې دغه ستر پوهاند تر بل هر همپېري ډېر روښاندی یا له اوسنۍ نوموني سره سره سم ((سېکولر)) بلل شوی دی.

استاد مجروح پاسنۍ خبرې او بیا د مارکس ((ماد هېگل سر پرځنۍ دیالکتیک پرېښو ودراوه)) په نورو ټکو را څرگندوي او تاییدوي یې:

((د هېگل د مکتب له انحلال (شنې) څخه یوه بله فلسفه راووته چې د هېگل دیاکتیک ته یې یوه بله مهمه معنا ورکړه. دا فلسفه نن د کارل مارکس په نامه یاد ېږي، مارکس وایي:

((زما دیالکتیکي مېتودونه (یواځې) په تهداب کې د هېگل له مېتود څخه فرق نه لري، بلکې د دې مېتود مخالف قطب دی. د هېگل په نظر د فکر حرکت چې دی ورته د فکر یا روح په نامه یو شخصیت قایل دی، د واقعیت خالق دی او وا قعیت د فکر حادثي شکل دی. زما په نظر بر عکس د فکر حرکت د واقعي دنیا انعکاس دی چې دانسان مغزوته انتقال شوی او دغلته یې ځای نیو لی دی.)) (۷۲)

استاد دلته د مارکس او انگلز له اند توگې سره سم دیالکتیک د خوځښت (حرکت) د ټولیزو قوانینو پوهنه راښیي چې هم په بهر نړۍ او هم د انسان په فکر کې جا ري دي. دا دیالکتیکي قانون درې غورې بڼې (ډولونه!) لري:

لومړی– د کمیت تبدیلېدل پر کیفیت او کیفیت پر کمیت، دوهم د اضدادو نښتل یو په بل کې او دریم- د نفې نفې قانون... (۷۲-۷۸ )

استاد دواړې لیدتوگې سره په زغرده په یو ټکي کې توپیروي: ((... هغه دیالکتیکي مراحل چې د هېگل په فلسفه کې یواځې د روح او فکر په ساحه کې لیدل کېږي، مارکس یې په واقعي دنیاکې کشف کوي او ثابتوي: دیالکتیکي قانون څرنگه چې په روحي حوادثو کې لیدل کېږي، همداشان په طبیعي، اجتما عي او اقتصادي حوادثوکې هم جاري دی. د هېگل په نظر د هر دیالکتیکي حرکت

تهداب او منشأ روح ده. د مارکس په عقېده روحي حوادث فرعي دي او د واقعي دنیا د دیالکتیکي حرکت انعکاس دی، د انسان په مغزوکې (یعنې شعور او روح د مادې زېږنده ده، نه سرچپه).

استاد چې د بلې هرې علمي- فلسفي موضوع غوندې د ((جبر و اختیار)) دا له یوې لنډې ګنډې یا ګونګې یا مبهمې پوښتنې یا پوښتنو، لکه ((مختار انسان یعنې څه؟)) او ((مجبور انسا یعنې څه؟)) سره رامخ ته کول (طرح کول)) له مېتودولوژیکي پلوه سم نه بولي، ځکه داسې څه ترې نه راوځي چې یو سم سهي غبرګون او رڼاوي ته لاره هواره کړای شي؛ نو دی یې پرځای پر دې بدیل ټینګار کوي او هغه دا چې: مجبور یا مختار انسان د څه پر وړاندې، د طبیعت پر وړا ندې، د ماورأ ا لطبیعت پر وړاندې، د خپل ځان پر وړاندې، دبل انسان پر وړا ندې ...؟ (٦٣- ٦٥). بیا زیاتوي: ((په دې ډول د جبر و اختیار په مسئله کې جلا جلا جنبې پیدا شوې او موږ کولای شو، پر هره یوه جلا جلا بحث وکړو...))

هغه جلا جلا (دربګونې) جنبې یا برخې لاپسې ښه ترا راسپړي چې موږ یې دلته لنډ لنډ جاج راخلو:

**۱- د انسان تړاو له طبیعت سره:**

په دې معنا چې په طبیعت کې هرڅه تر یو نظام لاندې دي او هرڅیز د علت و معلول د قانون اړوند دی، د انسان دریځ (موقعیت) څه دی؟ ایا انسان هم د طبیعي څیزونو په منځ کې یو څیز دی او په خپله هستی، کړو وړو کې د طبیعي قوا نینو پلیوني کوي او له ځانه کومه اراده او واک و ځواک نه لري؟ او یا داچې انسا ن یوه استثنایي هستي ده او د علت او معلول له چمبر (دایرې) نه یوه خپلواکه هستي ده؟

**۲- د انسان تړاو له خپل نفس سره:**

په دې معنا چې د انسان د جبر و اختیار نګېر یا اند (حس یا فکر) څه نفسي- (روا ني) بنسټ درلودای شي؟ دلته موږ انسان د یوې نانګېروړې ټولی (مجردې کُلې) په توګه په پام کې نه نیسو، بلکې په نګېرلي(محسوس) ډول بېلابېلو یوګړیو (افرادو) ته ګورو، د رواني پېښنو له پلوه ټول وګړي یو راز پرمختیا او اوښتون نه مومي. ځینې لاملونه وګړی د خپلې ارواییي مرییوالې په زنځیر تړي. یعنې دا پوښتنه

څېړو چې د رواني ودې وېش له پلوه کوم يوه ته بېواکه (مجبور) ويلای شو او کوم ته خپلواک ( مختار)؟

**۳- د انسان تړاو له بل سره:**

موږ دلته د انسان يوه نګېرلی (محسوس) اړخ تر پام لاندې نيسو، رښتيا هم يو ګړی انسان يو داسې مجرد او مبهم پيدا دی، لکه يوه يوګړې اندتوګه.

انسان هله معنا پيداکوي او واقعيت يې هله راڅرګندېږي چې له نورو سره په تړاو کې راشي؛ خو دا تړاو له سختې نابانديږ يا مجادلې سره راپيلېږي چې هر يوګړی يې د خپل ځان يا شخصيت د پخلي او زباد لپاره کوي، نو دلته سره د بېلابېلو وګړو وګړې (شخصيتونه سره ټکر کوي)، خو هريو د ځان د زباد لپاره د بل پېژندتيا ته اړ دی او بيا هر يو خپل واک (اختيار) د بل په بېواکۍ (مجبوريت)کې لټوي... (٦٥)

استاد مجروح (۱۳۷) د يوګړي (فرد) او ټولنې ديالکتيک پر دوو پړاوونو ويشي:

**تائيد يا د ټولنيزوالي پړاو**

لومړی پړاو هغه ټېرنې يا په مارکسېستي نومَونه ((←لومړني کمون)) پړاو دی چې انسان ځان د ټولنې يو نه بېلېدونک ټوک يا غړی نګېري، په نورو ټکو، خپل ځان نه پېژني او په طبېعت او ټولنه کې تړې ورک دی. ان تر دې چې په ژبه کې د (زه- زما) پرځای (موږ- زموږ) نو مځري کاروي. دا زما له خپلو څېړنيزو يا دو څخه ده چې پر۱۳۴۴ ل.کال مې د نوموړي شوروي وګړپوه (اتنوګرافر) په ملتيا مې د فراه او (زرنګ ) ترمنځ دښته کې له يوه پښتانه شپانه د نوم پوښتنه وکړه او هغه راته د خپل نامه پرځای د بادار نوم (...خان) واخېست!

## د مريي او بادار ديالکتيک

**دويم پړاو:**

**نفې يا د يوګړوالې (فرديت) پړاو:**

دا د انسان د ځان پېژندنې پړاو دی. معنا يې دا چې د انسان د يوګړيز شخصيت د پخلي پايله د ټولنې نفې ده. نو که وار له مخه ترې خپل ځان ورک وو او

له ځانه پردی، خو چې ځان ته یې پام شو او ځان یې وپېژاند، هم لـه جهانـه پـردی شو او هم له ټولنې څخه. په دغه مهالپېر کې پر خپل ځان دومره اختـه کېـږي چـې له ځان او ځاني ګټو پرته نور څه نه پېژني.

د استاد پر اند له دې پړاو سره انسان له یوه ((مریيوالي)) راوځي او په بله کـې را ښکېلېږي. هلته ترې ځان په ټولنه کې ورک وو او دلتـه تـرې ځـان پـه خپـل ځـان کـې ورک شـو (مجـروح ۱۴۰). پـاړکی (طبقـه) او پـاړکیزه نـابرابري او ورسره تړلـې مبارزه همدغه مهال منځ ته راځي چې ټولنه پر بادار او مریي وېشل کېـږي. تروسـې وسې هرڅوک دخپلو ګټو، غوښتنو او هوډ او هوس په پار د نورو ګټـې وټـې، ارا مـې، ازادي، پت، ناموس او سرومال ترپښولاندې کوي، لکه چې وايي: لاس د بریچـار دی (الملک لمن غلبه).

د مـارکس ماتریالېسـتي او تـاریخي دیالکتیـک دا را زبـادوي چـې د انسـانانو هماغه لومړنی (بدوي یا شډله) ټولنه پر نیاو او برابـری ولاړه وه. ګـډ یـې ګټـل اوګـډ یې څټل، نه په کې باداري او مریيواله وه، نه یـو وګـړی د بـل وګـړي لـه خـوا زبېښـل کېده او ښکېلېده او نه د ټولنې له خوا. له همدې امله یې هغه لـومړی ټولنـه ((لـو مړی کمون commune)) او هممهاله یې ((لومړنی‌کمونېسـتي ټولنـه)) بللـې او پـر همـدې بنسـټ یـې ځینـې د ((کمـونېزمcommunism)) نومَونـه (اصـطلاح) هـم را رغولې ده. (Oxford Dic.)

د هېګـل دا خـبرې هسـې شـاعرانه، اخلاقـي او ارمـاني بربښـي چـې اسـتاد مجروح پرې ډېره لګوي: ((کومه ازادي چې د نوروپه مریيواله چلېږي، کـه مریيوالـه ولاړه شي، دا ازادي هم له منځه ځي، د غلام او بادار په منځ کې چې کوم یو رښـتیا غلام دی، هغه په خپله بادار دی... د هغه باداري د غـلام پـه وجـود پـورې تړلـې ده. برعکس، غلام د بادار وجود ته هېڅ احتیاج نه لري... غلام د خپلې غلامۍ غـلام نـه دی او بادار د خپلې باداری غلام دی. یعنې د بادار ازادي د خپل ځـان غلامـه ده او دا حقیقـي ازادي نـه ده، متناقضـه ازادي ده)). اسـتاد پـر همـدې بنسـټ خپلـې شننې پرمخ وړي او ورته ((ارماني)) پایله یې راباسي(۱۴۹- ۱۵۰):

((په دې دیالکتیکي تحول کې حقیقي انسان هغه وخت منځتـه راځـي چـې ازادي له تناقضاتوڅخه ازاده شي چې فـردي شخصـیت اجتماعـي شخصـیت شي او

اجتماع په فرد کې ننوځي، چې زه د نورو شم او نور زماشي، چې زه خپل منافع له نورو څخه قربان کړم او نور خپل منافع له ماځخه (قربان کړي)، چې زه خپله ازادي د نو رو لپاره وقف کړم او نور خپله ازادي زما لپاره وقف کړي. که د جامعې ټول افر اد داکار وکړي، نه به زما منافع تلف شي او نه به د نورو، نه به زما ازادي وقف شي او نه به دنورو، نه به زه غلام یم، نه به نور او نه به زه باداریم او نه به نور.))

بادار یاکارفرما چپه سوچ کوي چې مریی یا کارګر ده ته اړ دی او ژوند یې په ده پورې تړلی دی. لومړی انګیسي وزیري تاجرې به ویل: ((چې له پاسه راوڅاڅي، لاندې ستوني به لانده کړي!))- پښتو متل: که پر تاووري، پرمابه وڅاڅي- دا خبره هم تاریخ زباده کړې چې لوړپاکي شتمن یا کارفرمایان پر دې کورټ ځانونه ناګاروي چې دغه شتمني یې په خپله یا پلرو نیکو د نشتمنو له زبېښاک او بیا لوټ و تالان، غلا وو درغلیو تر لاسه کړې. یو پارسي شاعر ((عشقي)) یې بیا داسې را انځوري:

از هوا نبارید زر بر سرش... یا خودش دزد بود یا پدرش

داسې اخلاقی او ارماني وراشو ورمونو چې له ادمه تردې دمه فیلسوفانو، پوهانو، ښوونپوهانو، لیکوالو، شاعرانواو دینښووانو شاربلې راشاربلې، کوم پر ېکنده او کرنیز اغېز نه دی ښندلی. لا په سرچپه ډول یې پاړکیزو اړپېچونو (طبقاتي تضادونو) او ټکرونو لپاره پرله پسې لاره هواره کړې او تر ننیو ناورینونو یې رارسولې ده او دا هغه څه دي چې هواری او مخنیوی یې تر هر څه وړاندې د هېګل په ((پر پښو درولي)) مارکسېستي- ماتریالېستي دیالکتیک شوتنیا او رښتیاینه (تحقق) موندلای شي او هغه هم د نیاومنې پاړکیزې جګړې (مبارزې) له لارې، د ټولنوټېزې (اجتماعي- اقتصادي) بېخبنا له بدلو ن سره.

استاد مجروح د خپلې مخنی منښتې ((... هغه دیالکتیکي مراحل چې د هېګل په فلسفه کې یواځې د روح او فکر په ساحه کې لیدل کېږي، مار کس یې په وا قعي دنیا کې کشف کوي او ثابتوي...)) پر خلاف د درو واړو جبرونو هواری له هماغه سر پرځنې دیالکتیک سره سم، یعنې د ټولنوټېزې (اجتما عي- اقتصادي) بېخبنا پرځای د پوهې فرهنګ او تخنیک له مخبنا سره هوارول غواړي، لکه: څنګه یې چې په خپله پایله (نتیجه۱۵۱ ) کې راډاګیزه کړې ده:

((انسان نه مطلق مجبور دی، نه مطلق مختار، بلکې د زمانې په جریان کې مجبور انسان مختارېږي. اختیار له جبره راوځي. اختیار داسې یو قدرت دی چې انسان په تدریجي توګه ترلاسه کوي او د دې قدرت بنیادي وسیله پوهه او شعور دی. د انسان اختیار په هغه علمي او تخنیکي پوهه کې دی... )).

په دې ډول د هېګل، کانت، سارتر...او د ((غوره نژاد)) او ((زبروګړي یا ابرمرد)) ګروهن (نېچې) پر پلیونۍ د جبر او اختیار مسئله په هماغه اړپېچ (تنا قض) کې را نغاړي چې له زریو او پېړیو راهیسې پرې شخوند وهل شوی دی.

او دا دی د بې شمېرو اسلامي پوهانو، صوفیانو، شاعرانو په استازۍ مولانا بلخي راننګوي:

داختیار په اړه:

اختیاری هست مارا در جهان
حس را منکر تنانی شد عیان

د جبر په اړه:

جـــبر باشد پـروبال کاملان
جبر هم زنـــدان و بند کاملان
(مجروح ۴۱-۴۲)

په هر ډول مارکسېستي- ماتریالېستي دیالکتیک پر دې ټینګار لري چې د انسان ژوند تر هرڅه لومړی پر توکیزه (مادي) غریزه یې اړتیا، یعنې خوراک ټیکاو لري او خړوبونه یې هم په مادي (ټولنوټیزه) بېخبنا کې نغښتې ده. همدا بېخبنایې هواری دوو نورو جبرونو د هواري په ګډون د انسان هر راز مخبنایي (فرهنګي، سیا سي، مذهبي.. ) هغې هواري او بیا یې کارندوییو (فعالیتونو) ته لار هوارولای شي. لکه مارکس چې وایي: انسان په وړه خېټه سیاست نه کېږي؛ معنا یې دا چې هر مخبنایي کړن، له سیاست و فرهنګه نیولې، تر دین و مذهبه تر سره کو لای نه شي.

په بشري تاریخ او بیا زموږ په سیاسي او اسلامي تاریخ کې داسې ویرژلې پېښې او تراژیدۍ تېرې شوې دي چې ډېرو له لوږې د مړو درنګې لاخه چې د ژوندیو غوښې هم خوړلې دي. د پښتو ((ولږې ته هېڅوک ټینګېدای نه شي)) په

ځېر زموږ په ټولو افغاني ژبو کې بېلابېل متلونه، ګړنې او څرګندنې هم د ورته پېښو زېږنده دي. هرګوره، ترڅنګ يې دوهمې غريزه يي اړتيا نوږيزي (جنسيـ) دې هم انسان ډېرو سترو بېلاريو او جنايتونو ته ور څکولی چې تر ډېره د لومړنی غريزې له نه خړوبتيا يا نيمګړې خړوبتيا زېږنده ګڼل کېدای شي. ان تردې چې (خېټه ډکه، خو.. ډکه) پښتو متل د همداسې وبله اړاو تړاو څرګندويي کوي.

لسيزې پخوا مې د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي له پارسي ژبي فلسفه پوه استاد (سمندر غورياني) دا پښتو ټوکه اوربدلې وه: ((په يهودو کې دوه کسه (ما رکس او فرويد) په دې اوځار شول چې لومړي د انسان تر نامه (نو) پورته (خېټې) غم وخوږ او دې بل يې تر نامه لاندې (خو...) غم او ما ځنې هماغه مهال دا طنزيه څلوريزه او را وروسته سپينه ټوټه رغولې وه:

هغه خبرې مارکس و فروايد وکړې
چې وي له مخه له نورو پټې
د انسان آره اړه به څه وي
پرته له خېټې، پرته له...!

يا:

دين و سياست
د مړې خېټې کار دی...
په دې چې ولږې ته
نه مسلمان ټينګېدای شي
او نه کافر!

همدا لومړنی غريزه يې اړتيا او ورسره تړلی پاړکيز اړپېچونه (طبقاتي تضادونه) او نا خوالې دي چې انسان يې د ټولنيز جبر بلهاري کړی او لا بلهاروي يې او مار کس يې ورڅخه د تلپاتې ژغور، ازادی، مخنيوي او ځانواکی (خود مختاری) لارې رودې ورښوولې دي. په دې لړ کې د کارګر او کارفرما ترمنځ د ربړې او جړې (پرابلم، معضلې) زړی ((سرباري يا اضافي ارزش)) نومېرلی (تشخيص) کړی چې د کارګر رښته (حق) دی او کار فرمايې ځنې بلوسي. (Fine .B :Capital)

د مارکس (سرباري ارزش) ترم په ساده ژبه داسې روښانوو: د يوې اوبدانې (نساجۍ) بېلګه راخلو چې په مياشت کې يې نږه ګټه پنځوس زره ډالره ده: شل زره يې څښتن ته د خپلو زېرواوزارو (توليدي وسيلو او اوموتوکو) د کارښت او لګښت په پار رسېږي او شل زره د څومره بيز او څرنګيزکاروزيار په پار کارګرته، نو مارکس پاتې لس زره ((اضافي ارزش)) بولي او ټينګار کوي چې دا شل زره دې هم کارګر ته ورکړل شي او د ټولنيز نياو په پار يې له کارفرماسره د ژوند کچه (سطحه) بر ابره شي؛ ځکه همدغه توپير دی چې انساني ټولنه يې پر پاړکو وېشلې او ور سره پاړکيز اړېېچونه (تضادونه) راټوکېدلي او دا دی، ورځ تر بلې د نوي ښکېلاک و زبېښاک يوه بل مېتېنګي ((ګلوبالېزم)) انساني ټولنه په دومره بربريت د نېستۍ ګړنګ ته ورڅکوي!

له څه باندې يوې لسيزې راهيسې چې پانګواکي (امپرياليستي) نړۍ له مالي- پولي کړکېچ سره مخ شوې او د بانکونو دېوالي کېدل يې ميليونونه زيارکښان، په تېره منځني پاړکي او بيا روښاندی پوړ (انتلکچوال قشر) کنګال ونګال کړ، اقتصادانان يې د مارکس (کپيټال) کارونې ته اړېستلي دي، ځکه دغه درې ټوکيز تاريخي اثر په پانګوالي نظام کې د داسې کړکېچونو وړاندوينه کړې چې هواری يې د زبېښونکو شتمنو او زبېښلو نشتمنو دواړو خواوو لپاره ګټور پرېوځي. (کپيتال: فاين )

(Fine :Capital)

هغو بورژوايي ځانګپوهانو (تيوريسنانو) په غړولو سترګو وليدل چې که يوخوا بانکوالاوو د هغو خلکو لرودېرې سپماوې او ورکړې قسطونه له کورونو سره يو ځای وبلوسل، بله خوا يې مشتريان هم له لاسه ورکړل، ځکه دغه بدمرغو هم د پاسرې (پس انداز) او د کور قسط توان او همهاله پر بانکونوباور له لاسه ورکړی او هم يې وربانديې ګټه تر صفر سلنې را ټيټه کړې ده. د سود وسرمايې زېرواکانو د ((مارکس کپيتال)) پربنسټ د خپلو اقتصادپوهانو د دوه اړخيز هواري لارې چا رې هم و نه شوې زغملای!

د هغو په استازۍ د هغه مهال د سپينې ماڼۍ واکوال (ډبل بوش) دا دوپاړه وو يشتله: ((که له لوړې مرم هم، سوسيالېزم مې په کار نه دی))؛ تر دې چې

ډارويني‌زم يې هم ورسره همغږی (اېزم) وباله، بيا له کاتوليک دين سره يې نابانده وښووه او له ښوونيز نصابه يې د اړوندو توکو ايستل اړين کړل او دا دی، يوه لسيزه پس يې تورک اسلامپال ((اردوغان)) پر پليونی هغه ماترياليستي(-اېزم) له اسلام سره هم نابانده وګڼلی او له نصابه يې د کښنې امر کړی دی!

## پايله

له دې نټه (انکار) نه شي کېدای چې شهيد استاد مجروح (د جبرو اختيار ديالکتيک) د لومړي چاپ په پرتله دوهم چاپ له څرنګيز او څومره ييز پلوه د لا ډېرو مينه والو لپاره د پوهاوي جوګه کړی دی، خو بياهم له درو غورو نيوکو سره مخامخېدای شي:

۱- د دې اړوپېچ ياضدونقيض (پرادوکس) له پلوه چې د ربړو (مسئلو) په شننو کې يوخوا پر ماترياليستي او ان د مارکس له خوا د هېګل پر پښو درولي ديالکتيک ډډه لګوي او بله خوا يې پر سرچپه هغه هم. همداسې يې د کانت ايډيا لېستي، د سارتر اېکزېستنسيالېستي يا وجودي- ادبي، اوان د نېچې نژادي هېژمونېستي انجړې بنجړې ليدتوګې درواخله چې د چا خبره د رښتينې علمي- فلسفې او ټولنپوهنې او بيا يې د ربړو له رښتيني هواري څخه يو توره تېښته ده.

(۲) لکه څنګه چې وار له مخه ورته نغوته وشوه، ماترياليستي- مارکسېستي فيلسوفان د انسان او انساني ټولنې پر وړاندې ټولنيز جبر د دوه نورو جبرو په پرتله ډېر بنيادي ارزوي او تر ډېره يې هواری د هغو دوو د هواري لپاره کليدي ګڼي، خو استاد مجروح يې پرخلاف، له ټولې پراخ اندۍ او سېکولرېستي اند توګې سره سره د ديني فيلسوفانو او پوهانو په څېر ځاني يا نفسي جبر د(ego) يا (نفس آماره) په نامه بنيادي انګېري او د دغو نورو جبرونو، په نورو ټکو، د ټولو طبيعي او په تېره بيا ټو لنيزو بخولو، نا خوالو، بدمرغيو او بياجنګ جګړو آره او منشأ بولي او هواری يې هم د سراسري هواري کيلي.

په دې لړ کې يې د فروايد تر سخت اغېز لاندې ارواشنيزې (سايکواناليټيکي) پېيلې او ناپېيلې ادبي پنځونې بيا د ورته را خپلې کړې ليدتوګې او نړۍ ليد پوره پوره څرګندويې کوي.

دا سمه ده چې استاد مجروح د ارواشننې (سايکواناليز) د بنسټوال (

فروايد۹٦) له ليده، د اروا يي بېلاريو آره سرچينه تحت الشعور بولي چې هلته زموږ غريزي غوښتنې (تما يلات ) په آره او لومړنۍ بڼه پراته دي، که سم سهي خروب شي، ښه تر ښه، که نه، دوه ګوني فيزيکي او اخلاقي بنديزونه يې مخه ور ډپ کاندې، په نورو ټکو، پر شا وتمبول شي، پر ګرومونو (عقدو) اوړي.

خو دا سپړنه او شننه، نه فروايدکړې او نه ده چې اخلاقي ياکولتوري بند يزو نه د ټولنيز جبر زېږنده ده، نوکه ټولنيز جبر، د نومېرلو ماترياليستي فلسفې او ټولنپوهنې لارو چارو په کاراچونه هواري ومومي، ځاني يانفسي- جبر او ترې را زېږېدلي ګرومونه (غوټې) او بيا بېلارۍ (انحرافونه) هم هواري موندلای شي. هرګوره، په دغه برخه کې د پوهې، فرهنګ، تخنيک او د اروا پوهنې او اروا شننې په ګډون هره ټولنيزه او ساينسي- پوهنه د وبله (متقا بل) اغېز په بهيرکې خپل مخبنايي نقش لوبولای شي ( همداراز← مونوګراف).

د استاد ((نااشنا سندرې)) چې د لرغوني يوناني ادب و فولکلور او بيا افسانو او اسطورو پر پليونۍ يې کښلې، په هره توګه په پښتو ادب کې د رواشنيز شعر د يوې نوښتګرانه پيلامې ښکارندويه دي او له شعريت پلوه لوړ ارزول کېږي. پر وړ اندې يې د (ځانځاني ښامار)) چې د پارسي ناپېيلې ((اژ دهای خودی)) څه ناڅه ساده پېيلي پښتو انډول دی او له سايکوانالېتيکي ګوتپېره د پارسي هغه ترخنګ ډېر لوړ او ژور ارزول کېږي، خو په کې رانغښتې انتقادي پيغام يې دومره توند و تېز دی چې په خپله همدی يې د مرګ د ښامار په خوله کې ورکړ؛ ټيک د هماغې ورځې پر ماښام، چې په اړوند ((جهادي چاپېريال)) کې يو تر ټولو ځوا کمن جهادي سرغندوی پوښتلی وو: ((له ځانځاني ښاماره دې موخه څوک دی؟)) او ده په زغرده ورغبرګه کړې وه: ((همدا ته!))

(۳) دربېمه نيوکه بيا پر خپل وار د پاسنيو دوه نيوکو يوه څېرمه پايله ده او هغه داچې استاد له ټولې روښاندۍ او پوهاندۍ سره سره ولې تر سرې ار تجاع، توره دا غوره وګڼله، د چا خبره له بارانه ناوې ته وتښتېد. لکه څنګه چې د پوهنتون او سني مشر ښاغلي پوهنيار حميدالله فاروقي د ((نااشناسندرې)) د يادښت په ترخ کې ليکي: پوهاند بهاؤالدين مجروح د شلمې پېړۍ د لوی مفکر او ليکوال په حيث او د افغانستان د اشغال په کلونوکې د وطن د ازادۍ د لارې د يوه واقعي

مبارزاو مجاهد په حیث د هېواد په تاریخ کې خاص مقام لري...کله چې جهاد پیل شو او مجروح کډوال شو بیا یې هم یوه اصلي هڅه دا وه چې خلک د ظلم او تېري پر خلاف رامنځ ته شوي هیجاني چاپېریال کې خپل اصلي دښمن هېر نه کړي او د استبداد د ښامار خطر له پامه و نه غورځوي.)) او تر ټولو وروسته چار ناچار دې پایلې ته رسو چې زموږ د فلسفې او اروپوهنې استاد، له ټولو هومانېستي او ساینټېفیکي- فلسفي شننو سره سره د مارکس تر دې ټو لیزې نیوکې لاندې راځي چې وایي:

[دا نړۍ ببلابېلو پوهانو راز راز شنلې، خو آره خبره یې د بدلانه ده!]

د کارل مارکس دغه تاریخي وراشه په آره الماني ژبه د برلین هومبولت پوهنتون پر درشل ښکل شوې او ما هلته د نورو ژباړو په ترڅ کې د مېلمه استادۍ پر مهال (۱۹۸۳-۱۹۸٦) را پښتو کړې وه.

## مأخذونه


۱- حجت برزگر، برنامۀ اتحادیۀ مارکسیستها، چاپ ششم: انتشارات حزب کمو نیست ایران، مسکو ۲۰۱۴م.

۲- ډاکټر مجاور احمد زیار، پېپر یا کورنی کار، د استاد مجروح په لارښوونه، د پښتو لنډیو ارواشنیزه څېړنه، ۱۳۴۰ل.

۳- د استاد مجروح د اروپوهنې او فلسفې لوستونه، ۱۳۳۸- ۱۳۴۱ ل.

۴- د کارل مارکس تاریخي ماتریالېزم د الماني متن پښتو ژباړه، ناچاپ، کابل، ۱۳۵٦ل.

۵- د مارکسېستي فلسفي کورس لوستونه، برلین، ۱۹۸۴- ۱۹۸۵ز.

٦- دوکتور سید بهاو الدین مجروح، د جبر او اختیار دیالکتیک،کابل پوهنتون، د محب الله زغم په زیار: اسد دانش چاپخو نه، ۲۰۱۷/۱۳۹۵ کال.

۷- نا اشناسندرې، کابل پوهنتون: دانش چاپخونه، ۲۰۱۷/۱۳۹۵ کال.

8-Dokumente und Materialien: Geschichte Klasse ۱۱.Berlin.۱۹۸۰

9- Marx's Capital (Book by Ben Fine)

10 -Originally published۱۹۷۵ :

11- Author :Ben Fine

12- Oxford Dictionary of English. ۲.Ed. Oxford University press 2005.

پوهندوی شاه محمود کېوال

# پر پښتو ادب د هندي سبک اغېزې

## لنډيز

زموږ د سیمې شاعري بېلابېل سبکونه لري چې یو مشهور یې هندي سبک دی. لکه له نوم یې چې څرګنده ده، دا هندي سبک د اوسني هندوستان په ځمکه د پارسي ژبو شاعرانو په وسیله رامنځ ته شوی، پالل شوی او په دې ډول یې په نورو ژبو کې هم ځای موندلی چې یوه یې پښتو ده.

پر پښتو ژبه هم دې سبک اغېزه درلودلې ده او د پښتو ژبې زیاتو شاعرانو دغه سبک پاللی او د دې سبک له خصوصیاتو څخه اغېزمن شوي دي.

## سريزه

هندي سبک د سیمې د ادبیاتو، هنر او شعر جلا لار ده، چې له نورو سبکونو سره جلا ځانګړنې لري. دا سبک په نهمه هجري پېړۍ کې رامنځته شوی دی. یوه ډله فارسي ژبي شاعران چې د ټولنیزو او سیاسي بدلونونو په ترڅ کې هند ته کوچېدلي وو، هلته د هندي مغلي دربار د پاموړ وګرځېدل او په شعر او شاعرۍ یې پیل وکړ. همدغه شاعري هندي سبک او بیا مکتب جوړوي. هندي سبک یواځې په هند او پارسي ژبې پورې تړلی پاتې نه شو، نورو هیوادونو او ژبو ته هم ولېږدیده چې یوه یې پښتو ژبه او ادب دی.

کلیدي نومونې: سبک، هندي سبک، هندي مکتب

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې ارزښت او مبرمیت په دې کې دی چې هندي سبک د پښتو

شاعرۍ په کلاسيک پېر کې يو منلی ادبي سبک و او په دې سبک کې پښتنو شاعرانو پريمانه شاعري کړې ده چې د کلاس شاعري يې بللی شو او پښتو ادب د دې سبک په راتگ سره خورا ډېر غني شو.

## د څېړنې موخې

هندي سبک د پښتو ادبياتو او شاعرۍ يوه مهمه برخه ده. د ياد سبک سپړل، په دې اړه د معلوماتو ډېرول او اړوندو مينوالو، ليوالو، څېړونکو او محصلينو ته وړاندې کول. د دې ترڅنگ د ليکوال او څېړونکي لپاره د معنوي امتياز ترلاسی.

## د څېړنې پوښتنې

د دې څېړنې په ترسره کولو کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ هندي سبک څه ته وايي؟
- ✓ هندي سبک کله پښتو ته راغی؟
- ✓ هندي سبک په پښتو ژبه کې کوم پيروان درلودل؟
- ✓ هدي سبک په پښتو ژبه کې کومه اغېزه درلوده او که نه؟

او دې ته ځينه ورته کوچنۍ پوښتنې ځواب شوې دي.

## د څېړنې ميتود

د دې څېړنې لپاره له بېلابېلو باوري سرچينو څخه گټه اخيستل شوې چې برېښنايي هم په کې گډون لري او ميتود يې تشريحي، توضيحي او تر ډېره تحليلي دی.

**د هندي سبک پيدايښت**: په پيل کې غوره خبره ده چې سبک وپېژنو:

سبک عربي ويی دی چې معنا او مفهوم يې د سرو او سپينو زرو ويلې کول او په کالب کې اچول دي. په ادبي اصطلاح سبک د يو شاعر يا ليکوال د وينا او ليکنې لارې، اسلوب او روش ته وايي ( ٦: ٨٣ ).

هندي سبک په نهمه هجري پېړۍ کې په افغانستان، هندوستان، ماوراء النهر او ايران کې دود شو. په دې سبک کې د شعرونو مضمونونه دقيق شول، د معناوو باريکۍ او شاعرانه تخيلاتو په ساده او معمولي کلمو کې دود ومونـد. همدارنگه په ادب کې کنايې، پېچلې استعارې، لغز او داسې نور راڅرگند شول ( ٩: ١۴ ).

هندي سبک د شعر ويلو يوه ځانگړې او جلا لار يا اډانه ده چې له نهمې

هجري پيړۍ وروسته رامنځته شوې ده. د دې سبک د پيدايښت بېلابېل لاملونه ښيي:

هغه وخت چې صفويان واک ته ورسېدل، دوديزو مدحيه شعرونو او شاعرانو خپل ارزښت له لاسه ورکړ، دې ډول شعرونو او شاعرانو ته پام نه کېده، ځکه نو يوه ډله شاعران آړ شول د هند ادبپال دربار ته مخه کړي او هلته په شعر او شاعرۍ بوخت شي.

د هندي سبک جوړښت په لاندې ټکو کې لنډولای شو:

- د ژبې له اصلي مرکز څخه لرېوالی.
- د غوره ټکو او مفهومونو د څرګندونې په موخه، د ځواک نندارې ته لېوالتيا.
- د نوښت او شعري فنونو خوښونه.
- د هندي ژبې، فرهنګ او چاپېريال اغېز.

د پورتنيو لاملونو په ترڅ کې داسې سبک منځته راغی چې هندي يې بولي. ځينې دا سبک اصفهاني هم بولي. دې سبک له نهمې تر دېارلسمې هجري پيړۍ پورې دوام وکړ. www.fa.wikipedia.com

ځينې وخت انقلابونه او ټولنيز بهيرونه د سبکونو د بدلون لامل ګرځي. د صفوي واکمنۍ په راتلو سره، شيعه مذهب رسمي شو او صفوي واکمنو ورته ډېر پام کاوه. شعر هم مذهبي شو او پخوانيو، عرفاني، درباري او عشقي شعرونو ته پام نه کېده او د دې ډول شعر او شاعرانو ارزښت لږ شو، شعر نور په يوې ځانګړې ډلې پورې تړلی پاتې نه شو او بېلابېلو وګړنيو ډلو شعرونو ته مخه کړه. د هندي سبک د زماني او مکاني حوزې د پراختيا له کبله، په دې سبک کې ډولونه رابښکاره شول، چې د دې لامل شول، د ايران او هند ميشتو شاعرانو ترمنځ توپير رامنځ ته شو، ځينې د دې دورې د ايران ميشتو شاعرانو دوديز سبک صفوي بولي او د هند ميشتو هندي.

په يوه بله ويشنه کې، د دې دورې د شعر سبک صفوي نومول شوی چې په دوو څانګو يې ويشي. يوه څانګه يې ايرانۍ صفوي يا اصفهاني سبک او بله يې هندي. په هندي څانګه يا سبک کې، هلته د فارسي ژبې نه لرغونتوب او د هغه

ځای د فرهنګي چاپېريال له کبله د شعر ژبه پېچلې او تر ډېره ګرامري تيروتنې لري. که څه هم په ۱۲ مه هجري پيړۍ کې په ايران کې د هندي سبک پر وړاندې غبرګون ونښوول شو، خو په افغانستان، تاجکستان او پاکستان کې يې اغيز تر وروستي وخته شتون درلود.

د هندي سبک په پيدايښت کې کيدای شي د مذهب، هند ته د شاعرانو تګ، اقتصادي سوکالي او له فرهنګ سره د صفوي شاهانو لېوالتيا، لاملونه دخيل وګڼو. صفوي حکومت د مدحي، درباري شعرونو سره جوړ نه وو او له دوديزو عرفاني توپيرونو سره په ټکر کې وو، له دې امله شعر او شاعران له درباره ووتل او هر چا دا حق پيدا کړ چې شعر ووايي. د پخوانيو درباري شاعرانو مزدوري هم ودرېده، ځکه نو دوی هند ته مخه کړه او د هندي چاپيريال تر اغيز لاندې يې شعر ويل پيل کړل. د خلکو اقتصادي سوکالي هم د دې لامل شوه چې ادب، شعر و شاعرۍ ته مخه کړي او شعر د خلکو ترمنځ عام شي.

په هندي سبک کې شاعر اړ وو چې د غزل يا شعر لومړۍ مسره يې بايد نوی مضمون ولري. دا خبره د دې لامل شوه چې د نويو اړيکو د رامنځته کيدو لپاره د شاعرانو شونتياوې ورځ تر بلې محدودې شي او د پيښو د تړاو په موخه ژور يا لرې لاړ شي، په دې توګه په تعقيد او اغراق کې کښېوتل او په شعر کې ابهام رامنځته شو.

د هندي سبک ځانګړنې په دريو برخو کې څېړلای شو:

۱ – ژبه : د بېلابېلو وګړنيو ډلو شعر ويل، د دې لامل شول چې د کوڅې او بازار ژبه شعر ته لار پيدا کړي او د شعري وييپانګې دايره پراخه شي او ډېر لرغوني ادبي لغتونه له دوده وغورځي.

۲ – فکر: هندي شعر په معنا او مضمون څرخي، نه په شکل او صورت. د دې سبک شاعران معنا ته ډېر پام کوي، نه ژبې ته. هغوی د مضمون جوړونې په لټه کې، د طبيعت او ذهن له هر شيز نه ګټه اخلي. د هندي سبک شاعرانو کار په هندي سبک کې د پخوانيو فلسفي، عرفاني او غنايي مطلبونو ژباړه ده. په دې دوره کې د هندوانو د دودونو، آدابو او مذهب اړوند فکرونه او لغتونه هم شعر ته رانوتل.

۳ – ادبيات: په هندي سبک کې بديع او بيان ته دومره پام نه کيږي، که څه هم تشبېه د دې سبک بنسټ دی، خو نورې بديعي او بياني ښکلاوې په کې نه

ښکاري، يـواځې هغـه دي چـې پـه طبيعـي او تصـادفي توګـه پـه کـې راغلـې دي.
www.pajoohe.com

هندي ادبي مکتب د وخت د ځانګړو عواملو تـر اغېـزې لانـدې پـه خپـل وخـت کې په پارسي، پښتو او اردو شعر کې نامتو هنرمندې شـعري څېـرې رامنځتـه کـړې. په دغو شعري اثارو کې شعر د لوړ تخيل له سختې موشګافۍ سره يوځـای شـو او د شعر يو لړ ښکلي بابونه يې معراج ته ورسول. په پښتو کلاسيکه شاعرۍ کې د هندي ادبي مکتب د نمونو د څرکونو د لټون په لړ کې د وخت او چاپېريـال مجمـوعي اغېـز ته له يوخوا پاملرنـه پـه کـار ده او زمـوږ د هنرمنـدو شـاعرانو پـه اثـارو کـې د وخـت د پارسي شعر اغېز ته له بلخوا. دا د ولسونو او فرهنګونو ګډ ميراثونه، ګډ وياړونـه او ګـډ شعرونه دي چې خلک، پرګنې، ولسونه او فرهنګونه لا سره نږدې او ( يـو ) کـوي ( ۱: ۱۱۵ ).

**هنــدي ســبک او پښــتو ادب:** وړانـدې مـو ولوسـتل چـې هنـدي سـبک، د هنـد پـر ځمکـه او جغرافيـه کـې د فـارسي ژبـو شـاعرانو لـه خـوا رامنځتـه شـو او نـورو سـيمو تـه ولېږديـده. پښـتو ادب هـم لـه دې سـبک اغيـزمن شـو او ويـل کيـږي لـومړی پښـتون شـاعر عبدالحميـد مومنـد وو چـې د دې سـبک پـه اډانـه کې يې شعرونه وويل.

د پښـتو ادبيـاتو ټـول محققيـن او پوهـان پـه دې عقيـده دي چـې د هنـدي سـبک اساسـات پـه پښـتو شـاعرۍ کـې تـر هـر چـا د مخـه عبدالحميـد مومنـد ( ۱۱۴۸ هــ حــدود ) رعايـت کـړي دي او زيـار يــې ايســتلی دی. د دغــه ادبي ســبک لــه غوښــتنو سره ســم، خــو د اعتــدال د حــد پــه ســاتلو سره يــې خپلــه شـاعري عيـاره کـړې ده. د دې سـبک د ځينـو ځـانګړنو لـه خپلـو سره سره حميـد د خپـل شـعر جولـه پښـتنه وسـاتله او دا پـه دې معنـا چـې ده پـه دې برخـه کـې د اعتـدال لاره غـوره کـړه او پـه متوسـط ډول يـې د هنـدي سـبک اساسـات خپـل کـړه. پـه پښـتو شـاعرانو کـې چـې چا پـه خپلـه شـاعرۍ کـې دا سـبک د کـمال تـر حـده پسـې تعقيـب کـړ او د دې سـبک کـابو ټـول خصوصـيات يـې خپـل کـړل، هغه کاظم خان شيدا دی ( ۸: ۳۰۹ ).

حميد بابا په قوم د باړې مومند او په مومندو کې خدريزی دی، خو ژونـد يـې د

دغه شعر:

که د ښکلو د درگاه گدايي مومم
هاى توبه د محمدشاه له سلطنته

له مخې د محمدشاه رنگيلا تر دورې ( ۱۱۳۲ هـ ـ ۱۱۵۲ هـ ) يقيني دی. بياهم په يقين سره نه شي ويل کېدای چې دا شعر حميدبابا د محمدشاه رنگيلا د حکومت په کوم کال ويلی دی، خو که د دغه دور په لومړي کال يې ويلی وي، نو د شاعر ژوند تر ۱۱۳۲ هـ کال، بالکل يقيني دی ( ۴: ۲۸۰ ).

حميد پارسي ادب ولوست، په ځانگړې توگه هندي سبک ته ډېر ځير شو چې د ده پر وخت ډېر دود او لوړتيا ته رسېدلی وو. ده د پارسي ادب په هندي سبک کې شعرونه وويل چې د شعرونو ځانگړنې يې د پارسي ادبياتو هندي سبک ته ډېرې نږدې دي او هغه ځانگړنې لري چې د پارسي ادب هندي سبک يې لري. دا لاره بيا نورو هم وڅارله او د حميد په لاره لاړل چې ( کاظم خان شيدا، محمدي صاحبزاده د مياعمر څمکني زوی، ميرزاحنان بارکزي، عبدالله محزون، کاظم خان، کامگار، ملا محمد اکرم او صمد ) ترې يادولای شو ( ۳: ۱۰۱ ـ ۱۰۴ ).

حميد ماشوخېل د پښتو ژبې داسې شاعر دی چې شعرونه يې په ځانگړې توگه د شکل د پوخوالي له کبله معمولا د پښتو ژبې د کلاسيکو شعرونو د نمونو په حيث راوړل کېږي. دی د پښتو ژبې يواځينی شاعر دی چې هم يې ډېر او هم يې ښه شعرونه ليکلي دي ( ۲: ۸۵ ).

که څه هم د حميد او شيدا تر پلويانو وروسته په پښتو کې د هندي سبک شاعري پيکه او يا هم بيخي په نشت حساب وه، خو په معاصره دوره کې استاد محمد صديق پسرلي بېرته د دغه سبک په جسد کې نوې سا پو کړه او پر دغه سبک برابره شاعري يې وکړه.

په معاصره دوره کې د استاد پسرلي ترڅنگ ځينې نور شاعران هم شته چې شاعري يې تر دېره بريده د هندي سبک له اغېزو برخمنه ده چې له دې جملې موږ د سيد جيلاني جيلان شاعري يادولای شو. د جلان په شاعرۍ کې د دغه سبک نښې نښانې څرگندې دي ( ۵: ۱۴۵- ۱۴۶ ).

سرمحقق سيد محی الدين هاشمي په پښتو ادب کې د هندي ادبي مکتب

ځانګړنې داسې راښي:

۱ - اوچت تخیل، نازکخیالي، نوښت، نادرې تشبېه ګانې او استعارې د دې ادبي مکتب بنسټيزه ځانګړنه ده.

۲ - د دې ادبي مکتب پیروان غزل ویونکي دي او دغه ادبي ډول یا فورم یې کمال ته رسولی دی.

۳ - د شعرونو موضوع تر ډېره د مینې او محبت مسایلو ته وقف شوې او له سوز و سازه ډک دي.

۴ - سره له دې چې دا ادبي مکبت د هندي ادبی مکتب تر اغیزو لاندې رامنځته شوی، پښتني ژوند او چاپېریال هم په کې پخپله بڼه انځور شوی، استعارې او تشبېه ګانې یې هم په دغه خم کې رنګ شوي دي.

۵ - د خیال په نازکۍ او د معنا په باریکۍ سربېره، په الفاظو او عبارتونو کې د سوز او ښکلا پیداکول، د دې ادبي مکتب غوره ځانګړنه ده.

٦ - په شعرونو کې متلونه، عامې محاورې او سیمه ییز اصطلاحات ډېر کارول شوي دي.

۷ - د فارسي ژبې او ادب اغیزه، د دې مکتب پلویانو ډېره منلې ده.

۸ - حکایتي ادب له نورو ژبو، په ځانګړې توګه له فارسي ژبې نه ژباړو ډېر عمومیت موندلی دی. ( ۷: ۲۸۰ )

## پایله

هندي سبک چې بیا یې د یوه مکتب بڼه غوره کړه، په نهمه هجري پېړۍ کې پر هندوستان د پارسي ژبو شاعرانو له خوا رامنځته شو. دغه شاعران چې ویل کېږي د ناوړه شرایطو له امله له ایرانه هند ته کوچېدلي وو، هلته یې د هندي فرهنګ اغېز ومانه او د شعر یو نوی کالب رامنځته شو.

د هندوستان هېواد د ګڼو او ګڼو ژبو او فرهنګونو کور دی، هلته هر ډول ادبي اوښتون په نورو هم خپل اغېز درلود، بیا پښتو چې له پارسي ژبې سره نږدې اړیکې لري، له هندي سبکه اغېزمنه شوه. پارسي د هغه وخت داسې ژبه وه چې زموږ دسیمې ډېری فرهنګیان ترې اغېزمن وو او پرې پوهېدل. په دې توګه هندي سبک پښتو ته هم لار وموندله او د لومړي ځل لپاره عبدالحمید مومند په دې سبک کې

شاعري وکړه او بیا همداسې نور هم ورننوتل.

مناقشه: د هندي سبک او مکتب په اړه په پښتو کې څېړنې شوې دي او د هندي سبک تابع پښتو شاعران هم په نښه شوي دي. دا چې هغه خورا اوږدې او پاشلې وې، د دې لیکنې په ترڅ کې رالنډې او څرګندې شولې چې لوستونکی ژر موخې ته ورسوي.

## مأخذونه


۱ ـ زرین انځور، د زړو پاڼو تول: مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۴ ش کال.

۲ ـ عبدالباري جهاني، د مشکو کاروان، دریم چاپ: صحاف نشراتي موسسه، کوټه، ۱۳۸۷ لمریز کال.

۳ ـ عبدالحی حبیبي، تاریخچه سبکهای اشتعار پښتو: علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۹۰ لمریز کال.

۴ ـ همېش خلیل، د پښتو شعري ادب: پښتو اکاډمي، پېښور پوهنتون، پېښور، ۲۰۰۸ م کال.

۵ ـ خاطره قریشي، هندي سبک او پښتو شاعري: ملي تحریک خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۴ لمریز کال.

٦ ـ سیدمحی الدین هاشمي، ادبپوهنه: د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، پېښور، ۱۳۸۱ لمریز کال.

۷ ـ سیدمحی الدین هاشمي، د ادبپوهنې څانګې: میهن خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۳ لمریز کال.

۸ ـ زلمی هېوادمل، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه: شرکت پرنټنګ پریس، لاهور، ۱۳۷۳ لمریز کال.

۹ ـ محمد ابراهیم همکار، په پښتو منظوم هندي سبک کې د مجاز ډولونه: ختیځ خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۲ لمریز کال.

خېړنواله ظاهره هنگامه

# ښځه او اولسي ادبیات

## لنډیز

زموږ په اولسي ادب کې د ښادۍ هر ډول بدلې، لنډۍ، نارې، غاړې، ساندې، سروکې، دمیندو سندرې، چغیان، سولې او برغـازې زیـاتره او پـه ځینـو کـې یـو څـه برخه د ښځو د فکر محصول دی او د ډېرو دغه ډول سندرو پـه لـوی سـمندر کـې د ښځو نرم او لطیف احساس په څپو دی، ښځینه یا ښـځمنې پـه دې ټولنـه کـې هغـه عاجز او بې ضرره مخلوق دی، چې د خپل عجز لـه مخـې ډېـر ځلـه د خپـل مشروع حق هم نه شي غوښتلای، اخیستل او یا ورته رسېدل خـو یـې پـر ځـای پرېـږده؛ خـو کله چې په اولسي ادبیاتو کې بیا د دوی رول ته گورو؛ نو دا تـرې جـوتېږي چـې دې مخلوق په دې برخه کې څومره ډېر کار کړی، که څه هم په دې برخه کې کـار یـې د خپل زړه او ضمیر اواز دی خـو د دغـه اواز لـه املـه د پښـتو د گـړني ادب لمـن پـرې پراخه شوې ده.

## سریزه

زموږ د هېواد ډېرو ښځو د پېړیو په پوړ کې پـه اوږده تـاریخي بهـیر کـې خپلـې هیلې، ارمانونه، غوښتنې، خوښې، غمونـه، رنځونـه، مینـې او داسـې نـور پـه ځـانگړو شفاهي ژانرونو کې منعکس کړي دي.

پښتنې مېرمنې نه یوازې دا چې د پښتو د شفاهي ادبیاتو په پنځونـو کـې مهـم رول بلکې په (مدون) ادب کې یې هم ونډه له پامه نه شو غورځولای.

په پښـتو شـفاهي ادبیـاتو کـې د ښـځو ونـډه ډېـره زیاتـه او سـتاینې وړ ده، کـه

چېرې ما په ټولو برخو یې کار کړی وي؛ نو خبره د مقالې له حوصلې نه وتله، نو ځکه مې یوازې پر څو ژانرونو باندې بسنه وکړه او څېړنه مې پرې وکړه.

## د څېړنې ارزښت او مبرمیت

د دې موضوع ارزښت او مبرمیت په دې کې دی. لکه څنګه چې د نارینه وو په نسبت د شفاهي ادب ارزښتناکه زېرمه د ښځو په سینو کې زیاتې خوندي پاتې دي او د ښځو له خوا ویل شوي، نو ما په دغې مقاله کې د ښځو هېلې، ارمانونه، غوښتنې، خوښی، غمونه، مینې روښانه کړي او څېړنه مې پرې کړې ده.

## د څېړنې هدف

دا چې د شفاهي ادبیاتو په پنځونه کې د ښځو لوی لاس ده او دغه ادبیات د دوی د ژوند، چاپېریال، کړو وړو، هیلو، ارمانونو، غوښتنو او د خوښی او غمونو څخه خبرې کوي، نو د دې څېړنې نه مې موخه دا ده، چې د دغو ادبیاتو په جوړولو کې د ښځو ونډه څرګنده کړم.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې لاندې پوښتنې ځواب شي.

۱- آیا دا سندرې د ښځو د فکر محصول دی او که نارینه وو هم ویلي؟

۲- آیا په دې سندرو کې د ښځو جذبات، احساسات، مینه، نیمګړي ارمانونه او محرومیتونه ښکاري؟

۳- د کومو دلایلو له مخې ښځې د دې سندرو ویل ته اړ شوي؟ او دې ته ورته ځینې کوچنی پوښتنې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې مې له تحلیلي او تشرېحي میتود څخه کار اخیستی دی او د ضرورت په وخت کې مې مرکې هم کړي دي.

## اصلي متن

زموږ ټولنه د ځانګړو سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او جغرافیوي عواملو له امله د داسې ټولنو او اولسونو په سرکې راځي، چې د لیکلو ادبیاتو په پرتله یې د دغو ادبیاتو پانګه درنه او شتمنه ده.

زموږ د هېواد ډېرو ښځو د پیړیو په پوړیو کې په اوږده تاریخي بهیر کې خپلې

هيلې، ارمانونه، غوښتنې، خوښې- غمونه- رنځونه، مينې او داسې نور په ځانګړو شفاهي ژانرونو کې منعکس کړي دي.

همدا ډول پښتني مېرمنې په ټوله کې د نارينه و سره يو ځای د نورو ټولنيزو چارو د اجراء تر څنګ د پښتو په اوسني ادب کې په خاصه توګه د قدر وړ برخه لري. دا هم د يادونې وړ ده، چې پښتنې مېرمنې نه يوازې دا چې د پښتو د شفاهي ادبياتو په پنځونو کې مهم رول لري بلکې په (مدون) ادب کې يې هم ونډه له پامه نه شو غور ځولای.(١)

زموږ په اولسي ادب کې د ښادۍ هر ډول بدلې- لنډۍ، نارې، غاړې، ساندې، سروکي، د ميندو سندرې، پړاکې، چيغان، سولې، سلسې او برغازې زياتره او په ځينو کې يو څه برخه د ښځو د فکر محصول دي او د ډېرو دغه ډول سندرو په لوی سمندر کې د ښځو نرم او لطيف احساس بې پايه مينه ناپايه رنځونه او کړاونه په څپو دي او زموږ د ملي تاريخ حماسو ته په اړونده اولسي تخليقاتو کې د پښتنې ميرمنې ملي غرور، شهامت او سرښندنه په ډېر وياړ په غورځنګ ده.

همدا شان د نارينه وو په نسبت د شفاهي ادب ارزښتناکه زېرمه د مېرمنو په سينو کې زياته خوندي پاتې ده او د نارينه و په پرتله ښځو شفاهي سندرې ډېرې ويلې، البته د نارينه وو په رول هم سترګې نه شو پټولی، خو په په ټوله کې په دې برخه کې د ښځو رول زيات دی او د ادبپوهانو په اند د ښځو له خوا ويل شوي شفاهي ادبيات دي او د دوی د تودو جذباتو، ژور عشق، نيمګړو ارمانونو او محروميت غلبلو د دوی آثارو ته په زړه پورې رنګيني ورکړې ده.(٢)

د دوی دغه آثار د دوی د نازکو نايابه- جذباتو او احساساتو استازيتوب کوي، دا ځکه چې د شفاهي ادب ډېره نايابه ذخيره د دوی په سينو کې خوندي پاتې ده او ډېر مهم لامل يې دا هم دی چې مېرمنو او ښځو ته د سواد او زده کړې ډېره لږه لاره چاره برابره وه او د هغوی زياتره برخه مېرمنې نالوستې دي. له همدې کبله هغوی د شفاهي ادب ځينې برخې په خپله حافظه کې ساتي، نو ځکه ويلای شو چې د ښځو ونډه په شفاهي ادب کې دليکلي ادب په نسبت زياته ده او په همدې خاطر موږ يې د فولکلور يا شفاهي ادب ايجاد ګرې بولو که دې مسئلې ته لږ نور هم ځير شو، نو په ټوله کې په اولسي ادب کې ښځمنو نوښت په لاندې ولسي- ژانرونو کې

مونډلای شو.

**۱- لنډۍ:** لنډۍ د پښتنو میرمنو د ژوند یوه صفا او ښکلې هنداره ده چې په دې کې مېرمنو له پخوا راهیسې د خپلو هیلو، محرومیتونو، ناخوالو او دردونو یادونه په آزاده توګه کړې ده.

سره له دې چې تر دې وخته د لنډیو ویونکی او د پیل کره نېټه نه ده معلومه، خو بیا هم د مضمون له پلوه داسې ښکاري چې د دې فورم په پنځوونه کې ښځې تر نرو لوی لاس لري. لومړی دا چې د نارینه وو په نسبت ښځې ډېرې د لیک او لوست له نعمت څخه بې برخې دي، نو لنډۍ هغه څه دي چې تل او هر وخت سینه په سینه په شفاهي ډول تللي او راغلي دي او لیکلو ته یې ډېره اړتیا نه ده محسوسه شوې.

دوهم دا چې د لنډیو ویونکی او شاعر نه دی معلوم او دا چې د پښتنې او په ټوله کې افغاني ټولنه- نر واکمنه ټولنه ده نو ځکه ښځو هم د خپلو احساساتو د بیان لپاره دا فورم غوره بللی دی.(۳)

همدا شان د لنډیو ژبه سوچه او تر ډېره د پښتنو د ژوند کابو ډېره خوا په کې انځور شوې ده، نو ځکه ویلای شو چې د پښتنې کلتوري ژوند د هنداري په توګه کار کوي. یا د پښتني ژوند د کلتور یو روڼ انځور دی. د دې لپاره چې د دې خبرې پخلی مو کړی وي پام مو لاندې لنډیو ته را اړوم.

ما د کوچي له عمره زار کړې  چې د سهار اور یې بلېږي دوی ترې ځینه
ورور مې ټوپک زه یې شپیلۍ یم  په تورو غرو مې اړوي ژړا راځینه
زما ځواني په اور ایره شوه  اوس به په سپین اوربل کې څه وهم ګلونه
سترګې خو تا راکړې خدایه  ظالم موزي مې له کتو منع کوینه(۴)

**کاکړۍ یا د کاکړو غاړه:** د پښتو د اولسي ادب یوه اړینه او خوږه برخه کاکړۍ دي. دا ډول سندرې د کاکړیو- کاکړیو لنډیو او کاکړیو غاړو په نامه یادېږي او یادې شوې دي.

په کاکړیو کې ډول، ډول موضوعات لکه رزمي، بزمي، دیني، فلسفي، اجتماعي، عشقي، کومیډي، تراژیدي ترانې، اقتصادي شرایط، کلتوري پابندي، دینې او عقیدوي، ساده اولسي افکار، فلسفي، د ټوکې او ټکالې او د پښتني کلتور

بيلابيل اړخونه، خويونه رواجونه او داسې نور موضوعات راغلي چې د پښتنو له اولسي کليوالي او کوچاني ژوند سره اړه لري.

د کاکړيو ويونکي او شاعر معلوم نه دی او لکه د لنډيو غونډې د ټولو پښتنو ګډ مال دی. کاکړۍ هم د لنډيو په څېر اکثراً يا زياتره برخه يې د ښځو او مېرمنو له خوا جوړې شوي او اوس هم جوړېږي. په دې ډول سندرو کې اکثراً ښځې لطيف احساسات او د ژوند عواطف په کې څرګندوي. لکه په لاندې بېلګه کې چې ګورو:

همدا ډول د کاکړو غاړويو ستر ارزښت په دې کې دی چې برسيره پر رنګارنګ موضوعاتو يې د پښتو پخواني سوچه لغتونه هم تر موږه را رسولي او په سوچه ساده او سپېڅلې پښتو ويل شوي دي، غاړه هغه په زړه پورې شعري ډول دی، چې اکثراً ښځې خپل لطيف احساسات او ژور عواطف په کې څرګندوي. د کاکړستان په پراخه سيمه کې داسې ښځه به نه وي، چې خپل ژوند کې يوه نيمه غاړه نه وي جوړه کړې.

د بوټو تنۍ ترې = ګله په کومه راڅه ځي
د بوټو تنۍ ترم = د شاه کارمېلې ته ځم (۵)
ستا لمبې تر اور تودې
په اوبو هم نه سړېدې
يا:
ستالمبې تر اور تودې
په شنه دود نه سړېدې
* * *
زه له ذاته توره نه يم
توره کړې بېلتانه يم (٦)

**سلسلې:** کاکړۍ ډېر ډولونه لري، چې له هغو ډولونو څخه يو هم سلسلې دي، دغه فورم د فولکلور يوه په زړه پورې برخه ده چې د لرغونو زمانو څخه زموږ اوسنې نسل ته سينه په سينه راغلي او خوله په خوله را پاتې شوي دي.

د سلسلو ځينې مسرې برابرې خو په ځينو ځايو کې بيا يو بل سره توپير لري. په دې ډول سندرو کې هر ډول موضوعات راتلی شي لکه: ځينې تاريخي رجال،

قبیلوي جنګونه او د زمانې پېښې لکه په دغه لاندې مثال کې.

را وتـــلې پـــه سنځریم = زه د ښـــو نجونو اجل یم
په شان د سپینکی ماریم = د هـــر چـــا ترا وده تریم
بز څورمونی ډوکلجن دی = پر شـاهي قلا که غم دی
ټوټه یم د پولادو.(۷)

د کاکړیو نور ډولونه برغازي او سولې دي.

**سولې:** سولې هم د ولسي۔ ادبیاتو په زړه پورې او خوندور شعري فورم دی. دغه ډول سندرې د واده او یا د خوشحالۍ په مناسبت باندې ویل کېږي.

سولې د یوې ډلې یا یو ګروپ له خوا ویل کېږي. یوه ډله ناستې وي او یوه ښکلې او چالاکه نجلۍ د کوټې په منځ کې درېږي، ناستې ښځې د شعر په ژبه له ولاړې ښځې څخه پوښتنې کوي او ولاړه ښځه دوی ته ځواب د شعر په ژبه ورکوي.

سولې زیاتره د ښځو او نجونو له خوا ویل کېږي او د ښځو له خوا دریا هم ورته وهل کېږي او د دواړو ډولو ترمنځ طنزیه او کتره لرونکې خبرې ویل کېږي. وګورئ دا لاندې مثال:

کـــانې بـــــه اوره کـــړم=رانـــــجه بـه پـورې نـه کړم
په خــــدای مـــې دې قسم وي - چې پلاني ته دې ونه کړم

لاړه ښځه په ډېر ناز او موزونو حرکاتو سره داسې ځواب ورکوي:

هغه خو لیونی دی که یې وکمه(۸)

دغه سندره د نوم په بدلولو پای ته رسېږي.

یوه ډله ادبپوهان په دې نظر دي، چې دغه ډول فولکلوري سندرې اصلاً سندرې نه دي، بلکې ولسي ښېراوې دي، چې اصلي بڼه یې (شوله) ده او په اکثره واردو کې چې د چا زړه د کوم بل چا په وسیله ازار شي نو ورته ښېراوې کوي او وایي: شوله فلانیه په غم ککړ شې، شوله فلانی بوره شې او دې ته ورته ښېراوې.

**لنډکی:** دا سندره د شفاهي ادب یوه ځانګړې او په زړه پورې برخه ده، چې هره سندره خاصه غاړه لري. چې معمولاً د یوې بلې سندرې په پای کې په خاصه غاړه ویله کېږي او په ځانګړي ډول د استعمال مورد نه لري.

لنډکی هم د خپل لنډوالي سره سره کټ مټ لکه د لنډیو په څېر د هېواد او

سيمې په ټولو ټېښو، داخلي تضادونه، قبيلوي او طايفو اختلافونه، د خان خانی مکالمو، د فيوډالي سيستمونو، مرگ ژوبلې، مقابلې، مبارزې د دودونو او دستورونو د ملي کلتور د مشخصاتو او... نورو موضوعاتو په باب په خپله غېږ کې رانغاړي. (۹)

د ايجاد سيمې يې د خوست او د پکتيا ځيني غرنۍ برخې دي. دا سندرې هم د ښځو له خوا او هم د نارينوو له خوا ويل کېږي.

جار بې غمه خدای دی بنده تل په غم کې وينه
پا څړه لاليه خوب به بيا وکړې مينه (۱۰)
ته چې جواري کړې ما به بايه ((بايلل)) کړې مينه
مه را پسې ژاړه ووړکيه نه مې درکوينه
جار خټک جنگېږي زيبو شنه شي وخاندينه (۱۱)

**سروکی:** سروکو ته ځينې پښتانه (نيمکۍ) هم وايي. د پښتو په اولسي نظم کې يوه په زړه پورې، خوندوره او خوږه برخه ده.

سروکي، عموماً يو بيت يعنې دوه مسرې لري، چې لومړۍ مسره يې تر دوهمې اوږده وي او کله دواړه مسرې يې برابرې وي.

سروکي زياتره لکه د هندي ( کورس) په شان د يوې ډلې له خوا په گډه سره ويل کېږي. سروکي نه يوازې دا چې په موسيقي کې يو پياوړی او زبردست نقش لري، بلکې په اتڼ کې هم يو بارز او روڼ نقش لوبوي او د اتڼ زياتره خوږې نارې او په زړه پورې نغمې په همدغه سروکو پورې اړه لري.

همدا شان سروکي هم لکه لنډۍ او يا د خلکو ځينې نورې سندرې غوندې خاص او ښکاره ويونکي او شاعر نه لري.

سروکي عموماً په دوه ډوله دي:

لومړی: هغه سروکي چې په اتڼ کې ويل کېږي چې د ( آتڼ سر) يې هم بولي.

دوهم: هغه سروکي چې له اتڼ څخه پرته په نورو مجلسونو او ښاديو کې ويل کېږي، چې دې ته (( عام سر)) او يا خو تش سروکي او نيمکۍ هم ورته وايي.

ادکې مورې ماټوله ځمه = د بډيالۍ توتان ړلۍ وهلي دينه
ماټوله ځمه
د توتو پاڼې مې خوراک وې = خوراک مې نه وای د آشنا دا ډېر غمونه

ماڼوله ځمه – ادکې مورې

ماڼوله ځمه= ادکې مورې ماڼوله ځمه- د بډیالی توتان ړلی وهلي دینه ماڼوله ځمه.

کله کله سروکي د ښځې او نارینه ترمنځ د سوال او ځواب په توګه هم ویل کېږي.

لکه په دغه لاندې مثال کې:

ښځه: جانانه راشه دیدن وکړه نارینه: ګلې سباته درځمه
خفه زړګی مې ښه کړه تانه خفه کومه
سبا بېلتون دی ښکلی ژوندون دی. (۱۲)

**بابولالې:** بابولالې د پښتو ادب هغه مخصوص شعري فورم یا سندره ده چې د واده ورځو په مختلفو وختونو کې د ښځو له خوا ویل کېږي. ادبپوهان وایي چې بابولالې اکثراً د واده پر لومړۍ ورځ کله چې د ناوې سر وغوړوي او د واده پر مخصوص تخت یې کښېنوي.

د بابولالې د پیدا کېدو وخت دقیق نه دی معلوم، خو داسې ښکاري چې ډېرې لرغونې سندرې دي او پښتنو د خپلو ودونو او ښادیو په وخت کې ویلي او وایي یې.

ویل کېږي بابولالې په اولسي سندرو کې یو مخصوص جوړښت لري او عموماً له دریو بېلابېلو ټوټو څخه تشکیله شوې وي او کله کله دوی مسرې هم لري، چې لومړۍ مسره یې عموماً د موضوع نه لرې وي، حتی کله کله مهمله وي او یوازې د دوهم بند د قافیې لپاره را وړل کېږي، لکه په لاندې بېلګه کې.

دوه دوه تاره اخلي
سر یې ورو ورو یې بیلویه
ناوکۍ موده نادانه
تر غرمې مې یې ځندونه(۱۳)

ببولالۍ اکثراً درې مسرې لري. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي وي او عموماً د څپو د شمېر له مخې ( اته) څپې وي.

اوښ ولاړ زنګون تړلی (ها) ببولاله

اوښ ولاړ واى، واى، زنګون تړلى (واى)
تر هغو به يې خلاص نه کم (واى) ببولاله، لاله
خو زما جان واى، واى نه دى راغلى (واى)(۱۴)

**چغيان:** د پښتو شفاهي ادبياتو يو خاصه او ځانګړې برخه ده ځانته خاص شکل او موضوعي ځانګړنې لري.

دغه سندرې تراژيدي او غم ناکه بڼه لري. ناوې او د ناوې خپلوان د ژړا په څپو کې په خاص آهنګ او وزن سره وايي.

چغيان ډېرې خوږې او په زړه پورې سندرې دي چې اکثراً د ښځو له خوا جوړېږي او د ښځو له خوا ويل کېږي او کله کله نارينه يې تقليد کوي. هغه سوز، درد چې د ښځو په چغيانو کې موجود دي هغه د سړيو په چغيانو کې نه تر سترګو کېږي، نو کومه پېغله چې واده کېږي نو خپل پلار باندې داسې غږ کوي.

زه دې کــــړم د چــول مرغۍ = بابکه خوښ دې کړې روپۍ(۱۵)
زه دې کـــــــــړم را تـــــــره = تر ملـــــکو دې کـــړم راتره
نس دې ډک شه له انـــګاره= زه دې چـــاته ورکړم پـــلاره
نس دې ډک شه له سور اوره = زه دې چاته ورکــــړم موره(۱٦)

**نيمکۍ:** نيمکۍ د پښتو د اولسيـ سندرو ډېره ساده او آسانه برخه ده او د پښتو ژبې يوه خاصه او په زړه پورې برخه جوړوي، نيمکۍ زياتې د ښځو له خوا ويلې کېږي.

ښځې کله چې په کور کې کار کوي او يا د کور څخه بهر د څرخې کولو په وخت او يا د کاليو مينځلو په وخت کې دغه لاندې سندره له ځان سره زمزمه کوي.

ورځم د ګلو اوس به لمن ډکه در وړم لــه ګلو
ديـــــدن د ګلــــو غنچه نه ده درځـــم له ګلو
چې د ريبار پـــــــه لاس يـــــې يـــارته ولېږمه
درځم له ګلو اوس به لمن ډکه در وړم له ګلو.(۱۷)

**ساندې:** ساندې هغه نظمونه دي چې معمولاً د ښځو له خوا په مړي باندې ويل کېږي. ځينې خلک ستاينې، ځينې- يې کړيکې او ځينې نور يې غږنکۍ هم بولي.

ځینې ساندې په خپله لنډې وي چې په خاص وزن او آهنګ په کې د مړي د ښه توب، نیکیو، د ده د نیمه خوا هیلو، ارمان کوي او که چېرې مړ وي، نو د ده هیلو د نه سره کېدلو او د هغه نیمګړي ارمانونه او حسرتونه یادوي.(۱۸)

او داسې وایي:

په جانان سپین کفن غوړېږي = پـــه ما ورېږي د ســـــکروټو بارانونه

ولـــې به نــــه ژاړم عـــالمه =جانان مې ګل د پسرلي خاورو له ځینه.(۱۹)

**د میندو سندرې:** د مېندو سندرې هغه خوږې او منظومې سندرې دي، چې مېندې یې خپلو ماشومانو ته په مختلفو وختونو کې وایي. کله چې یوه مور خپل ماشوم ویده کوي، نو په ډېره خوږه ژبه او په ډېر ښکلي انداز دا سندره وایي.

اللوللو- خوب یې راشه په لیمو

دا سندره د ډېرو ساده کلماتو څخه جوړه شوې دی، ځکه چې ماشوم ته ویل کېږي. کله ماشوم دا سندره اوري، نو د مور په پسته غېږ کې په ناز خوب ویده کېږي.

همدا ډول مېندې په دې سندرو کې خپلو ماشومانو ته د خپلو مشرانو د بهادرۍ کیسې کوي، ځکه چې د نن ورځې ماشومان د سبا ورځې ځوانان دي.

الله هوشه الله هو زما جانه الله هو

للې للې للې للې- للو- الله هو

پلار دې تلی دی په جنګ، ښه تېره توره ترڅنګ

سر به ورکاندي په ننګ، په وطن راغی نیرنګ

الله هو شه الله هو، زما جانه الله هو.(۲۰)

ځینې پوهان په دې عقیده دي، چې د مېندو سندرو تر څنګ د (( الله هـو)) په نامه یو بل ژانر هم په ګوته شوی، چې د ماشومانو د کرارولو او ویده کولو وخت کې ویل کېږي. (۲۱) لکه په دغه لاندې مثال کې.

اللو للو- مه راځه پیشو

خوب به راشه زما د خان وړو وړو لیمو – الله هو الله هو –

للی للی للی للی، للو الله هو په دې لاره مه راځې غلو

زما خان به اوس اوده شي لکه غرنده پشو الله هو

مه راځه پشو، خان داسې للو للو ده لکه گوډی د رنجو الله. (۲۲)
ماشوم داسې للو دی لکه گوډی د رنجو

**پایله**

لنډه دا چې په شفاهي او اولسي ـ ادبياتو کې د ښځو ونډه ډېره زياته او د پاملرنې وړ ده. چې په حقيقت کې دا ټول د ښځو له محروميت څخه زېږېدلي ادبيات دي. البته ځينې برخې لکه اللو للو او دې ته ورته نورې د لطف، احساس، عاطفې او دې ته ورته مسائلو په خاطر پنځېدلي؛ خو په ټوله کې په شفاهي ادبياتو کې د ښځو رول پر هغه ژانر يا برخې کې ډېره وي، چې هلته د ليکوال، شاعر او يا هم د ويناوالي نوم نه راځي، ځکه بيا هم محروميت دې ته اجازه نه ورکوي چې د ښځې نوم دې په يوې داسې نادرې بدلې، لنډۍ، برغازې او يا دې ته ورته ژانرونو کې ياد شي؛ نو ښځې هم دا فرصت غنيمت شمېري او د زړه له خلاصه خپله خبره کوي.

نو که خبره را ټوله کړو شفاهي ادبيات هغه ادبيات دي چې هم د ښځو رول په کې زيات دی او هم د پښتني ښځو د ژوند ربښتينې هېنداره ده چې له بده مرغه له پيله تر اوسه پورې د دې برخې انځورونه لکه څنگه چې په کار ده نه ده شوې، ما هم د دې برخې د څه انځورونې هڅه وکړه؛ خو هيله منه يم چې په دې برخه کې د پښتني مېرمنې د ربښتيني ژوند د انځورونې لپاره هم کارونه وشي، تر څو ټول ژوند يې روښانه او له امله يې د گړني ادب لمن پراخه شي.

**مأخذونه**


۱- محمد عارف غروال، غرنۍ سندرې: د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، دولتي مطبعه، ۱۳٦۰ کال، ٦ مخ.

۲- سيد محی الدين هاشمي، ادب پوهنه: اريک موسسه، ۱۳۸۱ کال، ۱۰٦ مخ.

۳- محموده تقوا، لنډۍ د ښځو پنځونه، د افغانستان د اوسنيو ادبياتو، اووم ملي جشن د مقالو ټولګه: گويته انستيتوت، دانش مطبعه، ۱۳٦۰ کال، ۵۲ مخ.

۴- محمد داود وفا، د فولکلور پېژندنې لارښود: ننگرهار، ۱۳۹۲ کال، ۴۲ مخ.

۵- حبيب الله رفيع، د خلکو سندرې: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه ۱۳۴۱ کال،

۱۲۳ مخ.
٦- شاه جهان، پښتو ادب کې د مېرمنو برخه: پښتو اکاډمي، پېښور، ۱۳۹۳ لمریز کال، ۸۴- ۸۵ مخونه.
۷- حبیب الله رفیع، زرینې څانګې: د زیري کالنی، ۱۳٦۰ کال، ۲۴۹ مخ.
۸- زما خپل یاداشتونه.
۹- غوټۍ خاورې، د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳٦٦ لمریز کال، ۲۵ مخ.
۱۰- زلمی هېواد مل، د پښتو ادب لرغونې دورې: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷٦ کال. ۸ مخ.
۱۱- د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون، ۲۵ مخ.
۱۲- د خلکو سندرې، ۱۲٦ مخ.
۱۳- پورته اثر، ۱۲٦ مخ.
۱۴- محمد اسمعیل یون، د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره: د تحریک خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ کال. ۳۹۳ مخ.
۱۵- د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره، ۴۰۰ مخ.
۱٦- همدغه اثر، ۴۰۲ مخ.
۱۷- افضل رضا، پنځه شمعې: پښتو اکادمي، پېښور یونیورستي، ۲۰۰٦ع کال، ۲۲ مخ.
۱۸- شاه جهان، پښتو ادب کې د مېرمنو برخه: پښتو اکادمي، پېښور، ۱۳۹۳ کال. ۹۵ مخ.
۱۹- غوټۍ خاورې، د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳٦٦ کال. ۲۹ مخ.
۲۰- پورته اثر.
۲۱- پښتو ادب کې د مېرمنو برخه، ۷۲ مخ.
۲۲- د فولکلور پېژندنې لارښود، ٦٦ مخ.

پوهندوی دکتور اجمل ښکلی

# د څېړنیزو معیارونو په رڼا کې د پښتو د معاصرې څېړنې روایت

## لنډیز

څېړنه او څېړنې هغه نومونه دي، چې نن سبا ورته ډېره توجه کېږي، خو له بده مرغه لا هم ورسره په ټوله معنا بلد نه یو او لا هم څېړنه او تالیف یا څېړنه او تصنیف سره ډېر نه جلا کوو او هره سازه ناسازه لیکنه راته څېړنه ښکاري، په داسې حال کې چې څېړنه ځانته شرایط، اصول او آرونه لري او د همدغو اصولو یا معیارونو په رڼا کې موږ یوه څېړنه له بلې تفکیک او جلا کولای شو، ځکه په معاصرو ادبیاتو کې تر ټولو مهم بحث د څېړنې پر اساس ادبیات دي چې څېړنیز ادبیات هم ورته وایي.

په دې بحث کې موږ په پخوانیو روایتي څېړنو او معیاري څېړنو تر خپلې وسې رڼا اچولې ده او هڅه کوو چې د دواړو برید پولې سره جلا کاندو.

## سریزه

د څېړنې یا تحقیق په اړه مشهوره خبره ده یا په تعریف کې یې لولو چې تحقیق د حق له کلمې څخه اخیستل شوی او حق رښتیا ته وایي، یعنې یو څوک باید ځان رښتیاوو ته ورسوي، البته رښتیا ته رسېدل ډېرې ستونزې، ننګونې او خوارۍ هم غواړي چې لیکوال یا څېړونکي ته بویه چې دا ټولې وګالي.

په دې مقاله کې موږ د حق په پخوانیو او اوسنیو شکلونو یا بڼو باندې بحث کړی او بیا مو معیاري حق یا تحقیق څېړلی چې کوم دی او څنګه باید وي. زموږ ادبیات او په ټوله کې تحقیق له دوه ډوله ننګونو سره مخامخ دی یو پخوانی یا دودیز

اصل چې له بده مرغه ډېر ځله ورته تاريخي اصل هم وايي چې هغه ځانته ځـانګړنې او اصول لري او دوهم معاصر يا د اوسنيو معيارونو په رڼا کې تحقيق چې پـه نړيوالـه کچه په کې بدلون راغلی، نو ما هڅه کړې چې دا موضوع په دې بحث کې وڅېړم او په معياري بڼې باندې يې تر وسې وسې رڼا واچوم.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت او مبرميت پـه دې کـې دی چـې د څېړنـې ټـولې بڼـې او جولې په کې بيان شوي او بيا يې پـر منځپانګـه بحـث شـوی چـې پخـوا څنګـه وه او اوس څنګه ده او بايد څنګه وي.

همدا راز څېړنه څه ارزښت لري او ولې بايد د نوو اصولو او قوانينو په رڼا کـې د څېړنې اصول په پام کې ونيسو، يعنې معياري څېړنې کومې دي او بايد څنګه وي؟

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چـې پخـوانۍ او اوسـنۍ څېړنـې سره تـوپير کړي، پخواني او اوسني معيارونه سره جوت کړي او په ورته وخت کې ناسمې څېړنـې له اصولو څخه جلا کړي، يعنې دود پالنه او ناسمۍ د څېړنې د اصولو او نوو غوښتنو په رڼا کې مطالعه نه شي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې تر ډېره ځواب شوې دي:

- ✓ څېړنه څه  شی دی؟
- ✓ څېړنه بايد څنګه وشي؟
- ✓ پخوانۍ او اوسنۍ څېړنې څه توپير لري؟
- ✓ د څېړنې معيارونه کوم دي؟
- ✓ کوم شيان دود دي او کوم معيارونه؟

او دې ته ورته نورې کوچنۍ پوښتنې هم د مقـالې پـه اوږدو کـې ځـواب شـوې دي.

## د څېړنې ميتود

پـه دې څېړنـه کـې تـر ډېـره لـه تشرـيحي، توضـيحي او تحلـيلي ميتـود څخـه اسـتفاده شـوې او د اړتيـا پـه صـورت کـې د انتقـادي ميتـود نـه هـم ګټـه اخيسـتل

شوې ده.

## د ځېړنې اصلي متن

د کوټې نړيوال سيمينار پاسنی سرليک د ليکنې لپاره راوستاوه؛ خو په دې سرليک کې ډېرې پوښتنې وې، چې په رڼا کې يې ما د خپلې موضوع اړوند ځوابونه موندلای شو.

لومړی پوښتنه دا وه، چې د ځېړنې معيارونه کوم دي؟ د دې پوښتنې يو ځواب خو د ځېړنې مېتودولوژي يا طرز و بڼه ده، چې ځېړنيزه چاره يا موخه په کې ترسره کېږي. دې پوښتنې زما له ليکنې سره مستقيمه اړيکه لرله، ځکه چې په پښتو کې د علمي ځېړنې يو اړخ دا هم و؛ خو بل او مهم ځواب د پښتو ځېړنو موخه او منځپانګه وه، چې د پښتو ځېړنې يې له مخې پر دوديزو او نادودويزو وېشلې دي.

په سرليک کې نغښتې بله پوښتنه د معاصرې ځېړنې د روايت وه. دلته زما په موضوع کې تاريخ هم شاملېده، چې معاصره ځېړنه د ماډرن معنا لري، که مازې مهال ته يې اشاره ده؟

زه لومړی دوهمې پوښتنې ته ځواب وايم او بيا د تاريخ په سفر کې د معاصرې ځېړنې پر مفهوم او وضعيت خبرې کوم.

ځېړنه لرغونی کار دی؛ خو معاصره ځېړنه ځوان علم دی. تر شلمې پېړۍ مخکې چې لا زموږ سيمې ته د لوېديځ علمي تيوريو مخه نه وه کړې، زموږ اثار په زاړه طرز ليکل کېده. پر دې بنسټ، تر دې پېړۍ مخکنې ليکلي آثار په معاصره ځېړنه کې نه شمېرو.

چې د معاصرو ځېړنو خبره کوو؛ نو پر دې پوهېږو، چې دا لار ختيځپوهانو نيولې وه، چې د بېلابېلو سياسي او نورو موخو لپاره يې زموږ د فرهنګي شتو د راټولولو هلې ځلې وکړې. زموږ لومړنۍ معاصرې ځېړنې د ختيځپوهانو له دودويز ځېړندوده اغېزمنې دي.

د پښتو د معاصرو ځېړنو منظم پيل په افغانستان کې د کابل او نورو انجمنونو او وروسته د پښتو ټولنې او په پښتونخوا کې د پښتو اکاډمۍ له رامنځته کېدو شوی دی. پر دې سربېره په دې مرکزونو او له دې مرکزونو بهر د بېلابېلو مجلو او جريدو چاپ هم د معاصرې ځېړنې په پيلامه کې مهم نقش ولوباوه. په دې مجلو او جريدو

کې د نومياليو پوهانو څېړنيزې ليکنې خپرېدې او پښتو ټولنې، پښتو اکاډمۍ او نورو څېړنيزو مرکزونو د څېړونکو په زيار زاړه دېوانونه او نور آثار خپرول.

دا د معاصرې څېړنې لومړی پړاو دی، چې پرله پسې يې څو لسيزې دوام کړی. په دې پړاو کې د څېړونکو مخ تـه د خپلـې زړې پـانګې د راټولولو او خوندي کولو مهمه پوښتنه پرته وه. په افغانستان کې د يوې ملي ژبې اړتيا پوهان دې ته وهڅول چې د پښتو زړه پانګه خوندي کړي. په پښتونخوا کې هم د همدې کار پر وړاندې مثبته سيالي ونښته.

*" په افغانستان کې د دې پړاو په نومياليو څېړونکو کې پوهاند حبيبي، پوهاند رښتين، استاد بېنوا، استاد خادم، استاد الفت او اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد دي."(۸)*

د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې زموږ د څېړنې موخه بالعموم د خپلو ورکو پلونو موندنه وه. استاد حبيبي د خپل فرهنګي زنځير دوه ورکې کړۍ(تذکرة الاولياء /پټه خزانه) وموندلې، د خوشحال دېوان يې چاپ کړ او بيا دا لړۍ پسې اوږده شوه. پښتو ټولنې او د هېواد نورو علمي مرکزونو د زړو دېوانونو او نثري آثارو نسخې چاپ کړې او له دې سره يې معاصر پښتانه لوستونکي تـه خپل زوړ فرهنګ مخ ته کېښود، چې ويې لولي او ژوند ترې زده کړي.

خو په دې وخت کې پښتو څېړنې د سيمې له دوديزې(روايتي) بڼې اغېزمنې شوې. د هند و پارس څېړندود د پښتو څېړنې په ځان پسې روانې کړې.

د لومړي پړاو په څېړنو کې د ادبي متن پر ځای پنځګر مهم دی. د حميد د هنر پر ځای په خپله دی ارزښتمن دی او په دې توګه متن بې له خپله پنځګره بې معنا دی.

په دې پړاو کې چې د متونو د راټولولو کار ترسره کېده؛ نو د اصل و جعل اصطلاحاتو جدي معناوې درلودې. د يوه متن د اصالت د اثبات تر شا بايد وخت، ځای او دېوقامتی پنځګر ولاړ وای.

د وخت غوښتنې پنځګر پر لوړ مسند کېناوه او ادبي ايجاد يې د مريي غوندې ورته په پښو کې کېناوه. متن پر ځای پاتې شو، څېړونکي پر پنځګر بوخت شول. پنځګر څوک دی؟ د چا زوی، د چا لمسی، د چا کړوسی، د کومې قبيلې، د کومې

تېپې دی؟ او د زوکړې او مړينې نېټې يې کومې دي؟ دا حالت تاسې د هغه وخت په زياترو څېړنو کې ليدای شئ او آن کله د څېړونکو ترمنځ پر ډېرو جزئي مسايلو لانجې کېدې. کله به دا لانجې شخصي کېدې هم، چې د څېړنو علمي حيثيت ته يې زيان رساوه.

ښايي تاسې ووايئ، چې د پنځګر د ژوند په اړه جزئي تېروتنه هم د متن اصالت له ګواښ سره مخامخ کوي، ځکه "*د څېړنې په اوږدو کې چې څېړونکی له کومو مراحلو تېرېږي، په هغو کې دوه ډېرې مهمې دي، چې لومړۍ هغه د حقايقو موندنه او دوهمه د پايلې ترلاسی دی. په دې مراحلو کې د حقايقو د موندنې مرحله پر منطقي ترتيب سربېره د اهميت له امله هم لومړيتوب لري، ځکه چې حقايقو ته له لاسرسي پرته د پايلې رااېستنه شونې نه ده... مثلاً يوه عام لوستونکي يا کره کتونکي ته دا دوه انې اهميت نه لري، چې ( مرزا اسدالله) غالب په ۱۲۱۲ ق کال کې پيدا شوی که څو کاله مخکې؛ خو که د څېړنيزو شواهدو پر بنسټ دا ثابته شي، چې نوموړی د خپلې خبرې پرخلاف تر ۱۲۱۲ ق څلور کاله مخکې په ۱۲۰۸ ق کې زوکړی دی؛ نو سبانی څېړونکی اړ دی، چې د غالب د ژوند په اړه ډېرې ناسمې خبرې ترميم کړي، چې غالب د واده په وخت کې ديارلس کلن ماشوم نه، بلکې اوولس کلن ځوان و، د شاعرۍ پيل يې په ديارلس کلنۍ کې نه، په څوارلس، پينځلس کلنۍ کې کړی او د خپل ديوان د لومړي خپراوي پر مهال يې عمر نولس نه، درويشت کاله و. له ورايه دا څلور پينځه کاله دومره توپير نه ښکاري؛ خو که د شاعر پر وړتيا، ځيرکتيا، تمرين او د شاعرۍ پر ګړندي مزل يې غږېږو؛ نو دا ووړ توپير خورا ارزښتمن شي.*" (۱)

خو که د پنځګر او ژوند په اړه يې جزئيات د څېړنې ټول هدف وګرځي؛ نو بيا څېړنه د شاعر و ليکوال د شخصي ژوند په تش بيان واوړي. زموږ د معاصرې څېړنې د لومړني پړاو د څېړنو پر بنسټ په دې ښه پوهېږو، چې پر خوشحال پر کوم کال له څپر نه تيره راپرېوته يا په کوم کال سيند ته وغورځېد؛ خو پر هنر يې ډېر نه پوهېږو.

دا د څېړونکي دنده ده، چې د متن د پنځګر پر ګډون ټول هغه شرايط کره کړي، چې متن په کې رامنځته شوی؛ خو په دې هر څه کې په خپله متن بايد لومړيتوب ولري.

دا هغه پوښتنه وه، چې د پښتو د معاصرې شېرنې په دوهم پړاو کې ورته ځواب وویل شو. په لویدیځ کې هم د متن د معنا سفر نور له دودیزې بڼې راوتی و. د ختیځ غوندې په لوېدیځ کې هم لومړی داسې فکر کېده، چې د شعر معنا د شاعر په زړه کې ده؛ خو د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې روسي فورمالیستان او رغښتوال(سټرکچرلستان) ځیر شول، چې د ادبي متون ارزښت او معنا په خپله د دې متونو په داخلي جوړښت او رغښت کې پرته ده او داخلي رغښت له نورو ټولو ادبي متونو سره په تړاو کې یو متن راپېژني او د معنا په تفهیم کې یې مرسته کوي. د پنځګر له ذاته د معنا دا پیل شوی سفر د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د متن له حدودو هم ووت او لوستونکي ته را اورسېد. رولان بارت په پسرغښتواله(پوسټ سټرکچرلیزم) کې د پنځګر د مرګ اعلان وکړ. دې اعلان متن یتیم کړ، چې باید بل چا یې سرپرستي پر غاړه اخیستې وای. تر لوستونکي بل ښه سرپرست څوک کېدای شو؟ متن لوستونکي ته وسپارل شو، ځکه چې هر لوستونکی د خپلې تجربې او عاطفي حالت له مخې له متن نه معنا اخلي.

له پنځګر نه متن ته د معنا سفر د لوېدیځ پر شېرنو سربېره زموږ شېرنې هم اغېزمنې کړې. زموږ هغه ځوانان چې لوېدیځ ته زده کړو ته تللي وو، پښتو شېرنې له دودیزې بڼې راوایستې. هسې هم اوس د پښتو د زړې پانګې د راټولولو پروسه بشپړه شوې وه، اوس باید شنل شوې وای.

دا دوه لامله سره غاړه غړۍ شول او په افغانستان او پښتونخوا کې یې پښتو شېرنو ته نوی روه ورکړ. په افغانستان کې بهاءالدین مجروح، غلام غوث شجاعي، حبیب الله تړي، محمد صدیق روهي او سعدالدین شپون او په پښتونخوا کې مرحوم کامل مومند، قلندر مومند، پرېشان خټک، خیال بخاري او نور د دې دورې استازي شېرونکي دي، چې پښتو شېرنه یې د بڼې او منځپانګې له مخې نوې کړه.

دوی په نوره نړۍ کې د شېرنې لپاره له وضع شویو اصولو نه په خپلو شېرنو کې استفاده وکړه او پر دې سربېره د محمد صدیق روهي(د شېرنې لارښود)[1] او

۱- د ارواښاد محمد صدیق روهي د شېرنې لارښود لومړنی کتاب دی، چې په پښتو ژبه په دې ساحه کې لیکلی شوی دی. دا کتاب په ۱۳۴۸ هـ ش کال په کابل مجله کې او په ۱۳۵٤هـ ش کال په کتابي بڼه د

سعدالدين شپون(۷) غونډې پوهانو د نوې څېړنې د مېتودولوژۍ په اړه ليکنې او آثار هم وليکل.[۱]

د دې دورې مهمه خبره دا وه، چې د پښتو څېړنو مخه يې په خپله متن ته واړوله. پر ادبي متونو د پوهېدو لپاره يې وشنل او د څېړنيزو اصولو پر بنسټ يې د دوی هنري او علمي ارزښت وټاکه. مثلاً: د استاد روهي د ادبي څېړنې (٦) او ادبي تحليلونه (۵)ليکنې يې ښې بېلګې دي. په دې ليکنو کې د زړو متونو پر مطالبو بحث شوی. استاد روهي راته د خوشحال د ښوونې روزنې پر مفکورې، د (تاريخ مرصع) پر موضوع، هدف او مېتود او د پټې خزانې پر ارزښتونو باندې بحث کوي او موږ عملاً وينو، چې په دې څېړنو کې له پنځګر نه د متن د شننې په ضمن کې استفاده کېږي، نورې ټولې په خپله پر متن څرخي او په کوم ځای کې چې د پنځګرو نومونه په سرليکونو کې راغلي، هلته هم هغه پنځګر مراد دی، چې په متن کې موجود دی او د متن په پوهاوي کې راسره مرسته کوي. حميد د هندي سبک، رحمان بابا د خپل پيغام او ميا روښان او ميا فقير الله د خپل فکر تحليل ته استخدام شوي دي.

د استاد روهي يوه ځانګړنه دا ده، چې د متونو د اهميت په لړ کې له پرتليز ډوله کار اخلي، چې د پښتو د معاصرې څېړنې په لومړي پړاو کې يې نه وينو. په لومړي پړاو کې پنځګر له خپلې پنځونې سره مازې د ملکيت(پراپرټي) تار لري؛ خو په دوهمه پړاو کې پنځګر د متن د معنا د پوهاوي يوه داسې وسيله ده، چې لومړيتوب په کې په خپله متن لري.

په دوهم پړاو کې د فولکلور راټولونې لپاره هم څېړنيز اصول وضع شول او″ په *۱۳٦۵ ل کال کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي د (فولکلور پېژندنه) په نامه يو کتاب وکښل. په دې کتاب کې يو فصل د فوکلور څېړنې تر سرلیک لاندې راغلی*

---

پښتو ټولنې له خوا چاپ شو؛ له ښه مرغه دا کتاب څه دپاسه دېرش کاله وروسته په ۱۳۸۵ هـ ش کال د افغانستان د علومو اکاډمي د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز له خوا بيا چاپ شوی دی. (۸)

[۱]- د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ: هېوادمل. زلمی. د کابل پوهنتون ژبو او ادبياتو پوهنځی، پښتو څانګه، د ماسټرۍ پروګرام، لکچرنوټ. ۱۳۹٦

*دی. د دې فصل مطالب له فوکلور څېړونکو او هم له نورو څېړونکو سره مرسته کولای شي" (۸)*

پر دې سربېره په دې پړاو کې د متن څېړنې لپاره اصول وضع شول. څنګه په بېلابېلو خطي نسخو کې داسې يوه نسخه راوباسو يا يوه جوړه کړو، چې هم د کاتبانو له تصرف پاکه او اصالت يې د اطمينان وړ وي او هم بشپړه وي. له دې اصولو نه د متونو په تدوين کې بريالۍ استفاده وشوه.

په همدې پړاو کې د ادبي تاريخ ليکنې لپاره هم څېړنيزه مېتودلوژي جوړه شوه. ادب تاريخ له زړې بڼې راووت، چې د متونو د داخلي بدلون پر ځای په کې بهرني سياسي او ټولنيز شرايط مهم وو. اوس نو ادب تاريخ د دوديزې تذکره ليکنې غوندې مازې د پنځګرو بيوګرافۍ او کيسې نه وې، بلکې په خپله د ادبي ايجاداتو د منځپانګې او بڼې د بدلون تاريخ و.

استاد زلمي هېوادمل پر دوديزې ادب تاريخ ليکنې باندې د فورماليستانو نيوکو ته په پام او د (متن اساس) تيورۍ په رڼا کې پښتو ادبياتو ته د پښتو ادبياتو تاريخ(۹) ورکړ، چې د پښتو ادب د درېو دورو بېلابېلو مواردو ته له بېلابېلو ليدلوريو نه کتل شوي او پنځګر په کې د دوديزې څېړنې پرخلاف ضمني ارزښت لري. البته د دورو په وېش کې د استاد هېوادمل د ادبي تاريخ مېتودلوژي د فورماليستانو د ادبي تاريخ له تيورۍ سره دا توپير لري، چې استاد- لکه په شرق کې چې روايت دی- د لفظ پرځای معنا او منځپانګې ته لومړيتوب ورکوي؛ خو فورماليستان محتوا د اثر د شکل زېږنده بولي، چې له بدلانه سره يې منځپانګه بدلېږي. د ادب د مشهور فورماليست تيورسن شکلوفسکي وينا ده: *"نوې بڼه يا جوړښت له نوې منځپانګې څخه نه، بلکې د زاړه جوړښت يا بڼې له بدلون (او مخالفت) څخه رامنځته کېږي."* (۲)

د پښتو د اوسنۍ څېړنې دوهم پړاو د شلمې پېړۍ تر دوهمې نيمايي وروسته په اوومه يا د څوارلسمې لمريزې پېړۍ په شپږمه لسيزه کې پيلېږي.(۳) او ښايي موږ يې پر همدې دوو پړاوونو ووېشو؛ خو تر جګړو وروسته د پښتو څېړنو بڼه بېرته بدله شوه. دا بل پړاو ځکه نه نوموو، چې د پرمختګ پرځای په کې په شاتګ وشو. جنګ د يوې تولنې زېربنا ويجاړوي. افغانستان د پښتو د معاصرې څېړنې مهم مرکز

و. د دې مرکز د بېلابېلو ځېړنيزو منځيو علمي کيفيت له جګړو سره اغېزمن شو، چې د پښتونخوا پر ځېړنيز وضعيت يې هم اغېز وشينده. ځېړونکو هغه دود(روايت) چې د پښتو د معاصرې ځېړنې د دوهمې دورې نومياليو ځېړونکو راپيل کړی و، ونه پاله او موږ اوس وينو، چې د پښتو ډېر جدي ځېړونکي هم د شلمې پېړۍ د لومړۍ نيمايي دوديز ځېړندود پالي او د متن پرځای له پنځګره تاوېږي.

د افغانستان او پښتونخوا په پوهنتونونو او تحقيقي مرکزونو کې ځېړنې کېږي. استادان او د علمي مرکزونو غړي د ترفيعاتو او محصلين د فراغت د سند د ترلاسه کولو لپاره ځېړنيز آثار ليکي، خو بيا هم زموږ ځېړنې ځای نه نيسي. د دې ځو لامله دي:

زموږ معاصرې ځېړنې د ځينو بېلګو په استثنا د تحقيق علمي مېتود نه کاروي. په سريزه کې يې ښايي د خپلې ځېړنې د ډول او مېتود يادونه کړې وي، چې له کتابتوني يا ساحوي تحقيق او له تشريحي، تاريخي يا مرکب مېتود نه يې استفاده کړې؛ خو چې اصل متن ته ورشو، ځېړنيز روشونه په کې نه وي پالل شوي. شننه يې کمزورې وي يا ځېړنيزه نه وي. نقد يې خام يا نه وي او اڅن له مأخذونو نه يې استفاده سمه نه وي؛ نو له داسې کمزورو ځېړنو نه د فرهنګي بدلون هيله شنډه ده.

زموږ د اوسنيو ځېړنو بله ستونزه موضوع ده. د ځېړنې موضوع اوبو ته ورته ده او د ځېړنې مېتودلوژي لکه لوښی. که يوه تږي لوستونکي ته په يوه سوري جام کې اوبه ورکړل شي، تنده به يې هغسې ماته نه شي، چې ځنګه ښايي او که مثلاً جام هم سوری وي او د اوبو پرځای په کې تېزاب يا خاورې وي؛ نو د تږي د تندې پر ماتېدو ځنګه ځان مطمينولای شو.

پښتو ځېړونکو د خپلې ټولنې ستونزې او تشې نه دي درک کړي. موږ په کومه برخه کې ځېړنې ته اړتيا لرو؟ دا هغه پوښتنه ده، چې د پښتو د هر اوسني ځېړونکي در ته نهيلې او سترې ستومانه ولاړه ده. زموږ مسئله ګنې يواځې په دې هوارېږي، چې زاړه دېوانونو له نويو سريزو سره بيا چاپ کړو؟ که د خپلو اوسنيو فرهنګي اړتياوو پر چورليځ(محور) خپل ټول زوږ او معاصر فرهنګ وڅرخوو؟ په اوسنيو ګوتمشېرو ځېړونکو کې د اړتيا د درک لپاره درته دروېش درانی د بېلګې په توګه يادولای شم، چې د خپلې ټولنې د اړتياوو او نيمګړتياوو درک لري. د پښتنې ژوند کړه وړه(۴).

## پایله

د پایلې په توګه ویلای شو، چې موږ خپلې اړتیاوې نه دي درک کړي، د څېړنو او فرهنګ ترمنځ مو واټن پیدا شوی. لوستونکي ته دا څېړنې هغه مرې کیسې ښکاري، چې له ده سره د اوسني ژوند په پېژندلو او د عملي ستونزو په حلولو کې مرسته نه کوي او همدا لامل دی، چې زموږه اوسنۍ لیکنې د استاد کامل، مجروح او استاد روهي د څېړنو پرخلاف تخصصي جنبه نه لري ، چې د یوه مسلک په زده کړه کې له یوه محصل سره یا په ورځني ژوند کې یوه عام فرد سره مرسته وکړي.

اوسنۍ څېړنې د لوستونکي د اړتیا پر ځای د لومړي پړاو دودیزو څېړنو ته ورګرځي. د منځپانګې پرځای پاملرنه شاعر و لیکوال ته ده او (د څېړنې لپاره څېړنه) شوق راباندې غالب دی.

*''لنډه دا چې په افغانستان کې پښتو څېړنې، لکه څنګه چې ښایي هغسې نه دي عصري شوي. عنعنه پر علمي لارو چارو او روښونو غالبه ده. په پښتونخوا کې هم پښتو څېړنې د څېړنو د علمي لارو چارو د خپلولو له پلوه تر دې لا په بدتر حالت کې واقع دي.''* (۸)

## مأخذونه


۱. ابن کنول، تحقیق و تدوین: دیلي، کتابي دنیا، ۲۰۰٦ز، ۱۴-۱۵مخ.

۲. احمد پاکتچي، تاریخ نګاری ادبیات در محافل روسیه، د ناصر قلي ساري او مهدي احمدي په زیار، در باره تاریخ ادبیات (د لیکنو ټولګه): تهران، ست، ۱۳۸۴ل، ۲۸مخ

۳. پښتو څېړنې، د پښتو څېړنو نړیوال سیمینار د لیکنو ټولګه: د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، کابل، ۱۳٥٦ لمریز کال.

۴. درویش درانی، د پښتني ژوند کره وړه: کوټه صحاف نشراتی موسسه، ۲۰۱٤م کال.

۵. محمد صدیق روهي، ادبي تحلیلونه، کوټه: پښتو اکېډمي، ۲۰۱٦ م کال.

٦. محمد صدیق روهي، ادبي څېړنې: پېښور، دانش خپرندویه ټولنه. ۱۳۸٦لمریز کال.

۷. سعدالدین شپون، د اجتماع عالم او علمي مېتود: کابل مجله، د ۱۳٤٥ ل

کال، ٤ گڼه، ٧١-١٤١مخ.

٨. زلمی هېوادمل، د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی: پښتو څانگې، د ماسټرۍ د پروگرام لکچرنوټ، ١٣٩٦ لمریز کال، ٧، ٨مخ.

٩. زلمی هېوامل، د پښتو ادبیاتو تاریخ: پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ١٣٧٩ کال.

پوهنوال فضل ولي ناګار

# د عبدالرحمان په اشعارو کې عرفاني ښکلا

## لنډیز

تصوف پښتو ادب ته وسعت ورکړ او عرفاني ښکلاوو یې د خیال او فکر ډګر ډېر پراخ کړ. د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې روښاني شاعرانو بې کچې عرفاني نومونې (اصطلاحات) په شعر کې راوړل او په پښتو شعر یې له حماسیت او د جنګ له میدانه د عرفان رمز او ایما ته ورګډ کړ. له میرزاخان انصاري پرته د زیاترو روښاني شاعروانو ستونزه دا وه، چې فکر ترې پر فن غالب او برلاسی شو. یو ډول ابهام یې رامنځته کړ؛ خو د پښتو ادب ښه شامت دا و، چې د رحمن بابا غوندې یو لسان الغیب شاعر د روښانیانو په میراث کښېناست او نوښت یې دا و، چې دغه سخت او ستغ عرفاني اصطلاحات یې د پښتو شعر په رخت د ګلونو غوندې داسې وپېیل؛ لکه د ګلاب غوټۍ چې وسپړل شي، په کې یو ښکلی ګل په موسکا وي.

د رحمن بابا ټوله شاعري په عرفاني نومونو ښکلې ده، خو د ده د هنر کمال دا دی، چې دغه ژوره معنا یې د داسې الفاظو په لباس پټه کړې، چې د صورت ښکلا یې لوستونکي په ډېر نرم او لطیف انداز د عرفاني معانیو سمندر ته بلي او هلته یې د لطافت په نرمو څپو بدرګه کوي. دا رانښکون دومره ځواکمن دی، چې بې تاثره ترې هېڅ لوستونکی راستنیدلی نه‌شي.

## سریزه

د رحمان پېژندنې په باب دا اړتیا ډېره اوڅاره ده چې د ټولمنلي شاعر رحمن بابا د شاعرانه افکارو تل ته کوز شوو. د ده د فکر سمندر په عرفان، تغزل، انساني

ارزښتونو او د لوړو اسلامي اخلاقو په مرغلرو او جواهرو ډک دی. څرنګه چې دلته موضوع یواځې د عرفاني ښکلاوو (تصوفي اصطلاحاتو) ده او بیا دغه نومونې ډېرې نرمې او لطیفې راوړل شوې دي؛ نو ډېر دقت او پام غواړي. دلته دا ربړه هم حل کېږي چې ولې د رحمن بابا اشعار پر لوستو او نالوستو د هر ذوق پر خاوندانو ښه لګي. د دې لامل دادی چې د رحمن بابا د شعر بوده او تنسته ډېره ساده، خو ډېر قیمتي اوبدل شوې، دغې ظاهري حسن یې ژوره معنا محجوبه کړې، چې کله – کله څرګنده او یواځې د بصیرت په سترګو لیدل کېږي یا په بل عبارت د هنر جوړښت یې ساده، ښکلی او عام فهمه، خو فکر یې د عرفان له ژورې مطالعې پرته ممکن نه ښکاري.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د رحمن بابا د شاعرۍ عرفاني ښکلاو او اصطلاحات په کې تر یو حده تشریح او را برسېره کېږي، ځکه تر دې وړاندې د رحمن بابا د هنرمندۍ داسې نندارہ چنداني نه وه تشریح شوې او نه ورته چا له دې اړخه توجه کړې وه، ما هڅه کړې چې د رحمن بابا د شاعرۍ دا اړخ لکه څنګه چې باید وي تر وسې وسې بیان کړم، خو بیا هم شونې ده چې تر ما نور دوستان په دې برخه کې ډېر او ښه کار وکړای شي.

## د څېړنې موخې

د دې لیکنې ستر هدف د رحمن بابا د پېژندنې یو داسې اړخ دی چې ډېر لږ پام ور اوښتی دی. د رحمن بابا شاعري په عرفاني اصطلاحاتو ښکلې ده، خو دغه ګلکاري د یوه ماهر هنرمن په قلم داسې انځور شوې، چې ژر ورته فکر نه رسي. دلته هنر او فکر داسې اوبدل شوي، چې یوه ښکلا د بلې لپاره د پردې او حجاب حیثیت لري، خو په ژور نظر یو رنګ له بل رنګه داسې ښکاري؛ لکه د لمر شغلې چې تر منشور لاندې څو ډوله لیدل کېږي، خو په کلي او مجموعي ډول یې یوه رڼا ځلانده کړې وي. د مقالې موخه د دې بېلابېلو رنګونو (کثرت) د حقیقت موندنې (وحدت) راز دی.

## د څېړنې میتود

دغه مقاله یوکتابتوني څېړنه ده، البته د میتود له پلوه په کې له تشریحي،

توضيحي او تر ډېره له تحليلي ميتود څخه استفاده شوې ده، خو څرنګه چې ټول ادب او بيا په ځانګړي ډول د رحمن بابا د غزل او تغزل مانيې د عرفان فن، فلسفې او الهياتو پر ستنو ټينګه شوې؛ نو د دغو ټولو علومو له يوې سر سري جايزې وروسته چې د موادو حيثيت لري، د څېړنې د کړنلارې پولې ټاکي. دا بهير به ستونزمن خامخا وي، خو ګټه يې ډېره ارزښتناکه بريښي.

**د رحمن بابا په شعر کې د تصوفي نومونو (اصطلاحاتو) ښکلا:** کله چې تصوف د يوه مسلک په توګه څرګند شو، د تاريخي شهادتونو له مخې د ظاهر بينو او مخالفانو سره لاس و ګريوان او ډېرې شخړې رامنځته شوې چې د دوی په تکفير، تبعيد ازار او وژنې سرته ورسېدې. له همدې امله د طريقت لارښوونکي اړ شول، چې ډېر مطالب او يا د دوی په اصطلاح مکاشفې او عينې مشاهدات له هر چا سره شريک نه کړي. همدا رنګه چې په دغه يون کې له کوم کشف او د مظاهرو له ظهور سره مخامخيږي، د طريقت د مرشدانو او مشايخو پرته پرې بايد د خپل مسلک ملګري او لاروي هم خبر نه‌شي، نو ځکه تر ټولو مخکې خپلو مريدانو د مشايخو سپارښته راز ساتل او د اسرارو پټول وو. په خانقاوو کې ړومبی شرط د شيخ له خوا مريدانو ته ازمايښت و، دوهم پرله‌پسې توصيې وې، چې د چپوالي او راز پټولو لپاره ورته کېدلې. څرنګه چې سالک په‌دې لار کې له نوو مقامونو او عجيبه حالاتو سره سرو کار لري؛ لکه مکاشفات، په سترګو د تجلياتو مشاهده؛ نو هغو خلکو ته يې څرګنداوی چې د دې وادي لاروی او اهل نه وو، په هېڅ ډول يې د درک او پوهاوي ځواک نه لاره. مبتدي سالکانو ته به چې کوم حال يا مقام د مکاشفې او مشاهدې له لارې څرګندېده، يواځې به د شيخ عارفانه ښوونو کره کاوه، چې له شيطاني القا سره يې توپير وشي او له انحرافه وژغورل شي او همدا رنګه د نه پوهيدونکو له ازاره په امن وي.

دغه ډول ستونزو ته په کتنه د اسلامي عصر په تصوف کې دوه ډېر ستر مکتبونه رامنځته شول. بايد يادونه وکړو، چې د هجرت په دريمه لسيزه کې ستر عالم، د تصوف مقتدا سيد التابعين حسن بصري هم راغلی و. سعيد بن جبير هم د مجاهدينو په کاروانونو کې و؛ نو له تزکيې، احسان او عرفان سره زموږ د هېوادوالو اشنايي په تاريخي اسنادو ولاړه ښکاري. د تصوف دوه ستر مکتبونه د بغداد او

خراسان د مکتبونو په نامه مشهور دي. د بغداد مکتب چې لوی مخکښان یې حارث محاسبي، جنید، شبلي او نور وو. دې فکري غورځنګ د ړومبي ځل لپاره تصوفي مسایل پر منبرونو مطرح کړل. د دې ښوونځي بنسټ د ماوراء ماده او میتا فزیکي ربړو په باب په ازادو خطابو او وعظونو ودان شو. تر دې چې د دې ډلې ځینو صوفیانو د تصوف د پېچلو ربړو؛ لکه وجود، د تجلیاتو ظهور، قضا و قدر سخت ازارونه ولیدل. ووهل او ووژل شول، دا ښوونځی د اولې هجري پېړۍ په وروستیو کې رامنځته شو. پښتون عارف او شاعر حافظ الپوري د منصور په باب وایي:

منصور سِر ظاهر او سولۍ ته وخوت

د خــــلا خبرې کلــــــه بـــر ملا شي

د خراسان تصوفي ښوونځی چې د دوهمې هجري پېړۍ شاوخوا د خراسان د صوفیانو ترمنځ څپاند شو، ځانګړنې یې دا وې، چې دې ډلې ړومبی عرفاني اثار ولیکل او د بغداد د مکتب پر خلاف خراساني عارفان زیاتره لیکونکي وو، نه ویونکي او واعظان. دوهمه ځانګړنه یې دا وه چې د ماوراء ماده ربړو په اړوند چوپ پاتې شول او هغه یې د اسرارو د نه ویلو خبرې وبللې او که چا به نه منله؛ نو غبرګون یې دا چې، ***ذوق این باده ندانی بخدا تا نه چشی.***

د دې ښوونځي د لیکوالو زیار دا و چې تصوف پر اسلامي نصوص برابر کړي، چې د حلاج غوندې د اسرارو په څرګنداوي تهمتي او ونه وژل شي. په دې ښوونځي کې درې داسې اثار ولیکل شول چې نړۍوال او بین الاسلامي شهرت لري. سراج طوسي (۳۷۰هـ) کتاب اللمع، ابو عبدالرحمن سلمی (۴۰۰ هـ) طبقات الصوفیة)، عبدالکریم بن هوازن قشیري (۴٦۰هــ) رساله قشیریة تالیف کړل. پهدې توګه د بغداد او خراسان د عرفاني ښوونځیو توپیر دا دی، چې بغداد په څرګنده د تصوفي افکارو د تبلیغ مرکز و او تدریسي تګلاره یې منبري او خطاباتي وه. پهداسې حال کې چې د خراسان د عرفاني ښوونځي اصول لیکوالي او ادب و. (۳: ٦)

څرنګه چې اسلامي تصوف د «صلح کل» درس ورکوي؛ نو د عرفان تقاضا دا ده چې له ټولو موجوداتو سره مینه ولري. دغه کاینات چې د کوم ذات تخلیق دی، په کې سرتاسري ښکلا په څپو ده. حدیث شریف دی چې «الله جمیل یحب جمال» دغې ذوق، اخلاص او عشق په تصوف کې د «جمال مکتب» رامنځته کړ چې د

رحمن بابا شاعري يې تر ټولو ښه ترجمانه ده. د رحمن بابا د شعرونو لغوي او مروجه معنا بايد مراد نه کړو، ځکه چې د دې څرګندو معناوو تر شا د الهي وارداتو او روحاني تنزلاتو بيان پټ پروت دی، چې په حقيقت کې د الهي اسرارو او معارفو د تغزل په ژبه څرګندول دي. د رحمن بابا مجازي ژبه د حقيقت ترجمانه ښکاري او دا اړينه ځکه وه، چې عام ولس او ادب لوستونکي هم پهدې مجازي، تشبيهي او استعاري څرګنداوي کې د لچسپي لري. د بېلګې په ډول زلفې د رحمن بابا په شعر کې په مجازي معنا نه، بلکې د يوې تصوفي نومونې (اصطلاح) په ډول سندريزې شوي‌دي. د تصوف په اصطلاح له زلفو نه موخه د نفسياتو لړۍ، د کثرت مظاهر، جلالي تجليات، د راز واخفا مقام، پريشانه حالت او د کثرت په قيد کې د عاشقانو بندېدل دي. تعينات پردې او حجابونه دي چې د حقيقت ننداره يې پټه ساتلې ده؛ نو ځکه د ګڼو زلفو اصطلاح ورته کارېدلې ده، زلفې مخ پټ ساتي:

که يې مخ په زلفو پټ وي باک يې نهشته
تـــل په ګنـــــج باندې پراته وي اژدهـا
زه لــــه کوم يوه کمــــــنده ســـر وکاږم
کمـــــــندونه دي هـــــزار د تـــورو زلفو
(۷: ۲۹)

د رحمن بابا په هنري چلند کې وجود او شهود دواړه شتون لري، خو د وحدت الوجود څرکونه يې ډېر اوځار دي. که څه هم وحدت الوجود او وحدت الشهود په نهايت کې يو او د محدث دهلوي شاه‌ولي الله په اند تشبيهي او استعاري تعبير جدا ښکاره کړي‌دي. حضرت مجدد الف ثاني هم وايي چې کاينات دوهم په مرتبه کې پيدا شوي، نمود لري، خو وجود نه‌لري او دا «وهم محقق» دی؛ خو بيا هم د صفاتو عين او غير ګڼلو يو څه ستونزه زېږولې ده.(۹: ۷۳۰).

د وحدت الوجود لنډيز دا دی چې مطلق وجود يو دی او هغه حق ذات جل‌جلاله دی. نور ټول ممکنات او ممکنات ظلال «سوري» او بروزات دي، خو دلته بايد درې شيان، وحدت، توحيد او اتحاد څرګند شي. توحيد د عقيدې او ايمان بنسټ دی. له وحدت نه موخه د خدای وجود دی، خو اتحاد زنديقيت او الحاد دی؛ نو په‌دې توګه وحدت؛ لکه توحيد د شرک نه، بلکې د کثرت مقابل کاريږي. د حق

ذات د صفاتو تجلی او نور د امر په عالم (ملکوت) او د خلق په عالم (ناسوت) کې ظهور کوي او انځورونه پرېږدي او جوړوي. دا عکسونه د امر په عالم کې په لطیف ډول خپله جلوه ښيي، چې ورته معاني (معنا) وايو، خو د خلق عالم يې بيا د ثقيل شکل شاهد دی، چې خلايق او مظاهر ورته وايي. دا ټول د وجود شهود دي، چې من الله، مع الله، لله او فی الله څرګندېږي، خو په ټوليز ډول د وجود په امر ممکن او د وجود په ار معدوم دي(۱ : ۳٦).

د رحمن بابا شاعري له عرفاني ښکلاوو او لطايفو نه ډکه ده، خو يوه ربړه دا هم ده، چې رحمن بابا د خپل معجز شعر رخت دومره په خوړه، ساده ژبه او د فکر و خيال پهداسې وريښمينو تارونو اودلې، چې د ژبې ښکلا او اغېز يې نورې ټولې خوبۍ تر وړانګو لاندې راوستلي. د بېلګې په ډول وحدت الوجود په ساده ژبه په «همه اوست» معنا کوو، خو رحمن بابا يې داسې سندريز کوي، چې د «تاليف» ځواک يې (د معاني د علم په اصطلاح) د الفاظو هر ډول مدوجذر ته يو تناسب ورکوي او لکه د سمندر غوندې په څرګنده خاموش، خو په تل کې يې د معانيو توپانونه په څپو وي. بېلګه يې داده:

زه د يار مينې په يار باندې شيدا کړم
که څوک ما ګڼي زه نه يم واړه دی دی

د همه اوست ټکي په ټکي معنا «واړه دی دی» خو د فن کمال رښتيا هم دا دی چې هنر بايد په هنر کې پټ وي.

د رحمن بابا په شعر کې هنري صنايع په ډېر هنري مهارت راوړل شوي؛ لکه چې مخکې مو وويل، د ژبې لطافت او شاعرانه استدلال لوستونکی دې ته نه پرېږدي، چې ژور فکر واخلي؛ لکه هواره لار مزل پرې ډېر اسان ښکاري، خو په دوهم ځل لوستو په کې د معنا جهانونه ودان ښکاري:

په يوه غمزه د سترګو يې فنا شوم
سر تر پايه بې بنياده بې بقا شوم

غمزه د سترګو په ځانګړي ډول بندول او غړول دي. د سترګو په غمزه کې دوه متضاد حرکتونه شته؛ نو اغېزې يې هم سره تضاد لري. د سترګو بندول عاشق ته التفات او پام نه کول او سترګې غړول پرې رحم کول دي. له دې ترکيب او امتزاج نه

چې کوم حالت رامنځته کېږي، هغه د خوف (وېرې) او رجا (هیلې) ډول دی. په غمزه کې پټ او ظاهر دواړه کنایې دي، خو خبره دلته نه خلاصېږي. د رحمن بابا غوندې یو مستدل قلندر او سپېڅلی روحاني بزرګ څنګه په یو وار کتلو د فنا مقام ته ځي. چې ورسره جوخت یې بقا او د ژوند د مانیٔ تاداوونه هم رانړېږي؟

د دې غبرګون دا دی چې رحمن بابا ربښتیا ویلي، غمزه پهځپله اصلي او لغوي معنا نه په مجازي او استعاري ډول راغلې، چې قرینه یې بې بنیادي او بې بقا کېدل دي. دا تجلي ده او تجلا درې ډوله صوري یا ذاتي، د صفاتو او د افعالو په نوم بلل شوې‌ده. رحمن بابا ته صوري تجلا شوې، دا تجلا سالک فنا کوي. که د سالک په مادي وجود کې بشپړه تزکیه نه وي راغلې؛ نو ذات یې فنا او بشري صفات یې ګډ وډ شي، چې «صعقه» هم ورته وايي؛ لکه د حضرت موسی علیه السلام حالت چې فاني وګرځید او په عظیم الشان قرآن کې ورته هم اشاره شوې‌ده، خو که د فاني وجود بقا یا په بشپړ ډول محو شوی وي او حقیقت یې د وجود له فنا وروسته له بقايي مطلق سره واصل شي. په ازلي نور ازلي ذات مشاهده کوي. یو بل پښتون عارف او شاعر میرزا خان انصاري (۱۰۴۰مړ) ښایي له همدې امله ویلي وي چې:

یو بې حد به د بې په سترګو ګورې

د عرفاوو په اند دا خلوت یواځې زموږ پیغمبر علیه الصلوة والسلام ته بخښل شوی او دا شربت ور ډالیٔ شوی‌دی، چې ګوټ یې د ده ځانګړو متابعانو ته هم ور ځکل کېږي. باید یادونه وکړو، چې په سالک لومړی د افعالو بیا د صفاتو او بیا د ذات تجلا راځي د افعالو د تجلا شهود ته «محاضره» د صفاتو د تجلا شهود ته مکاشفه او د ذات د تجلا شهود ته «مشاهده» وايي.(۲: ۱۱۷).

په هر دم یې نوې نوې تماشا ده
زه رحمن د خدای وکړو وته حیران یم

هره شېبه نوې – نوې تماشا د حق له تجلیاتو پرته بل څه نه‌شي کېدی او نه امکان لري. د رحمن بابا دغه بیت د مبارک ایت شریف «کل یوم هو في شان» ترجمان هم ګڼلی شو. دا تجلي ده. تجلي په دوهمه یا دریمه مرتبه کې د یوه شي ظهور ته وايي. د تصوف په اصطلاح کې د حق یا د هغه د اسم او یا یې د کوم فعل ظهور څرګندیدا ده. تجلي د نور هغه رڼا ده چې په سالک پریوځي. د خدای د

ظهور شان هېڅ پای نه‌لري. تجلیات هم بېلابېل او په ګڼ شمېر دي، چې له حد و حدود وتې ښکاري. په هر ځا د هغه له استعداد سره برابره جدا – جدا تجلي کېږي. یوه تجلي چې په ځا یو ځل وشي. دغه تجلي بل ځل په ده یا په بل ځا نه کېږي، په‌دې معنا چې په تجلیاتو کې تکرار نه‌شته، هر دم او هره شېبه په نوي – نوي ډول متجلي دی. څه ډول چې د الله ذات مبارک انتها نه‌لري. تجلیات هم په نوي – نوي شان پرله‌پسې ظهور مومي او پای یې نه‌شته. د حق تعالی له خوا په بنده تجلي «الهي شان» او د بنده دې حالت ته «حال» وايي. د حال یو تعریف دا هم دی، چې د زړه پرله‌پسې ځار نه حال دی.

هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم شي
پــه دا جـــــام کـــې ورښکاره تمام عالم شي

جام جم یا جام جهان نما په لغت کې هغه جام ته وايي، چې ټوله نړۍ په کې ښکاري. داسې جام چې د دنیا د خیر و شر حالت ترې څرګندېږي. صوفیان کامل انسان ته شیخ، هادي، مهدي، جام جم، جام جهان نما، ترياق بزرګ، اکسیر اعظم او نړۍ ځلیدونکې یا څرګندوونکې هېنداره وایي. سالک چې د عشق مرتبې ته ورسي او د پاک عشق په اور وسوځي، نو له اهل جبروت سره یې مناسبت پیدا شي. (جبروت د صفاتو مرتبه ده)، د عشق پوړۍ ته د رسېدلو له امله یې د زړه هېنداره داسې پاکه، صافه، ساده او بې نقشه شي، چې جهان نما جام او نړۍ ځلوونکې ايينه وګرځي. هر شی چې د جبروت سمندر ته یون کوي، چې د وجود ساحل ته ورسي، ساحل ته د رسېدو ړومبی یې انځور د سالک په زړه پریوځي چې دا د کشف مقام او رحمن بابا پرې ویاړل شوي‌دي.

وجود مطلق یو دی، خو یو ظاهر او بل باطن دی. باطن وجود یو نور دی او دا نور د ټول عالم روح او ځان دی. دا نور نامحدود نا متناهي بې پای او بې ساحله دی. کله یې چې وغوښتل خپل جمال وګوري او خپل اسما او صفات یې مشاهده کړل؛ نو تجلی یې وکړه، له باطن نه ظاهر، له غیب نه شهادت او له وحدت نه کثرت په وړانګو شو.(۵: ۴).

ای رحـــــمانه د بلـــــبلو ژبه زده کړه
پس له هغې په صفت د ګل اندام شه

بلبل په شعر کې او محاوره کې مستعمل ویی دی، خو رحمن بابا په پورته شعر کې بلبل هغه رباني عارف ته وایي، چې له اماره نفس نه ژغورل شوی وي. اماره هغه نفس دی چې تل په بدۍ امر کوي؛ نو له اماره نفس نه ژغورلی سالک او په ذکر و فکر تل مشغول ته صوفیان بلبل وایي.

دا زما د یار جلوه ده چې لیده شي
لــــکه لمر په صـــومعه په سومنات

صومعه د تنزیه مقام دی. صومعه په اصل کې د عیسویانو عبادتځی ته وایي. په عیسی علیه السلام د تنزیه غلبه وه او د هغوی د ښوونو هم له تنزیه سره یو نسبت و. ښایي همدا لامل وي چې په صوفیانو کې له صومعې نه د تنزیه لورې ته نغوته کېږي. د تنزیه ښه تحلیل د رحمن بابا پهدې شعر کې هم څرګند دی.(۴: ۲۱٦).

تنــــزه ده له جـــمله و جهــــتونو
او بیا هر جهت په ده باندې ودان دی

ړومبی مسره تنزیه او دوهمه یې تشبیهي تنزیه ده. په مطلق تنزیه کې ستونزه داده، چې بشري عقل ورته نه رسي. او په کې د انکار ویره وي. یوه بله عجیبه اصطلاح چې په تصوف کې دود لري، ابرو ده. صوفیان ابرو غیبي الهام او کلام ته وایي. یو بزرګ فرمایي چې ابرو «قاب قوسین» ته اشاره ده او که سالک د کومې نیمګړتیا له امله له خپلې مرتبې نه پریوځي، دې ته هم ابرو وایي. له ابرو نه مراد صفات هم کېدای شي. ابرو د چشمانو یو جز دی. صفات لکه پرده او څوکیدار د ذات لپاره حجاب وي. رحمن بابا ترې داسې یادونه کوي(٦: ۵۸).

کج زلفان کج ابرویان لکه چې ستا دي
نــــه لړم شته نه ماران دا هسې شوخ

د رحمن بابا شاعرانه ځواک له دې هم ښکاري، چې په هنري تخلیق کې یې د تسویې دواړه اړخه ایجابي (مثبت) او سلبي (منفي) خواوې په پام کې ساتي، خو په سلبي یا منفي روش کې چې متضاد او متخالف دي، د کیفیت او کمیت له مخې توازن او اعتدال راولي.(۸: ۵۰). لکه:

رحمن حســــــن د یـــار وینم په پرده کې
د بوی چارې یې همه د خوند په شان دي

پرده عرفاني اصطلاح او د طریقت په لوازماتو کې د عاشق او معشوق ترمنځ حایل ته وایي. په همدې ډول بوی د عرفان له مخې خبرتیا او کشف ته وایي. د رحمن بابا یو بل شعر د دې تفصیل راکوي، چې حقیقي محبوب په صفاتي انداز لیدل ممکن دي او نور عروج نه‌شته:

بــــې پردې حسن بــــه نه وي چا لیدلی
که څوک وایي چې لیده شي تش گومان دی

د ړومبي بیت د څېړنې په باب ښکلا پوهان په‌دې اند دي، چې د ښکلاییزو ارزښتونو د څرگنداوي وسیله کله عقل کله احساسات و جذبات او کله د ادراک قوت وي. بوی د خوند غوندې د حس او احساس مسئله ده. رحمن بابا د خپلې مشاهدې په مټ بوی ته د خوند غوندې مادي انځور ورکوي او د عجایب نفسیاتي کیفیت په زړه او ذهن د وړانگو په ډول تجسیموي. دغه توازن او اعتدال په پنځو مادي حواسو رامنځ‌ته شوی، حواس یو بل نه نفي کوي، بلکې یو بل ځواکمنوي، چې له ترکیب او امتزاجه یې یو ناممکن شی (بوی) په یوه ممکن شي (خوند) اوښتی، چې کټ مټ دغه ذایقه له نفس سره تړون لري او د بوی په نسبت یې مادي لوری ډېر ځواکمن دی. د رحمن بابا ساده انشاء دومره رنگینه، ستره، منطقي او دومره ډېر هنري رنگونه لري، چې څېړل یې باید د هرې زمانې خپل - خپل ذوق ته پرېښودل شي.

مناقشه:

پر رحمن بابا باندې تر اوسه ډېرې لیکنې شوي او کېږي به. د رحمن بابا شعر که هر څومره ټولمنلی دی، خو د ده په شعر کې عرفاني اصطلاحاتو ته کما حقه کتنه نه ده شوې. که څه هم زموږ ادبي اسلاف په دې باب داسې کارنامې لري، چې رسیدل ورته گران بریښي، خو د فطرت د قانون له مخې د هرې زمانې او وخت خپلې غوښتنې وي. د بېلگې په ډول اوس موږ د څو لسیزو جنگې او یرغلیز ناورین ځپلي یو؛ نو زموږ د شرایطو غوښتنه به دا وي، چې د رحمن بابا هنر چې د اسلامي تصوف په بنسټ د «صلح کل» رنگ لري، باید خپلې ټولنې ته یې د «کار خیر» په هیله وړاندې کړو. نو ځکه به دغه څېړنه له شوو لیکنو سره په تقابلي توگه د پرتلنې پر وخت که ډېره لوړه نه وي، نو ډېره لوېدلې به هم نه وي او نوښت به یې دا

وي، چې د رحمن بابا د فن یوې پټې خزانې ته نغوته لري او هغه عرفاني نومونې دي.

همدا ډول د رحمن بابا د مینې او قلندرۍ په نړۍ کې چې د اسلامي خواخوږۍ یوه ستره مدرسه ده، یوه شیبه تم کېدل د سترو ذهنونو لپاره د جنت سیل کول دي چې باید د ښه مستقبل لپاره ترې الهام واخلو.

## پایله

د لیکنې په پای کې دې پایلې ته رسو، چې د رحمن بابا د پوره پېژندنې لپاره یواځې ادبپوهنه بسنه نه کوي. دلته باید د عرفان د بشپړې مطالعې ځواک راسره وي چې کله – کله یې خبره فلسفې ته هم رسي. عرفاني اصطلاحات که هر څومره وچ، سخت او فلسفي بڼه لري، خو ورسره جوخت د رحمن بابا ادب او هنر خپله برلاسي له لاسه نه ورکوي او دغه ټول مضامین او موادو ته لومړی د خپل ذهن و فکر په خوبولو گلورینو وږمو کې جوتې ورکوي او بیا یې د اظهار په ملکوتي ځواک دومره سندریز کوي؛ لکه چې کوم قدسي راز را څرگندېږي. دلته ده چې د رحمن بابا د فن لمن د اعجاز په گلونو اوبدل کېږي او هنر یې معراج ته رسي.

## وړاندیزونه

د رحمن بابا د شعر و هنر پر څېړنې سربېره د ده د افکارو تحقیق ډېر اړین دی. یواځې رحمن بابا نه، د نړۍ هر لوی عارف شاعر یو مفکر هم وي. موږ رحمن بابا لا تراوسه داسې نه دی مطالعه کړی. حال دا چې رحمن بابا د پښتني او اسلامي ټولنې د جوړولو لپاره په خپل فن و هنر کې ځانگړي اقدار او ارزښتونه په نښه کړي دي. د رحمن بابا د هنر تر شا د معانیو یو سمندر په څپو دی. رحمن بابا خپل انساني او اسلامي پیغام د هنر په ژبه ډېر خوږ کړی او ښکلی کړی دی؛ نو ځکه باید رحمن پوهنه عامه او په دې باب ژورې څېړنې ترسره شي.

## مأخذونه


۱. عثمان امر، رحمان بابا ریویو، د تصوف اصطلاحات: پښتونخوا، نوښار، ۲۰۱٦ میلادي کال.

۲. عبدالرحمن جامي، نقد النصوص في شرح نقش الفصوص، دوهم چاپ: ایران، کتابخانه ملي، ۱۳۸۱ لمریز کال.

۳. عبدالحی حبیبي، تصوف، کابل پوهنتون: پوهنځی زبان و ادبیات، ۱۳۴٦ لمریز کال.

٤. محمد عباس قادري، تصوف: صوبه سرحد، پېښور، ۱۹۷۹ میلادي کال.

۵. سید صادق گوهرین، شرح اصطلاحات تصوف، جلد سوم: تهران، خیابان انقلاب، ۱۳۸۸ لمریز کال.

٦. اسد گیلاني، رحمان بابا ریویو، وجود و شهود: پښتونخوا، نوښار، ۲۰۱٦ میلادي کال.

۷. پرویز مهجور، رحمان بابا ریویو، د زلفو معنا او مراد: پښتونخوا، نوښار، ۲۰۱٦ میلادي کال.

۸. نصیر احمد ناصر، جمالیات قرآن حکیم کی روشني مین: لاهور، فیروز سنز، ۱۹۹۰ میلادي کال.

۹. نصرالله هوتکي، شرح مکتوبات امام رباني، اتم جلد: پېښور، قصه خوانی بازار، ۱۳۵۲ لمریز کال.

ژباړن: صدیق الله بدر

# د نامتو بهرنیو لیکوالو د لیکوالۍ تجربې

**لنډیز**

په دې ژباړه کې د نړۍ د مشهورو لیکوالو، لکه ولادیمیرنابا کوف، کافکا،ري براډ،ژان پل سارتر او دې ته ورته نامتو لیکوالو د لیکوالۍ او د ژوند تجربې شریکې شوي، چې له امله یې د دوی د سیمو ادبیات د نړۍ په سرلارو ادبیاتو کې شمېرل کېږي، موږ هم په دې مقاله یا په دې ژباړه کې هڅه کړې چې د دوی د ژوند تجربې او د لیکوالۍ د بریالیتوب رازونه چې په ډېر لنډیز سره بیان شوي د گرانو لیکوالو مخې ته کېږدو چې د خپلې ژبې د غنامندۍ لپاره ترې ښه گټنه وکړي.

**سریزه**

د ادبیاتو په اړه ډېرې خبرې شوي او لا هم کېږي، په همدې مقالې کې هم ډېرې داسې خبرې اورو چې شاید منل یې راته یو څه ستونزمن وي، د ساري په ډول په یو ځای کې لولو چې ادبیات د وزگارو خلکو کار دی، له ادبیاتو تېښته په کار ده، ادبیات له ژونده لاس اخیستلو ته وایي او دې ته ورته ځینې خبرې، خو ځینې نور پوهان بیا په دې نظر دي چې ادبیات هغه رنگینه، اهنگینه او زړه نشینه وینا ده چې له زړه پاځي او پر زړه کېنېني، داسې چې ورسره د زړه مراندې را کاږل شي او انسان یې په لوستلو نه یواځې خوند واخلي، بلکې د ژبې طرز یې هم په زړه چنگ ولگوي او ډېر څه ترې زده هم کړي.

نو که چېرې همداسې کار یې وکړ او ټولنه یې تر خپلې اغېزې لاندې راوسته په رښتینې معنا ادبیاتو خپله دنده ترسره کړې ده او که چېرې داسې ونه شول، نو

بیا ادبیات ناکام او کوم ځانگړی کار یې نه دی ترسره کړی، خو ایا دا ادبیات یـواځې د خپلې ژبې په لیکلو غني کېږي او که ژباړه یې هم ادب ته لوری ورکوي؟

ادبپوهان وایي چې ادبیات له دواړو لارو غني کېدلای شي، هم د لیک له لارې او هم د ژباړې له لارې، نو چې داسې ده اړینه ده چې د بې خونده پنځېدلې ادبیاتو پر ځای زړه راښکوونکې ادبیات وژباړو او دا دی دا هوډ مو پر په دې مقاله کې ترسره کړ دا چې بریالی به وي او که نه درانه لوستونکي او مینه وال به یې په اړه پرېکړه کوي، خو زما په نظر گټې یې ډېرې دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت پـه دې کـې دی چـې لـه یـوې خـوا د بهرنیـو لیکوالو او ادیبانو له بریـالیو تجربـو سره اشـنا شـو او دوهـم دا چـې د ادبیـاتو اصـلي لوری مو پیدا کړای شو چې باید څنگه وي، ځکه ادبیات او یا په ټوله کې لیکوالی د وړتیـاوو او زړه راښـکون پـر بنسـټ ولاړه ده، نـه د شخصـیت او شخصـيـ ملاحظـو پـر اساس.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنـې موخـه پـه دې کـې ده چـې مـوږ هـم دا او دې تـه ورتـه ادبیـات وپنځو، نړیوال شهرت او نړیوالې جایزې پـرې ترلاسـه کـړو، نړیـوال لـه خپلـو ادبیـاتو خبرو کړو او د هغوی له ادبیاتو خپله ټولنه، چې څنگه دي، په کومه خوا روان دي او موږ باید څنگه ادبیات ولرو.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ ولادیمیر ناباکوف څوک و او څنگه یې لیکوالي کوله؟
- ✓ کافکا څوک و، څه وخت یې لیکوالي کوله او کوم یې مشهور اثار دي؟
- ✓ ژان پل سارتر د کوم ځای لیکوال دی، څه ډول لیکوالي یې کوله او څـومره مشهور دی؟
- ✓ ری براډ څه ډول لیکوال دی او کوم مشهور کتابونه یې کښلي؟
- ✓ اگوتاکریستوف د کومې سیمې لیکواله ده او کوم مشهور اثار یې پنځولي؟

او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې په کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

دا چې دا متن ژباړه ده، نو میتود یې هم تشریحي او تحلیلي دی.

## اصلي متن

### د ولادیمیر ناباکوف د لیکوالۍ شېبې:

روسي لیکوال او شاعر ولادیمیر ناباکوف چې په (۱۸۹۹) کال کې زېږېدلی او په (۱۹۷۷) د ۷۸ کالو په عمر له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي، ټولټال ۴۲ کتابونه یې لیکلي دي.

د ناباکوف په اتلسو لیکل شوو ناولونو کې لس په روسي او اته نور په انګلیسي ژبه دي.

ناباکوف پر یو لیکوال او شاعر سربېره یو ښه نقاد، ژباړن او څېړونکی هم و. د اکتوبر انقلاب په پیل کې ناباکوف له خپلې کورنۍ سره اروپا ته لاړ او په لندن کې مېشت شو او په کمبریج پوهنتون کې یې زده کړو ته مخه وکړه.

هغه په لندن، المان او فرانسه کې تر ډېرې مودې ژوند کولو څخه وروسته په ۱۹۴۰ کال کې امریکا ته لاړ او په ۱۹۴۵ کې یې د امریکا تابعیت ترلاسه کړ.

لولیتا د ناباکوف هغه مشهور ناول دی چې په ۱۹۵۵ کال کې څلورو امریکایي خپرنځیو له چاپولو یې انکار وکړ؛ خو المپیا خپرنځي په پاریس کې چاپ کړ. کله چې په ۱۹۵۸ کې د پوتنام په نوم خپرنځي لولیتا ناول د چاپ په ګاڼه وپسوله، په چکټیا سره یې د ډېر خرڅېدونکي کتاب نوم خپل کړ.

پر لولیتا سربېره ډالۍ، دفاع، بې رنګه اور، اعدام ته بلنه، نهیلی، سترګې، ویاړ، برسیرن څیزونه، په تیاره کې خندا، ماري، ادا، دې مسخرو ته ګوره او یو شمېر نور د ناباکوف له ډېرو لوستل شوو او ژباړل شوو ناولونو څخه شمېرل کېږي. ناباکوف یو حشره پېژندونکی و او په ګڼو مرکو کې یې ویلي دي چې که په روسیه کې انقلاب نه وای شوی، نو خپل ټول عمر به یې په همدې علم کې تېراوه او هیڅکله به یې کوم ناول نه لیکه.

دلته چې څه لولئ، د پاریس ریویو او د پوستروف خپرونې له مرکو اخیستل شوي دي:

سهار شپږنیمې بجې له خوبه راټېرم او تر ۹ بجو پورې لیکل کوم. د کار

دوهمه دوره مې له ماسپښینه شروع کېږي چې تر ماښامه دوام کوي. تر هغه مخکې یوه گړۍ له خپلې مېرمنې سره د سیند پر غاړه چکر وهم. په ځوانۍ کې بـه د شـپې له مخې په کار بوخت وم او ډېر ځله به مې د سهار تر څلورو بجو لیکل کول.

د لیکلو خوند په لوستلو کې دی.

ادبیات یواځې یو مکتب لري چې هغه استعداد دی.

زه د یو نابغه په څېر فکر کوم، د یوه غوره لیکوال پـه توگـه لیکـل کـوم او د یـوه ماشوم په توگـه خـبرې کـوم. لیکـوالي لـه کلماتـو سره لـوبې کـول دي. څـومره چـې کولای شوو باید د کلماتو لـه زړه نـه یـو څـه راوباسـو، ځکـه دا هغـه یـواځنۍ ربښـتنې خزانه ده چې یو رښتنی لیکوال یې لري.

زه غواړم چـې پـه نـاولونو کـې مـې نـه یـواځې اصـلي موضـوع وځلېـږي، بلکـې کوچنیو فرعي موضوعاتو ته هم وده ورکړل شي.

د هر ناول لیکونکي په آثارو کې نفسانیات کم نه دي. هغه څـه چـې یـو شـمېر خلک یې نفسانیات نوموي، د ناول د هنر له سینگارولو پرته نور څه نه دي.

د یوه لیکوال په توگه په خپل کار کـې چـې د کـومې نیمگړتیـا احسـاس کـوم، هغه د طبیعي کلمو نه شتون دی. زه نه شم کولای چې لـه خپلـې مـورنۍ ژبـې لـکـه څنگه چې ښایي استفاده وکړم. انگلیسي بیا داسې وچه او له تصنع ډکه ژبه ده چې ښایي د لمر د پرېوتو یا د یوې حشرې د ستایلو لپاره مناسبه وي.

د لیکوال او هنرمند لپاره تبعید، دا دی چې کتابونه یې ممنوع کړای شي. دې ته اړتیا نه شته چې لیکـوال لـه خپـل هیـواد نـه بهـر لاړ شي او پـه تبعیـد کـې ژونـد وکـړي، خـو همـدا چـې چـا یـې کتابونـه ونـه لوسـتل، پـه خپلـه تبعیـد شـوی دی.

په هغه کور کې چې یوه ستره کتابخانه یې درلوده، یو داسې هلک وم چې درې ژبې و، یعنې درې ژبې یې ویلې، خو زه هېڅکله هم د ژبـې پـه اړه فکـر نـه کـوم، دا ځکـه چې زما فکر له تصویرونو سره وي او په تصویرونو فکر کوم.

ادبیات باید ټوټې ټوټې، بند له بنده جدا او په لاسونو کـې ښـه ومنبـل شي بیـا ښایي چې تېز او خوندور بوی یې د لاسونو په ورغوو کـې احسـاس شي. کېـدای شي وژوول شي او په خوند سره ژبـه پـرې ورتېـره کـړای شي، بـس پـه همـدې شـېبه کـې حقیقي خوند یې احساسیدای شي.

په دې ډول هغه ټوټې ټوټې کړای شوې او ژوول شوې ذرې ستاسو په ذهن کې له یو بل سره کوشېرېږي او هغه ښکلا او تُندي رابرسېره کوي چې تاسو یو څه له خپلې وینې ورکړې دي.

که څه هم دا د لیکوال د افسونګرۍ وجه ده چې هغه برلاسی کوي او د لومړۍ درجې لیکوال تر حده یې رسوي، همدې ټکي ته په پام سره خو وایم چې یو ستر لیکوال د کیسه ویوونکي، ښوونکي او جادوګر ګډ ترکیب دی.

## کافکا څه وخت او څنګه لیکل کوي؟

فرانتس کافکا چې په ۱۸۸۳ کال په پراګ کې زېږېدلی او په ۱۹۲۴ کال کې یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې، د شلمې پېړۍ یو لوی الماني ژبی لیکوال و.

کافکا جرمني ژبه د لومړنۍ ژبې په توګه زده کړې وه.هغه په چکي ژبه روانې خبرې کولې، له فرانسوي کلتور او ژبې سره آشنا و او د خوښې وړ ناول لیکوال یې ګوستاو فلوبر و.

د کافکا آثار د لوېدیز په ادبیاتو کې له اغېز ښندونکو اثارو څخه شمېرل کېږي.

کافکا خپل نږدې ملګري ماکس برود ته وصیت کړی و چې تر مرګ وروسته یې ټول اثار وسوځوي، خو ماکس برود داسې ونه کړل او د هغه کابو ټول اثار یې چاپ کړل. د برود دا کار کافکا ته نړیوال شهرت ورپه برخه کړ.

کافکا د دوکتورا تر کچې په حقوقو کې زده کړې کړې وې. نوموړي له ۱۹۱۰ څخه د خپلو شخصي یادښتونو لیکلو ته مخه وکړه او د ژوند تر آخره یې هغه ته دوام ورکړ، شخصي یادښتونه یې د هغه د ژوند او شخصیت پېژندنې په برخه کې خورا مهم اثر ګڼل کېږي. کافکا په دې اثر کې د خپلې ناروغۍ، ویرې، یواځیتوب، له واده سره د بې کچې مینې او په عین حال کې د مور او پلار کینه او خپل نور احساسات ځای کړي دي.

د کافکا اثار د شلمې پېړۍ اروپا د ترینګلي او مهمو پېښو بیانوونکي دي. تر ډېره د نوموړي په لیکنو کې یواځېتوب او وېره، خیالونه او نیمګړتیاوې او انساني عقدې مطرح کېږي.

مسخ، محاکمه، امریکا، د محکومانو ډله او مانۍ د کافکا ناولونه دي. کافکا د لنډو کیسو یوه ټولګه هم لري.

کافکا هغه لیکوال و چې سپورټ ته یې ډېر ارزښت ورکاوه. هغه هر سهار لس دقیقې بربنډ د هینداري مخ ته ورزش کاوه. بیا یې جامې اغوستې او پوره یو ساعت به یې پلی تګ کاوه. هغه په دې هم بسنه نه کوله او تل به یې له لیکلو وروسته او تر خوب مخکې لس دقیقې سپورټ کاوه.

دلته چې د کافکا د لیکلو او لیکوالی په اړه څه لولو، تر ډېره فلیس ته د کافکا له لیکنو او د ګوستاو یانوش له کتاب نه را اخیستل شوي دي. کافکا له فلیس سره مینه درلوده خو دا مینه د واده تر حده ونه رسیده.

زه هره ورځ د سهار له اته نیمې د غرمې تر دوه نیمو پورې لیکل کوم بیا د شپې تر اووه نیمې سپورټ کوم او له سپورټ وروسته له خپلې کورنۍ سره ډوډۍ خورم بیا د شپې تر یوولس نیمې پورې تر هغه چې خوب راشي لیکل کوم. زه لیکل کوم، خو د ویلو لپاره څه نه لرم، ځکه هرڅه تر دې مخکې ویل شوي دي.

هر هغه څه چې مې لیکلي دي، زما د یواځیتوب برکت دی.

لیکل د قاتلانو له کتاره د ځان را ایستل دي.

د واقعیت دامونه د تخییل تر دامونو ډېر زیات دي. الن پوه وحشتناکه داستانونه لیکل، ځکه غوښتل یې کومه وېره چې له نړۍ نه لري، هغه په دې ډول له منځه یوسي.

زه چې دا بېهوده څیزونه لیکم په اصل کې له ځانه د تېښتې هڅه کوم، خو په پای کې بېرته له ځان سره مخامخ کېږم. زه نه شم کولای چې له خپل ځان څخه وتښتم.

زما فلیسې! که کومه ورځ له څه لیکلو پاتې کېږم، هغه ورځ به مې هرڅه له لاسه ورکړي وي، حتی تا هم.

له ژونده ډېر کتابونه پنځولای شوو، خو له کتابونو ډېر کم ژوند ترلاسه کېدلای شي.

ادبیات له واقعیت څخه تېښته ده.

د هر هنر تر شا یو شور پټ دی.

د اندروني ذهني نړۍ او بهرني عیني نړۍ ترمنځ تضاد د ټولو هنرونو اصلي مسئله ده. بالاخره هر انځورګر، لیکوال، شاعر او نمایشنامه لیکونکی باید له دې

مسئلې سره خپله ستونزه روښانه کړي.

د ليکلو لپاره د يوه گوښي او منزوي کس يواځېتوب بسنه نه کوي. زه د يوه مړه شوي سړي يواځېتوب ته اړتيا لرم.

له هر هغه څه چې په ادبياتو پورې مربوط نه وي، کرکه لرم. مکالمې (حتی که په ادبياتو پورې تړلې وي) حوصله مې ختموي، له خلکو سره ليدل کتل مې ستړی کوي، د خپلوانو غم او ښادي مې گنگسوي. زما په نظر مکالمې د هرڅيز اهميت، جديت او حقيقت له منځه وړي.

هغه وخت چې ليکل کوم، بې باکه، ځواکمن او حساس يم.

زما وجود ادبياتو ته ځير دی. دا دی تر دېرش کلنی کلک ورپورې نښتی يم. که کومه ورځ هغه هېروم، نور به نو ژوندی نه يم. نن چې زه څه يم دا د همدغه ادبياتو برکت دی.

## د ري براډ د ليکوالۍ بريالۍ شېبې

ري براډ بوري په ۱۹۲۰ کال کې د امريکا د الينويز په واکيگان کې زېږېدلی او په ۲۰۱۲ کال کې يې له دې نړۍ څخه سترگې پټې کړې دي.

هغه د فانتزي، وحشت او علمي – تخيلي سبکونو يو برلاسی ليکوال و؛ خو په خپله هېڅکله هم په دې باور نه و او په گڼو مرکو کې يې ويلي چې يواځې ۴۵۱ فارنهايټ ناول يې په علمي – تخيلي آثارو کې راتلای شي.

براډبوري تر پنځوسو زيات آثار کښلي، خو ۴۵۱ فارنهايټ او مريخي حکايتونه هغه آثار دي چې ده ته يې زيات شهرت ورپه برخه کړی دی.

براډبوري گڼې لنډې کيسې او نمايشنامې هم ليکلي دي. د هغه د لنډو کيسو ټول شمېر ٦۰۰ ته رسېږي.

مصور سړی، تياره کارنيوال، د لمر طلايي منې، د اکتوبر هيواد، تر نيمې شپې ډېر وروسته، په مخه دې ښه دوبی، د قاصد شراب، د ليونو هديره، راځئ چې کنستانس ووژنو، له خاورو دوړو راستون شوی، سرگردانه ساحره، د مصنوعي سړيانو سهامي شرکت، يو خبيث شی په دې لاره راځي او يو شمېر نور د براډبوري هغه آثار دي چې په نورو ژبو هم ژباړل شوي دي.

که څه هم په لومړيو کې هيڅ يوه چاپخونه د هغه د لومړني اثر د چاپولو لپاره

چمتو نه وه، خو وروسته هغه په داسې یو لیکوال بدل شو چې ډېرې مهمې جایزې یې ترلاسه کړې. لکه د امریکا په ادب کې د غوره مشارکت نښان، د برام ستوکر جایزه، د نیبیولا د ستر استاد جایزه، د گندالف د ستر استاد جایزه، د خیالپردازۍ د دنیا جایزه، د اوهنري د یادون جایزه، د علمي – تخیلي مشاهیرو جایزه، د بنیامین فرانکلین جایزه او د ژول ورن جایزه.

دلته له براډبوري سره د پاریس ریویو د مرکې هغه برخې درسره شریکوو چې نوموړي په کې د خپلې لیکوالۍ او لیکلو طریقې بیان کړي دي:

ما ته خپل کار چې هغه لیکل دي، خوند راکوي، زه باید هغه ترسره کړم، په دې پسې نه گرځم چې د چا خوښېږم او که د چا نه خوښېږم. لیکل ما ته هر څه دي.

له ۴۵۱ فارنهایټ پرته په خپل عمر کې مې هېڅکله هم علمي- تخیلي داستان نه دی لیکلی، لنډې کیسې مې هم ټولې فانتزي وې، علمي – تخیلي د ممکناتو او فانتزي د ناممکناتو هنر دی.

کمپیوټر نه لرم او هېڅکله به یې هم وانه خلم، ځکه د ټایپ ماشین لرم او په هغه لیکل کوم.

علمي – تخیلي داستان د خیالونو او تصوراتو داستان دی. دا خیالونه چې دې ما په هیجان راولي، په دې هیجاني حالت کې داسې احساسوم چې گونډې زه له همدې خیالونو انرژي اخلم.

دا هغه تصور دی چې په ذهن کې راپیدا کېږي او تر اوسه واقعي وجود نه لري، خو ډېر ژر به شتون خپل کړي او هر څه ته به د هر چا لپاره بدلون ورکوي. هېڅ څیز به د تېر غونډې نه وي. که تاسې داسې یو خیال یا تصور ولرئ چې د دنیا یوې وړې برخې ته بدلون ورکوي، تاسو عملاً د یوه علمي- تخیلي داستان په لیکلو بوخت یاست.

ما د الن پوه له اثارو سره لیکوالي پیل کړې ده. له ۱۲ کلنۍ نه تر ۱۸ کلنۍ پورې له هغه نه مې تقلید کاوه.

ویروونکي سنتي داستانونه مې لیکل. فکر کوم هر څوک چې وغواړي علمي – تخیلي لیکوالي وکړي، له همدې ځای نه یې پیلوي. ما به تل معمولي ماجرا

غوښتونکي داستانونه لیکل چې موقعیتونه به مې ورته په جنوبي امریکا او یا هم په افریقا کې غوره کول. تل به یوه ښکلې او تر ځان تېره پېغله په کې وه. زه پوهېدم چې غواړم د هنر دنیا ته قدم ږدم، طرحې مې جوړولې، نقش مې لوباوه او لیکل مې کول.

ما هم ښوونځی لوستی او هم پوهنتون ته تللی یم، خو چې څه مې زده کړي دي، هغه مې په کتابتونونو کې زده کړي دي. پوره لس کاله اوونۍ کې درې ورځې به زه په کتابتونونو کې وم. د مطالعې لپاره مې حتی غلا هم کړې ده. له کتابتون څخه به مې یوه مجله راپټه کړه، خو تر لوستلو وروسته مې بېرته په خپل ځای کې ایښودله. هڅه مې کوله چې څوک راباندې پوه نه شي او که پوهېدل، نو سم له واره تښتېدم.

لنډه کیسه په څو ساعتونو کې لیکل کېږي؛ خو زه هڅه کوم، زده کوونکي او خپل دوستان وهڅوم چې ټوله ورځ دې پر یوې لنډې کیسې کار وکړي پر داسې کیسې چې تر ځان راچاپېره یوه غشا، جدیت، یو ژوند او د خپل شتون یو علت ولري.

یو دلیل شته چې ولې په هغه ساعت کې دغه خیال ستاسو ذهن ته راغلی، له دې امله ورپسې شئ، ویې سپړئ او ویې لیکئ. په څو ساعتونو کې د دوه درې زره کلمو لیکل سخت نه دي. یواځې اجازه مه ورکوئ چې څوک درته مزاحمت وکړي، هغوی بهر وشړئ، ټېلیفون مو بند کړئ او خپل کار پای ته ورسوئ. زه هغه څه لیکم چې وس یې لرم او هغه د لنډې کیسې لیکل دي.

د خپلو اثارو د بیا کتلو لپاره قلم په لاس خپل متن پسې اخلم. کله مې چې د (یو خبیث شی په دې لاره راځي) ناول لیکه، لومړۍ نسخه یې ۱۵۰ زره کلمو ته رسېده. د بیا کتلو په وخت کې مې ۵۰ زره کلمې ترې حذف کړې.

## ژان پل سارتر خپلې د لیکوالۍ تجربې شریکوي

فرانسوي لیکوال ژان پل سارتر د ۱۹۰۵ کال د جون په ۲۱ زېږېدلی او د ۱۹۸۰ کال د اپرېل په ۱۵ له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.

سارتر د ناولونو، فلسفي ډرامو، سیاسي او ادبي تحقیقي مقالو هغه لیکوال او د ازادۍ د لارې یو هڅاند مبارز و چې په شلمې پېړۍ کې هیڅ یو فیلسوف د هغه

په اندازه شهرت ته ونه رسید.

سارتر په ۱۹۶۴ کې د ادبیاتو د نوبل جایزه ګټونکی اعلان شو، خو هغه د دغې جایزې له ترلاسه کولو ډډه وکړه.

دېوال، دوزخ، ککړ لاسونه، خدای او شیطان، د تړای ښځې، ادبیات څه دي؟، تعلیق، د ارواوو عذاب، وتل منع دي، مچ، هغه څه چې زه یم، هستي او نیستي، کلمات او کانګه د سارتر هغه ناولونه، نمایشنامې او فلسفي اثار دي چې په ګڼو ژبو ترجمه شوي دي.

سارتر په یوې مرکې کې له سیمون دوبوار سره د خپلې لیکوالۍ ځینې رازونه داسې بیان کړي دي:

له هرې لارې چې تاسو دلته راغلي یاست، ادبیات مو د جګړې ډګر ته ور کاږي. لیکل په یو ډول د ازادۍ غوښتل دي. که ورسره لاس و ګریوان شوې، که وغواړې او که نه، نور نو ښکېل شوي یاست.

که لیکوال غواړي چې لوستونکي یې ټول خلک و اوسي، ځان باید د هغوی په کتار کې احساس کړي، یعنې د دوه ملیارده وړو خلکو په کتار کې ودرېږي.

زه په هېڅ ډول د ټولنې د ټیټې طبقې د ادبیاتو چا ته توصیه نه کوم. خلک هم باید د لیکوال د هدف د پوهېدو لپاره هڅه وکړي. لیکوال باید د کلام له پېچلي کولو نه لاس په سر شي، خو نه شي کولای چې تل خپل مطالب په پوره روښتیا یا زیروزبر سره ولیکي او یا خپل تازه او مبهم افکار د لرغونو ظابطو پر بنسټ ولیکي.

د متن له پیچلي کولو سره مې جوړه نه ده. زه مالارمه ته د فرانسې د یوه ستر شاعر په سترګه ګورم او خپل زیات وخت مې د هغه د شعر په پوهېدو کې تېر کړی دی، خو په عمدي ډول د کلام د پیچلي کولو طریقه یې نه خوښوم. هغه یوه خطا ګڼم.

ځینې مطالب شته چې ویل یې مشکل دي، له دې امله لوستل به یې هم خامخا بې ستونزو نه وي. له بل لوري باید داسې ونه انګېرو چې خلک هغه ډول لیکنې غواړي چې لوستل او پوهېدل یې ورته اسانه ښکاري.

تر هغه چې لیکوال ونه کړای شي د دوه ملیارده وړو کسانو لپاره څه ولیکي، په یو ډول ناراحتۍ به اخته وي. لیکوال باید خپل قلم د اسکېرلو خلکو په خدمت

کې وکاروي. امېل زولا او اندره ژېد هم همداسې کړي وو. که ليکوال داسې ونه کړي او تر برستنې لاندې څملي او د خواريکښو دفاع وکړي، کوم مقام او منزلت ته نه رسي.

زما په باور دا ډېر مهم دی چې ليکوال د خپلې زمانې له واقعيتونو او اساسي مسئلې غافل پاتې شي. نړيواله لوړه، د اټومي بمونو ګواښ، له ځانه د بشر لرېوالی، دا ټول هغه مسايل دي چې که چېرته زموږ ټول ادبيات په بر کې ونه نيسي-، د تعجب وړ مسئله به وي.

کله چې پر يوې موضوع ليکل پيلوم، ناڅاپي دا فکر رالوېږي، چې د هغې موضوع په اړه زما د پوهېدو کچه څومره ټيټه ده.

ليکل، لوستونکي ته يوه بلنه ده، ترڅو هغه څه ته چې ما د ژبې له لارې رابرسېره کړي دي، عيني ژوند ور وبخښي.

ښايي ادبيات ونه شي کولای د جګړې او وينې تويېدو مخه ونيسي-، ښايي ونه شي کولای د يوه ماشوم د مرګ مخنيوی وکړي، خو کولای شي هغه کار وکړي چې دنيا وربانديې فکر وکړي.

د يوه اثر د رامنځ ته کولو تر ټولو مهمه انګېزه، نورو ته يو څه ورکول دي. هېڅوک هم د ځان لپاره ليکل نه کوي، که دا نور نه وای، هېڅوک به هم د شعر د ليکلو، مجسمې جوړولو او د هنري اثر د رامنځ ته کولو په لټه کې نه و. که يو چا يو ښکلی څيز رامنځ ته او ټولنې ته وړاندې کړ، زموږ په نړۍ کې يو څه بدلون مومي. دا په دې معنا ده چې د هر هنري او ادبي اثر په رامنځ ته کولو سره زموږ په نړۍ کې يو ښکلی څيز زياتېږي.

نن سبا ډېر ځوانان د سبک په کيسه کې نه دي او انګېرنه يې هم دا ده، کوم څه چې د ويلو لپاره لري، ويې ليکي. خو زما په نظر سبک- نه يواځې دا چې له ساده ليکلو سره منافات يا اختلاف نه لري، بلکې ساده ګي يې اړينتيا ده. تر هرڅه مخکې دا هغه ډول ليکنې ښه ده چې درې يا څلور مطلبونه په يو مطلب کې ويل کېږي. که څوک نه شي کولای خپلې وينا ته دغه معنايي کثرت وبخښي، غوره دا ده چې ليکل ونه کړي.

هغه څه چې ادبيات له علمي ژبې رابېلوي، دا دي چې کلمه په ادبياتو کې

تل په یوه معنا نه وي. د لیکوالۍ په دنیا کې هنرمند هغه څوک دی چې کلمات په داسې ډول یو د بل ترڅنګه کښېږدي چې د هغې رڼایی په بنسټ چې پرې خوروي او د هغه وزن پر بنسټ چې ورته بخښي، هغه کلمات یوه معنا ورکړي، یوه بله معنا او بیا یوه بله معنا، یعنې دا چې څو معنایي وي.

## د اندره ژید د لیکوالۍ تجربې څنګه دي؟

فرانسوي لیکوال، شاعر او نمایشنامه لیکونکی اندره ژید په ۱۸٦۹ په پاریس کې زېږېدلی دی. هغه منظمې زده کړې ونه کړې، خو په شل کلنۍ کې چې په ادبیاتو کې د سېمبولیزم دوره وه او د ادب په برخه کې یې پراخې مطالعې ته مخه کړې وه، د ښوونځي وړو مجلو ته یې ورې مقالې لیکلې. په دې وخت کې هغه له پېرلویي، پل والري او مالارمه سره اشنا شو او په ۱۸۹۱ کې یې لیکوالي پیل کړه.

کلیوالي سندره، پردی، جعلي، سکه وهونکي، د پاستورالا سمفوني، ایزابل او یو شمېر نور ژید ناولونه دي.

اندره ژید په ۱۹۴۷ کال کې د هراړخیزو هنري اثارو د لیکلو په پار د نوبل ادبي جایزه اخیستې او بالاخره په ۱۹۵۱ کې یې له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې دي.

دلته د لیکوالۍ او لیکلو په اړه د اندره ژید له شلو لارښوونو یو څو هغه یې درسره شریکوو:

زه غواړم چې هنري اثر له سر نه تر پایه بې دلیله وي، خو تر ټولو هغه وړوکی بې معنا څیز چې په کې زیاتېږي، نه یې شم زغملای.

که د کوم مطلب په بیانولو کې له هغه حد نه زیات مرکب چې زما د فکر د روښوالي لپاره لازمه ښکاري، وکارول شي؛ نه شم منلای چې کمال ته رسیدلی یم، ځکه زه باور لرم چې هر بې فایدې څیز د هنر لپاره مضر دی.

زه په ادبیاتو کې هر هغه څیز ته چې تر نن ورځې سبا ته ډېر کم جالب وي او هر هغه څیز ته چې له کمې مودې وروسته نننی لوستونکي یې د پخوا په پرتله ښکلی، پوست او جذاب ونه ګڼي، ژورنالیزم وایم.

زه له دې فکره د خوند احساس کوم چې د ژورنالیزم پر خلاف په لومړي نظر کې یو بشپړ ادبي اثر د لوستونکي له نظره دومره ښکلی نه بریښي.

آيا حتماً بايد نيوکو ته ځواب ووايو؟ زه په هېڅ ډول دغه تنده غري ته د تسليميدو توصيه نه کوم. که چېرته هغه نيوکه يا حمله بې ځايه وي، پرېږدئ چې لوستونکي يې تشخيص کړي. که حمله په ځای وي، هر څومره که د ځوابولو هڅه يې وکړو، پرته له دې چې خپل تېر لا ژور کړو او خپل کمزوري ټکي رابرسيره کړو، بل کار مو له وسه پوره نه دی. کومه نيوکه او حمله چې په سړه سينه يې هرکلی وشي، انسان لا نور قوي کوي.

پرېږدی چې په خپله اثر له ځانه دفاع وکړي، تاسو خپل کار ته دوام ورکړئ. که ستاسو اثر ونه شي کولای د هغې حملې په وړاندې تاب راوړي، که څومره هڅه هم وکړئ، له راپرېوتو يې مخنيوی نه شئ کولای. هڅه وکړئ بل داسې اثر وليکئ چې تر مخکيني اثر مقاوم او غښتلی وي.

له ټولو جزياتو سره د نورو په هنر پوهېدل د پام وړ خبره ده خو فکر نه کوم چې کومه حقيقي گټه ولري. يو تکړه ناول ليکونکي راته وويل چې په ځوانۍ کې يې د نورو تر ټولو غوره ناولونه ټکي په ټکي لوستي او د هغوی د ليکوالۍ د فن ټول اسرار يې کشف کړي او له هغه وروسته يې ليکوالۍ ته مخه کړې ده، خو څه يې چې زده کړي وو، هغه د نورو فن او هنر و.

واقعي هنر هغه دی چې په وروستۍ شېبه کې تاسو خپل ځان ته ور وکاږي.

هغه څه چې تاسې کمال ته رسوي، د ليکوالۍ په فن کې برلاسي نه بلکې ستاسو خپل جوهر دی.

هغه ليکوال چې رومانتيک ليکل يې خوښ وو، سهوه يې په دې کې وه هڅه يې کوله چې ژوند له خپل اثر نه د باندې پرېږدي.

د امکان تر حده ليکل وکړئ او له اړتيا نه زيات چې تاسو يې احساسوئ، څه مه ليکئ.

ډېر لوستونکي يواځې هغه څه ستايي چې ورته نااشنا نه دي. هغه نوی والی چې ته يې رامنځ ته کوې، هرڅه چې وي، د هغوی د خيال راحتي له منځه وړي. که په شهرت او بريااليتوب پسې يې، بايد مخکې له مخکې له دې ټکي نه باخبره اوسې. واقعي نويوالی؛ تل توجه نه خپلوي، زه هغه لاسي او بې ارزښته نويوالی بولم چې يواځې د تعجب رامنځ ته کولو او د بې منځپانکېتوب او د شور او هيجان د نه

شتوالي د پټولو لپاره، په اثر کې راوړل شوی دی.

کومه دنده چې تا ته درغاړې ده، هغه غوږ نیول دي. ستر هنرمند په لومړي درجه کې؛ ستر اوریدونکی دی. کله چې په کومو ټولنو کې ګډون کوې، هڅه وکړه چې د یوه لامبوزن په څېر هلته ورننوځې. په دې پوه اوسه چې په غونډو او مجلسونو کې هغه څه څلا لري چې ((سره زر)) نه دي. ځوک چې په خپلو خبرو کې یو څه ابتذال ور ګډ نه کړي، هېڅکله د یو خوش صحبته ویناوال په توګه شهرت نه خپلوي.

د هځونې لپاره یو غوږ او د نیوکې لپاره دواړه غوږونه ځک کړئ. د جاهلانو خبرو ته غوږ مه ږدئ، د دوی د خوښې نه اوسېدل، لذت بخښونکی دی خو هر ځوک ناپوه او جاهل مه شمارئ.

## اګوتا کریستوف د لیکوالۍ بریالۍ تجربې

مجارستاني لیکواله او شاعره اګوتا کریستوف چې د ژوند ډېره برخه یې په سویس کې تېره کړې او د سویس له سترو اوسنیو لیکوالو څخه شمېرله کېږي، خپل ګڼ داستانونه په فرانسوي ژبه لیکلي دي.

اګوتا کریستوف چې د ۱۹۳۵ کال په اکتوبر کې زېږېدلې، په ۱۹۵۶ کال کې له خپلې کورنۍ سره له مجارستان څخه سویس ته پناه وړې او په ۲۰۱۱ کې یې له نړۍ سترګې پټې کړې دي.

کریستوف دوه ځلې واده کړی خو ښې خاطرې ترې نه لري.

د کریستوف یو شمېر اثار په ګڼو ژبو ژباړل شوي دي. (غټه کتابچه) د نوموړې هغه ناول دی چې د نړۍ په ګڼو ژبو ژباړل شوی دی. غټې کتابچې په ۱۹۸۶کال کې کریستوف ته نړیوال شهرت ورپه برخه کړ.

کریستوف خپل اثار په فرانسوي ژبه لیکلي دي. نوموړې دا ژبه په سویس کې تر پنځو کلونو ژوند وروسته زده کړې وه.

د کریستوف آثار له تاوتریخوالي ډک دي خو طنز هم په کې شته. ډېر مینه وال یې هغه د وېروونکو حقیقتونو ملکه ګڼي.

غبرګوني، لاسوند، دریم درواغ، مورنۍ ژبه، پرون، بیسواد، غټه کتابچه او جان او جو د نوموړې ناولونه دي.

پروا نه کوي، د اګوتا د لنډو کیسو ټولګه ده چې پنځه ویشت لنډې کیسې یې په کې خوندي شوې دي. کریستوف ګڼې ادبي جایزې ترلاسه کړې دي، لکه د اروپا د کتاب ادبي جایزه، د انټر کتاب جایزه، د سویس د ګوتفرید کلر جایزه او د اروپايي ادبیاتو لپاره د اتریش ادبي جایزه.

له کریستوف سره دا مرکه چې نوموړې په کې د خپلې لیکوالۍ او د لیکلو طریقې بیان کړې دي، د فرانسوي ادبیاتو څېړونکي ریکاردو بندتینی په ۱۹۹۹ کې کړې ده.

واقعي ژوند زما تر ناولونو ډېر تریخ دی. زه یې ښکلی کوم چې لوستونکی وکولای شي هغه ولولي.

زه هغه لیکواله نه یم چې د خپلو کتابونو له لارې چا ته پیغام ورکړم. زه غواړم یو څه له خپل ژوند څخه ووایم. زما ټول داستانونه همداسې پیل شوي دي.

لومړی تل په لاس لیکل کوم. دا کار مې خوښېږي. زه بې له کوم نظم او پرله پسې والي لیکل کوم.

اوس هم چې له ډېر ځنډ وروسته مې لیکل پیل کړي، نظم نه لرم، وړې وړې برخې لیکم چې کېدای شي د کتاب په سر کې، په منځ او یا هم په پای کې راشي.

د خپلو لاس کښلو نسخو د ټایپ پر وخت پرېکړه کوم چې د یوې صحنې له بیلابیلو نسخو کومه یوه وساتم یا دا چې د صحنې پرله پسې والی باید څرنګه وي. په همدې شېبه کې د کتاب اصلي خیال او فکر راڅرګندېږي. هغه مې چې په لاس کښلي ډېره برخه یې حذفوم. په پای کې ګورم چې ډېر څه پاتې نه وي.

لیکل یو ډول ځانوژنه ده. موږ په ځانوژنې په داسې ښه اخته کېږو چې ځینې هغه څیزونه چې له لیکلو سره مخې ته راځي زموږ له ژوند او واقعیتونو ډېر دردوونکي دي.

د لیکلو په وخت په دې پوهېږم چې د کتاب کیسه په څه راڅرخي، خو زه تر ډېره د لیکلو پر څرنګوالي تمېږم.

لیکل زما په خیال ځان هغه څه ته سپارل دي چې خوب ته ورته دي او دا خوبونه دي چې لیکلو ته ورګرځي.

زه په یوه کارخانه کې کار کوم. یورنګه کار دی، د شعر لیکلو لپاره ښه ځای

دی. دلته له کار نه پرته کیدای شي په یو بل څه هم فکر وکړې. د ماشینونو د ریتم ضرب داسې منظم دی، چې بیتونه او مسرې ښه تقطیع کېږي. د میز په روک کې تل یو قلم او کاغذ راسره وي، کله چې شعر ښه خپله کړه، لیکم یې.

زما په خیال عاشقانه کیسې په درد بخوره نه دي، مبتذل کار دی. زه عاشقانه کتابونو ته ښځینه کتابونه وایم.

تر هر څه لومړی یو څه باید ولیکل شي بیا هغه ته دوام ورکړای شي حتی که د چا توجه هم خپله نه کړي. حتی که دا احساس هم وکړو چې دا کار د چا توجه نه شي جلبولای بیا هم باید لیکل وکړو، حتی په هغه وخت کې هم چې وینو نور نو له لیکل شوو څیزونو مېز ډکېږي او موږ یې هېروو، لیکل باید پرېنږدو، ځکه موږ تل د نوو څیزونو د لیکلو په حال کې یو.

## پایله

د نړۍ معتبرې ژبې هم له ژباړو خلاصې نه دي، حتا انګریزي ادبیات او په ټوله کې ژبه چې د نړۍ په معتبرو ژبو او ادبیاتو کې راځي هم د ژباړې له سینده ډکه ده، نو زموږ په څېر ژبې خو باید ژباړې ولري، د دغه ډول ادبي اثارو د ژباړو څو ښېګنې وي، یو دا چې زموږ ادب ته نوې تجربه او نوی ادب لار پیدا کوي، دوهم موږ د نړۍ له ادبیاتو خبرېږو او تر ټولو مهمه مسئله دا چې موږ د بهرنیو لیکوالو له بریالیو تجربو خبرېږو چې څنګه دي او باید څنګه وي؛ ځکه زموږ په ټولنه کې ډېر ځله تمه دا وي چې زموږ لیکوال پر دې سربېره چې ښه لیکوال دی یا وي باید ښه شخصیت او د راشه درشې خاوند هم وي، په داسې حال کې چې په یو لاس کې دوې هندوانې نه نیول کېږي، نو ځکه موږ ته په کار ده چې ډېر ځله د لیک ترڅنګ د لیکوال شخصیت هم ونه ارزو چې څنګه دی او څنګه دې وي، مهمه دا ده چې ټولنې ته یې څه ورکړي او څنګه یې ورکړي.

د دغه ډول اثارو ژباړې نه یواځې زموږ ادبیات غني کوي، بلکې موږ په نړیوال کلي کې ګډوي او د نړۍ له معتبرو ادبیاتو مو خبروي چې پر کومه خوا روان دي، که چېرې همدغه او دې ته ورته ژباړې نه وای، نو نن به موږ د هایکو، ادبي خاکو او حتا له عروضي شاعرۍ هم خبر نه وای، نثري ادبي ژانرونه خو پر ځای پرېږده، نو ځکه د دې ډول ژباړو اړتیا ډېره لیدله کېږي او موږ دا اړتیا په دې برخه کې تر یو ځایه درک او وړاندې کړای شوه، هیله ده دا لړۍ نوره هم پسې وغځېږي.

پوهنمل دوکتور عزیز الله جبارخېل

# د مقاله لیکنې د هنر  مهمې برخې

**لنډیز**

مقاله لیکنه یو دروند کار دی او پوره دقت غواړي چې محقق یې باید دټولو ځانګړنو په پام کې نیولو سره ولیکي.

که چېرې یو څېړونکی د مقاله لیکنې اصول په پام کې ونیسي، نو  کومه مقاله چې رامنځ ته کېږي، په اړونده څانګه کې به وړ اضافه وي.

د تحقیقي مقالې په لیکلو کې د موضوع انتخاب ډېر مهم دی چې له انتخاب شوې موضوع سره باید محقق دلچسپي ولري، د څېړنې وړ وي، په علم کې اضافه راولي، له خپرېدو وروسته لوستونکي ولري.

محقق باید داسې موضوع ونه ټاکي چې یا زیاته وسېع وي چې بیا یې را غونډولی نه شي او یا زیاته تنګه وي چې د تحقیق په منځ کې په ټپه ودرېږي او پر مخ نه شي تلای او هم داسې موضوع نه وي چې له خپرېدو وروسته لوستونکي ونه لري. د ماخذونو د ابتدایي فهرست په جوړولو  کې هم باید دقت وکړي. د مقالې په اجزاوو کې (لومړنۍ برخه، متن او اخري حصه) له خپلو ټولو شاملو برخو سره په پام کې ونیسي۔ له حشویاتو نه ډډه وکړي، د په لیکنه کې تحقیق او تنقید تعلق وساتي. په لنډ ډول په دغه مقاله کې د مقاله لیکنې مهمې برخې په لنډه توګه ښودل شوي چې څېړونکي ترې ګټه واخلي.

**سریزه**

د څېړنیزې مقالې لیکل یو ډېر ستونزمن کار دی چې د  څېړونکي  ژور سوچ او

تېز قلم کولی شي دغه ستونزمن کار اسانه کړي او کومه لیکنه چې کوي د هدف تر تم ځایه په اسانۍ سره ځان ورسوي.

((د مقاله لیکنې مهمې برخې)) مقاله کې هغو ضروري ټکو ته ګوته نېول شوې چې دغه پورتنی مقصد پرې ترلاسه کېدلی شي.

کېدای شي ځینو ټکو ته په کې لنډه اشاره شوې وي او هغه هم ددې لپاره چې دمقاله لیکنې ډېر لوی بحث ته اړتیا لري، خو بیا هم کوم اهم ټکي چې په کې ښودل شوي او پر بېلابېلو اړخونو یې رڼا اچول شوې، دڅېړونکیو لپاره به بې ګټې نه وي.

تېرو لیکنو ته کتنه: له دې تحقیقي مقالې نه پخوا هم د مقاله لیکنې په اړه څېړنې وخت پر وخت شوې دي چې په دې اړه د ډاکټر ګیان چند ((تحقیق کا فن)) ، د ډاکټر همایون هما ((دتحقیق فن))،د ډاکټر سید محی الدین هاشمي ((دلیکوالۍ فن)) اثار د یادونې وړ دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د مقاله لیکنې هنر به درنو مینه والو او څېړونکو ته په ډاګه شي چې څه ډول لوستونکي له ځان سره وساتي او د لیکنې منځپانګه هم زیانمنه نه شي. د دې ترڅنګ ډېر ځله داسې هم کېږي چې هنریت په تحقیقي متونو کې هم زیات شي او تحقیق ته زیان ورسوي، خو دا لیکنه همدغه باریکۍ په ډاګه کوي.

## د څېړنې موخې

ــ د مقاله لیکنې د مهمو برخو بیانول

ــ د مقاله لیکنې په برخه کې څېړونکو، محصلینو او د ادب مینه والو ته د ګټورو معلوماتو برابرونه

ــ لوړې علمي رتبې ته د ارتقا لپاره د اړتیا پوره کول.

## د څېړنې پوښتنې

په دې مقاله کې دا پوښتل شوي چې:

✓ مقاله څه ته وایي؟

✓ د مقالې لیکنې اصول او آرونه کوم دي؟

✓ ښنګه کولای شو یوه مقاله هنري کړو، خو چې منځپانګې او څېړنیز اړخ تـه یې زیان ونه رسېږي؟

او دې ته ورته ځینې نورې پوښتنې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

د دې څېړنیزې مقالې د لیکلو پر مهال لومړی یې د سرلیک په بـاب فکـر وشـو ،بیایې دکړنلارې پلان برابر شو ، وروسته له معتبرو کتابونو نه ګټـه واخېسـتل شـوه ،چې په دې ډول یې څېړنې کړنلاره کتابتوني ده، خو میتود یې تشریحي، توضـیحي او تر ډېره تحلیلي دی.

## اصلي متن

په واقعي معنا سره د مقالې لیکنه یو مشکل او دروند کـار دی چـې محقـق یـې باید د ټولو ځانګړنو او خصوصیاتو په رڼا کـې ولیکـي. کـه چېـرې یـو محقـق د مقالـه لیکنې ټولې برخې، لکه ښنګه چې ښایي، په پام کې ونیسي او هغـه مراعـات کـړي، نو کومه مقاله چې رامنځته کېږي، د اهمیت وړ او په مربوطه څانګه کې به یـوه درنـه او وړ اضافه وي.

تحقیقي مقالې یا د ډګری لپاره لیکل کېږي او یا له دې نـه عـلاوه، د دواړو پـه نوعیت کې څه فرق نه وي. تحقیقي مقاله دوه قسـمونه لـري: ١ـ مختصرـ مضـمون: چې د رسالو او مختلفو مضامینو په باب وي. ٢ـ طـویلې او اوږدې مقـالې: دا مقـالې په دوه ډوله دي: الف: متوسط حجم والا چې تقریبـاً د هغـې ١٠٠ صـفحې وي. ب: اوږدې مقـالې چـې تـر څـو سـوو صـفحو پـورې وي. د ایـم، اې او ایـم فیـل مقـالې متوسطې مقالې دي چې د ((Dissertation)) په نامه یادېږي. د ډاکټریټ مقـالې د ((Theses)) په نوم دي چې اوږدې او څو سوو صفحو ته رسېږي.

د تحقیقي مقالې په لیکلو کې مختلف پړاوونه طی کېږي، چې پـه لانـدې ډول دي:

١ـ د موضوع انتخاب

٢ـ د مأخذونو ابتدایي فهرست

٣ـ خاکه (Synopsis) یعنې د بابونو لومړنی فهرست جوړول.

۴ـ د موادو فراهمي

۵ ـ لوستل او نوټ اخېستل

٦ـ د نوټونو ترتیب او تنظیم

۷ـ لومړی مسوده لیکل او حسب ضرورت په خاکه کې ترسیمول.

۸ـ د مسودې دوهم ځل کتنه او د هغې تبییض.

۹ـ که سندي مقاله وي نو د هغې کاپي ګانې تیارول او داخلول.

۱۰ـ د موافقې فیصلې په صورت کې زباني امتحان.

۱۱ـ اشاعت د منطقي نظم او ترتیب قایم ساتلو او د زیات نه زیاتو ګټورو نتایجو لاس ته راوړلو په غرض د څېړنې او تحقیق کار په پنځو شعبو کې تقسیمېدای شي:

لومړی ـ د موضوع انتخاب او د هغې حد بندي.

دوهم ـ د مأخذونو تعیین او د هغو د فهرست ترتیبول.

دریم ـ د مقالې خاکه تیارول.

څلورم ـ د مأخذونو مطالعه او له هغو نه د مفیدومطالبو او موادو انتخاب.

پنځم ـ مقاله لیکنه.(۱)

موضوع: په تحقیق کې اهمه او مرکزي نقطه د موضوع انتخاب دی. د رسالې د مضمون لپاره موضوع په مختلفو سطحو کې وي او تحقیقي مقالې ته مختلف څېړونکي. نوی تازه کار او پوخ تحقیق کار هر یو له خپل صلاحیت سره سمه موضوع انتخابوي. ریچرد ایلټک وایي: د ژوند د ملګري تلاش مشکل دی، که د تحقیق موضوع انتخابول؟ په دې باب یې یوه فقره لیکلې ((موضوع او تحقیق کې غیر هم اهنګي او نا موافقت.)) (۲)

د موضوع د انتخاب په اړه باید دا ټکی په پام کې ونیول شي:

۱ـ موضوع باید څنګه وي؟

۲ـ موضوع باید څنګه نه وي؟

۳ـ د موضوع تلاش څنګه کېږي؟

الف ـ څه ډول موضوع مناسب ده؟ د موضوع د مناسبوالي په باب باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

۱ـ له انتخاب شوې موضوع سره باید محقق دلچسپي ولري.

۲ـ موضوع باید د تحقق او څېړنې وړ وي.

۳ـ موضوع باید په علم کې اضافه راولي.

۴ـ د موضوع طی کولو په وخت کې محقق باید له ځان نه پوښتنه وکړي چې په کومه ساحه کې باید تحقیق وکړم.

۵ ـ داسې موضوع باید انتخاب شي چې له خپرېدو وروسته لوستونکي ولري.

٦ـ سکالر باید د انتخاب شوې موضوع د تحقیق صلاحیت ولري.

۷ـ موضوع بین العلومي وي.

ب: موضوع څه ډول مناسب نه ده؟ په دې باب لاندې ټکي باید په نظر کې ونیول شي:

۱ـ انتخاب شوې موضوع باید خالصه انتقادي نه وي.

۲ـ په موضوع باندې باید پخوا چا کار نه وي کړی او یاکار پرې روان نه وي.

۳ـ داسې موضوع باید نه وي چې محقق مخکې پرې مقاله لیکلې وي.

۴ـ موضوع باید زیاته وسیع نه وي، چې بیایې محقق راغونډولی نه شي.

۵ـ موضوع باید زیاته تنګه نه وي چې محقق د تحقیق په منځ کې په ټپه ودرېږي او پر مخ نه شي تلای.

٦ـ که د مقالې په اړه مواد ټول په یو کتاب کې وي.

۷ـ په کومو اشخاصو او موضوعاتو چې بې خوفه لیکنه نه کېږي.

۸ـ د کوم مصلحت یا مفاد په خاطر په ژوندي شخص تحقیق کول.

۹ـ ډېره نوې موضوع چې د هغې په اړه مواد یواځې په رسالو کې وي او کتابو کې نه وي.

۱۰ـ زیاته تخنیکي موضوع وي.

۱۱ـ کومه موضوع چې په راتلونکي کې ورسره محقق د دلچسپی د کمښت وېره وي.

۱۲ـ مناظراتي موضوع وي.

۱۳ـ چې ورسره شدید جذباتي ترون یا عناد وي.

۱۴ـ داسې موضوع چې د بلې ژبې موادو ته هم اړتیا ولري، په داسې حال کې چې د محقق بله ژبه زده نه وي.

۱۵ـ د کومې موضوع د موادو د رسېدلو لپاره مادي وسایل نه وي.

۱٦ـ هغه موضوع چې په تسوید کې له ځینو ستونزو څخه نه بچ کېږي.

۱۷ـ هغه موضوع چې له خپرېدو نه وروسته غیر اهمه وي، لکه پر دریمه درجه شخص باندې کار کول.

۱۸ـ هغه موضوع چې کار یې د تذکرې په څېر وي. (۳)

د موضوع د تعیین بحث په لاندې ټکو کې راغونډېږي:

۱ـ د موضوع د تعین لپاره د زماني ټاکل ضروري دی.

۲ـ اختصار او د وخت تحدید(حدبندي) د موضوع د تعین یو اهم عنصر دی.

۳ـ د موضوع د ټاکلو په وخت کې د موادو د ترلاسه کولو ذریعې په نظر کې ساتل ضروري دي.

۴ـ د موضوع تعیین د محقق د علمي استعداد او ذهني رجحان مطابق په کار دی.

د مأخذونو د ابتدايي فهرست په جوړولو کې ډېر دقت په کار دی، په دې اړه بنسټیز او ثانوي مأخذونه مهم دي. مأخذ یا مصادر هغو ذریعو ته وایي چې د تحقیق اساس پرې جوړوي مأخذونه په بنسټیزو (Primary source)او ثانوي ( Secondary source) وېشل کېږي. بنسټیز مأخذ هغه دی چې له موضوع سره مستقیمه اړیکه لري. په دې کې د لیکونکي لیدلي اورېدلي حقایق شامل وي، بنیادي مخطوطې چې په هغو کې ذاتي کاغذات، مستند، ریکارډونه، انټرویو ګانې او متفرقات شامل دي او بل د مرکزي حکومت مطبوعات چې په هغه کې ژوند لیکونه، یادداښتونه، تقریرونه، د حکومت مطبوعات شامل دي.

ثانوي ماخذونه هغه دي چې په خپلو سترګو د واقعې مشاهده په کې نه وي شوې او په ذاتي ډول په پېښه کې شریک نه وي. دا مأخذونه د هغو خلکو شهادتونه وي چې د واقعې د سترګو لیدلی حال نه وي. نصابي کتابونه، جنتري پاڼې، دایرة المعارفونه،سرکاري اطلاعات، ذاتي بیانونه او نور په ثانوي مأخذونو کې راځي.(۴)

د تحقیقي او تنقیدي موضوعاتو د لیکنې په وخت کې لیکوال ته ضروري دي چې په دې پوه شي چې: هغه څه غواړي ولیکي او ولې یې لیکل غواړي؟ او هم د دې لیکنې لپاره هغه څه تیاری کړی دی؟ د دغو پوښتنو په لړ کې ((ته څه لیکل

غواړې؟)) سره د غور او فکر عمل پيل کېږي او ((ولې يې ليکل غواړې؟)) پوښتنې سره د تحرير او ليکنې مقصد واضح کېږي. تر هغه وخته پورې چې د دغو دوو پوښتنو ځواب له محقق سره نه وي په ليکنه کې کومه معنا او نقطه نظر نه شي پيدا کېدلی.(۵)

دا چې تحقيق او تنقيد سره تړلي دي، که چېرې له دغه تعلق نه څوک بې اعتنايي وکړي، نو يو فن کار به هم اعلی ادب وړاندې نه کړای شي.(٦)

خاکه: خاکه د انګرېزي لفظ (synopsis) ژباړه ده. د دې لفظ لغوي معنا يو ځل نظر اچول دي د ځای له جوړولو مخکې چې د هغه نقشه جوړېږي، دغه راز د تحقيقي مقالې لپاره لومړی خاکه جوړېږي، د خاکې جوړولو لپاره دوه لارې وي، په موضوعي ډول د جملې په شکل. لکه: په لاندې مثال کې:

په موضوعي ډول: د پښتو ادب په لرغوني دوره کې داستان.

د جملې په شکل: د پښتو ادب په لرغونې دوره کې د داستان ليکنه په څه ډول کېدله.

د موادو تيارول: لکه د مخه چې دمأخذونو د ابتدايي فهرست په برابرولو کې ورته اشاره وشوه، له هغو ټکو نه علاوه بايد وويل شي چې د موادو فراهمي په دوو مختلفو بنيادو کېږي: ۱ـ لومړنی او ثانوي.

۲ـ داخلي او خارجي لومړنی: تر تحقيق لاندې اديب ټول تخليقات او له دې نه علاوه تاريخي، تحقيقي سندونه طبي، ښوونيز، ملازمت ريکارد لومړني او نور ټول ثانوي مواد دي.

داچې: د مصنف ليکنې داخلي او نور ټول خارجي مواد دي.

مأخذي مواد لاندې ډولونه لري: کتابونه (مطبوع او نا مطبوع) جرېدې سمعي او بصري مواد، ميکروفلم، لوحې، مرکې او ملاقاتونه، مراسلات... .

د مقالې تسويد: د مأخذي موادو مطالعه، نوټ اخستل، د موادو ترتيب؛ ټول د مقالې د تسويد لپاره وسيلې دي، کوم چې د تحقيق مقصد دی. د دې وروستي عمل دوه پړاوونه دي:

۱ـ تسويد يعنې د مقالې لومړی مسوده تيارول ۲ـ تبييض يعنې د لومړی مسودې ضروري ترميم او اصلاح سره دوباره او صاف پاک نقل، دې ته بيضه وايي. د

تسوید لپاره د وخت او ځای تعیین ضروري وي. راتهـ د مقالې لپاره لانـدې ښـېګنې پیشنهادوي:

۱ـ په ټوله مقاله کې د شعور وحدت.

۲ـ ترتیب، تنظیم او تسلسل.

۳ـ پر اهمو نکتو باندې مناسب زور.

۴ـ د ټولې لیکنې لهجه او اسلوب له یو بل سره همغږي وي.

۵ـ مقاله کې باید وضاحت وي.

٦ـ په مقاله کې باید صحیح الفاظ استعمال شوي وي.

۷ـ په مقاله کې باید له ایجاز او لنډون نه کـار اخیسـتل شـوی وي او دحشـوې الفاظ او بیانونه په کې نه وي.(۷)

له زوایدو نه د پرهیز او اختصار په اړه باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

۱ـ لویه موضوع مه اخلئ

۲ـ تذکره ډوله موضوعات مه اخلئ

۳ـ د کوم صنف د پایلې وړاندې کولو په وخت کې د صـنف د تخلیقـاتو نمـونې ډېرې مختصرې راوړئ.

۴ـ له سیاسي پس منظر نه ځان وساتئ.

۵ـ د ادیبانو مفصلې سوانح مه وړاندې کوئ.

٦ـ مستقیم نقل قولونه او اقتباسات کم ورکړئ.

۷ـ ستا د نظر پر وړ موضوع چې چا مخکې کار کړی وي، د هغو ټولو خلاصـه او لنډیز مه بیانوئ.

۸ـ د انتقاد جایزه مه اوړدوئ.

۹ـ د کتاب په پای کې په اختتامیه کې د ټول کتاب خلاصه مه وایئ، لـه هغـې ښه دا ده چې کومه نوې خبره په کې وکړئ.

۱۰- په پای کې سرچینې، مأخذ او اشارې ډېرې زیاتې مفصلې مه بیانوئ.

په عام ډول د یوې علمي او جـامع لیکنـې لپـاره ادبپوهـانو لانـدې ځـانګړنې او صفتونه ښودلي دي: -لیکنه باید ساده او عام فهمه وي. -لیکنـه بایـد مدللـه وي. – لیکنه باید منظمه وي.(۸)

په تحقیقي مقاله کې د لومړي پراګراف لیکل مشکل کار دی چې محقق باید د هغه د لیکلو په اړه دماغي قوت او د قلم له زور نه کار واخلي. د لومړي پراګراف په اړه (راتهـ) وایي:

۱ـ په لومړي پراګراف کې د خپلې موضوع وضاحت وکړئ.

۲ـ د موضوع په اړه خپل موقف او نقطه نظر بیان کړئ.

۳-په عامې مفروضې باندې ګذار وکړئ.

۴ـ په خپله موضوع کې د کوم تضاد ښودنه وکړئ.

۵ـ د خپلې موضوع متعلق د کوم شخصیت ذکر وکړئ.

٦ـ د موضوع پس منظر بیان کړئ.

۷ـ له کوم مختصر اقتباس نه شروع وکړئ.

د دې مطابق له لاندې طریقو پرهېز وکړئ چې ښې نه دي:

۱ـ خپل عنوان مه تکراروئ.

۲ـ بې سنجشه شروع مه کوئ.

۳ـ له لوستونکي نه پوښتنه مه کوئ.

۴ـ د موضوع د مرکزي نقطې لغوي تعریف مه کوئ.

۵ـ د مقالې مرکزي دعوا مه وړاندې کوئ.

٦ـ دا مه ښکاره کوئ چې تاسې په مقاله کې څه غوښتل غواړئ.(۹)

دمقالې اجزاء

د مقالې اساسي او بنسټیزې اجزاء درې دي:

۱ـ ابتدایي او لومړنۍ حصه: په دې برخه کې:

الف: سر پاڼه، له هغې نه وروسته یو مخ سپین وي.

ب: دیباچه، په دې کې څېړونکی د خپل څېړنیز اثر په باب اساسي او بنیادي خبرې لیکي. په تحقیق کې چې هر چا ورسره مرسته او کومک کړی وي، د هغوی ذکر کوي او له هغو نه مننه کوي.

ج ـ د مقالې د شاملو ټکو فهرست.

د: د جدولونو فهرست (که چېرې په مقاله کې شامل وي.)

هـ: د شکلونو او تصاویرو فهرست که چېرې موجود وي.

۲ـ متن: په دې حصه کې لاندې برخې شاملې وي:

الف: تمهیدیا سریزه:

ب: مرکزي او د مقالې بنیادي حصه، په کومو کې چې بابونه او فصلونه شامل دي، چې هر یو په واضح او جلا ډول ښودل شوي وي.

۳ـ وروستۍ برخه: په دې برخه کې د حوالې مواد شامل وي، چې په هغو کې:

الف: تعلیقات او ضمیمې.

ب: مأخذونه راځي. د حوالې د موادو ترتیب بدلېدلی هم شي. په دې معنا چې مأخذونه لومړی او تعلیقات او ضمیمې له هغه نه وروسته هم راتلای شي، د چاپ په وخت کې د حوالې له موادو نه پس د اشارې اضافه هم ضروري ده.(۱۰)

په (سرپاڼه) کې د موضوع، د لارښود نوم، د مقالې لیکوال نوم او د ځانګې له نوم سره هغه میاشت او کال هم لیکل کېږي چې کله دغه مقاله د امتحان لپاره وړاندې کړای شوې وه. د کومې ډګرۍ لپاره چې مقاله لیکل شوې وي، د هغې وضاحت هم په سر پاڼه کې ضروري دی.

د ډېرو اهمو برخو سرلیکونه لکه دیباچه، سریزه، بابونه، مأخذونه، نوي مخ ته را اړول ضروري دي. د ذیلي عناوینو درجه بندي هم په کار ده. په لومړۍ درجه کې دې ذیلي عنوان، د منځني سرخط په توګه درج شي. لکه:

د بایزید روښان کورنۍ:

دوهمه درجه کې دغه سرلیک لږ په څنګ او ډېره لیکل په کار دي. لکه:

اولاد

په دریمه درجه د دې سرلیک دې یوه کرښه راښکلی شي لکه:

**خوی بوی:** که چېرې له دې نه پرته درجه بندۍ ته اړتیاوې، بیا هر پراګراف له جلا سرلیک نه هم پیل کېدلای شي.

په مقاله کې د کرښو ترمنځ فاصلې ته هم پاملرنه په کار ده، ځکه چې د متن د عبارت ترمنځ مناسبه فاصله باید په پام کې ونیول شي، کرښې باید یو بل ته نږدې و.

د اقتباسونو راوړل دې هم د لیکوالۍ د اصولو مطابق تر سره شي چې په هغو کې نږدې اقتباسونه او د نظم اقتباسونه راځي. داقتباسونو پوره بحث کول دلته

موضوع اوړدوي، څکه ترې ډېره وشوه. د لمنلیک حواله کښل باید د مقالې لـه مـتن سره ګډ نه شي. د حوالو ترمنځ فاصله باید په پام کې ونیول شي. په مقاله کـې چـې اول ځل د یو کتاب حواله راځي، نو باید پوره ولیکل شي. په دې ترتیب چې:

الف: د لیکوال نوم     ب: د کتاب نوم     ج: د چاپ کوایف

د: د ټوک ګڼه او د مخونو ګڼه

په حوال کې د کتاب په اړه د کوایفو ترتیب:

۱ـ د لیکوال نوم، له نوم نه وروسته د کولن نښه (:)

۲ـ دکتاب نوم بیا کامه (،)

۳ـ د مرتب یا ژباړن نوم، که ضروري وي.

۴ـ د ایډېشن نومره که ضروري وي، له دې نه وروسته د سیمي کولن نښه (؛)

۵ـ د خپرېدو ځای بیا کامه.

٦-د ناشر نوم بیا کامه.

۷ـ د خپرېدو کال، بیا کامه.

۸ـ ټوک ګڼه، که وي، بیا کامه.

۹ـ د صفحې شمېره، بیا د جملې د ختمېدو نخښه.(۱۱)

د حوالو لیکنې د بحث نـور هـم اوږدېـدای شي چـې دلتـه یـواځې پـه پورتنیـو ځرګندونو باندې بسنه وشوه. د مقاله لیکنې د فن د مهمو برخو پـه سلسـله کـې یـوه هغه مرحله ده، چې د تحقیقي مقالې په پړاوونـو پـورې اړه لـري، چـې د موضـوع لـه انتخاب نه پیل کېږي او د مقالې تر خپرېدو پورې رسېږي، چې په یوولسو مـادو کـې په پورتني بحث کې پرې رڼا واچول شوه او بله برخه هغه ده چـې د تحقیقـي مقـالې په اجزاوو کې شاملېږي، چې د مقالې ابتدایي برخه، متن او اخري حصه ده، چې په دې اړه هم پورته بحث پرې شـوی دی. کـه چېـرې د پورتنیـو ټکـو مراعـات وشي او د محقق له خوا دا موضوعات په کلکه مراعات شي، نو کوم تحقیقي اثـر چـې رامنځتـه کېږي، هغه به له ارزښت نه ډک اثر او د علم او فن په دنیا کې نوې به اضافه وي.

## پایله

تحقیقي مقالې کـه پـه  هـر مقصـد لیکـل کېـږي پـوره دقت غـواړي. لنـډې او اوږدې مقالې باید د خپلو ځانګړنو په رڼاکې ولیکل شي.  د څېړنیزې مقالې مختلف

پراوونه په کې مراعات، په ځانګړي ډول د موضوع په انتخاب کې باید پوره پام وشي او دغه ضروري ټکي باید له نظره ونه لویږي:

ــ موضوع باید څنګه وي؟

ــ موضوع باید څنګه نه وي؟

ــ د موضوع تلاش څنګه کیږي؟

د تحقیقي او تنقیدي موضوعاتو د لیکنو په وخت کې لیکوال ته ضروري دي چې په دې پوه شي چې:

هغه څه غواړي ولیکي او ولې یې لیکل غواړي؟ او هم ددې لیکنې لپاره هغه څه تیاری کړی دی؟ ددغو پوښتنو په لړ کې (( ته څه لیکل غواړې؟)) سره د غور او فکر عمل شروع کیږي او (( ولې یې لیکل غواړې؟)) سوال سره د تحریر او لیکنې مقصد واضح کیږي.

په تحقیقي مقاله کې د لومړي پراګراف لیکل مشکل کار دی چې محقق باید د هغه د لیکلو په اړه له دماغي قوت او د قلم له زور نه کار واخلي.

په دغې تحقیقي مقاله کې د مقالې د لیکلو په مهمو ټکو خبرې وشوې او د څېړنې لپاره هغه تیاره ګوټونه روښانه شول چې د څېړونکي لپاره په کې تګ له ستونزو ډک وي. په ځانګړي ډول دې ګران محصلین دغه مقاله په غور ولولي. او د مونوګراف په لیکلو کې دې ورنه ګټه واخلي.

مناقشه: داچې د مقاله لیکنې زده کړه نن سبا څېړنیزو مقالو د لیکلو په خاطر ډېره مهمه ده ؛نو ځکه مې لازمه وګڼله چې په دې اړه یوه تحقیقي مقاله ترتیب او د څېړونکو د کار د لا اسانتیا لپاره یې خپربدو ته وړاندې کړم.دا ډګر خورا پراخه دی او ډېرو پخو څېړونکو پکې خپل نیلی ښه ترا ځغلولی دی چا پکې ضخیم کتابونه لیکلي او ځینو پکې اوږدې اوږدې رسالې او مقالې لیکلې دي خو دلته په دې څېړنیزه مقاله کې یې مهمو ټکو ته اشاره شوې اوپه لنډو ټکو کې د مقاله لیکنې لیکنې ځانګړنې ښودل شوې دي چې په لږ وخت کې درانه څېړونکي ترې استفاده وکړي .

## وړاندیزونه

د لیسانس او ماسټرۍ پروګرام محصلین دې دا مقاله په غور ولولي چې د

مونوګراف او تيسس په ليکلو کې ورځخه ګټه واخلي.

۱. ليکوالو او څېړونکو ته مې وړانديز دی چې د مقاله ليکنې په اړه تحقيقي علمي مقالې وليکي چې څېړونکي ورځخه استفاده وکړي.

## مأخذونه

۱. ډاکټر ايم سلطانه بخش مرتبه، اردو مين اصول تحقيق (انتخاب مقالات)، جلد دوم: مقتدره قومي زبان اسلام اباد، لومړی چاپ، ۱۹۸۸م، جون.

۲. ډاکټر ګيان چند، تحقيق کا فن: ميسرز ايس ټي پرنټرز، راولپنډي، مقتدره قومي زبان پاکستان، ۲۰۰۷ع

۳. همدا اثر

۴. ډاکټر محمد همايون هما، د تحقيق فن: اداره فکر و ادب مردان، دوهم ځل، ۲۰۰۴ع.

۵. ډاکټر جميل جالبي مرتبه، نئ تنقيد، خاور جميل: رايل بک کمپني، کراچي، ۱۹۸۵ع

٦. ډاکټر نعيم تقوی، تنقيد و تناظر: غضنفر اکاډمي پاکستان، کراچۍ لومړی چاپ، ۱۹۸٦ع.

۷. ډاکټر ګيان چند، تحقيق کا فن، دريم چاپ: راولپنډۍ ، ۲۰۰۷ع.

۸. سيد محی الدين هاشمي، د ليکوالۍ فن: دانش کتابخانه، پېښور، ۱۳۷۲هـ ش

۹. ډاکټر ګيان چند، تحقيق کا فن، طبع سوم: راولپنډۍ ، ۲۰۰۷ع.

۱۰. ډاکټر محمد همايون هما، دويم ځل: د تحقيق فن ، ۲۰۰۴ع

۱۱. همدا اثر

**سیداصغر هاشمي**

# په څېړنه کې د فرضيې ارزښت

## لنډيز

له هر ليکوال سره يوه ذهني طرحه پيدا کېږي او بيا همدا طرحه په عملي ډول په فرضيې بدلېږي او له دې وروسته که ثابته شي، نو بيا تـرې نظريه جـوړېږي، په مقاله کې په همدې درېيو خبرو(طرحه، فرضيه او نظريه) بحث شوی دی. په عملي ډول د فرضيه جوړونې لارې چارې ښودل شوې دي.

د فرضيې پېژندنه، فرضيه جوړونه، د فرضيې جـوړونې بېلگه، فرضيه د کـل نـه جز ته، فرضيه د جز نه کل ته او په همدې ډول نورو مهمو پوښـتنو تـه پـه مقالـه کـې ځوابونه ويل شوي دي.

د فرضيه جوړونې په ارزښت خبرې شوي دي او گټـې يـې روښـانه شـوي دي او دا هم ښکاره شوې ده چې ښه فرضيه څنگه غوره شي او کومې ځانگړنې ولري.

## سريزه

د ټولو څېړنيزو ليکنو لپاره فرضيه داسې حيثت لري لکه په شمسي- نظام کې لمر، فرضيه په څېړنه کې همدا ډول ارزښت لري، هغه ليکنه چې فرضيه ونه لري اثبات ته رسېدلای نه شي. د ليکنې نوی والی پـه دې کـې دی چې څېړونکو تـه د فرضيې جوړونې لارې چارې ښودل شوې دي او دا چې څېړنه پـه ټولنـه کـې مهـم ضرورت دی او هغه ټولنې پرمختگ کوي چې څېړنيز کارونه کـوي، پـه ليکنـه کـې ښودل شوې دي.

### د دې څېړنې اهميت او مبرميت

فرضيه څېړنه رهبري کوي، څېړنې ته لاره او لوری ښيي، څېړونکي ته لارښوونه

کوي، چې له کومو موادو په کومو ځایونو کې ګټه واخلي او له کومو موادو ګټه وانخلي، دا هغه موضوعات دي چې له څېړونکي سره په تحقیق کې مرسته کوي، په دې مقاله کې ښودل شوي دي، چې دغه خبرې د دې لیکنې ارزښت بیانوي.

خوشبختانه په اوسنیو وختونو کې په پښتو ژبه څېړنیزو علمي کارونو پیل شوی او ځینې ځایونو کې په فرضیي خبرې شته، خو په دې لیکنه کې د فرضیه جوړونې عملي مثال وړاندې شوی دی، په فرضیه کې د څو اړخونو بحث شوی دی، چې دا یې نویوالی ثابتوي.

## د څېړنې موخې

د دې لیکنې اصلي موخه څېړونکو ته د فرضیي په ارزښت خبرې دي. د فرضیي لیکنې لارې چارې په کې ښودل شوي دي، پښتو ادبیاتو کې کله کله څېړنیز کارونه ځینې ستونزې لري، چې د دې لیکنې له لوستلو او علمي کولو وروسته څېړونکیو سره زیات او کم کومک کولای شي.

## د څېړنې پوښتنې

- فرضیه څه ته وایي؟
- په څېړنه کې د فرضیي ارزښت څه دی؟
- د بې فرضیي څېړنې پایله به څه وي؟
- د جز نه کُل ته او د کُل نه جز ته فرضیه جوړونه څه ته وایي؟
- د فرضیي ځانګړنې کومې دي؟

## د څېړنې روش

په څېړنه کې د کتابتوني څېړنې او تشریحي مېتوده ګټه اخیستل شوې ده، د کتابونو مواد ټول شوي دي، ځای ځای راوړل شوي دي او زما خپل نظر ورسره شته، کوښښ شوی چې نوې خبرې په نوي فکر وړاندې شي.

## اصلي متن

د څېړنې لپاره فرضیه ټاکنه او جوړونه بنسټیز اصل دی او د څېړنې په رهبرۍ کې بنسټیز رول لري.

د څېړنې په اصولو کې چې کومې نظریې موجودې دي، مخکې له مخکې نظریې نه وې، بلکې د نظریو ابتدایي بڼه وي چې دغې لومړنیو فرضي نظریو ته

فرضيه وايي.

فرضيه قياسي موضوعات وي چې بيا په حقيقت بدلېږي، په حقيقت کې د تجربه شوي موادو د بيانولو لپاره کارول کېږي او په پای کې د تحقيق لپاره د پلټنې زمينه برابروي.

د فرضيې جوړولو ساده او اسانه طريقه دا ده چې کله پر يوې موضوع تحقيقاتي کارونه پر بېلا بېلو جوړښتونو کې شوې وي، د هغو جاج اخېستل او کومه نوې خبره چې د څېړونکي سره وي او هغه په تېرو ليکل شوو ليکنو کې نه وي او محقق هڅه وکړي چې خپلې نوې خبرې اثبات ته ورسوي نو دغه په خپله يوه نوې فرضيه کېدای شي.

په تحقيق کې فرضيه ولې اړينه ده؟ ځکه چې د فرضيې په ټاکلو سره د تحقيق لوری او سمت ټاکل کېږي. محقق په نېغې لارې روانوي او رهبري ورته کوي چې موضوع څنګه پيل او پای ته ورسوي. تحقيقاتي کارونو کې اټکل کول سم کار نه دی او د اټکلي موضوعګانې مخنيوی د فرضيې کار دی خو کله کله قياسي فرضيې حقيقت ته رسېږي.

د مطلوبو موادو ټولول او غونډول او همدارنګه له کاري موادو ګټه اخيستل او بې کاره مواد پرېښودل د فرضيې کار دی.

که چېرې د تحقيقاتي موضوع لپاره فرضيه وټاکل شي نو په دې صورت کې وخت نه ضايع کېږي او علمي کار سم پر مخ ځي.سکيټس وايي:(په تحقيق کې فرضيه د رهنما حيثيت لري.) فرضيه حقيقت ته لاری او لوری ورکوي، د تحقيق سمت ټاکي، د تحقيق حدود ټاکي او ټول تحقيق د فرضيې په خوا او شا څرخي.

د موادو ټولول او د هغه درجه بندي کول، د کار مواد ټاکل او نا سم مواد پرېښودل د فرضيې کار دی.

فرضيه د څېړنې زړه دی، فرضيه له مطالعې، علمي، فکري او نظريي ځواکمنتيا پرته پيدا کېدلی او انتخابولی نه شو، نو له همدې امله د ټولو تحقيقاتي ليکنو لپاره فرضيه مهمه ده.(۱)

په ټولنيز ډول ټولو علمي کارونو کې د کار پيل سخت وي او په ځانګړي ډول څېړنېزو او اکاډميکو کارونو پيل هم ستونزمن وي. د فرضيې له ګټو يوه دا ده چې د

کار کولو لپاره لار هواروي او د کار لوری ټاکي او د تحقیقي کار له پیل تر پایه لارښوونه کوي.

کله چې فرضیه معلومه وي نو د کار ساحه محدوده او محقق ته لارښونه کوي.

یو عالم وایي:(په تحقیق کې فرضیه داسې حیثیت لري لکه د انسان په بدن کې د ملا تیر.)(۲)

فرضیه د تحقیق او محقق لپاره لار برابروي او یو محقق کولی شي، د فرضیې په موجودیت کې خپله څېړنه په کامیابۍ پای ته ورسوي.

فرضیه نه یواځې څېړونکی د بې ځایه موادو له غونډولو څخه منع کوي، بلکې ده ته لارښوونه کوي، چې د څېړنې د موضوع لپاره لازم او ضروري معلومات راغونډ کړي.

فرضیه په څېړنه کې د ګډوډۍ مخه نیسي او څېړونکي ته توصیه کوي، چې کوم مواد ګټور دي او کوم بې فایدې دي، فرضیه د څېړنې کړنلار او د میتود د ټاکلو په برخه کې مرسته کوي او فرضیه د څېړنې د نتیجې لاس ته راوړلو لپاره اصول او لار برابروي.(۳)

لکه څنګه چې د یوې ښې څېړنې لپاره د تحقیق ځانګړی ډول او میتود په کار وي، دغه شان د فرضیې موجودیت هم د څېړنې او څېړونکي لپاره اړین دی.

د تحقیق په نړۍ کې څومره نظریې چې موجودې دي، په پیل کې دغه نظریې نه وې بلکې عادي فرضیې وې او نن لویې نظریې دي. یعنې د نړۍ ټول پرمختللي نظریات په پیل کې قیاسي مفروضې وې خو فرضیې له عملي کېدو وروسته ترې نظریې جوړې شوې.

د ډاروین مشهوره نظریه په پیل کې عادي فرضیه وه او د تحقیق له لارو چارو وروسته اثبات ته ورسېده او اوس لویه علمي نظریه ده.

د ارواپوهنې لوی عالم (سي ـ جي ـ یونګ) (c. g.jung) په لومړنیو تحقیقاتو کې د شعور او ناشعور اصطلاحات د فرضیې په شکل وړاندې کړل او علمي څېړنیزو هڅو وروسته په نوو نظریاتو تبدیل شول.(۴)

له پورته مثالونو څخه دا نتیجه اخېستلای شو چې د نړۍ ډېر نظریات په پیل کې فرضیې وې خو د تحقیقاتو، مشاهداتو او له تجربو وروسته په عملي ډول تر

څېړنو لاندې نيول شوې دي او د مثبتو نتيجو په پايله کې په نظرياتو بدل شول.

د فرضيې ارزښت پـه دې کـې دی، چـې د څېړنـې لپـاره لاره او اصـول تـاکي، څېړونکی د فرضيې په شتون کې د څېړنې موخه او نتيجه په اسانۍ لاس تـه راوړلی شي.

د نړۍ د پرمختګ اساسي لامل نوي تحقيقات دي او هره نوې څېړنيزه هڅه په حقيقت کې يوه نوې مفروضه ده.(۵)

## فرضيه جوړونه

هره تحقيقاتي موضوع د محقق پـه ذهـن کـې د يـوې علمـي طرحـې پـه شـان موجوده وي. په علمي طرحه کې هر څېړونکی دکار له پيـل څخـه د مخـه د موضـوع انتخاب، د موضوع ليکل، د ماخذونو پيدا کول، د ماخذونو استفادې لارې چـارې، د خاکې جوړول، د څېړنې د کار ډول او ميتود، د څېړنې په هکله په فکر او ذهـن کـې لري. د دې موضوعاتو يادونه د څېړنې طرحه کېدای شي.

هر محقـق د څېړنـې لاس لانـدې موضـوع (رسـاله، کتـاب، مونـوګراف، تېـزس، ډيزرټيشن او يا داسې نورو) د ليکلـو فکـري، ذهنـي او علمـي طرحـه ورسره وي.کلـه چې علمي طرحه په عملي ډول پيل او انکشاف ورته ورکړل شي نو په دې وخت کـې په فرضيه بدلېږي، يعنې فرضيه د طرحې عملي او پرمختللی شکل دی.

پـه فرضـيه کـې د موضـوع پـه هکلـه علمـي او عمـلي پوښـتنې لـه ځـان سره جوړېږي، دغه پوښتنې عاميانه نه وي. محقق چې مخکې لـه مخکـې د څېړنـې پـه باب ژوره مطالعه کړې وي او ژوره تجربه، مشاهده، علمي څواکمنتيا او د پـوهې پر بنا پوښتنې مطرح کېږي، فرضيه جوړوي.

د فرضيې پوښتنې بايد منطقي وي. د مشاهدې، تجربې، قياس او اسـتقرا هـم په فرضيه جوړونه کې اساسي نقش لري.

هره علمي نظريه په پيل کـې فرضـيه وي، فرضـيه د لومړنيـو تجربـو، مشـاهدو، کوښښونو او داسې نورو علمي هڅو په پايله کې په يوه علمي نظريه اوړي.

په فرضيه جوړولو کـې قيـاس هـم کېـدای شي، د مثـال پـه ډول لـه ځانـه سره فرضيه جوړوو او د فرضيې يوه پوښتنه د قياس پر بنا پيش بيني وي، که چېـرې دغـه پيش بيني اثبات ته ورسېږي نـو اسـاسي لامـل يـې لـومړنۍ فرضـيه ده. يعنـې اکـثر

فرضیې کله کله پیش بیني کوي او اثبات ته هم رسېږي.لکه:

د پښتو ژبې لومړنی لاس ته راغلی شعر(۱۳۹) د امیر کروړ دی، خو د امیر کروړ د شعر له متانت او قوته ثابتېږي چې کروړ به نور شعرونه هم درلودل چې یا به د ده د لومړي لاس ته راغلي شعر نه مخکې لیکل شوې وي او یا وروسته. دا هم کېدای شي چې پښتو ژبه له امیر کروړه مخکې بل شاعر هم ولري، ځکه چې امکان لري چې کروړ دې د پښتو ژبې د نورو شاعرانو شعرونه مطالعه کړې وي.

که چېرې د امیر کروړ له لاس ته راغلي لومړني شعره مخکیني او وروستني نور شعرونه لاس ته راشي نو دا د قیاس پر بنا هغه فرضیه وه چې پیش بیني شوې وه او اثبات ته ورسېده. که پښتو ادب تاریخ کې یو بل داسې شاعر پیدا شي چې د کرونولوژۍ پر اساس له امیر کروړه پخوانی وي نو په دې صورت کې نوې فرضیه اثبات ته ورسېده او یوه نوې پیش بیني یې ثابته کړه.

## د فرضیه جوړونې بېلگه

له محقق سره ذهني طرحه پیدا کېږي چې د غني خان په شعر او فلسفې څېړنه وکړي. دی په ذهن کې یوه فرضي خاکه جوړوي، لکه:

پر غني څومره کار شوی دی؟ د غني په هکله مواد څومره او چېرته پیدا کېږي؟ پر غني خان پر پښتو ژبې سربېره په نورو ژبو هم کار شوی دی او که نه؟ که شوی دی ایا په هغو ژبو پوهیږم او که نه؟ له هغه خلکو سره ناسته اړینه ده چې ژوندي دي او له غني سره یې ملگرتیا وه. ایا د موضوع په هکله مادي او معنوي امکانات لرم او که نه؟ په غني چې څومره کار شوی دی ایا زه له هغو ښه او نوی کار کولای شم او که نه؟

او داسې نورې په لسگونو پوښتنې ذهن ته راځي او د همدغو پوښتنو ځوابونه هم په ذهن کې له موږ سره وي. کله چې له محقق سره د څېړنې تصمیم نهایي شي، نو په عملي کار پیل کوي. دی فرضیه د قلم په واسطه پرکاغذ جوړوي او په کار پیل کوي. د مثال په ډول په غني پېژندنې یوه فرضیه ترتیبوو.

## غني پېژندنه

- د غني په هکله اخځونه له کوم ځای نه پیدا کړم؟
- پر غني خان څومره کار شوی دی؟

ـ پر غني خان چېرته(کومو ملکونو او ځايونو)کې څېړنه شوې ده؟

ـ د غني شعر فلسفي رنګ لري، ايا زه د فلسفې څومره مطالعه لرم؟

ـ د موضوع سره مينه لرم او کنه؟

ـ په ژونديو پوهانو کې د غني له دوستانو سره ليدل اړين دي، ايا لـه دوی سره ليدلی شم او کنه؟

ـ د موضوع په باب مادي او معنوي امکانات لرم او کنه؟

ـ د موضوع معنوي حق ادا کولای شم او کنه؟

ـ پر غني به زما د کار نوی والی په څه کې وي؟ هغه سرليکونه به کـوم وي چـې زما له څېړنې پرته په نورو څېړنو کې نه وي؟

ـ څومره څپرکي ولري؟

ـ په هر څپرکي کې څومره او کوم کوم سرليکونه وي؟

ـ د لوی عنوان، څپرکيو، لويو او کوچنيو سرليکونو تر منځ کـوم شـان محتـوايي اړيکه وي؟

ـ په دې موضوع مخکې چا کار کړی دی؟

ـ د موضوع ارزښت په څه کې دی؟ د ژبې او ادب د غنامندی لامـل ګرځيـدای شي او کنه؟

ـ د څېړنې شکلي او معنوي جوړښت څنګه ترتيب او تنظيم کړم؟

ـ په څېړنه کې د تحقيق د کوم ډول او مېتود نه ګټه واخلم؟

او داسې نور....

په فرضيه کې د غني پېژندنې په تړاو له پورتنيو پوښتنو پرتـه پـه سـلګونو نـورې پوښتنې هم مطرح کېدای شي او هـر محقـق بايـد هـرې پوښـتنې تـه مثبـت ځـواب ولري.

**فرضيه (د کل نه جز ته)**

د کـل نـه جـز تـه نظريـه پـه اروايـوهنې کـې د ګشـتالت نظريـه ده. ګشـتالت (Gestalt) يوه الماني کلمه ده، چې د (ترکيـب) ، (سـاختمان) ، (شـکل) او (کُـل) په معنا ژباړل کېدای شي.

د دې مکتب الماني پايه ګزاران پـه دې معتقـد دي، چـې انسـان ابتـدا (کُـل)

احساسوي او بیا ذهن او فکر د کُل عناصر او اجزا یو له بل څخه بېل او درک کوي.یو بل ارواپوه کهلر(Kohler) د تحقیقاتو له کولو وروسته دې نتیجې ته ورسېد، چې زده کړه له تکرار او تمرین څخه پرته هم امکان لري، مثلاً موږ یوه موضوع په کُلي ډول درک او وروسته هغه تحلیل او تجزیه کوو.

دلته له کُل څخه مطلب د یو شي د اجزاوو مجموعه نه ده، بلکې کُل نه مطلب د اجزاوو د رابطې نوعیت دی، کوم چې کُل تشکیلوي.

انسان هغه وخت یو شی زده کولی شي، چې د هغه په هکله فهم او بصیرت ولري، بصیرت او فهم هغه وخت منځته راځي، چې انساني فرد د موضوع د اجزاوو اړیکه په خپل منځ کې او بیا په مجموع کې له کُل سره درک کړي، بناءً د تکرار او تمرین په عوض کوم چې په کور کورانه ډول د یوې موضوع د زده کړې لپاره زیات وخت ضایع کېږي، کوښښ باید وشي، چې د فهم او بصیرت له لارې د موضوع جوړښت په جزیي او کُلي ډول درک او ذهن ته وسپارل شي، چې زده کړه په واقعي او دایمي ډول صورت ونیسي، نه میخانیکي او د موقت لپاره.(٦)

له کل نه جز ته په فارسی کې(رویکرد بالا به پایین) ، په انگلیسي کې( top _ down approach) وایي.(٧)

یوه فرضیه (دکل نه جز ته یا له جز نه کل ته) په ډول هم تر بحث لاندې نیول کېږي او اثبات ته رسېږي.د کل نه جز ته بحث له لوړه پیل کېږي او په ټیټه پای ته رسېږي او محقق د قیاس پر استدال موضوع د کل نه د جز په طرف تر مطالعې لاندې نیسي.مثال:

د رحمان بابا په شعر کې د تصوف په هکله او یا رحمان بابا ته مختلفو لیکوالو صوفي لقب ورکړی دی، لکه پوهاند حبیبي، پوهاند رشتین، خادم صاحب، استاد الفت، بېنوا، روهي، دوست محمدکامل مومند او داسې نور نظریات شته، د دې ټولو نظریاتو له مطالعې وروسته ځېنې نظریات تاییدوي او ځېنې ردوي او نتیجه داسې وباسي چې رحمان بابا ډېر شعرونه عرفاني رنګ لري او ده په سیستماتیک ډول د تصوف لاره تعقیب کړې نه ده. یا ډېرو کتابونو کې ډېرو پوهانو د روښانیانو د دورې ډېرو شاعروانو ته عارفان ویلي دي او د دوی شعرونو ته عرفاني شاعري ویل شوې ده، دغه ټول نظریات د کل په ډول تر مطالعې لاندې نیول کېږي او نتیجه ګیري

کوو چې روښانیان صوفیان دي او ډېر شعرونه یې تصوفي دي نه عرفاني.

**فرضیه (د جز نه کل ته)**

د جز نه کل ته په فارسی کې (رویکرد پایین به بالا) ، په انگلیسي کې(bottom _ up approach) وایي. د جز نه کل ته اکثره قضیې د استقرایي استدلالونو په واسطه اثبات ته رسېږي. داسې فرضیې له ښکته نه پورته طرف ته بحث لاندې نیول کېږي او نوې نتیجه څرگندوي.

ډېر پوهان په دې نظر او فکر دي، چې لومړی باید د کُل اجزا وپېژندل شي او وروسته له اجزا څخه کُل تشکیل شي.

مثلاً د لوستلو په زده کړه کې لومړی حروف لکه ا- ب- پ- ج او نور وپېژندل شي او وروسته له هغوی څخه کلمه او له کلمې وروسته جمله جوړه شي او د لوستلو مهارت په دې ډول تدریس شي.

مگر د گشتالت د تیوری مطابق اول باید کلمه او جمله د کُل په توگه شاگرد ته وښودل شي او وروسته د کلمې او جملې اجزا شاگرد ته وپېژندل شي او د حروفو او اوازونو اړیکه یو له بل سره شاگرد ته د فهم او بصیرت له لارې توضېح شي.

مثلاً د یو ماشین په جوړښت کې لومړی باید ماشین د کُل په توگه وپېژندل شي او وروسته د ماشین پرزه جات، د پرزه جاتو اړیکې او دندې یو له بل څخه بېلې او ماشین په واقعي ډول تحلیل شي. له ارواپوهنې پرته په ادبیاتو کې هم له جز نه کل ته مسئله شته.

د مثال په ډول په ادب تیوري کې د غزل په تیوري بحث کوو او اراده مو وي چې د جز نه کل ته پر موضوع رڼا واچوو نو مجبور یوو چې د غزل پر پیدایښت، د پرمختگ تاریخي سیر او پایښت بحث وکړو.

پښتو ادبیاتو کې غزل په لرغونې دوره کې پیدا شو، د لرغونې دورې غزلې بېلې ځانگړنې درلودې او د دې دور د شاعرانو په غزلو کې ځینې معنوي توپیرونه لیدل کېږي چې دلایل یې څرگند دي خو د موضوع د اوږدوالي لپاره یادونه یې نه کوم. له دوی وروسته د روښانیانو د دور،خوشحال، رحمان بابا، حمید مومند او کاظم خان شیدا او په دربیمه دوره کې د روښانتیا، اوښتون، ویښتیا، سمون او داسې نورو پړاوونو غزلې د معنا او محتوا له مخې سره توپیر لري.

دا چې انسانانان ټولنېز موجود دي، د ټولنې سیاسي، اقتصادي، ټولنېز، فرهنګي، علمي، رواني، ارثي او داسې نور عوامل د ده په دننني او بېروني جوړښتونو تاثیرکوي، که شاعر وي نو هرو مرو خبره ده چې د ټولنې دغه ټول لاملونه به د ده شاعرۍ کې ښکاره کېږي، یعنې د غزل د معنوي توپیر علت او معلول تر بحث لاندې نیول او په نتیجه کې د غزل تیوري لاس ته راتلای شي.

د غزل په تیورۍ بحث له جزیاتو پیل شو او په کل پای ته ورسېد او یا له ښکته پیل پورته خوا ته لاړ.

## د فرضیه لیکنې لارښوونې

د هرې څېړنیزې موضوع په هکله له محقق سره ذهني علمي طرحه پیدا کېږي، کله چې طرحه په عملي ډول پلی شي او د کاغذ پر مخ د سوال او ځواب په ډول ولیکل شي نو دې ته فرضیه ویل کېږي، چې کله فرضیه اثبات ته ورسېږي نو دې ته بیا علمي نظریه ویل کېږي. د نړۍ اکثره لويي نظریې په همدې شان پرمختګ کړی دی.

ـ له دې مخکې چې له محقق سره طرحه پیدا شي نو هرو مرو خبره ده چې له ده سره به د موضوع په هکله بشپړ معلومات وي، کله چې د محقق سره طرحه پیدا شي او په عملي ډول يې تطبیق کړي نو دې ته فرضیه ویل کېږي. له دې مخکې چې محقق فرضیه جوړه کړي دی باید پوه شي چې په ټاکل شوې موضوع له ده مخکې کومو څېړونکیو کار کړی دی؟ کوم ډول فرضیې يې جوړې کړې وې؟ د کومو تکتیکونو نه يې ګټه اخیستې ده؟ او زما کار به کوم علمي توپیر لري؟ د کومو تکتیکونو چې ګټه اخېستل شوې ده، څومره ګټور تمام شوي دي؟

له فرضیي نه پرته تحقیق کول د وخت ضایع کول دي او محقق نه شي کولای چې په کم وخت کې ډېرو علمي سوالونو ته ځواب ورکړي.

ـ فرضیه باید د څېړنیز کار په پیل کې ولیکل شي. دا د خاکې خام مواد دي، په دومره توپیر سره چې دلته ځینې غیر علمي مسایل هم راځي، چې د علمي کار په جریان کې له محقق سره د کار ټول یادښتونه موجود وي.

ـ هره فرضیه په قیاس ولاړه وي او د نړۍ ډېر نظریات په پیل کې د فرضیې په شکل وي خو د وخت او زمان په تېرېدلو او د علمي هڅو پایله کې هغه پیش بیني

چې شوې وي اثبات ته رسېږي.(۸)

## د فرضيې ځانګړنې

د يوې ښې فرضيې لپاره لاندې ځانګړنې مهمې دي:

۱. د فرضيې د څېړنې شونتيا بايد موجوده وي اوڅرګنده، مشخصه او ټاکلې وي.

۲. د فرضيې حدود بايدڅرګند وي، چې له نورو فرضيو سره ګډه نه شي.

۳. د يوې ښې فرضيې نتيجه ښکاره او څرګنده وي او مثبته پايله تر لاسه کړي.

۴. فرضيه د ازمېښت، تجربې او مشاهدې وړتيا ولري.

۵. فرضيه څېړنې ته لورى وركړي او د څېړونكي د چارو لارښوونې وكړي.

٦. په معمولي ډول د هرې مطرحې شوې پوښتنې لپاره د څېړنې په طرح کې يوه فرضيه شتون ولري.

۷. فرضيه د بيانولو او څرګندولو ځواک ولري.

۸.ډېرې فرضيې پيش بيني ګانې وي چې بيا په نظرياتو بدلېږي.(۹)

همدارنګه د څېړنې لارښود اثرکې د فرضيي د ځانګړنې په هکله مفصلې خبرې راغلې دي چې د موضوع د شرطونو په نظر کې نيولو سره د کار خبرې يې دلته راوړم.

## د فرضيي تخصص

هر محقق بايد د خپلې علمي وړتيا او مطالعې په نظر کې نيولو سره فرضيه د څېړنې لپاره وټاکي.

که چېرې د ادب د څانګې متخصص د ادبپوهنې په برخه کې د علمي کار كولو ذكاوت ولري او دى د ادب تيوري او يا ژبپوهنې په برخه کې فرضيه جوړه او د ليكلو هڅه پيل كړي نو د ده كار به ښه پرمخ لاړ نه شي، ځكه چې دى د علم د هغې برخې په اړه چې فرضيه ورته جوړه شوې ده، بشپړه مطالعه او علمي صلاحيت نه لري.

په تحقيقاتي کارونو کې په ټاکل شوې موضوع تخصص او بيا د همدې موضوع لپاره فرضيه پيدا كول د ليكوال په تخصص کې راتلاى شي.

## د فرضیي لپاره مطالعه

د هرې کامیابې فرضیې لپاره مطالعه بنسټیز اصل دی، په تحقیقاتي علمي کارونو کې مطالعه زیات ارزښت لري او همدا شان د فرضیې لپاره هم مهم دی.

د ډېرې مطالعې له امله کولای شو چې ښه موضوع وټاکو او همدارنګه ورته ښه فرضیه جوړه کړو.

## فرضیه د ازمیښت وړ وي

کله چې فرضیه جوړه شي او پر هغه کار کول پیل شي نو دا د فرضیي ازمیښت دی، د څېړنې دوه پړاوونه دي، یوه یې د تحقیق کړنلاره او بل یې د موادو ټولول، په دې دواړو مواردو کې فرضیه ازمیښت کېږي.

فرضیه باید په داسې تصوراتو او نظرونو بنا وي چې د ازمیښت وړ وي او امکان یې د څېړلو وي او یا اثبات ته رسول یې اسان کار وي. باید له هغې فرضیې چې د شواهدو لټول په کې ستونزمن وي تر سره نه شي.

## فرضیه د تصدیق وړ وي

که چېرې د څو پوهانو رایه او نظر یوې فرضیي لپاره یو شان وي نو پوهان په اتفاق سره یو نظر ورکړي نو دغه نظر ورکولو ته په فرضیه کې تصدیق وایي. که چېرې څو لیکوال په یو اتفاق سره داسې یوه فرضیه ومني نو په حقیقت کې دا د فرضیي لپاره تصدیق دی.(۱۰)

## پایله

د هرې علمي تحقیقاتي لیکنې لپاره فرضیه جوړونه مهمه ده او د ټولو څېړنیزو جوړښتونو د ښه پرمخ وړلو او اثبات ته رسولو لپاره یوه اساسي مسئله سمه فرضیه غوره کول له پیله ترپایه محقق ته لارښوونه کوي او د محقق لپاره د څراغ حیثیت لري.

هره علمي لیکنه که دا برخه ونه لري نو شونې ده چې محقق خپل کار په سم ډول پای ته ونه رسوي.

د نړۍ ټولې پرمختللې نظریې عادي فرضیي وې خو نن د انسانانو لپاره ګټورې دي، نو د ژوند د پرمختګ لپاره حقایق کشفول د څېړنې کار دی او د هرې څېړنې لپاره مفروضه مهمه ده.

فرضيه د څېړنې حد او حدود ټاکي، علمي کار ته سرعت ورکوي او د نتيجې په لاس ته راوړلو کې مرسته کوي، محقق ته لارښوونه کوي چې له کومو موادو ګټه واخلي، کوم مواد سم او کوم ناسم دي. په څومره وخت کې علمي پروژه پای ته رسولای شي او داسې نور هغه موارد چې د څېړنې د کار لپاره مهم دي، د فرضيې لپاره مشخصېږي.

## مأخذونه


١. جاويده احمدی، روش تحقيق کتابخانه يی و اجتماعی(چاپ چهارم): انتشارات حامد رسالت، کابل، ۱۳۹۵ ل کال، ۹۵ مخ.

۲.خليل الرحمن باور، د څېړنې لارښود: بلوچستان يونيورسټي، کوټه، ۲۰۱۲ م کال، ٧٦مخ.

۳. محمد صديق روهي، د څېړنې لارښود (دويم چاپ) : د افغانستات د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز، کابل، ۱۳۸۵ ل کال، ۳۷ مخ.

۴. عبدالحميد خان عباسی، اصول تحقيق (دويم چاپ): نيشنل بوک فاونډيشن، اسلام اباد، ۲۰۱۵ م کال، ۲۲٦ مخ.

۵. سيداصغر هاشمي، د څېړنې بنسټونه: يار خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۴ ل کال، ٦۵ مخ.

٦. سيد رحمن هاشمي، عمومي ارواپوهنه: هاشمي خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵ ل کال، ۸۴ مخ.

۷. خليل ميرزايی، پژوهش، پژوهشگری و پژوهشنامه نويسی(جلد دوم) : انتشارات ازرخش، ايران، ۱۳۸۸ ل کال، ۱۵۴ـ ۱۵۵ مخونه.

۸. عبدالحميد خان عباسی، اصول تحقيق (دويم چاپ): نيشنل بوک فاونډيشن، اسلام اباد، ۲۰۱۵ م کال، ۲۳۰مخ.

۹. عبدالقيو زاهد مشواڼی، د ادبي څېړنې پړاوونه، د ادبي څېړنې اصول او لارې: سرمحقق سيدمحی الدين هاشمي په اهتمام، ژبو او ادبياتو مرکز، کابل، ۱۳۹۳ ل کال، ۱۰۵ مخ.

۱۰. خليل الرحمن باور، د څېړنې لارښود: بلوچستان يونورسټي، کوټه، ۲۰۱۲ م کال، ۷۸ـ ۷۹ مخونه.

محمد اکبر کرگر

# په فرویدېزم کې هنري لذت

## لنډیز

فروید هغه دقیق او ځیرمن لیکوال دی چې د کره کتنې په ډګر کې د نامه خاوند دی، دلته په دې مقاله کې موږ د هغه پر هنري لذت او په هنر کې باریکیو ته یې په ځیر کېدلو غږېږو.

دا چې فروید ډېر ځیرمن لیکوال دی، نو په دې لیکنه کې ګورو چې هغه د خپل همدغه تدبیر او بېلګه ییز کار له امله څنګه د شکسپیر ډرامې په هنري سترګې ګوري او بیا څنګه پر هملټ باندې د خبرو اترو لړۍ پرانیزي. دا څرګنده خبره ده د هملټ په اړه خبرې اترې یا شننه د یو داسې شخصیت او علمي هستۍ شننه ده چې آن لوی اتلان هم ورته زړه نه ښه کوي، خو ښاغلي فروید دا مسئله بې درنګه څېړلې او د هغې ټول اړخونه یې را جوت کړي دي.

په دې لیکنه کې تاسې د نړۍ ادب یوه لویه شهکاري مطالعه کوئ او ګورئ چې یو مور پلار د خپلې مینې ډالۍ څنګه په بیابان کې پرېږدي او د وړاندویونکې خبرې تر کومه ځایه رښتیا کېږي او همدغه په دښته کې پرېښودل شوی زوی ایا په رښتیا هم پلار وژني او له مور سره جنسي اړیکه کوي او که نه؟

درین نبشته شما یک شهکاری جهان را مطالعه می کنید و می بینید که والدین چه گونه تحفه محبت خود را در صحرا رها می کند و سخنان منجم تا چه راست می شود و ایا این طفل رها شده به راستی هم پدر را به قتل میرساند و به مادر خود زنا می کند؟

## سریزه

په نورو ژبو د نړۍ د ادبیاتو په اړه ډېر اثار کښل شوي او ډېرې خبرې یې خپلو لوستونکو ته وړاندې کړې دي، خو له بده مرغه په پښتو ادب کې په دې برخه کې یا سوچه کار نه دی شوی او که شوی هم کابو په نشت حساب دی، په داسې حال کې چې اوسنی عصر- تر پخوا هغې ډېر توپیر لري. د اوسنۍ زمانې ځوانان او څېړونکي نه یواځې له خپل ادب، بلکې له نړیوال ادب سره هم مینه لري او نړیوال ادب یواځې د هومر ایلیاد او اودیسې نه دي، بلکې له یوروپیدیس څخه واخله بیا تر سوفکلیس پورې ټول اثار تر دا اوسه هم مینه وال لري، خلک غواړي چې د ټرای ښځې داستان واوري، لوستونکي مینه وال دي، چې د اشیل له کیسو او د پاریس له زړه راښکونکي داستانه خبر شي، د ګلګمېش، کلیلې او دمنې او رامیاین کیسې تر اوسه هم د خلکو په غوږونو کې ازانګې کوي او بالاخره زموږ د سیف الملوک او بدري جمالې ښاپېرۍ، ادب خان او درخانۍ، شها، شهو او شهۍ کیسې تر اوسه هم د خلکو په مغزو کې هک شوي، نو کله چې موږ د خپلو فولکلوري کیسو یادونه کوو او راته د کاڼي کرښې ښکاري همداسې نړیوال داستانونه هم په نړیواله کچه د کاڼي کرښې دي او ډېر مینه وال لري.

په دې مقاله کې موږ د نړۍ ادبیاتو د یوې کوچنۍ کیسې یادونه کړې او په دې توګه مو درنو څېړونکو ته په دې برخه کې د لا زیاتو همکاریو او کارونو وړاندیز کړی هیله ده د دې برخې تشه هم یوه ورځ ډکه او زموږ ژبه پر پښتو ادبیاتو سربېره د نړیوالو ادبیاتو په ټوله معنا شاهده هم وي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دا څرګنده خبره ده چې زموږ د ادبیاتو او یا په ټوله کې د اکثرو هېوادونو د ادبیاتو پیلامه پر یونان پورې نښلوي او د یونان ادبیات بیا هغه غني او مغتنم ادبیات دي چې له ډېرو ټکرونو سره سره بیا هم موږ ته خوند راکوي او پر زړه مو کښېني، البته په کیسه ییزو داستانونو کې ځکه دیني ټکرونو ته ډېره توجه نه کېږي چې هغه د هنریت لپاره ځینې پولې تر پښو لاندې کوي او تر ډېره ښتیا هم نه وي، یعنې یواځې د لذت او ساعت تېرۍ لپاره وي، نو ځکه موږ یې په تقدسي کاږو نه تلو.

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ یو ځل بیا د نړۍ

ادبیاتو له ناویل شوو خبرو خبرو خبرېږو او یو ځل بیا د نړۍ ادبیاتو له ارزښته برخمن کېږو.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې په دې کې دي، چې د نړۍ د ادبیاتو بیا را سپړل او ترې خبرېدل زموږ د ادبیاتو په غنا او پراخه کېدو کې مرسته کوي او په ورته وخت کې زموږ ادبیات یې په خوا کې د پرتلنې لپاره هم اېښودل کېږي چې اصالت، غوره والی او کمبودی یې په نښه شي.

د دې ترڅنګ بله موخه یې دا ده چې کوم ډول ادبیات زموږ په ټولنه کې ځای لري او د مطالعې وړ دي او کوم یې نه، څنګه کولای شو چې خپل ادبیات هم نړیوال او شهکار کړو.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ د نړۍ ادبیات څه شی دی؟
- ✓ د فروید له نظره هنري لذت څه ډول لذت دی؟
- ✓ فروید کوم ډول اثار تر کره کتنې لاندې نیولي؟
- ✓ فروید د کومې کچې لیکوال دی او د هغه لیکوالي موږ ته څه راکولای شي؟
- ✓ د نړۍ د ادبیاتو مطالعه موږ ته او زموږ ادبیاتو ته څه ډول پیغامونه لري؟

او د دې ترڅنګ ځینې نورې کوچنۍ پوښتنې هم را ځوابوي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له تحلیلي، توضیحي او تشریحي میتود څخه استفاده شوې او د اړتیا په صورت کې کره کتنیز میتود هم په کې په پام کې نیول شوی دی.

## د څېړنې اصلي متن

فروید د ادبي آثارو له شننې او تفسیر سره ډېره لیوالتیا درلوده. له هغې جملې نه د ((داستایوسکي اوپلار وژنه)) اثر یې یوه نمونه ده. همدارنګه د مارې بوناپارت چې د ادګار الن پوه اثر دی یا د لیوناردو داوینچي دماشومتوب خوبونو سره تماس

نیولي دی. همداراز يې د گویته د کوچنیوالي خاطرات چې د شعر او حقیقت په رساله کې يې شننه کړې په زړه پورې ده.

فروید د ماري بوناپارت په باب یو مشهور حکم لري وایي چې هنر په عالي سطحه کې یو ((سادو مازخیستي Sadism and Masochism)) غوښتنه لري او هنري لذت درومان په لوستلو- دنندارې په لیدلو او د ناورینونو په مشاهده کولو کې ځان ښکیلول چې په پایله کې يې مرگ وي په واقعیت کې د ((من)) ارضا او خوشالول دي.

د فروید اکثر پلویان په دې ټکي تمرکز کوي چې هنر په نهایت کې د روان یو ډول سپیڅلي کول یا کاتارسیس دی. د هنر او ادبیاتو شننه په کلي توگه درې عناصرو ته پاملرنه ده او یا د هغو ترکیب ته پام اړول دي. دا درې عنصره عبارت دي له: مولف، مخاطب او د ادبي شخصیت قهرمان.

په لومړي برخه کې سره له دې چې د نن ورځې په نقد کې ورته دومره اهمیت نه ورکول کیږي، خو فروید پرې یوه رساله کښلې ده چې زیاتره اروا څېړنېز نظریات د هغه د خپلو نظریاتو د ودې او پراختیا لپاره مطرح شوي دي چې د ادبي او هنري نقد په برخه کې ډېر لږ ارزښت او اغیزمنتوب لري.

همدارنگه هغه څه چې دلته پرې تمرکز کول غواړو دا دي چې د فروید یو مثالي او نمونه او با ارزښته کار د شکسپیر دنندارو شننه او په دې لړ کې پر هملت باندې بحثونه اوخبرې اترې دي. د هملت په باب شننه د داسې یو شخصیت شننه ده چې یو قهرمان دیو سړي د وژلو وس او اراده نه لري. په واقعیت کې دهغه ((پټه اونا اگاهانه هیله اوغوښتنه ده)) هغه چې د قهرمان د پلار قاتل او د هغه له مور سره یو ځای شوی دی. د اروا څېړنې معتقدینو ته فروید یو ناپایه جاذبه لري. د فروید یو نږدې دوست ارنست جونز یو اثر لري دغه اثر نن ورځ زیات بحثونه او پوښتنې را ولاړې کړې دي. په ۱۹۷۰ کال کې ژاک لاکان د هملت په باب او د ادگار الن پوه په باب مقالې لیکلي دي چې دفروید د نظریاتو پر بنسټ دي، چې د فروید له نظره (په لنډه اشاره او د خوبونو تاءویل) دي. د هملت د شخصیت اروا څېړنه په واقعیت کې د شکسپیر شخصیت پیژندنې ته لاره کوي؛ خو د داسې شننو ستونزه داده چې د ادبي شخصیت ژوند د یو انسان په توگه متصور کیږي. نه هغه ډول چې ادبي

شخصیت دی.

له بلې خوا په ځانګړې توګه دهملت په اړوند مشکله ده چې د شکسپیر د متن له لوستونکي وغوښتل شي چې د متن په ټولو څرګندونو سترګې پټې او د هملت ناپایه مینه له پلار سره په ظاهر کې د کرکې یوه داسې پرده وګڼل شي چې هغه یې دپلار په نسبت لري؛ خو لاکان هملت د داسې کرکټر په توګه معرفي کوي چې د خپلو غوښتنو اولیوالتیا وو لاره ترې ورکه وي.

منتقدین د هملت د پلار د وژلو په برخه کې د زیاتو دلایلو یادونه کوي.

یو نظر دا دی چې د مسیحي دیانت له مخې بدل اخیستل رسماً یو غیر اخلاقي عمل دی. هاملت هم له دې امله د اخلاقي ناروا و سره مخامخ دی. ځینې وایي چې هملت د فکر کولو اوتامل سړی دی؛ یعنې زیات فکر کولو ته لیوال دی نه کړنو ته.

دریم احتمال دا دی چې هاملت یو خپه او غم ځپلی ځانګړنه لري. د ځان وژنې او له خپګانه ډک افکار اود انسان رذالتونه اوشرارتونه په پرله پسې توګه د هغه د وجداني نارامي سبب کیږي، نو دهغو پر وړاندې ځان عاجز بولي اوعمل نه شي کولي.

د زیګموند فروید د نظر له مخې د هاملت په افسانه کې د ادیپ د شهزاده افسانې محتوا صدق کوي:

د ادیپ افسانه څه ده ؟

فروید ویلهم فیس ته په خطاب کې وایي:

(( یواځینی او ډېره با ارزښته مفکوره راته روښانه شوه. زه هم په ناروغانو اوهم په خپل ځان کې دمنظمو او مرتبو روښانونو په کشفولو کې چې له مور سره دعشق اوله پلار سره رخه کولو پورې اړه لري، را روښانه کیږي چې دا یوه عامه پیښه ده اود ماشومتوب دپیل په دوران کې شامله ګڼل کیږي. ))

د ادیپوس کاملکس د فروید کشف دی. د هغه په عقیده نارینه ماشوم د ۳ او ٦ کلونو په منځ کې له مور سره یوه شهودي لیوالتیا لري او له پلاره کرکه لري. له پلاره ډار لري چې (ختنه) یا (خصي) یې نه کړي. یا یې جنسي تذکیر اله له منځه یو نه سي. فروید په دې باور دی چې ادیپي هڅې عامې دي.

د سوفوکلس ادیپ شهزاده یو په زړه پورې اساطیري داستان دی. ادیپ دلایوس اوژوکاست دواړو چې دتب پادشاه او ملکه وه زوی و. د یوه وړاند ویونکي د اټکل له مخې چې کله دهغه زوی لوی شي خپل پلار به ووژني اوله مور سره به زنا وکړي. نوله زیږون وروسته هغه په غرونو کې پریږدي چې هلته مړ شي. یو شپون هغه ژغوري او له ځانه سره یې یو بل ښار ته وړي. د هغه ځای پادشاه او ملکه نوموړی د زوی په توګه مني او روزنه یې کوي. ادیپ له وړاندوینې خبرېږي اوپه دې باور دی چې دا د هغه ریښتیني پلار چې له خطر سره مخامخ دی نه دی، نو له هغه ښاره هم تښتي. دسفر په ترځ کې د لایوس سره مخامخ کېږي له هغه سره شخړه کوي او لاوس وژني .

ادیپ په دې لړ کې د تب ښار له هلاکیدونې لعنت نه ژغوري او د تب دپادشاه له کونډې ((ژوکاست)) سره واده کوي. په واقعیت کې بالاخره په دې خبره یې سر خلاصیږي چې خپل پلار یې وژلی او له مور سره یې واده کړی دی. کله چې هغه له دې جنایت نه خبرېږي، په وحشت کې لوېږي. ځان ړندوي او له تب نه تښتي او په یو سر ګردانه سوالګر بدلیږي. (۱.۲۷۲)

د ادیپوس ننداره یوه ډېره مشهوره تاریخي، فلسفي او ارواپوهنیزه هستونه ده. فروید د هغه مطالبو له مخې چې له ناروغانو یې اوریدلي وو یادښتونه یې اخیستي وو. د خپلو روان څیړنو څخه دې پایلې ته رسېدلې و چې موږ په نا خبره توګه د دې داستان له ماهیت نه پوهیدای شو چې: ټول نرینه هلکان په یوه پیچلي او مرموزه توګه چې ویل کیدای شي په ډېره عجیبه توګه ددې لیوال وي چې پلار ووژني او له مور سره یو ځای شي (اودیپوس کامپلکس). له همدې امله ټولې نجونې دا لیوالتیا لري چې له موره ځانونه لرې کړي او له پلار سره نږدې شي. (الکترا ). دا ډول تخیلات اوفانتیزي ګانې په دومره اندازه له ناورینه ډکې دي چې ښایي د نا اګاه شعور په تل کې ښخ پاتې شي او بیا د ټول ژوندانه په جریان کې شخړې او سخت تیري او ناورینونه را منځ ته کړي. خبره داده چې فروید څرنګه دې طرحې او پایلې ته ورسید ؟

د فروید فکري غنا دې ته ورته وه چې د ۳ او۴ کلونو په شاوخوا کې یې ماشوم داسې احساس کوي چې دمور اراموونکي پاملرنه اوساتنه په بشپړه توګه په هغه

پورې ځانګړې نه ده. بلکې لازمه ده چې هغه د مزاحم شیدې خوړونکي په توګه په تیره بیا له پلار سره چې زوی ترې خپه او رنځېږي او غواړي هغه له مخې لرې کړي، اړونده ده.

نرینه ماشوم په نا اګاهانه توګه د پلار دوژنې هیله لري. سره له دې که پلار له ماشوم سره مینه هم ولري، خو په نااګاه شعور کې یو څه شته.

کله چې زوی پوه شي چې پلار ځواکمن دی او پر هر څه خبر دی او په دې هم چې لور د تذکیر اله نه لري نو ډاړ پیدا کوي چې هغه له منع شوو افکارو او احکامو (تابو ) څخه خبر دی فروید په دې باور و چې اخلاقي وجدان په نارینه وو کې له پلار سره د اډیپي سیالۍ په له منځه تللو سره تر لاسه کېږي.

د فروید په عقیده د اډیپ اسطوره د انسان دروانې ودې د یو مهم پړاو مظهر ده، هغه وايي چې نرینه ماشوم دژوند په خاص پړاو کې له ماشومتوب راهیسې د پلار د وژلو او له مور سره د یو ځای کېدو تلوسه او لیوالتیا لري چې دې ته د اډیپوس کامپلکس هم وايي. نرینه فرد په ناخبرې توګه دا غوښتنه لري، خو په پایله کې هر څه یعنې ګناه او د شرم احساس د هغه د غاړې غاړه کې کېږي. د دې هیلې را ټوکیدل اوجوړیدل دماشوم د ودې لومړی پړاو دی چې دجنسي تمایلاتو د پخیدو پر لور حرکت کوي. له دغه وخته تر مخه یعنې کله چې ماشوم د اډیپي پړاو نه تر مخه پړاو تیروي یواځې له مور سره مینه لري. پلار د ماشوم د رقیب حیثیت لري.

همدا ډول د هلک د خصي توب خطر نرینه ماشوم دې ته رابولي چې له مور سره د یو ځای کیدو لیوالتیا (چې یو ناخود اګاهانه عمل دی) له سرنه بهر کړي.

د فروید په عقیده کله چې ماشوم لوییږي او بلوغ ته رسیږي د خپل اډیپي رواني ودې پړاو په بشپړه توګه شاته نه غورځوي، بلکې د هغه غوښتنې اوتمایلات په کې په ځپل شوې توګه د ناخود اګاهانه تمایل په توګه پاتې کیږي او بیا له مور سره له مینې کولو ډډه کوي، خو دغه رټل شوې امیال له منځه نه ځي، بلکې په پټ ډول د یو بحراني حالت په راپیدا کیدو کې تم کیږي. په بل عبارت د بریالي بلوغ لپاره ناچاره کیږي چې لویه بیه ورکړي. که هلک د اډیپ په غوټه باندې په غلبه حاصلولو کې برې ته ونه رسیږي، نو په ناسالم ډول له مور سره مینه کوي او د ژوند

په وروستي پړاو کې په مخالف جنس باندې زړه بايلل ورته سختيږي. (۲ـ ۱۲٦ )

دا جوته ده چې دفرويد داديپ نظريه د هاملت له ننداري او په خپله د هاملت له کرکټر سره څه رابطه لري ؟

يوه خبره هم د نامتعادلو شخصيتونو هغه ده. فرويد وايي چې سره له دې چې هاملت په خپل تن او ناخود اگاه کې اديپي پړاو په بشپړه توگه ځپي خو په ژوند کې ژور بحرانونه د هغه د تمايلاتو دبيا ظهور او را برسيره کيدنې سبب کيږي. د ژوند په لومړي پړاو کې د پلار له وژلو خبريږي دا خبر هم په هغه (هاملت) کې د بيا را هڅونې سبب کيږي.

د رامين سلدن په نوم يو منتقد او د نورو منتقدينو په نظر د هاملت اصلي ځانگړنه د هغه جنون دی. هاملت خپل دوست او ملگري ((هوراشيو)) ته وايي چې غواړي عجيب او حيرانوونکي چلند خپل کړي. د ننداري په ځينو صحنو کې خپل عادت له لاسه ورکوي، خو دا معلومه نه ده چې واقعي چلند دی اوکه مصنوعي ـ سره له دې چې هغه د خپل ژور خپگان لپاره ډېر دلايل لري او په قصدي توگه وايي چې نا معموله چلند کوي.

د ياد کرکټر له ناخود اگاه شعور نه ځپل شوي توکي او مسايل په تحريف شوو شکلونو را څرگنديږي او د هاملت ځپل شوې غوښتنې هم په دې ډول ځان را څرگندوي. هغه په خپله وايي چې له دروني پېښو څخه خبر دی چې له ظاهري خپگانونو نه ډېرې زياتې ژورې ريښې لري: ((زما په دننه کې داسې څه شته چې نه را برسيره کيږي. ))

د خپگانونو ظاهري نښې نښانې (( تور کالي، ماتمونه او اوښکي تويول)) د غمونو يواځينی بيان نه شي کولي. يواځې دلايل ((يعنې کلمات چې هاملت له هر ډول معنا پرته يې په خوله راوړي، په حقيقي توگه د هغه خپگان ښيي. هاملت پوهيږي چې د هغه د مور په چټک واده کولو کې چې دخپل ميړه له ورور سره يې وکړ، د هغه لپاره نارامه کوونکي او ناوړه کار وو. )) خو د هغه دروني رنځ او کړاو دومره ژور دی چې ان د روح اظهارات هم نه شي کولی هغه په بشپړ ډول شعوري برخې ته را وباسي.)) (۲ـ۱۳۲)

فرويد وايي:

د يوې مشهورې ليدتوگې له مخې پلار وژنه د بشريت لومړی جنايت او

ډېره مهمه ګناه ده چې د فرد له خوا تر سره کیږي. (د فروید دتوتم اوتابو کتاب وګورئ هلته دا مسئله په تفصیل بیان شوی ده ) په هر حال! پلار وژنه دګناهونو اصلي او لومړنۍ سر چینه ده. سره له دې چې ډاډه نه یم چې یوائینی علت دی تر اوسه څېړونکو ونه شول کړای د ګناه ذهني زمینه او د هغه د جبران لزوم په پریکړي توګه مشخص کړي. پر دې اساس ددې اړتیا نه شته چې پلار وژنه د ګناهکارۍ د احساس یوائینی دلیل دی. دا رواني حالت پیچلې دی اوسمونې ته اړتیا لري. له پلار سره د زوی اړیکې په اصطلاح ((دوه ګوني)) دي.

هلک یا زوی له پلاره کرکه لري او د هغه د له منځه وړلو غوښتونکی دی، خو بیا هم ورسره مینه کوي. په ذهني توګه د دغه دوه لیدتوګو ترکیب له پلار سره د یو والي سبب کیږي. زوی په دې هڅه کې وي چې د پلار موقعیت تر لاسه کړي، یو دلیل دا دی چې پلار د ستاینې وړ بولي او غواړي چې د هغه په څیر وي. بل دلیل دا دی چې غواړي هغه له منځه یوسي، هغه مهال د دغه تکامل پایله په خپل وړاندې د ستر خنډ سره مخامخ کیږي. په یوه خاصه مقطع کې هلک پوهیږي چې که هڅه وکړي خپل پلار د یو رقیب اوسیال په توګه له منځه لرې کړي. پلار به هغه د سزا په توګه خصي کړي، یعنې نرینه توب به یې له منځه یوسي. د دې ډار له مخې هلک لیوالتیا لري چې له مور سره د نږدې والي لپاره پلار له منځه وړلو څخه ډډه وکړي، نو په نا خود اګاه شعور کې د دې مثال موجودیت د ګناهکارۍ احساس را منځ ته کوي. زموږ په عقیده هغه څه چې وویل شول د اديپ د غوټې عادي پایلې دي، اوس لازمه ده چې نور مهم ټکي پرې ور زیات کړو.

فروید په ((داستایوسکي او پلار وژنه)) په اثر کې وایي:

دا به ستونزمنه وي چې دبشریت دتیرو ټولو دورانونو درې واړه ادبي شاهکارونه (دسوفوکل اديپ شهریار ـ د شکسپیر هاملت ـ او د داستایوسکي دکارامازوف وروڼه ) دتصادف له مخې یو ډول پلار وژنه تشریح کوي. پر دی سربیره په درې واړو یادو شوو اثارو کې ددې عمل دارتکاب انګیزه (د یوې ښځې د ترلاسه کولو لپاره جنسي انګیزه ) جوتوي. (۳- ۲۵ )

سره له دې چې د اوديپوس کاملکس او الکترا کشف د فروید یو له مهمو کشفونو څخه دی، خو وروستیو اروپوهانو او فیلسوفانو دا بشپړ نظر نه بولي، همدا

شان دجنسې مسئلې اولویت باندې نیوکه کوي، خو دلته زموږ کار یواځې د هاملت په برخه کې یو لږ راسپړنې وي، د هاملت داستان لکه نور هغه د بشریت د یو لږ مهمو ستونزو بیان دی.

داو دیپوس او دکارامازوف ورونه په څیر خپل تاریخي اوستر فرهنګي اغیز او بیان لري.

## پایله

په ټوله کې ویلای شو چې فروید د نړۍ ادبیاتو تر ټولو لوی متخصص او څانګوال دی هغه د هملټ اثار ډېر دقیق لوستي په دې برخه کې یې ډېر ښه تحلیلونه او شننې کړي او بالاخره د نړۍ د ادبیاتو په نبض پوه انسان دی.

دی چې کله په دې اثر کې په کومو موضوعاتو بحث کوي په حقیقت کې هغه د انساني ټولنې غوښتنې دي او که موږ یې خپلې خوا ته را کاږو، نو تر ډېره په کې اسلامي ارزښتونه هم تر سترګو کېږي، په دې معنا نوی زېږېدلی ماشوم چې د سحرا مېلمه او د بل ښار د واکمن په لاس لوی شوی وي د وړاندویونکې د څرګندونو پر خلاف نه پلار وژني او نه هم له مور سره زنا کوي، خو دا چې د وخت او حالاتو مجبوریتونه وي، نو ځکه د پلا ښار له خاورو سره خاورې کړي او هر څه دل او دول شي.

دا سمه خبره ده چې ځینې مسئلې لکه څنګه چې دي هغسې نه وي، خو په ټوله کې ادبیات هم خپل جوړښت لري او د ادبي جوړښتونو او داستاني مجبوریتونو له امله کله ناکله د حقیقت له دایرې لرو ډېر وځي او هغه څه وایي چې کله ناکله یې انساني عقل ته منل هم ستونزمن وي، خو په ټوله کې د نړۍ ادبیات باید پښتو ژبه کې زیات، پراخ او د مطالعې وړ وګرځي او له خاصو تر عامو را ورسېږي، خلک ترې خبر شي او په رڼا کې یې د خپلې ژبې د ادبیاتو پر ارزښت هم پوه شي.

## مأخذونه


۱.شارون هلر. دانشنامهٔ فروید.(ترجمه مجتبې پردل): مشهد.ترانه ،سال ۱۳۸۹.

۲.رامین سلودن.نمایشنامه ء هاملت. (نقد روانکاوانه ) (ترجمهءحسن پاینده ): ارغنون،شماره ۴.چاپسوم. تهران:سال ۱۳۹۰

۳.زیګموند فروید.داستایوسکي وپدر کشي. (برګردان.حسین پاینده )

لیکوالان: جیف جاینس، روتن رید
ژباړن: شفیق امیرزی

# د لیکوالۍ آرونه

**لنډیز**

په دې وروستیو کې ګورو چې د لیکوالۍ چاره حتا په اکاډمیکو موسسو کې هم چندانې په پام کې نه نیول کېږي، له بده مرغه ټکنالوژۍ نه یوازې په ټولنیزه برخه کې یې د ګڼو ترڅنګ زیانونه اړولي، بلکې فرهنګي برخه یې هم زیانمنه کړې ده، ننني ځوان کول تر ډېره خپل وخت پر فیسبوک، انستاګرام او دې ته ورته ټکنالوژيکي وسایلو او ښکارندو باندې تېروي او له همدې امله یا یې لیکوالۍ ته چندان توجه نه وي شوې او یا یې هم دقت ته ډېر فکر نه وي، نو دا ژباړه ما په دې خاطر وکړه چې یو ځل بیا د لیکوالۍ ارزښت ته ځیر شو، د ځېړنې پر اصالتونو پوه شو او دا را په یاد کړو چې زموږ له ادرسه باید ولس ته څه ډول لیکنې ورشي.

د دې ترڅنګ ځینې خلک له لیکوالۍ سره ډېره مینه لري او تل یې په اړه لوستل کوي، خو لږ تر لږه یې کله هم د دې جرئت نه دی کړی، چې لیکل وکړي، دا لیکنه له هغوی سره په دې برخه کې مرسته کوي، چې څنګه لیکل وکړي او څنګه یې پیل کړي.

**سریزه**

دا مشهوره مقوله ده چې لیکوال د ټولنې سترګې دي او دغو سترګو یا په ټوله کې دغې پدیدې په نړۍ کې ستر انقلابونه زېږولي، ځکه د همدغو سترګو په وسیله ذهن ته لار شوې او د همدغو سترګو په وسیله فکرونو ته لوري ورکول شوي، دا منل

شوې خبره ده کومې ټولنې چې فکر نه لري، لکه ماشیني انسانان یې فکري ټولنې یا فکري انسانان استعمالوي، نو ځکه دا فکري لړۍ هلـه پـه انسـان کـې پیـدا شي، لویه شي او وپالل شي، چـې کلـه انسـان د لیـک او لیکـوالۍ سره مینـه پیـدا کـړي. البته په دې کې شک نه شته چې لیکوالي، لیک او لوستلو ته اړتیا لري، چې څومره لیکې هغومره به مطالعه هـم کـوئ او چـې څـومره دې مطالعـه پراخـېږي پـه هماغـه اندازه دې په لیک کې زور او ځواک هم پیدا کېږي، نو په دې مقاله کـې د لیکـوالۍ ټول آرونه او اصول بیان شوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لیکوال او نـا لیکـوال څـه توپیر لري، د لیکوال ځای ځایکی په ټولنه کې څه دی، څنګه کـولای شـو لیکـوالي عامه او پراخه کړو او څنګه یې د پختګۍ مرحلې ته ورسو.

یعنې که مسلسل او د یو مهالوېش له مخې هـره ورځ لیکـل وکـړو او پـه هماغـه شېبه کې یې په اېدېټ ځان سترې نه کړو، نو بې له شکه موږ د لیکـوالۍ د پختګـۍ پر لور ګامونه پورته کوو، خو که چېرې مو بې له اېډېټه خپره هم کړه، نـو بیـا لـه زوال سره ځان مخامخوو.

## د څېړنې موخې

هره چاره د یوې موخې لپاره ترسره کېږي او لیکوالي خو ښکاره خبره ده چې د عامه اذهانو د بېدارۍ لپـاره کـېږي، مـوږ پـه دې لیکنـه کـې د لیکـوالۍ پـه ارونـو او اصولو ځان پوه کول غـواړو او موخـه یـې هـم همـدا ده چـې ولـس لـه دې کـړکېچن حالت نه پرې را وباسو.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې پوښتل شوي:

- ✓ لیکوالي څه شی ده؟
- ✓ څنګه لیکوالي کولای شو؟
- ✓ لږ تر لږه باید د ورځې څومره لیکل وکړو؟
- ✓ ایا د سوژې د نه موجودیت په صورت کې هم لیکل کولای شو؟
- ✓ څنګه عادي لیکنې پر څېړنیزو لیکنو بدلې کړو؟

دا لیکنه دا او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې را څوابولای شي.

## د څېړنې روش

لکه څنګه چې جوته ده دا لیکنه یوه ژباړه ده، خو تر ډېره یې میتود پر تحلیلي، تشریحي او توضیحي ولاړ دی.

## د لیکوالۍ آرونه او قواعد

لیکوالي کوم جادویي یا عرفاني عمل نه دی، یوازې پرېکړه وکړئ، پورته شئ او په کار پیل وکړئ؛ پر څوکۍ کښېنئ، ګوتې مو پر کېبورد کېږدئ، لیکل پیل کړئ.

تر ډېره هغه لیکوالان چې نن د نړۍ په کچه مشهور دي؛ ښایي یوه کلمه به یې هم نه وه لیکلې، ښایي دوی به د لیکوالۍ په اړه په څه نه پوهېدل خو لیکولان شول، په لیکوالۍ کې پرېکړې او پیل ته یې اړتیا ده؛ ډېر داسې کسان به پېژنئ چې د لیکوالۍ په اړه یې مطالعه کړې ده، کتابونه یې لوستي خو آن یوه کلمه یې هم نه ده لیکلې، لیکوالي یوازې پرېکړې ته اړتیا لري ما مخکې هم وویل چې لیکوالي روحاني وړتیا یا کوم جادویي کار نه دی.

## د لیکوالۍ بنسټ؟

د لیکوالۍ بنسټ (کلمه ده). تاسې به مخکې په دې اړه پرېکړه کړې وي چې یو کتاب ولیکئ، وخت تېر شوئ، کلونه تېر شوي دي، خو کتاب مو نه دی لیکلی یا مو کله غوښتي چې یوه مقاله ولیکئ، خو همداسې پاتې شوې پوره کړې مو نه ده. دا کتاب او مقاله ولې نه دي پوره شوي؟

څکه تاسې لویه موخه ټاکلې. مخکې له دې چې د کتاب د لیکلو په اړه په پوره تګلاره او پلان فکر وکړئ تاسې یو ځلي د یوه کتاب لیکلو ته ملا تړلې، په دې توګه ستاسې فکر او ذهن ستړی شوی. لیکلو ته مو سترګې سپینې شوې دي. په دې اړه فکر کوئ چې اوس به څنګه یو کتاب په یوه میاشت یا یوه مقاله په یوه ورځ یا یوه اونۍ کې لیکم، خو داسې نه ده د کتاب او یا یې یوې علمي مقالې لیکل د یوې ورځې او یوه ساعت کار نه دی، د لیکلوالۍ په اړه په یوې خبرې زه باوري یم هغه دا چې ګام پر ګام مخ ته لاړ شئ، له وړو ټوټو پیل وکړئ، اول کلمې څنګ تر څنګ کېږدئ، جملې جوړې کړئ، پراګرافونه پوره کړئ په همدې توګه د خپل

کتاب هره برخه برابره کړئ. مخکې له مخکې باید دا فکر درسره وي چې په څومره وخت کې د خپل کتاب څومره برخه باید برابره کړم. د دغې برخې په اړه غوارم یو شعار ورکړم هغه هم دا چې: (لیکوالي له کلمو پیل کړئ یوه یوه کلمه ولیکئ)

## هڅه وکړئ چې خپل کار وکړئ

زه یو کتاب لیکم. هغه د مرگ په اړه دی، کېدای شي ما ته ستونزه جوړه شي زه ډارېږم چې که زه ناروغ شم یا – پر ژوند باور نه شته ـ که مړ شم نو دا کتاب به همداسې نیم پاتې شي یا له دې هم ډارېږم چې که کتاب چاپ شو د نقادانو له غبرگون سره به مخ شي ستاسې په نظر زه اوس څه وکړم؟

همداسې په ډار کې ژوند وکړم؟ که داسې وکړم نو ښايي کتاب لیکل رانه پاتې شي، د کره کتونکو له ډاره هر څه پرېږدم؟ که د دوی له ډاره په کتاب کې ادلون بدلون راولم، نو بیا زما د فکر معنا څه شوه؟ ښايي د خپل زړه خبرې مې نه وي لیکلې، نو ستاسې په اند زه څه وکړم؟

هېڅ نه کوم یواځې خپل کار کوم، د نقاد له وېرې د کتاب لیکل نه پرېږدم. د خپل مرگ له وېرې د کتاب لیکل نه پرېږدم. یواځې غوارم دا پروسه پای ته ورسېږي او زما کتاب ولیکل شي؛ زه هېڅ نه کوم هره ورځ خپل کمپیوټر ته مخامخ کښېنم او ۵۰۰ کلمې د خپل کتاب پر متن ور زیاتوم. همدا ښه کار نه دی؟

هره ورځ یواځې ۵۰۰ کلمې ولیکئ؛ دا کار ډېر کم وخت نیسي. او پنځه سوه کلمې هومره شی هم نه دي، خو که د یوه منظم مهال ویش له مخې هره ورځ ۵۰۰ کلمې ولیکئ ۳۱ ورځې وورسته به هرومرو له هغه یو څه جوړ شي، که تاسې غواړئ چې ۵۰۰ کلمې لیکل وکړئ ښايي ځای ته په کتو مو د ۳۰ تر ۶۰ دقیقو وخت ونیسي، خو که همداسې دا لړۍ اوږده کړئ د ۹۰ ورځو په اوږدو کې تاسې یو کتاب لیکلی شئ، زه مې د نوي کتاب د پای ته رسولول لپاره دغه پلان لرم چې هره ورځ به ۵۰۰ کلمې لیکم او په ۹۰ ورځو کې به خپل کتاب پای ته رسوم، لیکوالي همداسې کمال دی، هره ورځ هره اونۍ او هره شېبه باید یو څه د لیکلو لپاره ولرې په همدې توگه د لیکوالۍ کانونو د گران بیه څېزونو د را ایستلو لپاره تمرین ته اړتیا لرئ، هره ورځ ۵۰۰ کلمې لیکل د لیکوالۍ د ورځني تمرین لپاره تر ټولو ښه لاره ده، هم اسانه ده او هم دومره وخت نه نیسي له ۳۱ ورځو وروسته به ستاسې مهارت

پوره څرګند شي ستاسې لیکوالي به پوره پرمختګ وکړي، پر ځان به مو باور ډېر شي او په دې به پوه شئ چې دغه لنډ تمرین ستاسې په وجود کې څومره توپیر راوستی دی.

د خپلو راتلونکو لیکنو لپاره دا درې عادتونه ولرئ په دې توګه به مو لیکوالي پراخه او قوي شي بیا هم وایم (لیکوالي کوم روحاني یا جادویي کار نه دی) یواځې پرېکړه وکړئ چې هره ورځ به یو څه لیکئ.

**لاندې عادتونه ولرئ**

- ۳۱ ورځې هره ورځ ۵۰۰ کلمې ولیکئ.
- تاسې تر دې ډېر لیکل هم کولی شئ، خو ۵۰۰ کلمې پر ځان حتمي وګنئ.
- په لومړي سر کې ابډېټ مه کوئ یواځې ولیکئ.
- که مو یوه ورځ یاد عادت هېر کړ یا مو کومه ستونزه لرله همدا چې وخت مو پیدا کړ هغه جبران کړئ.
- کولی شئ خپلې لیکنې پر فیسبوک یا وېبلاګ شریکې کړئ.

وروستۍ خبره مې دا ده چې ( لیکوالي پیل کړئ هغه وړیا ده، خو بېل خوند لري.)

**ولې لیکوالي کو؟**

تاسې پوهېږئ چې ولې لیکل کوئ؟ ښايي دا ستاسې په ژوند کې تر ټولو مهمه پوښتنه وي، خو ښايي تر اوسه مو ځواب هم نه وي ورکړی ولې؟ زه پوهېږم چې یوه ورځ به دا پوښتنه یو څوک له تاسې وکړي؛ کېدای شي په خپله دا پوښتنه له ځانه وکړئ، چې ولې لیکل کوئ؟ هغه وخت به دا پوښتنه ستاسې لپاره حیاتي وي؛ نو ښه به وي چې اوس له ځانه دا پوښتنه وکړو، ولې او د څه لپاره لیکل کو؟

د دغې پوښتنې ځواب چې (ولې لیکل کوې؟) ښايي ما ته آسانه وي، په مقابل کې ښايي یو کس له ما پوښتنه وکړي چې ولې څښاک او خوراک کوې؟ ولې به دا پوښتنه نه کوي ځکه د ربښتیني لیکوال لپاره لیکل همدومره اړین دي، په همدې پایي، نو تاسې به هم ووایئ چې لیکوالي د ژوند اړتیا ده؛ که دا پوښتنه څوک له ځانه ونه کړي داسې ده لکه په یوه نامعلوم لوري چې وزرې وهي، خو دا

ځوابونه ښايي يو څه سم وي خو پوره نه دي.

لیکوالي ستاسې په وجود کې د ننه د يوه دوست او ملګري په څېر ده، خو دا دوستي هله پر يوه بمب بدله شي کله چې ستاسې به وجود کې شته اوږدېټر له تاسې پوښتنه وکړي (دا دې ولې لیکلي؟) دغه وخت به مو هغه بم په مغز کې انفجار وکړي او هر څه سر به ګډوډ کړي.

## د لیکوالۍ په اړه ترخه او ساړه حقیقتونه

يوه ورځ به راځي چې خپل فکرونه او سوژې درته وحشي- او حيواني ښکاره شي، خپل سبک به داسې درته ښکاره شي لکه په زور يې چې پر خلکو منې، کېدای شي خپل لیکل درته عجيبه ښکاره شي يا داسې فکر هم ستاسې مغز ته لارې کولی شي چې ستاسې ليکنې لا تر اوسه ځواني نه دي، يو وخت به مو په ذهن کې يو څوک دا خبره زمزمه کړي چې هسې دې وخت لګوې، يوه ورځ به څه لیکئ تاسې به له ځانه پوښتنه وکړئ دا به څوک ولولي که نه؟ ستاسې په ذهن کې يو څوک درته وايې، (نه) ايسته يې غورځوئ.

په شاوخوا کې مو ښايي هر څوک ستاسې د ليکوالۍ ملاتړي نه وي، کله چې مور او پلار ستاسې د لیکوالۍ پر وړاندې دربېري دا يو بل بم دی چې چوي، کېدای شي ورور، خور يا بل نږدې کس مو هم په دې پوه نه شي چې ليکوالي ستاسې لپاره څومره ارزښت او معنا لري.

تاسې ته به شک پيدا شي چې ښايي زما دوستان او ملګري زما ليکنې خوښې نه کړي، خو د نورو ليکوالانو به خوښوي؛ دا هر څه يوه (شک بم) ته ورته دي چې د هرې پوښتنې په را پيدا کېدو يې د چاودنې امکان شته او هرڅه ورانولی شي.

نو په هغه وخت کې د دغې پوښتنې ځواب تاسې ته اړين دی، کله چې دا شک بمب چاودنې ته نږدې شي ښه ده څو پر دې پوه وئ چې ولې ليکل کوئ، نو په دې توګه به د دغې شک بمب تارونه شنډ کړئ او مخکې له دې چې تاسې له منځه يوسي د هغه شنډولو ته به مو لاره چاره موندلې وي.

دا چې ولې لیکل کوو ٦ دليله لري:

دا شپږ دليلونه بسنه نه کوي کېدای شي نور هم وي خو دا يو څه له تاسې سره مرسته کولی شي پوه شئ چې ولې ليکل کوئ.

۱. **د نورو لپاره لیکل کوو:** ژوند یوه لیوني سرک ته ورته دی، ځاګان، کوږ کیږ والی، ګرزندي او د وختونو اوږدوالی د سرکونو اوږدوالي ته ورته دی چې ډېر کله د دې امکان شته چې د لارې په اوږدو کې تېرونه وچوي، خو کېدای شي تر یوې کچې دا لارې او کږلیچونه موږ تجربه کړي وي او د ژوند له سرو تودو راتېر شوي و، نو دا چې زموږ له تجربو نور خلک ګټه واخلي او دا اوږده لاره په آرامه ووهي د هغوی لپاره لیکل کوو، خپلې تجربې دوی ته لېږدوو، په دې توګه به دوی هم له دې تجربو کار واخلي او لاره به پیدا کړي زموږ تجربې به دوی ته د لارښونې ترافیکي اشاره وي.

دا یو دلیل شو چې موږ لیکل کو، ځکه موږ فکر کوو چې زموږ لیکلي شیان نورو ته مهم دي او کېدای شي هغوی ته د لارې مشال وي.

۲. **د ځان لپاره لیکل کوو:** لیکل لکه د ژوند هر ګټور عادت ستاسې وجود او روان ته ګټه لري، دا چې لیکل کوې لکه ځښاک، خوراک او خوب ستاسې وجود ته آرام بخښي.

- **لیکل استرس کموي:**
- په لیکلو کولی شئ خپل احساسات قوي کړئ او هغوی ته ارزښت ورکړئ
- لیکل له تاسې سره مرسته کوي چې په خپل وجود کې له ځینو وحشي- فشارونو او دروغو خلاص شئ او یو ډول سکون پیدا کړئ.
- لیکل له تاسې سره مرسته کوي چې د ژوند په زړه پورې او خواږه اړخونه ووینئ.
- لیکل له تاسې سره مرسته کوي چې په خپل وجود کې شته کانونه را وباسئ، له هغې کار واخلئ او د وجود له تیاره ځایونو داسې ډېوې را وباسئ چې ستاسې او نورو لپاره د لارې مشال وي، له خپل وجود نه ګران بیه مرغلرې را وباسئ څو هلته پاتې نه شي.

جوزف ګوردن لویت وایي:

لمر د یوائیتوب ستوری دی، کله چې د خپلو ملګرو لیدو ته سر را ښکاره کړي، هغه تېول ورک شي.[i]

۳. **د کیسې جوړول:** موږ ډېر وخت د دې لپاره لیکل کوو چې په خپل ذهن

کې خيالي نړۍ د يوې کيسې په بڼه نورو ته ورسو، که دا کيسه حقيقي هم وي، خو کومه ستونزه نه ده؛ مهمه دا ده چې موږ غواړو هغه وليکو، د ليکلو تر څنګ بايد موږ په دې باوري وو چې کولی شو په خپل ذهن کې شته احساس نورو ته ولېږدو، نو کار پيل کوو او کيسه ليکو.

ستاسې په اړه نه پوهېږم خو زما ژوند د کيسو تر مستقيمې اغيزې لاندې دی، کله چې ځوان وم کيسو راباندې اغيز کاوه، خپل هر څه مې د کيسو تر اغيز لاندې و، زه عجيب شی وم، وزن مې ډېر و، ښه ملګري مې نه لرل، ويلی شم چې منفور وم، تر ډېره وخته مې هيڅ کوم ملګری نه لاره، خو د کيسو په لوستلو مې قوت پيدا کړ، د کيسو په لوستلو ما وکړای شول خپله خفه نړۍ له خوشاليو ډکه کړم او خپل تياره ژوند له رڼاوو ډک کړم، ځکه ما ځان د کيسې تر اغيزې لاندې راوستی او د کيسې لوستل ما ته خوند راکوي، ما او د هغو کيسو اتلانو چې ما لوستلې وې يو ډول ژوند لاره له خوښيو او اتلوليو ډک ژوند و.

نو ډېر کله موږ غواړو خپلې تجربې د کيسو په وسيله نورو ته ولېږدو، دوی ته مثبته روحيه ورکړو، په دې توګه موږ غواړو درمل او دولت له نورو سره وويشو.

٤. **د ښکلا لپاره ليکل کوو:** هنر ښکلی دی، کلمې هم ښکلې کېدای شي، آن که له ډېرو بدرنګيو هم خبرې کو، خو ښکلې کلمې پر غوږونو ښې ولګي، کله چې د غم او خفګان تر څنګ تېرېږو همدا کلمات او ښکلاوې له موږ سره مرسته کولی شي چې هر څه وزغمو، نو کلمې ګرانبيه دي، ارزښتناکې دي.

ليکوال ځينې کلمات راوړي، دا کلمات چې وليکي زړه يې سپک شي؛ کله کله داسې هم کېږي چې يو څوک ورته د کومې کلمې د بدلولو وړانديز وکړي، خو دی وايي چې په دغه جمله کې همدا کلمه خوند راکوي، دا هغه څه دي چې د کلماتو ښکلا ښيي او معلومېږي چې کلمې سړي ته آرام بخښي.

په دې توګه غواړو د ښکلا ټولې غوښتنې چې زموږ په ذهن کې دي په خپلو ليکلو آثارو کې پيدا کړو او هلته يې تر يوې کچې کابو کړو.

٥. **له غمونو خلاصون غواړو:** ليکوالي له تاسې سره مرسته کوي چې پر خپلو ټپونو پټۍ ولګوئ، غمونو او دردونه يوې خواته کېږدئ (ارواپوهنې ثابته کړې ده، څوک چې ليکل کوي خفګان او په تېره بيا په ژور خفګان نه اخته کېږي، خو

شرط يې دا دی چې په خپل وجود کې رښتينې دردونه د قلم په ژبه وليکي).

ليکل مور د خپلو احساساتو له تيارو اړخونو راوباسي، دا زموږ په احساساتو پورې اړه لري چې څنگه يوه کيسه يا ناول ليکو، کېدای شي له مينې ډک وي، خو کېدای شي له وحشته ډک ناول ټولنې ته وړاندې کړو. خپل روان ته قلم په لاس کې ورکړئ پرېږدئ چې ستاسې د زړه خبرې وليکي.

٦. **د ارامتيا لپاره:** ځينو ته ارزښت نه لري چې تاسې په ليکلو ځان بوخت کړئ او د زړه له تله هغه څه وليکي چې پوهېږې په ليکلو ارزي، لږ تر لږ نيمايي هغه کسان چې يو څه ليکي په بيا لوستلو کولی شي خپل ځان په ليکنه کې وگوري، کېدای شي ورته په زړه پورې وي. دا اړينه نه ده چې تاسې دې د پيسو لپاره ليکل وکړئ، ځينې موخې تر پيسو او مادياتو هم لوړې وي.

نو ښايي ډېر داسې کسان وي چې يواځې د تفريح لپاره ليکل کوي، ځکه له هغه خوند اخلي، د يوې ټولنې ليکوالانو له هغامې ټولنې راپورته شوي خلک دي، نو د خپلې ټولنې خوښې او دردونه ښه ليدلی شي، دا چې څنگه غواړي ځان خوشاله کړي همداسې لوستونکي هم خوشاله کولی شي.

دې ته وگورئ چې يو چا کلمې څنگه څنگ تر څنگ اېښې دي، په دې کلمو کې څومره لويه معنا، احساس، پيغام يا نور څه شته هر څومره چې د يادو کلمو ارزښت ډېر وو په هماغه کچه دا کس لوی ليکوال دی. (لنوکس ستيفن)

که له ما پوښتنه وکړئ چې ولې ليکل کوې زه به ووايم چې ليکل ما ته هيله بخښي، ژوند ته قوت راکوي، ځکه پرته له ليکلو ځان داسې احساسوم لکه د (بخار ديگ) چې په هغه کې دې خواږه بار کړي وي، خو د هوا د وتلو لاره يواځې يوه وي، هم د حاظرو کسانو تلوسه وي چې په دې ديگ کې به څه وي او هلته به د ديگ بخار زړه چاودلی وي چې څه وخت به دا هوا وځي.

زما لپاره ليکوالي هماغه يو مدرک دی چې هوا ترې راوځي که هغه بند شو نو د ديگ بخار په څير به مې زړه ترک وچوي.

غواړم په دې توگه تفريح وکړم، ولس ته مې پيغا ولېږدوم، د پيسو لپاره څه نه ليکم، د څوکۍ لپاره څه نه ليکم؛ غواړم وده وکړم، غواړم ليکوالي مې د څو کسانو زړه خوشاله کړي.

تاسې هم کوښښ وکړئ چې دغې پوښتنې ته ځواب پیدا کړئ، ځکه زړه به مو ډاډه او په لیکوالۍ کې به هم خپله لاره پیدا کړئ.

[i] جوزف گوردن لویت. کوچنی کتاب وړې کیسې. لومړی ټوک

## کله چې لیکوالي نه شئ کولای

سهار راپورته شوم پر کیبورد مې هسې گوتې ښورولې، هیڅ مې ذهن ته نه راتلل. ښایي زړه مې نه غوښتل څه ولیکم. یا به ښه نه وم، خو هر څه چې وو ما نن د لیکلو وړتیا نه لرله، نو د حل لارې په لټه کې شوم، ښه ده چې دا خبرې له تاسې سره هم شریکې کړم، کله چې نه شئ کولی څه ولیکئ هغه وخت څنگه لیکل وکړئ؟

نن باید څه ولیکم، ځکه زه د یو څه لیکلو ته اړتیا لرم، خو نه شم کولی چې نن قلم وچلوم او خپله لیکنه بشپړه کړم، غواړم داسې یو څه ولیکم چې مهم وي یواځې کلمې نه وي. دلته څو لنډې خبرې دي چې تر یوې اندازې له تاسې سره مرسته کوي، څو هغه وخت یو څه ولیکو چې لیکلی یې نه شو.

- **موخه باید ولرئ:**

دا تر ټولو مهمه خبره ده، کله چې له خوبه پاڅېږم د یوه لیکوال په توگه پر څوکۍ کښېنم، فکر وکړم چې نن څه ولیکم؟ د نن ورځې د لیکلو موخه مې باید څه وي؟ که رښتیا ووایم ځان هڅوم، پر فیسبوک یو څه ولیکم هېڅ چې نه وي نن ورځ فیسبوک د څه لیکلو لپاره تر ټولو ښه دلیل دی.

پام مو وي چې موخه مو څومره وخت نیسي-، وخت ته په کتو موخې وټاکئ داسې مه کوئ چې د یوې اوونۍ کار یواځې نن وکړئ، لویې موخې هم ټاکلی شئ، خو دا چې کار مو پر وخت وشي هغه په وړو وړو موخو وویشئ او هره ورځ هغه ته کار وکړئ، د بېلگې په توگه که په اوږدمهاله کې یو ناول لیکئ، نو د خپلې هرې ورځې په پیل کې د ټولې ورځې د کار لپاره پلان جوړ کړئ هغه ولیکئ چې نن به پر کومو برخو کار کوئ.

- **لومړیتوبونه په گوته کړئ:**

لیکوالي عجیبه کار دی. کله کله سړی حیران وي چې په څه کار وکړي، کومه برخه را وسپړي نو د دې پر ځای چې سر په کیبورد ووهئ ورشئ او د خپلو لیکنو

لپاره لیکلړ وګورئ، تر ټولو مهمه یې را واخلئ او کار وربانديې وکړئ، که یې امکان وو په یوه وخت کې پر څو بېلو سوژو کار مه کوئ.

کله کله تر لیکلو نور کارونه هم درته مهم وي، د بېلګې په توګه تاسې لیکل کوئ، خو پام مو په فیسبوک کې وي په دې اړه فکر کوئ چې اوس به چا پیغام را لېږلی وي؟ یا مو اېمیل ته اندېښنه ده، نو لومړی هغه کارونه وکړئ چې ستاسې لپاره مهم دي ترڅو مو فکر یوه لوري ته شي.

- **د لیکوالۍ دلیل مو په یاد ولرئ:**

ډېر کله داسې کېږي چې سړی له لیکلو لاس واخلي، زړه یې نه وي چې څه ولیکي، نو ښه ده چې په دغه وخت کې د خپلې لیکوالۍ دلیل وریاد کړي، دا وریاده کړي چې خلک یې له لیکلو سره څومره مینه لري یا خپله مینه وریاده کړي چې لیکوالي ده ته څومره مهمه ده، باید د لیکلو لپاره یوه انګیزه ولرئ داسې یوه انګیزه چې ذهن ته له راتګ سره سم ستاسې ستړیا لرې کړي. دا به ستاسې لپاره یوه متحرکه قوه وي.

- **غوږۍ ولرئ:**

کله چې نه غواړئ کار وکړئ د ځان د بوختیا لپاره څه پیدا کوئ، کله کله ډېر واړه شیان تاسې بوخت کړي، خو د دې پر ځای ښه ده چې غوږۍ له ځان سره ولرئ او کله مو چې لیکو ته زړه نه کېده، په هغه کې د خپلې خوښې موزیک یا بل هر غږ چې وي واورئ.

دا کار نه یواځې دا چې ستاسې له تمرکز سره مرسته کوي، بلکې په خپلو ځینو کارونو فکر هم کولی شئ، ستړیا مو هم لرې کوي، د **پاولوف** نوم به مو اورېدلی وي هغه وایي زموږ د مغز ډېرې برخې د یوه ښه غږ په اورېدلو تحرک پیدا کوي. نو ښه ده چې د ستړیا په وخت کې یا هغه وخت چې نه غواړئ لیکل وکړئ د خپلې خوښې غږ واورئ په تېره هغه غږ چې تاسې یوې خوا ته بېولی شي.

- **ځان ته بدله وټاکئ:**

که تاسې غواړئ چې ځینې کارونه همدا نن وکړئ هغه کولی شئ، خو ځینې وړې لارې چارې دي ذهن مو یارۍ ته هڅوي.

دبېلګې په توګه ځان ته ډالۍ ورکړئ، په دې اړه فکر وکړئ چې که مې نن دا کار وکړ، نو پلاني هوټل ته به ځم. د ماښام ډوډۍ به هلته خورم یا په هر څه مو چې زړه خوشاله کېږي هغه د ډالۍ په توګه ځان ته ورکړئ، زه پر یوه کتاب کار کوم د هرې برخې د بشپړولو لپاره ځان ته ډالۍ ټاکم، زه کله کله درې کیسې هم په یوه ورځ کې لیکم، نو پوهېږئ له هرې کیسې وروسته ځان ته ډالۍ ورکوم، ډېر ځله یو کتاب زما لپاره ښه ډالۍ وي، کله کله بیا یوه ښه ګډا وکړم.

ګورئ د انسان ذهن ماشوم ته ورته دی، مغز د ماشوم ځانګړنې لري که تاسې له کار وروسته ځان ته ډالۍ ورکړئ ستاسې ماشوم ذهن به ډېر کار وکړي هڅه به وکړي چې ژر کار پای ته ورسوي او ډالۍ واخلي. کله کله له کار وروسته کمپیوټر بند کړئ اې خوا دېخوا ولاړ شئ دا هم د ذهن لپاره ډالۍ ده.

- **په یاد ولرئ چې تاسې هم انسان یاست:**

کله کله غواړئ د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره پر ځان فشار راوړئ، دا کار ستاسې په زیان دی، له لیکوالۍ مو ستړي کوي، ولې؟ اړتیا څه ده چې ځانونه زړه توري کړو؟

په یاد ولرئ چې تاسې کوم برقي رباط نه یاست، تاسې استراحت او تفریح ته اړتیا لرئ، ځان ته د تېروتنې اجازه ورکړئ، پر خپلو تېروتنو مسکا وکړئ، د خپلې ورځې په کچه کار وکړئ، خو پر ځان د فشار نه راوړلو په بهانه له کاره اوږه مه سپکوئ.

- **ټولنیزې رسنۍ بندې کړئ:**

څه مو د کار پر وړاندې خنډ دي؟ څه مو فکر ځان ته اړولی دی؟ دې ته مو سودا ده چې پوست مو پر فیسبوک څو کسانو خوښ کړی؟ که مو دې ته پام دی چې اوس به مو انځور پر انسټګرام څو کسانو خوښ کړئ وي؟ څو اېمېلونه به راغلي وي؟

دا هر څه یواځې ستاسې تمرکز له منځه وړي، ګورئ دا هر څه تر هغه وخته هیر کړئ څو مو چې لیکنه نه ده پوره کړې.

ځکه تاسې د لیکنې تر مخ خپل اکونټونه یو ځل کتلي بیا اړینه نه ده چې پام مو هغه لوري ته وي، همداسې موبایل بند کړئ، د تلویزیون یا راډیو غږ ټیټ کړئ،

هرومرو داسې شی په کې راتلی شي چې ستاسې تمرکز ورانوي.

## نو تاکیدي يې وايم هره ورځ لیکل

په دې اړه پورته ډېرې خبرې وشې تاکیدي يې وایم په دې برخه کې د جادو او کوم ځانګړي راز خبر نه شته. د لیکوالۍ تر ټولو ستر راز تل لیکل دي. هره ورځ يواځې يوه کلمه لیکل د لیکوالۍ تر ټولو ستر راز دی. ستاسې د بریالۍ لیکوالۍ راز د همدغې کلمې تر شا پټ دی. همدا اوس پورته شئ، څوکۍ ته ځان ورسوئ لپ تاپ مو روښانه کړئ او لیکل پیل کړئ.

ښايي تاسې ډېر داسې کسان لیدلي وي چې د لیکوالۍ په اړه لوستل کوي، د لیکوالۍ په اړه څېړنه کوي، تل په دې لټه کې وي چې څنګه لیکل وکړي او لیکوالي څنګه زده کړي؟ خو یوه ورځ يې هم یوه کلمه نه ده لیکلې، نو مهمه خبره د لیکوالۍ په اړه ډېره مطالعه نه ده، بلکې ډېر لیکل دي.

## د تل لیکلو عادت څنګه پیدا کېږي؟

له ځان سره فکر وکړئ، فرض کړئ چې تاسې تېر کال د يو کتاب د لیکلو پرېکړه کړې وه. دا پرېکړه مو کړې وه چې د يو کال په اوږدو کې به خپل کتاب بشپړ او خپور کړئ، خو په دې چار نه یاست بریالي شوي، ولې؟ ځکه تاسې ډېر کوښښ کړی دی ټول تمرکز مو پر يو ځل لیکلو کړی دی او ټول فکر مو لیکلو ته دی، پوهېږئ تاسې غوښتي اوښ د ستنې تر سوري وباسئ. دا شونې ده؟

معلومه خبره ده چې امکان نه لري همداسې په يو ځل او یوه ورځ د يو کتاب لیکل هم امکان نه لري هر څه وخت غواړي او که تاسې په یوه وار د هر څه تر سره کول غواړئ امکان نه لري له لیکوالۍ به مو زړه تور شي.

زه یو څه درته وایم چې هر څه په نوبت او ورو ورو رامنځ ته کېږي، څاڅکي سیند شي. تاسې هم د کار د سر ته رسولو لپاره ډېرې حوصلې ته اړې يئ. تاسې بسته يو کتاب مه لکئ، يواځې یوه جمله ولیکئ، پراګراف پوره کړئ، یوه برخه ولیکئ اوس به نو پوره چېتر شي، دا چپترونه سره يو ځای کړئ کتاب شو، که تاسې يو دم دیوه کتاب لیکل پیل کړئ تاسې وګورئ چې څومره ګامونه مو پرې ایښي او غواړئ چې وروستي ځای ته ورسېږئ. یو بل ډول هم ویلی شم چې ټوله لیکوالي له کلمې پیل کېږي د لیکوالۍ بنسټ کلمه ده.

## یواځې مخ ته ولاړ شئ

ځینې وخت کېدای تاسې دا فکر وکړئ چې زما لیکنه به څنګه شي؟ خلک بـه یې خوښه کړي که نه؟ زما دا کتاب بـه چـاپ شي کـه نـه؟ دا هغـه فکرونـه دي چـې کیدای شي تاسې له لیکوالۍ لرې وساتي. نو تاسې دا ډول فکرونه له ذهنـه وباسـئ یواځې مخ ته روان شئ. زما یو کتاب دی د مرګ په اړه یې لیکم ښایي نیمایي شوی وي، خو سره له دې چې کله کله یې له پایلې ډاربېږم وایم هسې نه چـې دغـه کتـاب ځوک خوښ نه کړي او زما لیکوالي فلج شي، خو بیـا یـې هـم پـروا نـه سـاتم یـواځې لیکل کوم. زه هره ورځ هماغه کتاب ته ۵۰۰ کلمـې ورزیـاتوم، همـدا زمـا قـانون دی هره ورځ باید ۵۰۰ کلمې ولیکم او پر کتاب یې ور زیاتې کړم.

زه خو داسې نه شم کولی چې ور په ځان پسې وتړم او ټول کتاب ولیکم بیـا لـه کوټې را ووځم، دا خو امکان نه لري. نو زه څه کوم؟

یواځې د کتاب جوړ کړي فهرست ته مـې وګـورم لـه هغـه سره سـم هـره ورځ پـر خپل کتاب ۵۰۰ کلمې ورزیاتوم. تاسې هم همداسې وکړئ د ځینو پایلو په اړه فکـر مه کوئ او په ډېر ویاړ خپلو لیکلو ته ادامه ورکړئ.

د ۵۰۰ کلمو لیکلو فورمل تر ټولـو اسـانه لار ده. تاسـې هـر وخـت او هـر ځـای کولی شئ چې ۵۰۰ کلمې ولیکئ. دا کار دومره وخـت هـم نـه غـواړي، هـره ورځ لـه ۲۰ تر ۳۰ دقیقې ورته ځانګړې کړئ او هـر ډول مهـم کـار مـو یـواځې د ۵۰۰ کلمـو لیکلو ته پربېږدئ. دومره وخت نه دی باور وکړئ خو یواځې پیل یې سخت دی.

که تاسې هره ورځ ۵۰۰ کلمې ولیکئ، نو پوره ۳۰ ورځې وروسـته بـه تاسـې یـو کوچنی کتاب لیکلی وي. د راتلونکي کتاب لپـاره زمـا پـلان همـدا دی ۵۰۰ کلمـې ۳۰ ورځې او په پـای کـې بـه زمـا کتـاب بشـپړ شي، خـو د کتـاب پـه اړه د معلومـاتو راټولولو ته هم وخت ځانګړی کوم.

که تاسې غواړئ چې د هرې ورځې لیکلو عادت مو پیاوړی شي، نـو همـدا ښـه لاره ده، هره ورځ لږ تر لږه ۵۰۰ کلمې ولیکئ.

### لنډیز

- ۵۰۰ کلمې هره ورځ ولیکئ، یواځې د ۳۱ ورځو لپاره.
- ۵۰۰ کلمې شرط نه دي تاسې کولی شئ له هغـه ډېـر څـه ولیکـئ، خـو دا

عدد حتمي دی.

- په لومړي سر کې ابډېټ مه کوئ یواځې ولیکئ.

## پایله

په ټوله کې دې پایلې ته رسېږو چې انسان ماشیني موجود نه دی، د خپل ژوند د بقا، سمون او رغون لپاره باید په ټولنه کې رغنده رول ولري، د خپل ټولنیز ژوند د ښه کېدلو، د سالم چاپېریال رامنځته کولو، د امن او سولې فضا د راوستلو او لږ تر لږه د انساني ژوند کولو لپاره ژوند کولو ته اړتیا لري او دا جوته خبره ده چې ژوند په هر ډول پر مخ ځي، خو سرلوړي، بریالي او اوچتو موخو ته رسېدونکي انسانان هغه مخلوقات دي چې د ژوند ښه کولو لپاره یې انساني او بشري هڅې پیل کړي، د خدای ورکړي استعداد نه یې استفاده کړې او د انسان لپاره د پیدا شوو موجوداتو او ښکارندو کارونه او مهارونه یې په منظمه توګه مهار کړې.

که چېرې موږ نن سبا نړۍ ته نظر واچو هغه انسانان چې تر اوسه هم په حقارت او د بل تر ولکې لاندې ژوند کوي ژوند یې له زوال سره مخامخ دی، هره ورځ مري او هره ورځ د نورو د لوبو ښکار کېږي، خو کومو انسانانو چې له تعقل او تفکر نه استفاده کړې تل یې خپل ځان او خپلې ټولنې ته خیر ښېګڼې راوستي او خپله ټولنه یې ښېرازه کړې ده.

په دې لیکنه کې موږ دې پایلې ته رسېږو چې دا خیر ښېګڼه او ښېرازي د نورو لاملونو ترڅنګ یو ستر لامل لري چې هغه لیکوالي ده، لیکوالي انسان هوښیاروي او په دې یې پوه کوي چې څنګه له خپلو ملي شتمنیو او ارزښتونو څخه استفاده وکړي، څنګه د نورو له اثارت نه ځان وژغوري او څنګه د یو خپلواک انسان په توګه ژوند غوره کړي.

سیدنظیم سیدي

# په کابل مجله کې د ۱۳۹٦ لمریز کال
# د خپرو شوو مقالو لیکلړ

## لنډیز

د منابعو فهرست یا فهرست پېژندنه د منـابع پېژنـدنې سـتره برخـه ده او منـابع پېژندنه بیا د ادبپوهنې لویه برخه ده، چې ادبپوهنه بیـا د ادبیـاتو بنسـټ یـا اسـاس دی. ادبپوهان وایي چې منابع پېژندنه د څېړنې لومړنی اصـل دی، یعنـې کلـه چـې یو څوک یو څېړنیز چار ترسره کوي، نو په لومړني گام کې منابعو ته مراجعـه کـوي او منابع ترلاسه کول او ورته لاسرسی پنځوس سلنه څېړنیز کار ترسره کـول دي، پـر دې اساس منابع پوهنه یوه بنسټیزه څېړنیزه چـاره ده چـې پـه دې برخـه کـې د لیکوالـو ډېرې توجه ته اړتیا لیدل کېږي.

په دې بحث کې د کابل مجلې د دریم خپرنیز پړاو د ۱۳۹٦ لمریز کال د کابل مجلې الفبایي فهرست د لیکوالو د تخلصونو پـر اسـاس پـه کرونولوژیـک ډول چمتـو شوی او تمه ده چې یو مهال ځوان څېړونکي د کابل مجلې پر هرې دورې جـلا جـلا بحث وکړي او په موضوعي لحاظ هم دغه فهرست چمتو کاندي.

## سریزه

یو مهال داسې گومان کېده چې د فهرستونو چمتو کول کوم علمـي او څېړنیـز کار نه دی او یواځې اخباري ارزښت لـري، خـو کلـه چـې د نـړۍ پـه مهمـو ژبـو کـې فهرستونه چمتو شول او د ډېرو مهمو اثارو فهرستونه د نړۍ لرو گوټونـو تـه ورسـېدل، نو بیا دا اټکل او گومان ناسم وگڼل شو او د هرې ژبې ویونکو د خپلو اثـارو د معرفـۍ

لپاره دا لاره خپله کړه، چې له نېکه مرغه د پښتو ژبې د مهمو کتابونو ترځنګ د مهمو او علمي خپرونو فهرستونه هم چمتو شول، دا چې ځینې یې د کورنیو جګړو خوراک شول، نو په دې برخه کې ډېره تشه محسوسېدله، پر همدې اساس د کابل مجلې ادارې دا پرېکړه وکړه چې د هر کال په پای کې د یاد کال الفبايي فهرست په کرونولوژیک ډول خپور کاندي چې تر ننه دا لړۍ را روانه ده او هیله ده چې تر وسې وسې دا لړۍ وغځوي او تمه ده چې دا لړۍ له الفبايي فهرست څخه په موضوعي فهرست هم بدله شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې په وسیله یې د کابل مجلې د ۱۳۹٦ لمریز کال د مقالو فهرست د لیکوالو د تخلصونو پر اساس په الفبايي بڼه وړاندې کېږي، چې دا کار څېړونکو ته په دې برخه کې پوره مواد په واک کې ورکوي او د څېړنې چاره یې اسانوي.

همدا راز که څېړې یو څوک په کومې موضوع کار کول غواړي او هغه وړاندې لیکل شوې وي، نو له تکرار نه یې هم مخنیوی کوي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې د کابل مجلې د یو کال مواد په منظمه توګه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کېږي او هغوی د دغه لاربښود له مخې په ډېرې اسانۍ سره د پام وړ مقالو ته لاسرسی پیدا کولای شي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې مقاله کې لاندې پوښتنو ته ځوابونه پیدا شوي دي:

- ✓ فهرست یا منابع پېژندنه څه ده؟
- ✓ په کابل مجله کې د چا چا مقالې خپرې شوې؟
- ✓ کابل مجلې په یو کال کې څومره مقالې خپرې کړې؟
- ✓ په ژبني، ادبي، فولکلوري او څېړنیزو چارو کې څومره مقالې خپرې شوې؟

او داسې نورې کوچنۍ پوښتنې هم په دې لیکنه کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له توضیحي او تشریحي میتود نه استفاده شوې ده.

## اصلي متن

يو مهال داسې ګڼل کېدل چې فهرست ليکل يواځې اخباري کار دی او نور کوم ارزښت نه لري، خو کله چې نړۍ ته لاسرسی پراخ شو او خلک د نورو هېوادونو له تمدن، پرمختګ، علم او پرنسيپونو څخه خبر شول، نو په دې هم پوه شول چې فهرست ليکل په نورې نړۍ کې يو ډېر لوی او علمي کار دی، په دې معنا فهرست ليکل د ادبپوهنې ستره څانګه ده چې له څېړونکي سره د منابعو او سرچينو په معرفي او پېژندلو کې پوره پوره مرسته کوي، ځکه په څېړنه کې دا مشهوره مقوله او چاره ده چې سرچينه معلومول يې د څېړنې د پنځوس سلنې کار ترسره کول دي او کله چې څوک د يوې موضوع په اړه سرچينو ته لاسرسی ولري، نو بيا په ډېرې اسانۍ سره کولای شي چې خپله څېړنيزه چاره ترسره کاندي، پر همدې اساس موږ چې کله د فهرست ليکنې بحث رامنځ ته کوو، لويه موخه مو ترې د هغو مقالو معرفي کول وي چې د ادب برخې مينه والو او څانګوالو ته په درد خوري او هغوی ترې په خپلو څېړنيزو چارو کې استفاده کوي.

لکه څنګه چې پوهېږئ کابل مجله د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت يوه تاريخي او پخوانۍ خپرونه ده چې تر دې دمه يې د افغانستان د فرهنګ، ادب، ژبې، فولکلور، څېړنې او پوهنې لپاره ډېر کار کړی او لا هم په همدې چار بوخته ده، خو له بده مرغه کله ناکله زموږ دغه اواز يا خپرونه تر ډېره تر ټول ولس پورې نه رسېږي، چې لاملونه يې جوت دي، خو په متفرق ډول چا ته يوه او چا ته بله ګڼه په لاس ورځي، د دې لپاره چې د کابل مجلې درانه مينه وال او د ادبي څېړنو مسلکي کسان په ۱۳۹۶ لمريز کال کې د کابل مجلې له خپرو شوو مقالو څخه خبر شي، دا دی له معمول سره سم مو د ياد کال په وروستۍ ګڼه کې يو ځل بيا د همدې کال د مقالو فهرست چې لومړی د ليکوالو تخلص او بيا يې نوم راغلی، ستاسې درانه حضور ته په کرونولوژيک ډول وړاندې کوو، خو د دې خبرې يادول اړين بولم چې دغه فهرست د الفبا پر اساس چمتو شوی، نه د موضوعي فهرست پر اساس، هيله ده درانه لوستونکي ترې د خپلې خوښې وړ مواد پيدا کړای شي. البته لومړی به د کابل مجلې د درېيمې خپرنيزې دورې د ۱۳۹۶ لمريز کال د قلمي همکارانو نومونه راشي او بيا به يې

الفبايي فهرست درته وړاندې شي.

دا هم د کابل مجلې د دريم خپرنيز پړاو د ۱۳۹٦ لمريز کال قلمي همکاران:

۱- څېړنوال عبدالظاهر شکيب، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړيکو رئيس.

۲- پوهنيار فهيم بهير، د پروان د البيروني پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۳- پوهاند پښتون آقا شېرزاد، د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو څانگې استاد.

۴- ډاکټر احسان الله درمل، د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی.

۵- څېړندويه ملکه مشتري، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز علمي غړې.

٦- پوهنيار سيداصغر هاشمي، د کونړ د سيدجمال الدين افغان پوهنتون د پښتو څانگې استاد.

۷- پوهنيار سيدضياء الرحمان بنوری، د لغمان پوهنتون استاد.

۸- پوهنيار اسد وحيدي، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۹- عبدالله پيکار، ليکوال او ژورناليست.

۱۰- عابد نديم، ليکوال او څېړونکی.

۱۱- پوهندوی ډاکټر اجمل ښکلی، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۱۲- پوهنيار شفيق الله رحماني، د لغمان پوهنتون د ښوونې او روزنې د پښتو څانگې استاد.

۱۳- څېړنوال محمد آصف احمدزی، د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو د مرکز علمي منشي.

۱۴- څېړنوال سيدنظيم سيدي، د علومو اکاډمي د کابل مجلې مسوول مدير.

۱۵- پوهندوی بريالی باجوړی، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۱٦- پوهنوال ډاکټر لال پاچا ازمون، په ټولنيزو او علمي چارو کې د ولسمشر-

ارشد سلاکار او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۱۷- پوهنیاره شازیه افغان، د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو څانگې استاده.

۱۸- پوهنوال جانس خان زړن، د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۱۹- پوهنمل محمد داود وفا، د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۲۰- پوهنمل ډاکټر عزیز الله جبارخېل، د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد.

۲۱- پوهنیار مریم مهان، د بدخشان پوهنتون د پښتو څانگې استاده.

۲۲- داود جنبش، د بي بي سي راډیو کارکوونکی، لیکوال او ژورنالیست.

۲۳- احمد سلیم ړنگ، ژباړن او لیکوال.

۲۴- څېړندویه خاطره شینوارې، د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز علمي غړې.

۲۵- پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پخوانی استاد او ژبپوه.

۲٦- څېړنواله ظاهره هنگامه، د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز علمي غړې.

۲۷- پوهنمله مومنه درانۍ، د پروان د البیروني پوهنتون د پښتو څانگې استاده.

۲۸- پوهنیار یحیا همای، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد.

۲۹- څېړندویه سمیله احمدزۍ، د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي غړې.

۳۰- محمداکبر کرگر، لیکوال او څېړونکی.

۳۱- فضل الرحمن علیزی، د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو د ریاست علمي غړی او د (سیمه ییز مطالعات) د مجلې مهتمم.

۳۲- ښېرندويه ګل غوټۍ خاورې، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د پښتو انستيتوت د ادبياتو او متنپوهنې څانګې آمره.

۳۳- رحمت الله حکيمي، ليکوال او څېړونکی.

۳۴- پوهنيار عبدالعظيم صديقمل، د کونړ د سيدجمال الدين افغان پوهنتون د پښتو څانګې استاد.

۳۵- جانباز، ليکوال او څېړونکی.

۳٦- نوماند څېړنيار شريف الله دوست، د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د لرغونو ژبو د ډيپارتمنټ علمي غړی.

۳۷- حبيب الله ميرخېل، ليکوال او څېړونکی.

۳۸- څېړنوال عبدالشکور قيومي، د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز علمي غړی.

۳۹- پروفيسور عبدالخالق رشيد، د هند د جواهر لال نهرو پوهنتون د پښتو ژبې او ادبياتو استاد.

۴۰- څېړنواله عاطفه نورستاني، د ژبو او ادبياتو مرکز د ورونو مليتونو د انستيتوت آمره.

۴۱- پوهندوی شاه محمود کډوال، د لغمان پوهنتون استاد.

۴۲- پوهنوال فضل ولي ناګار، د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد.

۴۳- صديق الله بدر، ليکوال، شاعر، ژباړن، ژورناليست او د کليد راډيو د محتوا ارزوونکی.

۴۴- شفيق اميرزی، ليکوال او څېړونکی.

او دا هم د دريم خپرنيز پړاوو د ۱۳۹٦ لمريز کال د مقالو بشپړ الفبايي ليکلړ:

**احمدزی، څېړنوال محمد آصف:**

✓ پښتو ادب ته د نوي صنف (کاريکلماتور) راتګ، ۱۳۹٦ لمريز کال، دوهمه ګڼه، ۱۵ مخ.

✓ "مناقب غوث الاعظم" او "التحفة القادرية" يو اثر دی، ۱۳۹٦ لمريز کال، دريمه او څلورمه ګڼه، ۱۴۹ مخ.

✓ د طنز او سیاست اړیکه، ۱۳۹۶ لمریز کال، (۵-٦ -۷) مه ګڼه، ۱ مخ.

✓ مستعار نومونه، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۱ مخ.

**احمدزی، څېړندویه سمیله:**

✓ کنځاکې د واده د سندرو یو ډول، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۱۵۴ مخ.

**امیرزی، شفیق:**

✓ د لیکوالۍ آرونه (ژباړن)، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۱۵۹ مخ.

**ازمون، پوهنوال لال پاچا:**

✓ د شیدا د شعر شکل او عروضي جوړښت یې، ۱۳۹٦ لمریز کال، دوهمه ګڼه، ۷۳ مخ.

✓ وزن او آهنګ، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۴۰ مخ.

**افغان، پوهنیاره شازیه:**

✓ د ګل پاچا الفت په منظومو اثارو کې (د ښه لمسون) مقام، ۱۳۹٦ لمریز کال، دوهمه ګڼه، ۹۱ مخ.

**باجوړی، پوهندوی بریالی:**

✓ اقبال او خوشحال، ۱۳۹٦ لمریز کال، دوهمه ګڼه، ۵۹ مخ.

**بدر، صدیق الله:**

✓ د نامتو بهرنیو لیکوالو د لیکوالۍ تجربې (ژباړه)، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۱۰٦ مخ.

**بنوری، پوهنیار سید ضیاء الرحمن:**

✓ د (ISBN ) سیستم، ۱۳۹٦ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۷۳ مخ.

**بهیر، پوهنیار فهیم:**

✓ د تخلیق او تحقیق ترمنځ ګډې او بېلې کرښې، ۱۳۹٦ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۵ مخ.

✓ د نثر د پوخوالي لارې چارې، ۱۳۹٦ لمریز کال، دریمه او څلورمه ګڼه،

۸٦ مخ.

✓ د انسان دروني احساسات او ادبيات، ۱۳۹٦ لمريز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۱۳٦ مخ.

✓ په ليکوالۍ کې د بهرنيو ژبو رول، ۱۳۹٦ لمريز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۹٦ مخ.

**پيکار، عبدالله:**

✓ د محسوساتو او سېمبولونو شاعر، ۱۳۹٦ لمريز کال، لومړۍ ګڼه، ۹۱ مخ.

**جانباز:**

✓ د پښتو ژبې لومړنۍ درسي کتاب، ۱۳۹٦ لمريز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۱۲۷ مخ.

**جبارخېل، پوهنمل ډاکټر عزيزالله:**

✓ (پښتون) مجله د پښتنو د ويښتيا پر لور يو ګام، ۱۳۹٦ لمريز کال، درېمه او څلورمه ګڼه، ۳۴ مخ.

✓ د خوشحال بابا او رحمان بابا د شاعرۍ تنقيدي اړخ، ۱۳۹٦ لمريز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۷۲ مخ.

✓ په پښتو ادب کې د ننګرهار د ميندو ونډه، ۱۳۹٦ لمريز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۱۱۵ مخ.

✓ د مقاله ليکنې د هنر مهمې برخې، ۱۳۹٦ لمريز کال، يولسمه او دولسمه ګڼه، ۱۲۲ مخ.

**جنبش، داود:**

✓ پښتو سل کاله وړاندې څنګه رسنيزه شوه، ۱۳۹٦ لمريز کال، درېمه او څلورمه ګڼه، ۵۹ مخ.

**حکيمي، رحمت الله:**

✓ د خوشحال انسان پالنه، ۱۳۹٦ لمريز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۵۱ مخ.

**خاورې، څېړندويه ګل غوټۍ:**

✓ د ادبياتو او ژانر اړيکې، ۱۳۹٦ لمريز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه،

۲۳ مخ.

✓ په ولسي ادب کې د کوچنیانو د ادبیاتو اغېزې، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۱ مخ.

**درانی، پوهنمله مومنه:**

✓ د ادب تیورۍ کلیدي توکي، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۵۷ مخ.

**درمل، احسان الله:**

✓ له عواطفو او تصویرونو لبریزې (تربتې چیغې)، ۱۳۹٦ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۳۷ مخ.

**دوست، نامزد څېړنیار شریف الله:**

✓ د خطي نسخو لنډه پېژندنه، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۱۳۷ مخ.

**رحماني، پوهنیار شفیق الله:**

✓ په کوچنیانو د ماشوم د ادب اغېزې، ۱۳۹٦ لمریز کال، دوهمه ګڼه، ۱ مخ.

✓ د ادب او ژورنالیزم ترمنځ اړیکې، ۱۳۹٦ لمریز کال، درېمه او څلورمه ګڼه، ۱۰۲ مخ.

✓ د پښتو ادبي دورو وېشنیز جاج، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۸۷ مخ.

**رشید، پروفیسور عبدالخالق:**

✓ د دارالمصنفین شبلي اکېډیمي اعضمګړ د افغانستان د سفر هیله، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۲۵ مخ.

**رنګ، احمد سلیم:**

✓ د مثنوي معنوي تحلیل او تجزیه (ژباړه)، ۱۳۹٦ لمریز کال، درېمه او څلورمه ګڼه، ۷۰ مخ.

✓ د مولانا مړینه (د معرفت او حقیقت لمر را پرېوت)، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۱۲۳ مخ.

**زړن، پوهنوال جانس:**

✓ د تخلیقي ادبیاتو په رڼا کې د انسان ارزښت، ۱۳۹۶ لمریز کال، دوهمه گڼه، ۱۰۴ مخ.

**زیار، پوهاند ډاکټر مجاور احمد:**

✓ سپین شعر د هنر سرلارې څېل، ۱۳۹۶ لمریز کال، دریمه او څلورمه گڼه، ۱۳۳ مخ.

✓ استاد مجروح د جبر او اختیار له کړلېچونو روغه سته ووت، ۱۳۹۶ لمریز کال، یولسمه او دولسمه گڼه، ۴۶ مخ.

**سیدي، څېړنوال سیدنظیم:**

✓ د اوسنیو پښتو ادبي او ژورنالیستي ژباړو ستونزې، ۱۳۹۶ لمریز کال، دوهمه گڼه، ۲۸ مخ.

**ښکلی، پوهندوی دوکتور اجمل:**

✓ په لپه کې دریاب، ۱۳۹۶ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱۰۸ مخ.

✓ تصوف د اوسمهال په هینداره کې، ۱۳۹۶ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه گڼه، ۳۹ مخ.

✓ د څېړنیزو معیارونو په رڼا کې د پښتو د معاصرې څېړنې روایت، ۱۳۹۶ لمریز کال، یولسمه او دولسمه گڼه، ۸۳ مخ.

**شکیب، څېړنوال عبدالظاهر:**

✓ رومانتیسیزم او پښتو ادب، ۱۳۹۶ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۱ مخ.

✓ د غني خان د شاعرۍ لفظي موسیقي ته لنډه کتنه، ۱۳۹۶ لمریز کال، دریمه او څلورمه گڼه، ۱۷ مخ.

**شېرزاد، پوهاندپښتون آغا:**

✓ بگرام په پښتو شاعرۍ کې، ۱۳۹۶ لمریز کال، لومړۍ گڼه، ۲۹ مخ.

**شینوارې، څېړندویه خاطره:**

✓ د فولکلور او شفاهي ادبیاتو د راټولولو اړتیا، ۱۳۹۶ لمریز کال، دریمه او څلورمه گڼه، ۱۱۴ مخ.

**صدیقمل، پوهنیار عبدالعظیم:**

✓ کومکي فعلونه او د هغوی دندې، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه گڼه، ۸۰ مخ.

**علیزی، څېړنیار فضل الرحمن:**

✓ د عبدالاحد وحید په طنزونو کې ټولنیز اصلاحي ټکي، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه گڼه، ۱۹٦ مخ.

✓ د غزني د اندړو سیمې کنځاکی، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه گڼه، ۱۷۹ مخ.

**کډوال، پوهندوی شاه محمود:**

✓ پر پښتو ادب د هندي سبک اغېزې، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه گڼه، ٦۳ مخ.

**کرگر، محمداکبر:**

✓ کیسه، اسطوره او ټولنیزه ناشعوري، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه گڼه، ۱۷۸ مخ.

✓ په فرویدیزم کې هنري لذت، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه گڼه، ۱۴۹ مخ.

**قیومي، څېړنوال عبدالشکور:**

✓ د استاد عبدالرؤف بېنوا د ځینو ډرامو تحلیلي څېړنه، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه گڼه، ۱۵۸ مخ.

**مهان، پوهنیار مریم:**

✓ د پښتو ژبې د ستر شاعر اشرف خان هجري شاعري، ۱۳۹٦ لمریز کال، دریمه او څلورمه گڼه، ۴۷ مخ.

✓ ډرامه تر نورو غوره ژانر، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه گڼه، ۱۱۴ مخ.

**مشتري، څېړندویه ملکه:**

✓ په پښتو شفاهي ادبیاتو کې د واده سندرې، ۱۳۹٦ لمریز کال، لومړۍ

ګڼه، ۴۷ مخ.

**میرخېل، حبیب الله:**

✓ اسطوره، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۱۴۷ مخ.

**ناګار، پوهنوال فضل ولي:**

✓ د عبدالرحمان په اشعارو کې عرفاني ښکلا، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۹۴ مخ.

**ندیم، عابد:**

✓ د غزل ګونګې تشبېه ګانې، ۱۳۹٦ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۱۰۰ مخ.

**نورستانی، څېړنواله عاطفه:**

✓ د نورستان د شفاهي ادب وضعې ته لنډه کتنه، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۳۵ مخ.

**وحیدي، پوهنیار اسدالله:**

✓ د پښتو ادبي خپرونو سرلیکنې "سرلیکنې" دي؟، ۱۳۹٦ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ۸۱ مخ.

**وفا، پوهنمل محمد داود:**

✓ د پښتو متلونو اوسنی اوښتی حالت، ۱۳۹٦ لمریز کال، درېمه او څلورمه ګڼه، ۱ مخ.

✓ د پیرمحمد کاروان په شعر کې رومانیت، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۲٦ مخ.

**هاشمي، پوهنیار سید اصغر:**

✓ په څېړنه کې د موضوع د ټاکلو ستونزې، ۱۳۹٦ لمریز کال، لومړۍ ګڼه، ٦۳ مخ.

✓ د څېړنې او پنځونې د لوړتیا او ځوړتیا پړاوونه، ۱۳۹٦ لمریز کال، درېمه او څلورمه ګڼه، ۱۲۲ مخ.

✓ د پوهاند زیار د څېړنو او پنځونو پرلپسې پرمختیایي پړاوونه، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۱۷۰ مخ.

✓ په څېړنه کې د خاکې ارزښت، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ۱٦۹ مخ.

✓ په څېړنه کې د فرضیې ارزښت، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۱۳۵ مخ.

**همای، پوهنیار یحیا:**

✓ ویدي سرودونه او افغاني مدنیت، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۱۰۱ مخ.

**هنګامه، څېړنواله ظاهره:**

✓ د استاد بېنوا شعر او شاعري، ۱۳۹٦ لمریز کال، پنځمه، شپږمه او اوومه ګڼه، ۱۳ مخ.

✓ استاد عبدالحی حبیبي د پوهانو له نظره، ۱۳۹٦ لمریز کال، اتمه، نهمه او لسمه ګڼه، ٦۷ مخ.

✓ ښځه او اولسي ادبیات، ۱۳۹٦ لمریز کال، یولسمه او دولسمه ګڼه، ۷۱ مخ.

## پایله

د پایلې په توګه ویلای شو، چې دغه ډول مقالې یا لیکنونه په ټولې نړۍ کې معمول او عام دي او څېړونکي وړاندې تر دې چې پر خپلې څېړنې پیل وکړي، د خپلې څېړنې په اړه پخواني ترسره شوي کارونه له همدې مدرکه پیدا کوي او هغه لولي، ښېګڼې او بدګڼې یې ځان ته معلوموي او بیا د نوو زیاتونو او سمونونو په رڼا کې پر خپلې موضوع کار پیلوي او که چېرې په پخوا وختونو کې په دې کار نه وي شوی، نو د هغې یادونه هم کوي، خو له بده مرغه موږ په خپله ژبه دغه ډول مواد یا ډېر کم لرو او یا هم په نشت حساب دي، نو له دې لیکنې څخه هم زموږ موخه همدا ده چې د دې برخې ځانګوال دې اړخ ته خپله پاملرنه زیاته کړي او دومره اثار په کې وپنځوي، چې موږ له ټولو پخوانیو اثارو څخه خبر کاندي، ځکه په دې یوویشتمه پېړۍ کې هم موږ له ډېرو داسې تکراري کارونو سره مخامخېږو، چې پخوا تر موږ پخو، دقیقو او ښو څېړونکو ترسره کړي، خو موږ بیا هم پرې کار کوو او ژباړې خو په لسګونو داسې بېلګې لري، نو وړاندیز کوم چې د فهرست پېژندنې اثار دې زموږ په ژبه کې زیات شي؛ ترڅو زموږ د څو څېړونکو حوصله په یو کار ضایع نه شي.

# List of Contents


| No | Title | Author | Page |
|---|---|---|---|
| 1. | The Influence of Chi… | Gul Ghotay Khawri | 193 |
| 2. | Wish the visit… | Abdul Khaleq Rashid | 193 |
| 3. | The Nongovernment… | Atifa Nuristani | 192 |
| 4. | The Professor Majroh… | Mojawer Ahmad ziar | 191 |
| 5. | Indian Light Effects… | Shah Mahmoud kadwal | 191 |
| 6. | Woman and Oral… | Zahera Hangama | 190 |
| 7. | In light of the… | Ajmal Khkulay | 190 |
| 8. | Mystical Beauty… | Fazel walee Nagar | 189 |
| 9. | Experienced Writer … | T/ Sadiqullah Badar | 189 |
| 10. | Important Parts… | Dr.Azizullah Jabarkhil | 188 |
| 11. | The Value of the… | Sayed Asghar hashmi | 188 |
| 12. | The Rules of… | T/ Shafiq Amirzay | 187 |
| 13. | List of Articles… | Sayed Nazim Sayedy | 186 |

# The Influence of Child Literature on Folklore Literature

**Gul Ghotay Khawri**

**Abstract:**

Folklore is an Anglican word for popular information and was used for the first time by William. In the new age, the Welsh knowledge or the literature of the people is a very famous category That folklore literature is created in the remotest societies But why is this the standard, then why are the civilized civilizations of the world for the creation and collection of Folklore try their best And every day their folklore becomes wider?

The meaning of this is that people's literature is the value and capital of societies and these funds do not lose value as an inferior ash of any kind.

---

# Wish the visit of Afghanistan to the Academy of Sciences of Shobli Azam Ghar

**Pro. Abdul Khaleq Rashid**

**Abstract:**

The print edition of the Afghanistan Travel, presented by the Academy of Sciences of the Islamic Republic of Iran, is very important and important. This work is an Afghanologist called Sayed Saleyman Nadavi where the effects of the order are expressed

He spoke at the Afghan refugee camp to the various regions and

customs of different Afghans Such as the basics, courage, welcome, and even crafting issues.
In this work, Afghans, especially Pashtuns, have been introduced to the garden and the great people.
In addition to good things, in this regard, we see a number of issues that were not very appropriate. But why the comments have been made in this case.

---

# The Nongovernment to the Nuristan Oral Literature

**Research Fellow Atifa Nuristani**

**Abstract:**
In this first article, a brief discussion of folklore has emerged, that is, what is to be divided into different parts, Later, Nuristan's Oral Literature has been debated.
As far as I know, I am mostly in the poetry literature of Nuristan in my poems Instead of emphasizing the rhyming on the weight of Zayath, Because the Nuristani convents are free from the rhyme And it looks like the old feathers of natural symbols Which has a short and long cut, That is, the syllable comes from two beginnings and ten, That's why it's written on weights.
In addition, we also see myths, stories, parables, riddles, idioms, prayers and evil prayers in Nuristan folklore. Which has given a beautiful beauty to the folk literature of this area.

# The Professor Majroh Wins Life from the Controversy of Algebra

**Pro.Mojawer Ahmad ziar**

**Abstract:**
In the fourth decade of the sixteenth century, the wounded master got his master's documents in the psychology and philosophy departments. and taught us in both parts.
The aforesaid was accepted in both parts of the region and in the area of algebra, he has spoken highly So far, nobody has discussed them.
The wounded professor in this book has learned that the Master has given blindness to himself and he resolved such controversial discussions that many courage failed to do.

---

# Indian Light Effects on Pashto Literature

**Shah Mahmoud kadwal**

**Abstract:**
The Indian style of poetry is one of the famous in Region, It was found by Persian poets who were migrated from Iran to India at 9th Islamic century.
The Persian language and literature had affected other languages in the area like Pashto language and literature.

# Woman and Oral Literature

**Research Fellow Zahera Hangama**

**Abstract:**
Most women of our country during the different period of the centuries and in long historical periods reflect their wishes, goals, demands, happiness, sorrows, suffers, loves and etc. in special oral forms.

Pashtun women in addition have an important role in the creation of Pashto oral literature. We cannot ignore their participation in the creation of mother literature.

---

# In light of the Research Criteria, the Narrative of Contemporary Research in Pashto

**Ajmal Khkulay**

**Abstract:**
Research is the name that is remarkable in those days. Unfortunately, so far, we do not know the true meaning of research, we still can not separate research and compilation, research, and ballad, we consider each true and false poster, while self-study has principles, conditions, and rules, we can separate the articles by our research.

In contemporary literature, the most important discussion is the discussion of the research literature, which has come to the fore.

# Mystical Beauty in the Poems of Abdurrahman Baba

**Fazel walee Nagar**

**Abstract:**
The mysticism of the liturgy of Pashto and the mysticism of the mysteries gave it thought and thought. In the second period of Pashtu literature, the mystical poetry used limitless mystic terms in poetry. The poetry of Pashto converted from mysticism and imagery to epics and movements Without Mirza Khan Ansari, the problems of most of the poets were that their thinking was dominant. And created a kind of ambiguity but the happiness of the Passover is that, like Rahman Baba, a poet of the Persian language, you will inherit the legacy of and the terms of the mystical problem as a simple word in a very simple way, and portrayed it as a smiling guy.

---

# Experienced Writer of World Eenowned Authors

**T/ Sadiqullah Badar**

**Abstract:**
In this article, the life of the letter, the experiences and the way of the writer of the world's most famous writers Such as Vladimir Nabokov, Kafka, Ray Bara, Jean-Paul Sartre and so on. By their works, today their literature is in the first place.
We have also done this translation so that the experiences and successes of these great figures in our literature also make positive changes. And enrich our literature.

# Important Parts of Art Writing

**Dr.Azizullah Jabarkhil**

**Abstract:**
Article writing is not easy and research should have all properties to be considered.
If a researcher highly considers and should know all entire basic and essential topics and if needed we can add things about it.
In research article writing the topic must be selected properly. The researcher should be interested and having the ability of research and after publication, there would be many readers.
A researcher should not select a brood and wide topic and not narrow and short enough, the topic should be much interested and may have readers, there will be precise in references, the criticism and objections should be vivid.
Briefly, this article has all properties of a researcher and research.

---

# The Value of the Hypothesis in the Research

**Sayed Asghar hashmi**

**Abstract:**

Every author has a mental design for an issue in their mind which then turns to practical hypothesis and after it is proved, it turns to an idea. The article contains discussion about these

three issues (mental design, hypothesis and idea). The ways of practically making hypothesis in shown.

Introduction to hypothesis, creating hypothesis, model of creating hypothesis, hypothesis from common to specific or from specific to common and similarly many more questions are answered in this article.
The importance of creating hypothesis and its benefits along with the features of a good hypothesis is discussed.

---

# The Rules of the Author

**T/ Shafiq Amirzay**

**Abstract:**

At this point, the author's issues are not even noticeable even at academic institutions with regret of technology, not only has problems been encountered in the social sphere, Blackie also suffered from our work. The younger generation has lost most of its time on Facebook, Instagram, and other technology. And the same thing has caused his attention to be reduced to writing or do not pay attention.

So I did this translation for the sake of this One more time to pay attention to the writer, we understand the principles and structures of the author and remember this is our responsibility to society?

# List of Articles Published in 1396 Kabul Magazine

**Sayed Nazim Sayedy**

**Abstract:**
The list of references is one of the important indexes of cataloging which is a catalog of important literary areas and literature is the foundation of the literature.
Linguists say that literology is the first principle of research, That is, when a person performs an investigation, he first comes to sources of information and access to resources is about a dozen percent. Hence, the source of literature is the most important principle of theology, which requires more attention from researchers.
In this alphabetical list of Kabul Magazine, the third quarter of the publication is chronologically published in the author's writings.
It is hoped that the Kabul Magazine will be arranged in a thematic manner once every three months.